د افغانستان اسلامي جمهوریت

د سیمه ایيزو اورګانونو خپلواکه اداره

Download from:aghalibrary.cm

# د سیمه ایيزو ادارو
# د پالیسۍ مسوده

(د ۱۳۸۷ ل.ل کال د مرغومي میاشت)

**سرليکونه:** **مخ**


| | |
|---|---|
| ۱. کور ودانی | ۹ |
| ۱. لرليد | |
| ۲. بنسټ | ۱۰ |
| ۲. د پاليسۍ بنسټونه | ۱۱ |
| ۳. موخې | ۱۷ |
| ۴. د پاليسۍ شاليد: اوسنی حالت | ۱۸ |
| ولايتي اداره | |
| واليان | ۲۰ |
| په ولايت کې د سکټوري وزارتونو واحدونه | ۲۵ |
| ولايتي پرمختيايي کميټه | ۲۶ |
| د ولايت اداري مجلس | ۲۷ |
| ولايتي شورا | ۲۸ |
| ولايتي محکمې | ۳۱ |
| د ولسوالۍ اداره | ۳۱ |
| ولسوال | ۳۱ |
| د ولسوالۍ شورا | ۳۴ |
| په ولسوالۍ کې د وزارتونو دريمه درجه واحدونه | |
| د ولسوالۍ پرمختيايي اسامبلې | ۳۴ |
| د کلي اداره | |
| د کلي شورا | ۳۵ |
| د کلي پرمختيايي شورا | ۳۶ |
| د کليو په کچه غير رسمي ادارې | ۳۹ |
| د واليانو او ولسوالانو ټاکنه | ۴۰ |
| افغان ملي پوليس | ۴۳ |
| ښاروالۍ | ۴۵ |
| د سيمه اييزې حکومتوالۍ د دفترونو ودانۍ او اسانتياوې | ۵۱ |
| مدني ټولنه او رسنۍ | ۵۲ |
| د عامه خدمتونو د وړاندې کولو حالت | ۵۴ |
| د افغانستان اقتصاد | ۵۷ |

په سیمه ایيزه کچه پلان جوړونه او مالي چارې ۵۹
۵. د پالیسۍ بهیر ۶۲
6. د پالیسي لپاره مهال ویش ۶۵
. په مخ کې پرته لار: د سیمه ایيزې حکومتوالۍ لپاره پالیسي ۶۵
۱: ولایتي حکومتوالي ۶۵
د ولایت په کچه رول او دندې ۶۸
په ولایت کې د حساب ورکونې اړیکې ۶۹
د ولایت په کچه د حساب ورکولو اړیکې ۷۰
په ولایتي کچه استازیتوب ۷۱
په ولایتي کچه مقررۍ ۷۱
والیان ۷۱
مرستیال والیان ۹۲
رول او دندې ۹۲
ولایتي شورا ۹۴
د ولایت سکټوري واحدونه ۱۰۰
ولایتي پرمختیایي کمیټې ۱۰۳
ولایتي اداري مجلسونه ۱۰۴
۲. د ولسوالۍ په کچه حکومتوالي ۱۰۵
د ولسوالۍ په کچه دندې او مسؤلیتونه ۱۰۷
د ولسوالۍ په کچه د حساب ورکولو اړیکې ۱۰۹
د ولسوالۍ په کچه د خلکو استازیتوب ۱۰۹
د ولسوالۍ په کچه ګمارنې (استخدام) ۱۰۹
ولسوالان ۱۱۰
د ولسوالي شوراګانې ۱۳۷
د ولسوالیو په کچه د اړوندو سکټوري وزارتونو واحدونه ۱۴۳
د ولسوالي پرمختیائي شورا (DDA) ۱۴۶
د ولسوالي اداري مجلس (DAA) ۱۴۷
۳. د کلي اداره ۱۴۷
د کلیو په کچه دندې او مسؤلیتونه ۱۴۹
د کلي په کچه د حساب ورکولو اړیکې ۱۵۰
د کلي په کچه استازیتوب ۱۵۱

د کلي شوراګانې ۱۵۱
د کليو پرمختيايي شوراګانې (CDC) ۱۵۵
۴. د سيمه اييزو اورګانونو خپلواکه اداره ۱۵۶
۵. د کلي او ولسوالۍ د شورا ګانو، ښاروال
او ښاروالیو شورا ګانو ټاکنې ۱۵۷
۵،۱ د ټاکنو څرنګوالي ۱۵۷
۲،۵. د ټاکنو لپاره مالي سرچينې ۱۵۸
۵،۳. د خدمت موده ۱۵۸
۵،۴. د دورې اندازه ۱۵۸
۵،۵. د ښځو لپاره ځانګړې څوکۍ ۱۵۹
۵،۶ . د عمر شرايط ۱۵۹
۵،۷ . د ټاکنو حوزې ۱۶۰
۵،۸. د ټاکنو سيستم ۱۶۰
۵،۹. د بيلابيلو ټاکنو اصول او مقررات ۱۶۲
۷. د والي، د والي د مرستيال او ولسوال ټاکنه ۱۶۶
۸. په سيمه ايیزه کچه د امنيت سمون ۱۶۷
۹. په دولتي سيمه ايیزو ادارو کې آسانتياوې ۱۷۱
۱۰. کليو، ولسواليو او ولايتونو ته د مسؤليتونو ويش او سپارل ۱۷۱
۱۱. اوسني سيمه اييز قلمرونه ۱۷۷
۱۲. د نويو اداري واحدونو د جوړولو پاليسي ۱۸۰
۱۳. د ولايتي بيا رغونې ډلې (PRT) ۱۸۱

III د ښاروالۍ اداره
عموميات ۱۸۱

د ښاروالیو تعريف، رامنځته کول، ادغام او له مينځه وړل ۱۸۲

د ښاروالیو ډلبندي ۱۸۴

د ښاروالیو دندې ۱۸۵

د ښاروالیو لپاره اداري جوړښت او ميکانيزمونه ۱۸۸
د کابل ښار ۱۸۸
اداري چوکاټ ۱۸۹

- د مدیریت سیستمونه ۱۸۹
- پرمختیایي اداره ۱۹۰
- د ښاروالۍ خدمتونه ۱۹۱
- د ښاروالیو اقتصادي تشبثات ۱۹۴
- د کړنو مدیریت ۱۹۵
- د ظرفیتونو لوړول ۱۹۷
حکومتوالۍ، اداري جوړښت او فعالیتونه ۱۹۸
- د ښاروالۍ ټوله اداره ۱۹۹
- ښاروال ۲۰۱
- د ښاروالۍ مرستیال ۲۰۴
- د ښاروالۍ ګمارل شوي چارواکي او کارکوونکي ۲۰۶
- د ښاروالۍ شورا ۲۰۷
- د ښاروالۍ اداري مجلس ۲۰۸
- د ښاروالۍ ناحیې ۲۱۱
د مالي چارو چوکاټ ۲۱۳
- ښاروالیو ته د عوایدو را پیداکول ۲۱۳
- د ښاروالۍ د بودجې جوړولو او پانګې اچونې پلان جوړونه ۲۱۵
- له دولتي ادارو سره مالي اړیکې او بهرنیو مالي سرچینو
ته د ښاروالیو لاسرسی ۲۱۷
- مالي مدیریت او راپور ورکول ۲۱۹
د حکومتي ادارو خپل مینځي اړیکې ۲۲۱
- د دولت له مرکزي ادارو سره اړیکې ۲۲۲
- له ولایتي ادارو سره اړیکې ۲۲۵
- له نورو ښاروالیو او ولسوالیو سره اړیکی ۲۲۷
د ښاروالیو په حکومتوالۍ کې عامه برخه اخیستنه ۲۲۸
- د مدني ټولنې، ځوانانو، ښځو او مذهبي ډلو برخه اخیستنه ۲۲۹
د ښاروالیو په اقتصادي وده کې د خصوصي سکټور رول او دنده ۲۳۲
د ښاروالۍ د ادارې په چارو کې پرمختګ ۲۳۴
IV. د پالیسی په هکله هراړخیزې موضوعګانې ۲۴۲
۱. جنډر(جنسیت) ۲۴۲
۲. د ځوانانو ونډه اخیستنه ۲۴۹

۳. په سیمه اییزه حکومتوالۍ کې د مدني ټولنې او رسنیو برخه ۲۵۱
۴. د فساد او درغلۍ پر ضد اقدامات ۲۵۴
۵. په دولتي ادارو کې اصلاحات ۲۶۱
۶. په سیمه اییزه کچه د ظرفیتونو لوړول ۲۶۵
- په سیمه اییزه کچه د انتصاب شویو چارواکو روزنه ۲۶۶
- په ښاري او سیمه ییزه حکومتوالۍ کې روزنه او څېړنه ۲۶۸
- د پوهنتون د فارغانو لپاره د عملي زده کړې پروګرامونه ۲۷۴
۷. د کارونو د کیفیت اندازه کول، د عامه خدمتونو معیارونه
او مراجعینو ته د خدمتونو وړاندې کولو په اړه لارښوونې ۲۷۵
- د کارد کیفیت اندازه کول ۲۷۵
- په عامه خدمتونو کې د عامه خدمتونو د معیارونو او
د مراجعینو د خدمتونو لارښوونې ۲۷۸
- د مالي چارو، ورته والي او کاري کړنو پلټنه ۲۷۸
۸. د طبیعي پیښو مدیریت ۲۸۶
9. سیمه اییز اقتصادي پرمختګ ۲۸۸
۱۰. د خلکو لخوا د طبیعي سرچینو مدیریت ۳۰۱
۱۱. د چاپیریال ساتنې په هکله ۳۰۴
۱۲. د کلیو د پولو او حدودو جوتول ۳۰۵
۱۳. د ځمکو اداره ۳۰۶
- د ځمکو ثبتول ۳۰۶
- د عامه موخو لپاره د ځمکې لاسته راوړل ۳۱۰
- د شخصي او دولتي ځمکو د غصبولو مخنیوی ۳۱۰
۱۴. له نیشه يي توکو سره مبارزه ۳۱۰
۱۵. د اړیکو (کمیونیکشن) ستراتیژي ۳۱۵
۱۶- د بشري حقونو پر بنسټ د سیمه ییزې حکومتوالۍ چلند ۳۲۱
V. سیمه ییزه پلان جوړونه او مالي چارې ۳۲۲
۱. اوسنی وضیعت ۳۲۲
۱,۱ ولایتي پلان جوړونه او بودجه جوړونه ۳۲۲
- د ولایتونو د پلان او بودجه جوړونې لپاره دودیز چلند ۳۲۲
- د ولایتي پرمختیا د پلان جوړولو نوښت ۳۲۴
- د ولایتونو د بودجې جوړولو نوښت ۳۲۷

۱،۲. د لګښتونو د مسوولیتونو ویشنه ۳۲۹
۱،۳. د ولایت بودجوې تخصیص ۳۳۲
۱،۴. مالي مدیریت ۳۳۴
۲. د تګلارې وړاندیز ۳۳۵
۲،۱. د تګلارې موخې ۳۳۵
۲،۲. د تګلارې اجزا ۳۳۶
۲،۲۱. د ولایت د پلان جوړولو لپاره چوکاټ او بودجوي میکانیزم ۳۳۷
- د ولایت د پلان د بودجوي اندازې جوړول ۳۳۷
- د ولایتي تخصیص لپاره د معیار ټاکل ۳۳۹
۲،۲۲. د کلني ولایتي پلان دور ۳۴۴
- رول او دندې ۳۴۴
- مهال ویش ۳۴۵
۲،۲۳. د ولایتي پلان او بودجې پلي کول ۳۴۶
۲،۲۴ . ښاروالیو ته کلنی لیږد ۳۴۸
۲،۲۵ . کلیو ته کلنی لیږد ۳۵۰
۲،۲۶. مالي مدیریت ۳۵۰
- مالي حساب ورکونه ۳۵۰
- د مالي مدیریت د اصلاحاتو عملي کول ۳۵۱
۳. د پالیسی د پلي کولو لپاره اداري تدبیرونه ۳۵۵
۳،۱. د محلي پلان جوړونې او مالي حسابونو لپاره د کابینې کمیټه ۳۵۵
۳،۲. د کمیټې رولونه او دندې ۳۵۶
VI. پلي کول، څارنه او ارزونه ۳۵۸
د سیمه ییزو ادارو د پالیسی پلي کول ۳۵۸
د پالیسی د پلي کولو لپاره لارښود اوصول ۳۷۰
د پالیسی د پلي کولو لپاره جوړښت ۳۷۳
د پالیسی هغه برخې چې د پلي کولو کار یې د سیمه اییزو
اورګانونو د خپلواکې اداري په غاړه دی ۳۷۴
د سیمه ییزې حکومتوالی د پالیسی د پلي کیدو څارنه او ارزونه ۳۹۰
VIII. مل (ضمیمه) ۳۹۱

I. په سیمه اییزه کچه د انتصابي مامورینو لپاره کړندود ۳۹۱

II . د سیمه ییزو منتخبو چارواکو کړندود ۳۹۶

III- د سیمه ییزو قلمرونو حوزې ۳۹۹

IX. د کاري ډلي بهیر ۴۲۴

1. د ولسمشرفرمان ۴۲۴

۲. د سیمه اییزی حکومتوالۍ لپاره د ګډې همغږۍ د څارنې اداره ۴۲۶

۳. مهال ویش او د دندو لایحه ۴۲۷

**۴- د سیمه اییزې حکومتوالۍ کاري ګروپ او د ګډون کاري ګروپ**

د پالیسی پوښتنلیکونه

د کاري ګروپ پاڼې او لاسته راوړنې

د پالیسي څیړنه

د پالیسی پریزنټیشنونه

د پالیسی لنډ اسناد

**۵- د ښاروالۍ د حکومتوالۍ کاري ګروپ**

د پالیسی پوښتنلیکونه

د کاري ګروپ پاڼې او لاسته راوړنې

د پالیسي څیړنه

د پالیسی پریزنټیشنونه

د پالیسی لنډ اسناد

**۶- د سیمه اییزې پلان جوړونې او مالي چارو کاري ګروپ**

د پالیسی پوښتنلیکونه

د کاري ګروپ پاڼې او لاسته راوړنې

د پالیسي څیړنه

د پالیسی پریزنټیشنونه

د پالیسی لنډ اسناد

**۷- د څیړنې لپاره اړین مواد**

په افغانستان کې د سیمه ایزې او ښاري حکومتوالۍ په هکله د څیړنې او تحقیق اسناد

د اسیا بنسټ (ایشیا فاونډیشن)

**۸- د اړوندو غاړو نظرونه**

د وزارت نظر

د نړیوالي ټولنې نظر

د مدني ټولنې نظر

د سیمه اییزو چارواکو نظر

عامه سلا مشورې ۴۲۷

**۱. کور ودانی**

د افغانستان د سیمه اییزو اورګانونو خپلواکه اداره، په دې توګه له ټولو وزیرانو، د وزارتونو له معینانو، د وزارتونو د پالیسی له رییسانو او چارواکو، نورو ادارو، د افغانستان د اسلامي جمهوریت له ټولو هغو خپلواکو کمیسیونونو څخه چې ددې پالیسی د جوړولو په چاره کې یې برخه اخستې، او په تیره بیا د کرنې، مالداری او اوبولګولو له وزارت، قومونو، قبایلو او سرحدونو چارو له وزارت، سوداګری او صنایعو له وزارت، معلوماتي تکنالوجی او مخابراتو له وزارت، اطلاعاتو، فرهنګ له وزارت، اقتصاد له وزارت ، پوهنې له وزارت، اوبو او انرژی له وزارت، مالي له وزارت، حج او اوقافو له وزارت، لوړو زده کړو له وزارت، کورنیو چارو له وزارت، عدلې له وزارت، کار او ټولینزو چارو، شهیدانو او معلولینو له وزارت، د ښځو د چارو له وزارت، کډوالو او راستنیدونکو له وزارت، کانو له وزارت، ترانسپورت او ملکي هوایي چلن له وزارت او له نیشه یي توکیو سره د مبارزې له وزارت، همدا رنګه د انتخاباتو له خپلواک کمیسیون، له بډو او اداري فساد سره د مبارزې لویې ادارې، له کابل ښاروالی، د جیودوزی او کارتوګرافی ادارې، د مرکزي احصایي له ادارې، د جمهوري ریاست د چارو له ادارې او د وزیرانو شورا له دارالانشا، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو له خپلواک کمیسیون، د چاپیریال ساتنې له ملي ادارې، د کنټرول او پلټنې له لوی ریاست، د کوچیانو له لوی ریاست، له پیښو سره د مجادلې له ادارې، د لوی څارنوال له دفتر او سترې محکمه څخه، چې ددغې پالیسی د جوړولو په برخه کې یې فعالې ونډې اخستې دي؛ مننه او قدرداني کوي.

دارنګه د سیمه اییزو اورګانونو خپلواکه اداره، د افغانستان د تحقیق او ارزونې له واحد، د سیمه اییزې حکومتوالي پروګرام، نړیوال بانک او ایشیا فوندیشن څخه چې ددغې پالیسی په جوړولو کې یې د ارزښت وړ رولونه لوبولي دي، مننه کوي او کور ودانی ورته وایي. د سیمه اییزو اورګانونو خپلواکه اداره، ددغې پالیسی د تدوین په کار کې د کورنیو او نړیوالو ادارو مرستو ته د قدر په سترګه ګوري او ددغې پالیسی د تدوین او جوړولو په کار کې له دخیلو کورنیو او نړیوالو لوریو څخه پر خپل ملاتړ ټینګار کوي. دا اداره په افغانستان کې د ملګرو ملتونو له څانګړي هییت، د ملګرو ملتونو پرمختیایي ادارې، او ایشیا فوندیشن څخه ددغې پالیسی د تدوین په کار کې د دوامدارو تخنیکي مرستو په خاطر د زړه له کومې مننه کوي او ټولو ته کور ودانی وایي.

**د افغانستان اسلامي جمهوریت**

**د سیمه اییزو ادارو د پالیسی مسوده**

**۱. لرلید:**

**۲. بنسټ:**

د افغانستان د سیمه ایيزې حکومتوالۍ یوه ځانګړنه، په ولایتونو کې د اداري واحدونو لپاره د پالیسۍ نشتوالی دی. د اداري واحدونو حقوقي جوړښت په دغو واحدونو کې د داسې پالیسۍ ، ستراتیژۍ او بنسټیزو اصولو نشتوالی څرګندوي، چې د خپل مینځي اړیکو او دندو تنظیمونکي وي.

سیمه اییز اداري واحدونه په خپل مینځ کې داسې معقول او اغیزمن یووالی نه لري چې د خپلو هیوادوالو ستونزې حل کړي. دغه اداري له داسې بنسټونو څخه جوړې شوي چې ونډه او دندې یې څرګندې نه دي او ډیر ځلي ددوی دندې او مسوولیتونه سره په ټکر کې واقع کیږي. همدارنګه له یوې خوا د ولایتي، ولسوالۍ او کلیوالي ادارو تر مینځ اړیکي او له بلې خوا ددغو ادارو اړیکي له مرکزي حکومت او هغو خلکو سره چې دوی یې د خدمت لپاره ګمارل شوي؛ روښانه نه دي.

په ډیرو سیمو کې تر دې دمه هم د جګړه مارانو او قوماندانانو نفوذ او زورواکۍ دوام لري. په سیمه ییزه حکومتوالۍ او ښاروالیو کې د خلکو ګډون ډیر کمزورۍ دی. ښځې او ځوانان په ولایتي اداري واحدونو کې برخه نه لري. د ښاروالیو، ولسوالیو او کلیو په کچه، ولسواکه یا دموکراته استازیتوب نشته. سیمه اییزه حکومتوالي په خپله یا ډیر لږ او یا هم هیڅ عواید نه لري. د خصوصي سکټورونو د ګډون او برخې اخیستلو لپاره روښانه قواعد او اصول وجود نه لري. د همدې لاملونو له امله خلکو ته د خصوصي سکټور خدمتونه ډیر کمزوري دي. په سیمه اییزه کچه واک، ځواک، او سرچینې ډیرې لږ او جزیي دي. د عامه خدمتونو په ادارو کې حساب ورکونه او روڼتیا ډیره کمزورې ده. سیمه اییزې ادارې خلکو ته حساب نه ورکوي؛ له دې کبله د سیمه اییزو او ښاري ادارو ځواب ورکونه، اغیزمنتیا او وړتیا خورا ټیټه ده. د ولایتي ادارو اړوند قوانین مبهم او مغشوش دي، د دندو او مسولیتونو ویش مبهم دی. ډیرې ډلې شتون لري، د ډیرو ډلو د همغږۍ میکانیزم هم تر خپله حده، مغشوشتیا او ابهام ډیر کړی دی. برسیره پردې، د حکومتي ادارو، خصوصي سکټور او مدني ټولنې د وړتیا کچه خورا ټیټه ده.

ددې حالاتو په درک سره، حکومت وپتیله چې په هیواد کې د سیمه اییزې حکومتوالۍ د کمزوریو د له مینځه وړلو او سمون لپاره اغیزمنه پالیسۍ جوړه کړي. ددې پالیسۍ اصلي موخه د سیمه

ایيزې حکومتوالۍ لپاره د یوه داسې چوکاټ جوړول دي چې په هغه کې د وګړو سوکالي او هوساینه د حکومت اصلي موخه وي.

**۲. د پالیسۍ بنسټونه**

د افغانستان اساسي قانون، د افغانستان تړون(لندن پریکړه لیک) د افغانستان د پرمختیا ملي ستراتیژي (ANDS)، په افغانستان کې د ښځو لپاره ملي عملي پلان، د سیمه ایيزې حکومتوالۍ په هکله هراړخیزه څېرنه او د موجوده حقوقي چوکاټ ارزونه ددې پالیسۍ بنسټونه دي. د هیواد د اساسي قانون حکمونه د حکومت د پالیسۍ او قانون بنسټ او اساس جوړوي. د هیواد اساسي قانون د ملي حکومت په هکله یو لړ حکمونه او مواد لري، چې په لاندې ډول دي:

**لومړۍ ماده:**

افغانستان، خپلواک، واحد او نه بیلیدونکی اسلامي جمهوري دولت دی.

**دویمه ماده:**

د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت دین، د اسلام سپیڅلی دین دی. د نورو ادیانو پیروان د خپل دین په پیروۍ او د خپلو دیني مراسمو په سرته رسولو کې د قانون د حکمونو په حدودو کې آزاد دي.

**دریمه ماده:**

په افغانستان کې هیڅ قانون نشي کولای، چې د اسلام د سپیڅلی دین د معتقداتو او حکمونو مخالف وي.

**څلورمه ماده:**

په افغانستان کې ملي حاکمیت په ملت پورې اړه لري چې په مستقیم ډول یې پخپله یا یې د خپلو استازیو له لارې عملي کوي.

**شپږمه ماده:**

دولت د انساني کرامت د ساتلو، بشري حقوقو د ملاتړ، د دموکراسۍ د تحقق، ملي وحدت د تامین، د ټولو قومونو او قبایلو ترمنځ د برابرۍ او د هیواد په ټولو سیمو کې د متوازنې پرمختیا او ټولنیز عدالت، پر بنسټ د یوې هوسا او پرمختللې ټولنې په جوړولو مکلف دی.

**اومه ماده:**

دولت د ملګرو ملتونو د منشور، د بین الدول معاهدو، د نړیوالو میثاقونو؛ چې افغانستان له هغو سره تړاو لري او د بشري حقونو د نړیوالې اعلامیې رعایت کوي.

دولت د هر راز تروریستي اعمالو، د نیشه یي موادو د کرلو او قاچاق او د مسکراتو د تولید او استعمال مخنیوی کوي.

**لسمه ماده:**

دولت، خصوصي پانګې اچونې او خصوصي تشبثات د بازار د اقتصاد د نظام پر بنسټ، د قانون له حکمونو سره سم هڅوي، ملاتړیې کوي او مصونیت یې تضمینوي.

**اوه لسمه ماده:**

دولت په بیلابیلو سطحو کې د معارف د ودې او دیني زده کړو د پراختیا، د جوماتونو، مدرسو او دیني مرکزونو د وضعې د ښه والي او تنظیم لپاره لازم تدبیرونه نیسي.

**دوه ویشتمه ماده:**

د افغانستان د وګړیو تر مینځ هر راز تبعیض او امتیاز منع دی. د افغانستان وګړي ښځې او نارینه د قانون په وړاندې مساوي حقونه او وجایب لري.

**درې دیرشمه ماده:**

د افغانستان وګړي د انتخابولو او د انتخابیدلو حق لري. له دې څخه د ګټې اخیستې شرایط او لارې د قانون له لیارې تنظیمیږي.

**پنځه دیرشمه ماده:**

د افغانستان وګړي حق لري، چې د خپلو مادي او یا معنوي غوښتنو د تامین لپاره، د قانون له حکمونو سره سم ټولنې جوړې کړي. د افغانستان وګړي حق لري، د قانون له حکمونو سره سم سیاسي ګوندونه جوړ کړي، په دې شرط چې:

١. د ګوند مرامنامه او اساسنامه د اسلام د سپیڅلی دین د حکمونو او په دې اساسي قانون کې د راغلو نصوصو او ارزښتونو مخالف نه وي.

٢. د ګوند تشکیلات او مالي سرچینې څرګندې وي.

٣.نظامي او نظامي ډوله تشکیلات او هدفونه ونه لري.

۴. له بهرنیو ګوندونو یا نورو بهرینو سرچینو سره تړلي نه وي. د قوم، سیمې، ژبې او فقهي مذهب په نامه د ګوند جوړول او فعالیت کول جواز نه لري.

**پنځو سمه ماده:**

دولت مکلف دی چې د یوې سالمې ادارې او د هیواد په اداري سیستم کې د سمون د را مینځ ته کېدو لپاره لازم تدبیرونه ونیسي.

اداره خپل اجرات په بشپړه بیطرفۍ او د قانون له حکمونو سره سم عملي کوي.

د افغانستان وګړي حق لري د قانون د حکمونو په حدودو کې له دولتي ادارو څخه اطلاعات ترلاسه کړي، دا حق د نورو حقونو او عامه امنیت ته له زیان رسولو پرته حدود نه لري.

د افغانستان وګړي د اهلیت له مخې، پرته له هر ډول توپیر څخه، د قانون له حکمونو سره سم، د دولت خدمت ته منل کیږي.

**درې پنځو سمه ماده:**

دولت د شهیدانو او مفقودینو له پاتې کسانو، د معلولینو او معیوبینو د بیا ځواکمنۍ او په ټولنه کې د هغوی د فعالې ونډې اخیستنې په خاطر د مالي مرستو او روغتیایي خدمتونو د تنظیم لپاره د قانون له حکمونو سره سم لازم تدبیرونه نیسي.

دولت د متقاعدینو حقوق تضمینوي او له زړو کسانو، بې سرپرسته ښځو، معیوبینو او معلولینو او بې وسه یتیمانو سره د قانون له حکمونو سره سم لازمې مرستې کوي.

**پنځه اویایمه ماده:**

حکومت لاندې دندې لري:

۱. ددې اساسي قانون او نورو قوانینو د حکمونو او د محکمو د قطعي پریکړو عملي کول

۲. د خپلواکۍ ساتل، له ځمکنۍ بشپړتیا څخه دفاع او په نړیواله ټولنه کې د افغانستان د حیثیت او ګټو ساتل

۳. د عامه نظم او امن ټینګول او د هر راز اداري فساد له مینځه وړل،

۴. د بودجې ترتیبول، د دولت د مالي وضعې تنظیمول او د عامه شتمنیو ساتل.

۵. د ټولنیزو، کولتوري ، اقتصادي او تکنالوجیکي پرمختیایي پروګرامونو طرح او تطبیق.

۶. ملي شورا ته د هر مالي کال په پای کې د سرته رسیدلو چارو او د نوې مالي کال د مهمو پروګرامونو په باب ګزارش ورکول

۷. د هغو نورو وظیفو ترسره کول، چې ددې اساسي قانون او نورو قوانینو له مخې د حکومت له وظیفو څخه ګڼل شوې دي.

اساسي قانون په ولايتونو کې د ښې ادارې د جوړولو لپاره مهم او ارزښتناک اصول وضعه کړي دي: ځينې يې په دې ډول سره دي.

**يو سلو شپږ دېرشمه ماده:**

د افغانستان د اسلامي جمهوريت اداره، د مرکزي ادارې او سيمه ايزه ادارو د واحدونو پر اساس له قانون سره سم تنظيمېږي.

د سيمه ايزه ادارې واحد ولايت دی. د ولايتونو او مربوطه ادارو شمير، ساحه، برخې او تشکيلات د نفوسو د شمير، ټولنيزې او اقتصادي وضعې او جغرافيايي موقعيت پر اساس له قانون سره سم تنظيمېږي.

**يو سلو اوه دېرشمه ماده:**

حکومت د مرکزيت د اصل په ساتلو سره د اقتصادي، ټولنيزو او کولتوري چارو د ګړندي کولو او ښه والي او د ملي ژوند په پرمختګ کې د خلکو د لا زياتې ونډې اخيستو په منظور، لازم صلاحيتونه د قانون له حکمونو سره سم سيمه ايزه ادارې ته سپاري.

**يو سل او اته دېرشمه ماده:**

په هر ولايت کې يوه ولايتي جرګه جوړيږي.

د ولايتي جرګې غړي له قانون سره سم د نفوسو په تناسب د ازادو، عمومي، پټو او مستقيمو ټاکنو له مخې د ولايت د اوسيدونکو له خوا د څلورو کلونو لپاره ټاکل کيږي. ولايتي جرګه له خپلو غړو څخه يو تن د رييس په توګه ټاکي.

**يو سلو نهه دېرشمه ماده:**

ولايتي جرګه د دولت د پرمختيايي موخو په تامين او د ولايت د چارو په ښه کولو، لکه څنګه چې په قوانينو کې څرګنده شوې؛ برخه اخلي او په ولايت پورې د مربوطو چارو په باب مشوره ورکوي.

ولايتي جرګه خپلې دندې د سيمه ايزه ادارې په مرسته سر ته رسوي.

**يوسلو څلويښتمه ماده:**

د سيمه ايزه ادارې د چارو د سمون او په هغې کې د خلکو د فعالې ونډې اخيستو د تامين په مقصد په ولسواليو او کليو کې د قانون له حکمونو سره سم جرګې جوړيږي.

ددې جرګو غړي، د ازادو، عمومي، پټو او مستقیمو ټاکنو له مخې د سیمې د اوسیدوونکو له خوا د دريو کلونو لپاره ټاکل کیږي.
په محلي جرګو کې د کوچیانو ګډون د قانون له حکمونو سره سم تنظیمیږي.

**یوسلو یوځلویښتمه ماده:**

د ښاري چارو د اداري لپاره ښاروالۍ جوړیږي.
ښاروالی او د ښاري مجلسونو غړي د ازادو، عمومي، پټو او مستقیمو انتخاباتو له لارې انتخابیږي.
په ښاروالۍ پورې مربوطې چارې د قانون له لارې تنظمیږي.

**یوسلو دوه ځلویښتمه ماده:**

دولت ددې اساسي قانون د حکمونو د تعمیل او د مندرجو ارزښتونو د تامین لپاره لازمې اداري جوړوي.

**یوسلو شپږپنځوسمه ماده:**

د هر ډول انتخاباتو د څارنې او اداري او په هیواد کې د خلکو عمومي رایو ته د مراجعې لپاره د انتخاباتو مستقل کمیسیون د قانون له حکمونو سره سم جوړیږي.

د سیمه ایيزو اداري واحدونو د پالیسۍ مسودې د تدوین په خاطر ولسمشر د ١٣٨٧کال د غوايي د میاشتې په ١٩مه (٢٠٠٨کال د می ٨مه)نیټه ١٠٤٧ ګڼه حکم لاسلیک کړ. په حکم کې راغلي دي چې د پالیسی د تدوین او تدقیق کمیټې به د سیمه ایيزو ادارو پالیسي جوړوي. فرمان د پالیسۍ د غور او له سره کتنې د کمیټې سپارښتنه کوي، چې د پالیسۍ په جوړولو کې موجودې ټولنیزې، اقتصادي او امنیتي برخې یوځای، په یوه وخت کې په پام کې ونیول شي او داسې پالیسي تنظیم کړي، چې د اداري واحدونو لپاره واحد چوکاټ رامینځ ته کړي؛ ترڅو ددغو ادارو ترمینځ همغږي نوره هم زیاته او ښه شي.

ددې پالیسۍ له مخې دولت هڅه کوي، هغه پرنسیپونه چې د افغانستان په ټرون(لندن پریکړه لیک)کې په هغو ټینګار شوی؛ وپالي. له دې اصولو څخه، چې له اداري واحدونو سره په تړاو کې دي، دا دي:
"د اسلام د سپیڅلي دین پربنسټ د افغانستان ټولنیزو ارزښتونو، پرانستي کولتور او تاریخ ته درناوی کول".

"د ملکيت او ګډون دودونه د افغانستان د خلکو په ټولنيز ژوند کې ژورې ريښې لري؛ دې ته بايد نوره هم وده ورکړل شي."
"د مالي، تاسيساتي پايښت او چاپيريال ساتنې ملاتړ".

" په افغانانو کې د تلپاتې وړتيا مينځ ته راوړل، د اغيزمنې دولتي او مدني ټولنې د ادارو جوړول، په ځانګړې توګه د ښځو او نرو د انساني وړتياوو او ظرفيتونو پوښان لوړول."

"د هيوادوالو د غوړيدلې راتلونکې په موخه، د هيواد ټولو برخو ته د کورنيو او نړيوالو سرچينو له انډوليز او عادلانه ويش څخه ډاډ تر لاسه کول".

"له اداري فساد سره مبارزه او په عامه کچه د روڼتيا (شفافيت) او حساب ورکولو ډاډمنول".

د افغانستان په ترون کې افغان دولت ژمنه کړې ده چې په ټول هيواد کې، هيوادوالو ته د سمو خدمتونو لپاره، په ګړندۍ توګه د حکومتي کارکونکو د وړتيا کچه لوړوي. په حکومتي اداره کې د شفافو او حساب ورکوونکو پوړيو د جوړولو په منظور بايد د هيواد په کچه د ښايښته سالارۍ او د کاري وړتيا پر بنسټ د ادارې لپاره کدرونه او کارکونکي له ښو پيژندلو وروسته په کار وګماري. د فساد او درغلۍ پر ضد مبارزه کې کوټلي ګامونه واخيستل شي، د عدالت ملاتړ وشي، د قانون د حاکميت لپاره کار وشي او د ټولو افغانانو انساني او بشري حقونو ته درناوی وشي. افغان حکومت هڅه کوي چې په همغږې ډول، د هر ولايت د فعالو ادارو په ګډون، ټولې ملکي ادارې په پښو ودروي. دا ادارې به يو مناسب قانوني چوکاټ، د استخدام بې پرې او عادلانه کړندود، روزل شوي کارکونکي، د تشويق او هڅولو مناسب سيستم، پياوړې بنسټ او د پلټنې او لارښوونې کاري وړتيا ولري."

حکومت يوځل بيا د افغانستان په ترون کې، پر دې ژمنه ټينګار کړی دی چې په اساسي قانون کې د تسجيل شويو قوانينو ساتنه او پالنه به کوي، د نړيوالو او نورو هغو قوانينو چې افغانستان ورته ژمن دي، رعايت به کوي".

د افغانستان د ملي پرمختيا په ستراتيژۍ کې کابينې دغه ژمنې کړي:

- په مرکز او ولايتونو کې د شفافيت، ملي ګډون، حساب ورکولو، اغيزمنتيا، تسلسل، د عامه توافق له مخې د ښځو او نرو برابر ګډون، ولسواکۍ، او په مرکز او سيمو کې د قانون حاکميت له لارې د ښې حکومتوالۍ جوړول

- په اداره کې د خلکو د ګډون له لارې، ولس او ټولنې ته د خدمت کولو د کچې لوړول او د هيوادوالو د حقونو ملاتړ او خوندي کول
- د معاصري، ولسواکي، مسوولي، د جنسيت په اړه د عادلي، شفافي حساب ورکوونکي ولسي اداري جوړول، چې ددې اداري په مټ د ټولني د خير او سوکالی په منظور د ملي شتمنيو او امکاناتو په اغيزمنه توګه کارول، د ښځو په وړاندې د توپيري چلند له مينځه وړل، د دوی انساني وړتياوې زياتول، او د ژوند په ټولو اړخونو کې ورته د ګډون زمينه برابرول
- دداسي يوې بشپړې افغاني ټولنې جوړول چې په هغې کې د هيوادوالو بشري حقونه خوندي وي، ورته درناوی وشي او د اساسي حقونو د ودې لپاره پاملرنه موجوده وي.
- د حکومتي ادارې د سالميت، شفافيت او رڼاوي لپاره او هم د کورنۍ او بهرنۍ پانګې اچونې د هڅونې په منظور، په دولتي او خصوصي سکټورونو کې د فساد او بډو په وړاندې مبارزه او ددې منفي پديدو له مينځه وړل

پورتني مطالب له يوې خوا د سيمه ايزې حکومتوالۍ پاليسۍ پياوړي کوي او له بلې خوا د اړوند موخو په اړه معلومات هم وړاندې کوي.

### ۳. موخې :

د سيمه ايزې حکومتوالۍ له پاليسۍ څخه، موخه له يوې خوا د سيمه ايزې حکومتوالۍ په اوسني چوکاټ کې، د کمزوريو له مينځه وړل او له بلې خوا دا اداري چمتو کول او لاندنيو موخو ته د رسيدلو لپاره د يوه بشپړ لرليد را مينځ ته کول دي:

I. په سيمه ايزه کچه د اساسي قانون حکمونه پلي کول.

II. د سيمه ايزې حکومتوالۍ د پاليسۍ د جوړونې په باب د جمهوري رياست د مقام د حکمونو پلي کول:

د سيمه ايزو اورګانونو تر مينځ د همکاري او همغږۍ د کچې لوړول.

- په يوه وخت، په ټولنيزو، اقتصادي او امنيتي ډګرونو کې همزمانه پرمختګ .
- د دولتي ادارو لپاره د يوه ګډ اداري چوکاټ جوړول.

III. د هغو ژمنو اجرا او سرته رسول چې جمهوري رياست او کابينې يې په ملي پرمختيايي ستراتيژۍ کې د حکومتوالۍ، د عامه ادارې د رغونې او سموالي او د بشري حقونو په ډګرونو کې کړي دي:

- په سيمه اييزه کچه د ښې حکومتوالۍ رامينځ ته کول او په سيمه اييزې او د ښاروالۍ په حکومتوالۍ کې د لاندې ځانګړتياو راوستل:
  - رڼنتيا او شفافيت
  - خلکو ته حساب ورکول
  - په مدني ټولنو او خصوصي سکټورونو کې د خلکو او په ځانګړې توګه ښځو او ځوانانو ته د ګډون زمينه برابرول
  - په سيمه اييزه کچه د ډيموکراسۍ عامول او دودول
  - د اغيزمنتيا او ګټورتيا رامينځ ته کول
  - برابري او ګډون
  - د نارينه وو او ښځو برابري
  - پيوستون
  - په ټولو برخو کې د قانون د حاکميت د سيستم پلي کول.
- ولس ته نور هم په ښه ډول سره د خدمتونو برابرول
- سيمه اييزې پرمختيا ته وده ورکول
- د بيوزلۍ د کچې راټيټول

IV. په ستراتيجيک چوکاټ او ستراتيجيک کاري پلان کې د سيمه اييزو اورګانونو د خپلواکې ادارې لخوا د شويو ژمنو پلي کول

- په پريکړو کولو کې د خلکو را شريکول او د پريکړه کوونکو لخوا خلکو ته حساب ورکول

اداره هغه وخت خلکو ته اغيزمن او ګټور خدمت تر سره کولای شي، چې له خلکو سره نيږدې اړيکې ولري. دا کار د ټولنې په وړاندې د پريکړه نيوونکو حساب ورکول باوري کوي. حکومت به پر بيلابيلو کچو خپلو ادارو ته مسؤوليتونه او دندې ورسپاري. دا کار به ددې اصل پر بنسټ ولاړ وي چې اداره که هر څومره خلکو ته نيږدې وي؛ نو د خدمتونو برابرولو کار يې هم په هماغه کچه اغيزمن راوځي.

**۴. د پالیسی شالید: اوسنی حالت**
لکه څنګه چې پورته یاده شوه، د افغانستان په ولایتونو کې د اغیزمنو ادارو د جوړښت په لار کې پراته خنډونه عبارت دي له: د روښانه او منظمې پالیسۍ او یوه داسې حقوقي چوکاټ نشتوالی چې د هغه پر بنسټ، په ولایتي او سیمه اییزه کچه داسې اداري جوړې شي چې شفافیت ولري، د خلکو ګډون پکې باوري شي، د خلکو په وړاندې مسوولیت ولري او کارونه په ښه او اغیزمنه توګه ترسره کړي. دا ستونزې د ولایتي، ولسوالي او کلیوالي ادارو د ناڅرګند رول او د دوی تر مینځ د نا معلومو اړیکو سبب شوی او له مرکز سره یې هم اړیکې روښانه نه دي.

ولې ځینې داسې قوانین شته چې په سیمه اییزه کچه واکونه او صلاحیتونه مشخصوي او د والیانو، ولسوالانو او ولایتي شوراګانو اړیکې بیانوي. ولې دغه قوانین په دې کې پاتې راغې چې ددغو ادارو رول او دندې څرګندې کړي او د ښې حکومتوالۍ اصول پلې کړي. ددې سبب دادی چې دغه قوانین له یو بل څخه جلا او تر خپله مینځه اړیکې نلري؛ نو له دې کبله ددغو ادارو قانوني مکلفیت د حکومتوالۍ له ټولیز جوړښت سره سمون نه خوري.؛ ځکه نو حکومت د پورته یادو شویو موخو په لاسته راوړلو کې پاتې راغې. دا قوانین د افغانستان تړون (لندن پریکړه لیک) مخکې یاد شوي اصول هم په اغیزمنه توګه نشي پوره کولای.

سربیره پردې چې دا قوانین په خپل مینځ کې تړاو نه لري، تر ټولو ډیر ټینګار یې له مرکز سره په تړاو باندې دی. ددې قوانینو پر بنسټ اداري ددې په ځای چې ولس او خلکو ته حساب ورکړي، باید مرکز او ولسمشر ته حساب ورکړي. په دغو قوانینو کې پر دې ټکي ټینګار نه دی شوی چې خلک یا د دوی استازي له سیمه اییزه حکمتوالو ادارو څخه حساب واخلي. ددې لپاره چې دا قوانین خلکو ته د حساب په ورکولو ټینګار نه کوي؛ نو ځکه دغه اداري خلکو ته حساب ورکونکي نه دي.

دغه رنګه د هغه څه تر مینځ چې باید ددغه قانون له مخې په سیمو کې ورباندې عمل وشي او هغه څه چې ددغو ادارو لخوا اجراآت کیږي؛ توپیر او تناقض تر سترګو کیږي.
افغانستان په نړۍ کې یو له هغو هیوادونو څخه دی چې له مرکز څخه د اطاعت کولو پر اصولو اداره کیږي. سیاسي، مالي او اداري مسایل له مرکز څخه کنټرولیږي. د بودجې او د مقررۍ ډیری پریکړې په مرکز کې کیږي. د وزارتونو ولایتي اداري او د ولایت دفترونه په حقیقت کې د لګښت واک نلري او په پلان جوړولو کې هم لږه ونډه لري. په ولایتونوکې د مخامخ رسمي

اجرااتو او زیاترو خدمتونو او دغه شان بودجې جوړونې واکونه له مرکزي سکتوري وزارتونو سره دي. همدغه پر مرکزیت ولاړ سیستم ددې سبب ګرځیدلی چې حکومتي اداري اړو هیوادوالو ته د خدمتونو برابرولو او ددوی اړتیاوو ته د ځواب ویلو په ډګر کې ځانونه ډیر مسوول نه بولي. په سیمه ایيزه کچه د واک سپارل که چېرې په احتیاط سره پلان، په اغیزمنه توګه پلي، او په مناسب ډول يې مدیریت وشي؛ نو په پایله کې به يې، په ټول هیواد کې، د خلکو په ژوندانه کې د پام وړ ښه والی راشي.

دغه برخه د سیمه ایيزې حکومتوالۍ اوسنی رول او دندې بیانوي؛ چې ځینې يې له پخوا وضعه شوي دي او هغه نورې دندې چې لا تر اوسه نه دي وضعه شوې، د اساسي قانون له مخې، له دې وروسته را مینځ ته کیږي. همدا راز دغه برخه په سیمه ایيزه کچه ددغو ادارو اوسنۍ دندې، رولونه، له نورو سیمه ایيزو ادارو او مرکزي ادارو سره اړیکې او د هغوی پیاوړتیاوې او کمزورۍ روښانه کوي. په ولایتي کچه دغه اداري عبارت دي له: والیانو، ولایتي شوراګانو، ولایتي اداري مجلسونو او د ولایتونو له پرمختیایي کمیټو څخه. د ولسوالۍ په کچه دغه اداري عبارت دي له: د ولسوال او د ولسوالۍ شورا، د کلیو په کچه د کلي شورا او د کلي پرمختیایي شورا. په افغانستان کې د مدني ټولنې، د سیمه ایيزو ادارو د مالي سیستم اوسنی حالت، او همدارنګه په سیمه ایيزه کچه د خدمتونو برابرولو په باره کې لنډ بحثونه په دې برخه کې شامل دي. تاسو کولای شئ د هغو سکتوري وزارتونو د پالیسۍ د رییسانو نظرونه چې ددې پالیسۍ د جوړولو په بهیر کې يې ونډه اخستې ده، د اتم څپرکي په پنځمې برخې کې "د ډله ایيز کار شننې" تر عنوان لاندې ولولئ.

**ولایتي اداره:**

**والیان:**

د والیانو دندې، مسوولیتونه او رسمي کاري لایحې د سیمه ایيزه حکومتوالۍ د پخواني قانون پر بنسټ ټاکل شوي؛ ولې بیا هم د والیانو د واکونو او مسوولیتونو خبره، د سیمه ایيزې حکومتوالۍ په قانون پورې اړه لري. په دې قانون کې د والیانو د چارو د اجراتو او مسوولیتو په اړه دومره اوږد او مفصل لست موجود دی، چې دغه اوږدوالی په خپله د والي رول له ابهام سره مخ کوي؛ لاندې يې کتلای شئ:

د والیانو مسوولیتونه او واکونه د قانون په (۱۴)ماده کې داسې راغلي دي:

- د قانون د حکمونو له مخې ترخپل اثر لاندې ادارو او دفترونو مشري کول

- د قانون پر بنسټ د امنيت ټينګول او د ولايت د اوسيدونکو د حقونو ډاډګيرنه
- د ولايت د اوسيدونکو لپاره د عدالت او برابرئ د اصل برابرول او پلي کول
- له قومي او مذهبي ننګې او پلوي څخه په اداره کې ډډه کول او د ملي يووالي د پياوړتيا لپاره کار کول
- په ولايت کې د سازمانونو او ادارو د موسسو او تصديو د مطروحه پلانونو د پلي کولو لپاره شرايط او اسانتياوې برابرول
- اړوندو ادارو تر مينځ د ښو او اخلاقي اړيکو رامينځ ته کول
- د ولايت د ادارو د پرمختيا او رغاونې اړوند وړانديزونه او پرپوزلونه اړوندو ادارو ته سپارل، او د قانون له مخې د پيرودنې د امرونو صادرول، د داوطلبئ د مسوولينو، د ادارې د تدارکاتو او د پيرودنې د سپارنې څارل
- د دولتي پروګرام پر بنسټ د حبوباتو او غلو دانو پيرودل، برابرول او ويشل
- په ولايت کې د تعليمي پروګرامونو عملي کول، د ښوونځيو، ساينسي، مذهبي او نورو کولتوري موسسو د بنسټ ايښوولو او جوړولو لپاره د ادارو، سازمانونو او ولس همکاري راجلبول
- د قانون د حکمونو په رڼا کې د دولتي او حکومتي ودانيو پلورل او د حکومت لپاره د ودانيو پيرودل
- د مذهبي او تاريخي ورڅو نمانځل
- د کورنيو او بهرينو سازمانونو د خيريه مرستو څارنه او د مرستو د ترلاسه کولو لپاره د اړو او وړو خلکو په ګوته کول
- ولايت ته له مرکز څخه د پروګرامونو د تحقق او پلي کولو لپاره د استول شوو مسوولينو او پلاوو سره بشپړه همکاري او مرسته کول
- له قانون سره سم د کارکونکو هڅول، تقدير او د اړتيا په وخت کې د جزا صلاحيت او واک هم لري
- د ولايت او ولسوالئ د ښاروالیو د نظر او وړانديز پر بنسټ بدلونونه راوستل او د هو کړې لپاره يې اړوند څانګو او ادارو ته استول
- د نيشه يي موادو پر ضد مبارزه کول، د کوکنارو او چرسو د کښت مخه نيول، د ترياکو او هر ډول نيشه يي توکو د قاچاق پر ضد مبارزه او په دې اړه له اړوندو ادارو سره مرسته کول. د ادارو په کارونو باندې اغيز او نفوذ لرل. واليان د ولايت د پرمختيايي شوراګانو رياست هم په غاړه لري، دا شوراګانې په ولايت کې د حکومتي ادارو ولايتي شوراګانو او د ولايتي بيارغونې د ډلو تر مينځ په پوهاوي او همغږئ کې ستره ونډه لري

- د دولتي ملکيتونو، ځمکو، ځنګلونو، څړځايونو، د لوبو د زيرمو او نورو طبيعي شتمنيو څارنه، ساتنه او له هغو څخه معقوله او پر ځای ګټه اخيستل
- هغه قانوني او رسمي هدايتونه او لاربنووني چې د ولايت ادارو ته استول کيږي د عملي کولو او تحقق څارنه او پلټنه
- په ملي ورځو او نورو رسمي او تشريفاتي مراسمو کې د نظامي قطعو او کنډکونو د احترام او درناوي مراسم، چې قومندانان او پولندويان يې وړاندې کوي منل.
- حکومتي موخو او موخو ته د رسيدلو په منظور د عمومي سفرنو منل او په هغې کې برخه اخيستل
- د ولايت د اړوندو سندونو څارنه او ساتل
- د پوځ، پوليسو او ملي امنيت قومندانان او نظامي قطعات مکلف دي، چې خپلې اړوندې دندې د قانون پر بنسټ سرته ورسوي او نشي کولای چې د ولايت په هغو چارو چې په والي پورې اړه لري؛ لاسوهنه وکړي او يا هم د والي واک له ګواښ سره مخ کړي
- په ولايت کې د حکومت ادارو د لګښتونو منظورول د هغوی د جوړولو واک د حکومتي ادارو د بودجې د لګښتونو کنټرول او څارل او د قانون د موادو په رڼا کې د ادارو بودجې او تخصيص د بدلون په اړه هو کړه، د قراردادونو د تحقق، د هغو د تاويلی او يا هم له قرار داد څخه د سرغړونې په اړه د جبران او جريمې په هکله د پريکړې صلاحيت لري
- په ولايت کې د بودجې د لګښت څارل او په ولايت کې د بانک او خزانو ساتل او خوندي کول، د ولايتي پرمختيايي شوراګانو اجراات او کارونه هم يو له بل سره توپير لري. دا شوراګانې له واليانو سره مرسته کوي چې له نورو ادارو سره په ګډه د ولايت په پرمختيايي پلانونو او د هغو په تحقق باندې بحث وکړي او هغه وڅيړي. د سيمه ايزو ادارو قانون په دې ټينګار کوي چې واليان لږترلږه په مياشت کې يو ځل له نورو ادارو/څانګو سره مجلس کې برخه واخلي. د ولايت اداري مجلسونه (PAAS)
- د قانون د غوښتنو پر بنسټ د ماليانو راټولول او د ښاري عوايدو راټولول او بانکي حساب ته سپارل
- په معاملو کې د وزنونو او شريک سيستم د پلي کولو او رعايت څارل.
- د ازاد بازار د اصولو او شرايطو په نظر کې نيولو سره د ښارواليو په وسيله د خوراکي موادو د بيو کنټرول
- د موسسو د ودانيو او حکومتي ساختمانونو د ودانولو د چارو څارنه
- د ولايت په حدودو کې د مخابراتي سيستم غوړونه او رغاونه

- د بې کیفیته درملو د پلورنې او د غیر مسلکي او بې تحصصه تداوۍ مخه نیول
- د کانونو ساتل او د هغوی د غیر قانوني ویستلو مخ نیول
- د ولایتونو پرمختیا او ودې ته د سکټوري وزارتونو پاملرنه راجلبول
- له احصایي او سرشمیرنې سره مرسته کول او د خلکو هڅول، چې د سرشمیرنې له موظفینو سره مرسته وکړي او یا پوره معلومات ورکړي
- د سوداګرۍ، سیاحت، زیارتونو او نورو سپیڅلو ځایونو ته د تګ د پاسپورتونو د اسانتیاوو برابرول
- له مالدارانو سره د څر ځایونو او د مالدارۍ د محصولاتو لپاره د مناسبو مارکیټونو د پیدا کولو په اړه مرسته کول
- په ولایتونوکی د هوایي ډګرونو د اړوندو دفترونو په مرسته د هوایي ډګرونو د امنیت تامینول
- د ښارونو او کورونو د حالت د ښه کیدلو په اړوند اړوندو ادارو ته د رغنده وړاندیزونو او نظرونو سپارل
- د بیرته راستنیدونکو لپاره د اسانتیاوو برابرول
- د زلزلې، سیل او نورو ناورینونو پیښدلو په وخت کې، له ناورین ځپلی سیمې او ځای څخه لیدنه کوي، له ناورین ځپلو خلکو سره د خواخوږۍ په منظور موسسو، د پیښو ضد څانګو او له نور سکټورونو څخه د مرستو راجلبول
- د موسسو او ولس په همکارۍ د ملي تاریخي او نړیوالو سپورتونو پیاوړتیا او پراختیا او د سپورتي لوبو د ودې او ښه کیدلو په منظور سپورتي ډګرونو او کلپونو جوړول
- د تاریخي، عتیقه او انتیک آثارو د کیندنې، پیرودنې، پلورنې او قاچاق مخنیوي
- د تاریخي او لرغونو آثارو د ساحو د خوندیتوب لپاره وړ او لازم پروګرامونه سرته رسول
- په ولایت کې د ادارو ستونزو د حل په اړوند د دوی لوړو مقامونو ته د منطیقي او معتبرو وړاندیزونو ترتیب او سپارل

د والیانو دندې په روښانه توګه په دغو حکمونو کې نه دي ډلبندي شوي. له دغو نیمګړتیاوو سره سره، د والیانو له دغو دندو څخه ځینې یې لغوه شوي دي.
والیان په ولایت کې د اجرایه وي برخې استازي دي، نو هغوی له مرکز څخه د دولت لخوا د صادرو شویو فرمانونو او لارښوونو په عملي کولو او سرته رسولو مکلف دي. والیان د خپل واک په ساحه کې په همغږۍ او د اداري مسوولیتونو په سرته رسولو مکلف دي.

ولايتي پرمختيايي کميټې د واليانو لپاره د اجرااتو او پروګرامونو د څار او نظارت د ښو وسيلو په توګه کار کوي. سره له دې چې واليان په رسمي توګه د ولايتي ادارو د ورځنيو چارو د کنټرول واک نلري؛ خو پر دغو ادارو د پام وړ اغيز درلودلی شي. همدا شان د ادارو هر ډول لګښت چې له ۱۰۰۰افغانيو زيات وي، والي يې لاسليک کوي. نړيواله ټولنه په دې اړه شک لري چې د والي دا واکونه قانوني بڼه لري او که څنګه؛ خو په ولايتونو کې د واليانو دا واک او نفوذ منل شوی او له بلی خوا د سيمه ايزې حکومتوالی قانون هم دا د واليانو دنده بولي. په ولايتي کچه د لګښت د منظورۍ دا ډول واک، د سکټوري وزارتونو له عمودي جوړښت سره په ټکر کې دي. سره له دې چې واليان نشي کولای سکټوري رياستونه د خپلو امرونو تابع وګرځوي؛ خو واليان د مالي لګښت په اړه د خپلو واکونو له مخې، ددغو ادارو په کارونو کې خنډ رامينځ ته کوي. همدا راز واليان دا تمايل لري چې د سکټوري رياستونو لخوا د پلان جوړولو، لګښت، تهيې او تدارکاتو، د لانجو حل، ښاروالی چارو او دغه شان پر ولايت باندې نورې اړوندې چارې تر خپل اغيز لاندې راولي. واليان په رسمي ډول ولسمشر او د سيمه ايزو اورګانونو خپلواکې ادارې ته مسوول او حساب ورکوونکي دي. د جمهوري رياست مقام هغه فرمان چې د سيمه ييزو اورګانونو د خپلواکې ادارې د رامينځ ته کولو په اړه صادر شوي دي، د سيمه ييزی حکومتوالی د کار په اړه وايي:

"دغه نوې اداره د واليانو او ولسوالانو او د کابل له ښاروالی پرته د نورو ټولو ښاروالیو د کارونو څارنه کوي او د جمهوري رياست مقام دفتر ته په دې اړه راپور ورکوي". والي د داسې سياسي مقام په توګه چې ولسمشر يې ټاکي، د ولسمشر د استازي په توګه مخامخ ولسمشر ته مسوول او حساب ورکوونکی دي. په رسمي توګه والي پرته له ولسمشر څخه بل چاته مسووليت نه لري، ددې يو علت هم دادی، که چيرې والي نورو خلکو ته هم مسووليت درلودلی، نو بيا به والي دا وخت نه درلود چې د خپل ولايت د خلکو پر ستونزو فکر وکړي، بلکې تل به يې کوښښ دا وو چې اجرايه يې لوړ پوړي چارواکي خوښ وساتي. د ولايتي شوراګانو د وروستيو تعديلاتو پر بنسټ واليان د خپلو اجراتو په اړه ولايتي شورا ته مسوول دي، ولې عملاً تر اوسه داسې نه دي شوي، همدا ډول په ولايتي کچه د خلکو او حکومت ترمينځ کومې اړيکې نه تر سترګو کيږي.

ولسوالان مخامخ د واليانو تر واک لاندې دي او واليان د دوی په ټاکلو کې لوی لاس لري؛ که څه هم دا ددوی رسمي دنده نه ده. د ولسوالانو پر ټاکنو باندې د واليانو اغيز، پر شخصي اړيکو ولاړ حکومت مينځ ته راوړي او دا جوتوي چې شخصي اړيکې، پرقانون ولاړ سيستم په پرتله د حکومتوالی په کارونو کې زيات رول لري.

په ولايتونوکی د واليانو او د پوليسو د قوماندانانو ترمينځ اړيکې کونګې دي. د پوليسو د قانون (۴) ماده وايي: " پوليس خپلې دندې په مرکز کې د کورنيو چارو د وزير او په ولايتونو کې د واليانو او په ولسواليو کې د ولسوالانو په لارښوونه او رهبرۍ سرته رسوي" په قانون کې دا دوه ګونوالی، په دې باب پوښتنې رامينځ ته کوي چې والي پر پوليسو باندې څومره واک لري او يايې بايد ولري. د کورنيو چارو د وزارت دايرکتيف (لارښود) د پوليسو په تاکتيکي او عملياتي چارو کې د واليانو د مداخلې مخه ډب کوي. واليان يوازې پوليسو ته اجرايه وي امرونه ليږدولای شي؛ چې دا کار د والي او پوليسو ترمينځ په اړيکو کې مغشوشتيا نوره هم زياتوي. په لنډه توګه ويلی شو چې واليان، له حالاتو سره سم او د قانون پر بنسټ رولونه لري. واليان د خپل حاکميت په سيمه کې د اداري مسووليتونو تر څنګ، د ادارو د همغږۍ دنده هم لري. دوی د مرکزي حکومت استازي دي او د مرکز په استازيتوب فرمانونه رواج او عملي کوي او تر څنګه يې د محل او سيمې د پيښو راپور مرکز ته ورکوي. واليان د لګښتونو، همغږۍ، مقرريو ، تهيې او تدارکاتو، د مخالفتونو او کشالو حل او ښاروالۍ په چارو کې له رسمي او غير رسمي واکونو څخه يو ګډ ځواک لري. واليان لګښتونه منظوروي او په مقرريو کې هم د واک څښتن دي. په اوسنيو شرايطو کې واليان نه خلکو ته حساب ورکوي او نه هم ولايتي شوراګانو ته.

**په ولايت کې د سکتوري وزارتونو واحدونه**

د وزارتونو اوسنی اداري چوکاټ تر ډيره حده کمزوری دی. که څه هم زياتره وزارتونه په ولايتونو کې خپل استازيتوب لري؛ خو هلته بيا د وزارتونو د حکومتوالۍ او هم د خدمتونو د برابرولو سيستم ډير مرکزي دی. ولايتونه د ادارې، بودجې او يا هم د خپلو پرمختيايي پروګرامونو په اړه ډير لږ واک لري. د داسې پر مرکزيت ولاړ جوړښت له کبله، وزارتونه هغه چارې چې په ډيره ښه توګه د ولايت په کچه سرته رسيدلای شي، په مرکز کې له ځان سره ساتي.

د ولايت د ادارو سرچينې او امکانات، نه د ولايت د اړتيا د ارزونې پر بنسټ او نه هم د ولايت د ادارې د اړتياوو د څيړلو له مخې ټاکل کيږي. د ولايت ادارې خپل امکانات د تخصيص په توګه له خپل اړوند وزارت څخه په هرو دريو مياشتو کې يوځل ترلاسه کوي. دوی په خپلو تخصيصونو باندې له سره نظر يا د ډيرولو واک نه لري، په ولايتونو کې د نفوس پر سر د وزارتونو د کلنيو لګښتونو تر مينځ توپيرونه موجود دي. د مالي وزارت د ولايتي بودجې نوښت له مخې په بودجوي پريکړو کې د ولايتي ادارو د واک ونډه د مرکز په پرتله يوڅه ډيره شوې ده.

ولایتي اداري د مقرریو په برخه کې تولې پریکړې په خپله نشي نیولای. د لومړي او دویم بست پریکړه د اداري اصلاحاتو خپلواک کمیسیون کوي د ۳-۵ بستونو صلاحیت د وزارتونو او د ۷،۶ رتبې مقررۍ د ولایت د والي او ولسوالانو واک او صلاحیت بلل کیږي.

د ولایتونو واحدونه له یوې خوا په مرکز کې خپل اړوند وزارت ته مسوولیت لري او له بلې خوا په ولایت کې والي ته هم مسوولیت لري. ولایتي شورا هم له اداري څخه د هغې د اجرااتو په هکله پوښتنې کولای شي. ولایتي شورا د ادارو د اجرااتو راپور راټولولی شي، ولې د ادارو په اړه پریکړه نیول د شورا صلاحیت نه دی. سره له دې چې د ولایتي شوراګانو قانون د ولایتي شورا د رول په اړه کاږي: ولایتي شورا د ولایتي ادارو د پلان د پلي کیدلو په اړوند معلومات راټولوي او دا معلومات پارلمان او ولسمشر ته د لیکلي راپور په بڼه وړاندې کوي. ولې په قانون کې دا وضاحت نه شته؛ که چیرته کومې اداري یا واحد ولایتي شورا ته معلومات ورنه کړل؛ نو له اداري سره به څه کیږي؟

**ولایتي پرمختیایي کمیټه**

ولایتي پرمختیایي کمیټې د هغه فرمان پر بنسټ چې ۱۳۸۴ کال د تلې په میاشت کې ملي شورا منظور کړ، جوړې شوې دي. د ولایتي پرمختیایي کمیټې دندې عبارت دي له:

۱. په ولایت کې د وزارتونو د استازو تر منځ د همغږۍ رامنځ ته کول
۲. د ولایت د پرمختیایي پلان جوړول
۳. د مرسته کوونکو تر منځ د همغږۍ د کچې لوړول
۴. د پرمختیایي پروژو د کار څارنه
۵. د ښې ولسي اداري د جوړښت او ولس ته د ښو خدمتونو د ترسره کولو په خاطر د ولایت د ادارو د کاري ظرفیت یا وړتیاوو لوړول. د نورو ولایتي ادارو په څیر د ولایتونو د پرمختیایي کمیټو د رول او کړنو تر منځ هم توپیرونه موجود دي. د ولایت په اداري مجلس سربیره، د ولایت پرمختیایي کمیټه هم د ولایت د پرمختیایي پلان په پلي کولو کې د سکټوري ادارو تر منځ همغږۍ رامینځ ته کوي. که څه هم ولایتی پرمختیایي کمیټه په پرمختیایي کارونو او پلان جوړولو کې د انسجام یوه اداره ده؛ خو لکه څنګه چې ددغې پرمختیایي کمیټې او بودجوي بهیر ترمینځ کوم ډول تړاو نه شته؛ نو له همدې کبله پرمختیایي پلان جوړونه، د ولایت پر چارو څرګنده اغیزه نه لري. د بودجې د تصمیم نیولو صلاحیت یوازې په مرکز پورې تړلی دی، چې په دې ډول د ولایت د ولایتي شورا او پرمختیایي پلان جوړول او پلي کول له خنډ سره مخ

کيږي. د ولايتي بودجې د پروګرام چوکاټ ډير محدود دی، دا ځکه چې د بودجې جوړولو دا کار د مرکزي وزارت له خوا يوازې له ولايتي پرمختيايي کميټې سره په مشوره تر سره کيږي.

د پروژو او پلان د څار او نظارت په برخو کې هم د ولايتي شورا او د ولايتي پرمختيايي کميټې د کارونو ترمينځ تداخل تر سترګو کيږي، او ددې ترڅنګ د ولايتي شورا او د ولايتي پرمختيايي کميټې خپل مينځي اړيکې هم روښانه نه دي.

په لنډه توګه داسې ويلی شو چې په ولايت کې د اقتصاد د وزارت د اړوندې څانګې لخوا د ولايتي پرمختيايي کميټې لپاره آسانتياوې برابريږي، والي او يا هم د هغه استازی د ولايتي پرمختيايي کميټې رياست په غاړه لري. ولايتي پرمختيايي کميټه په ولايت کې د رياستونو او واحدونو تر مينځ همغږی را مينځ ته کوي، له ولايتي شورا او ناحکومتي موسسو، نړيوالو سازمانونو او د ولايتي بيارغونې له ډلې سره تفاهم کوي. ددې کميټې دنده د ولايت د پرمختيايي پلانونو جوړول او حتا د ولايت د بودجې ترتيبول دي. له ولايتي پرمختيايي کميټې څخه هيله کيږي چې د ولايت پرمختيايي پلان منظور کړي، په عامه او خصوصي سکټور کې د پانګې اچولو ستراتيژي جوړه کړي او د نيشه يي توکو پر ضد د مبارزې څارنه وکړي. د ولايتي پرمختيايي کميټې او د ولايتي شورا په دندو کې بالقوه تداخل ليدل کيږي. د ولايتي پرمختيايي کميټې ترکيب او اغيزمنتيا د هيواد په ټولو ولايتونو کې يو ډول نه ده. ولايتي پرمختيايي کميټې تر ډيرې د والي په همکارۍ پورې تړلې دي او د پلان او بودجې په جوړولو کې د دوی ونډه، پرته له همغږۍ جوړولو ناڅرګنده پاتې ده. د پلان او بودجې جوړولو د بهير ترمينځ؛ چې واک يې له مرکزسره دی، پيوند نه ليدل کيږي. د ولايتي بودجې جوړولو کار چې د مالي وزارت او نور مرکزي وزارتونه يې له ولايتي اړوندو غاړو سره په سلا مشوره ترسره کوي؛ له سرچينو سره د سيمه ايېزو لومړيتوبونو د همغږي کولو په لاره کې لومړی ګام دی.

**د ولايت اداري مجلس:**

د ولايت اداري مجلس له نن څخه ۴۵ کاله د مخه د ۱۳۴۴کال د ليندۍ په مياشت کې، ددې لپاره جوړ شو چې له والي سره د ولايتي ادارو په همغږي کولو کې مرسته وکړي. له قانون سره سم ددې مجلس غړي په دې ډول سره دي:

- والي،
- د والي مرستيال،
- مستوفي،

- د ولايت د امنيت مسوول،
- د ولايت څارنوال او د نورو ادارو مشران،

دغه مجلس په اونۍ کې يو ځل غونډه کوي. د نيمو غړو په حاضريدلو سره د مجلس غونډه جوړيږي. پريکړه د حاضر غړو په اکثريت سره نيول کيږي. که چيرې د دواړو خواو د رايو شمير مساوي وي؛ نو بيا وروستۍ پريکړه د مجلس رييس کوي. د جلسې سکرتريت د والي د دفتر اداري رياست پورې تړاو لري. د ښاروالۍ د قانون د ۴، ۱۴، ۴۲ او ۵۰ مادو او د مالدارۍ د قانون د ۱۲ مادې له مخې، هغه دندې چې د ولايت اداري مشورتي شورا ته ورکړل شوي، ولايتي اداري مجلس يې اجرا کوي. دا دندې عبارت دي له: په ولايت د حکومتي ځمکو پلورل او په اجاره ورکول، د حکومت پور په قسطونو بدلول. هغه قراردادونه چې د کار د قانون غوښتنې له پامه غورځولې وي، ماتولی شي او د ولايتي ادارو په هغو ستونزو باندې بحث کولای شي، چې ددغو ادارو د چارواکو لخوا ورته وړاندې کيږي.

**ولايتي شورا:**

ولايتي شوراګانې د اساسي قانون د ۱۳۸ مې مادې د حکم پراساس جوړې شوې دي. ولايتي شورا د ولايت په کچه يوازېنۍ مرجع ده، چې د ولايت د اداري مجلس د کارونو او اجرااتو حساب اخستلای شي. په ځينو مواردو کې د ولايتي شورا رول او ونډه څرګنده نه ده، ولې په هغو برخو کې چې شورا ته د قانون له مخې واک په روښانه توګه بيان شوی دی، بيا هم دغو شوراګانو ته عملاً تر اوسه صلاحيتونه نه دي ورسپارل شوي.

لکه څنګه چې دمخه ګوته ورته ونيول شوه، د اساسي قانون د حکمونو له مخې ولايتي شوراګانې بايد خپلې دندې له ولايتي ادارې سره په همکارۍ کې ترسره کړي؛ ولې د ولايتي شوراګانو قانون دا نه دي په ګوته کړي چې ولايتي اداره به له ولايتي شورا سره څه ډول همکاري کوي؟ ولايتي شورا بايد د څارنې او مشورې چارې ترسره کړي، ولې قانون په دې لړ کې د ولايتي شورا لپاره د واک څه يادونه نه ده کړې؛ چې د نورو ولايتي ادارو همکاري په دې اړه لازمي او حتمي کړي.

ولايتي شورا د قانون د ۴ مادې ۱۴ مه فقره وايي چې ولايتي شورا د ولايت له اوسيدونکو سره په هرو دريو مياشتو کې او له والي او نورو ادارو سره په مياشت کې لږترلږه يو ځل ليدنه او کتنه ولري. له بلې خوا څخه دغه حکمونه يا سيمه ايز چارواکي ولايتي شورا ته حساب ورکونکي نه ګڼل کيږي، يا په بله ژبه په قانوني توګه د ولايتي شورا د نظر په پام کې نيولو باندې

په قانوني توګه نه دي مکلف شوي. د همدې قانون ۱۸ مه ماده وايي چې په ولايت کې د سکټوري وزارتونو ادارې بايد ولايتي شورا ته د خپلو کارونو په اړه معلومات ورکړي، ولې دا نه دي په ګوته شوي که چيرې چا دا کار ونه کړ؛ نو څه به ورسره کيږي، چې دا کار ددغه قانون عملي کيدل له ستونزې سره مخامخ کوي او د ولايتي شورا په دندو کې چې څارنه او نظارت کول دي، خنډ رامنځ ته کوي.

د ولايتي شورا دويمه ماده وايي چې ولايتي شورا بايد د يو منتخب جوړښت په توګه کار وکړي او خلک، مدني ټولنه او حکومتي ادارې له ځان سره را شريکې کړي. او د ولايتي ادارو د چارو څارنه وکړي؛ تر څو په قانون کې داسې مواد ډير نه شي، چې د هغو له مخې ولايتي شورا له والي او ولايتي ادارې څخه حساب واخلي، دغسې څار او نظارت به په عملي توګه کومه معنا نه لري. د ولايتي شورا د څارنې د کار نور وضاحت به ولايتي شورا ته دا امکان وروبخښي چې خپلې د څارنې دندې په سمه توګه سرته ورسوي.

د شورا قانون همدا راز ډير ګونګ دی او د شورا رسالت يې چې د دولت د پرمختيايي موخو برابرول دي، له خنډ سره مخامخ کړی دی. د ولايت د شورا د اجراآتو د عملي کولو لپاره بايد د پلان په عملي کولو کې، د ولايتي شورا رول، د ولايتي شورا په قانون کې روښانه او واضح شي. ۴ مه ماده وايي چې: "تردې دمخه چې پرمختيايي پلان او د وړانديزونو په برخه کې پلان، دولت ته وړاندې شي، ولايتي شورا بايد د هغه په باب مشورې ورکړي او هغه منظور کړي" قانون دا نه روښانه کوي چې ولايتي شورا په پلان جوړولو کې څومره برخه لري. د ولايتي پرمختيايي کميټې او ولايتي شورا په کارونو کې تداخل موجود دی. د ولسمشر ۴۱۱۶ مه ګڼه فرمان حکم کوي. "واليان د له ولايتي شورا سره همکارۍ کې اجراات وکړي، پروګرامونه دې طرح تنظيم او پلي کړي. له اجرايه وي مکانيزم څخه پرته ولايتي شورا په ډيره اسانۍ څنډې ته کيدلای شي.

دا څرګنده نه ده چې ولايتي شورا د ورځينو لګښتونو لپاره له کومې څانګې يا اورګان څخه بايد پيسې ترلاسه کړي، دا په خپله د ولايتي شورا اجرايه وي واک له پوښتنې سره مخ کوي. د قانون ۱۷ مه ماده حکم کوي:" د ولايتي شورا اداري چارې او خدمتونه دې ولايت ترسره کړي" قانون په دې باب بيا هم پټه خوله دی، چې ولايت د ولايتي شورا اړين خدمتونه او اداري چارې ترسره کړي. ولايتي شورا د خدمتونو د لګښتونو په ډګر کې پر والي پورې تړلې ده. د ولايتي شورا د بودجې او اړوندانو د ګمارنې چارې هم له هغې ولايتي ادارې څخه چې دوی يې بايد څارنه

وکړي؛ خپلواکې نه دي؛ نو له دې کبله ولایتي شورا ډیر ځله د ورځنیو خدمتونو د سرته رسولو امکانات هم نه لري.

دا چې په ولایتي کچه دا ټاکل شوې شورا د خلکو د استازیتوب لپاره عمومي چوکاټ وجود نلري؛نو له امله یې د افغانستان خلک خپلې ګیلې او شکایتونه د حکومتي ادارو له لارې اړوندو مراجعو ته نشي رسولای.

د ولایتي شورا له دندو څخه یوه اساسي دنده هم د ولایت په چوکاټ کې له خلکو او مدني ټولنې سره په ګډه خدمت او یا ګډون دی. پوښتنه داده چې ایا ولایتي شورا خپل اغیزمن منتخب موقف ساتلی شي؟ د خلکو او استازیو تر مینځ اړیکې کمزورې دي. د انتخاب له دې طریقې سره چې یو تن د خپلې واحدې نه لیږدندونکې رایې په وسیله د ولایتي شورا لپاره څو تنه استازي غوره کوي، په مشخص ډول د ولسوالۍ استازیتوب له مینځه ځي. ولایتي شورا د ټول ولایت په کچه د واحدې نه لیږدندونکې رایې پر بنسټ غوره کیږي؛ نو ددې سیسټم په اساس د ولایتي شورا په غړیتوب کې ددې پته نه لګیږي چې په شورا کې د ټولو ولسوالیو استازي موجود دي او که څنګه. نن ورځ د شورا غړي یوازې د یوې محدودې ډلې استازیتوب کوي؛ نه د ټول ولایت د اوسیدونکو. د شورا دا استازي هر یو په مجموع کې د انتخاباتي حوزې، چې ولایت دی، په پرتله ډیر د خپلې ځانګړې ولسوالۍ استازیتوب کوي، یعنې د ولایتي شورا استازي د ټول ولایت له استوګنو سره دومره تړون نه لري، لکه د خپلې ولسوالۍ له اوسیدونکو سره[1].

په لنډو سره ویلی شو چې ولایتي شورا ټولو خلکو ته مسووله ده. دا ځکه چې یو منتخب مجلس دی او د دوی رول او ونډه عبارت ده له: د ولایت په پرمختیایي پروګرامونو کې برخه اخیستل، د ولایتي او په ولایت کې د حکومتي موسسو څارنه، د ستونزو هوارول، د هغو دودونو له مینځه وړل چې له قانون، شریعت او د بشري حقونو له معیارونو سره په ټکر کې وي، چاپیریال ساتنه، او د غیر قانوني نیشه یي توکیو د قاچاق په مخنیوي کې هلې ځلې کول. د ولایتي شورا د ولایت د پرمختیایي کمیټې او د والي ترمینځ خپل مینځي اړیکې روښانه نه دي. اوسنی قانون د ولایتي ادارې همکاري نشي باوري کولای. په موجوده قانون کې په ادارو او د قانون د تنفیذ په ادارو باندې داسې بندیزونه نه دي لګول شوي چې د ولایتي شورا په مجلسونو کې برخه واخلي او یا د هغوی ته د اړتیاوړ معلومات ورکړي او په همدې ډول داسې کوم ځانګړې میکانیزم هم نشته چې ولایتي شورا د ولایتي پلان جوړونې په بهیر کې څومره شامله ده او څه ونډه لري. ولایتي شورا

[1] همیش نیکسن. د افغانستان د ولایتي ادارو جوړښت. د AREU د سنتیز مقاله اپریل ۲۰۰۸

نشي کولای چې له ولايتي ادارو څخه حساب وغواړي . د ولايتي شورا په اړوند يو څه ستونزې موجودې دي او هغه دا چې دې ادارو ته څومره امکانات په واک ورکړل شوي؛ نو له همدې کبله دوی نشي کولای چې خپلو رايو ورکونکو ته له ولايتي ادارو سره د اړيکو په هکله او د ولايتي پلان جوړونې په هکله د قناعت وړ ځوابونه ورکړي.

ولايتي شورا د خپلې انتخاباتي حوزې د استازيتوب اساسي ونډه په غاړه لري، په پرمختيايي پلان جوړونه کې برخه اخلي او د ولايتي ادارو د چارو او کړنو د څارنې دنده لري؛ خو موجوده قانون دوی ته نه دا واک ورکړي او نه يې دا زمينه برابره کړې چې خپلې دندې په سم ډول سرته ورسوي.

**ولايتي محکمې :**

په اوس وخت کې قانون د محکمو د جوړښت او په ولايتي کچه د دوی د کارونو او دندو د لاربښوونې لپاره کومې او مشخصې لاربښوونې نلري چې د هيوادوالو د شکايتونو او دعوو د حل په اړه څه وکړي او خپل کارونه څنګه په مخ بوځي؟ ولايتي محکمې په روانو حالاتو کې د واليانو، ولايتي ادارو او ولايتي شورا د غير قانوني پريکړو او غير قانوني کړنو د څار او کنټرول وس نلري.

**د ولسوالۍ اداره:**

ولسوالي په افغانستان کې د اداري تشکيل ترټولو ټيټ اداري واحد دی. د ولسوالۍ په تشکيل کې ولسوال او د سکټوري وزارتونو دريمه درجه واحدونه شامل دي. په ولسوالۍ کې پرابتداييه محکمې سربيره د پوليسو څانګه او څارنوال هم شته. په ولسوالۍ کې له حکومتي، رسمي تشکيل سره سره بيا هم د حکومتوالۍ کوم اداري چوکاټ وجود نلري.

## ولسوال

ولسوال د ولسمشر لخوا ټاکل کيږي. ولسوال يوازې د حکومت اجرايه وي استازی نه؛ بلکې په ولسوالۍ کې د دولت لومړی درجه استازی هم دی. حکومت په ټولنه او ولس کې له ولسوالۍ څخه نور ښکته تشکيلات نلري؛ نو له دې کبله ولسوال او ولسوالي د دولت لخوا له ولس سره پر

کیدونکي چلند ډیر اغیز لري. دوی کولای شي چې د خلکو عرضونه واخلي او یا یې لوړو چارواکو ته وړاندې کړي.

ولسوال، والي ته راپور ورکوي؛ ولې په یوه وخت کې د ولسوالیو فزیکي جلاوالی ددوی اړیکې کموي؛ نو همدې خنډونو د ولسوال حساب ورکونه یا مسوولیت له خنډ سره مخ کړی.

د سیمه ایيزه حکومتوالی د قانون ۴ مې مادې د ۲ یمې فقرې د حکم له مخې د مسولیت او واک په سیمو کې د ولسوال او والي د صلاحیتونو او واک په مینځ کې څه توپیر نشته. په عمل کې د ولسوال تشریفاتي ځواک محدود دی؛ ولې په حکومتي تشکیل کې د ولسوالۍ په کچه مرکزي شخص بلل کیږي. ولسوال یو لړ اداري دندې لري چې عبارت دي له:

- د پیژند پاڼو یا تذکرو ورکول،
- د مړینو او ودونو ثبتول.

ولسوالان په ولسوالیو کې په پولیسو باندې مستقیم اغیز او واک نلري؛ ځکه چې پولیس د خپلو کړنو راپور د ولایت امنیې قومندان ته ورکوي؛ نو له دې کبله ولسوالان د امنیت په اړه نیغ په نیغه او ستر مسوولیت نلري.

ولسوالان د خپلو مامورینو په کړو وړو باندې په عمل کې ډیر نفوذ او اغیز لري، په خپلو مامورینو باندې د همدغه ډیر واک او اغیزې له مخې ولسوالان په ولسوالیو کې د فعالیتونو په څار او کنټرول کې ډیر رول لري. ولسوالان د مخالفتونو او ستونزو په حل کولو کې لوی لاس لري. ولسوالان د ولسوالۍ مشران او سپین ږیري راغواړي د ولسوالۍ اړوند ستونزې ورسره تر بحث او څیړنې لاندې نیسي. په ډیرو ولسوالیو کې ولسوالان شوراګانې جوړوي چې ده ته د چارو په سرته رسولو کې مشوره ورکړي او په پریکړو کې ورسره مرسته وکړي.

د ولسوال د خدمت موده د یوې ولسوالۍ پرڅوکی مشخصه نه ده؛ ولې په منځنې ډول د نولس (۱۹) میاشتو په شاوخوا کې اټکل کیدلای شي.
ولسوالي په حکومتي تشکیل کې تر ټولو ټیټه یا کوچنی متشکله اداره ده. ولسوال په رسمي ډول په دې تشکیل کې د همغږۍ رول لري. ولسوال په ولسوالیو کې تر ټولو مهم مامور ګڼل کیږي. د ولسوال غیر رسمي ونډې او رولونه عبارت دي: د مخالفتونو او ستونزو حل، چې دا کار له ولایت او سیمه ایيزه غیر رسمي مشرانو سره ددوی د اړیکو په څرنګوالي پورې اړه لري. ولسوال په خپل څنګ کې نیمه غیر رسمي شوراګانې هم لري، ددې ترڅنګ ولسوال له ملکانو، اربابانو، د کلي له مشرانو سره هم اړیکې ساتي. دغه شوراګانې د اهمیت وړ ګڼل کیږي. په

ولسوالۍ کې د ولسوال رول، په ولایت کې د والي له رول سره ورته والي لري؛ سره له دې چې رسمي صلاحیتونه یې محدود دي. د ولسوالۍ په تشکیل کې ولسوال تر ټولو مهم او اساسي شخص ګڼل کیږي. ولسوال سربېره په خپلو رسمي دندو چې د تذکرو ورکول او د ودونو او مړینو ثبتول دي؛ د مخالفتونو او کشالو په حل، د ولسوالیو د اړوندو مسئلو او ستونزو پر سر د بحث لپاره د ولسوالۍ د استازو او مشرانو راغوښتل او د مجلسونو دایرول او د ولسوالۍ له اوسیدونکو څخه د عریضو اخیستل هم د نوموړي په دندو کې شمیرل کیږي.
ولسوال په خپله ولسوالۍ کې د حکومت په استازیتوب له خلکو او ولس سره د سیاسي اړیکو په ټینګښت کې هم اساسي ونډه لري. ولسوال د خلکو او حکومت په مینځ کې د پیوستون او نښلولو اساسي کړۍ ده. که چیرې خلک د ولسوالۍ په هره اداره کې کار ولري؛ نو غوښتنپانه د ولسوال په نامه ورکوي؛ چې ولسوال ورته د مناسب ځواب ورکولو واک لري. [2] دولت ته د لاسرسي په کنټرولولو سره ولسوال له خلکو سره د دولت د چلند پر څه ډول والي لویه اغیزه لري. ولسوال پردې چارې هم ډیره اغیزه او کنټرول لري، چې دولت او بهرني جوړښتونه دې له سیمه اییزو مسئلو سره څرنګه او څه ډول چلند ولري. پردې چارو کې د مخالفینو پاڅون، سیمه اییزې لانجې، د نیشه یي توکو تولید او قاچاق شامل دي. پر دغو مسئلو باندې د اغیز په درلودلو سره، د ولسوال واک ترهغه څه ډېر زیاتیږي؛ چې په رسمي ډول ده ته ورکول شوی دی. والیان د ولسوالانو په مقررۍ کې اغیزه لري. د ولسوالانو په اړه دا تصور هم موجود دی، چې دوی مادي امکاناتو او بډو ته هم لاسرسی لري؛ نو له همدې کبله زیاتره د ولسوالۍ پر څوکۍ کې بدلونونه ژر ژر رامنځته کیږي. د ولسوالانو بدلول رابدلول او مقررۍ ، د یو سیمه اییز ځواکمن شخص د ملاتړ د ترلاسه کولو په خاطر کیږي. په ولسوالۍ کې د ولسوال د خدمت موده په منځني ډول تقریبا نولس (۱۹) میاشتې ده. د ولسوالانو په بدلون کې د اړیکو او ارتباطاتو سیاست ډیره ونډه لري. په ولسوالۍ کې خلکو ته د خدمتونو په برابرولو کې د ولسوال رول د پام وړ دی. ددې لپاره چې د ولسوالۍ په کچه د ولس او حکومت اړیکې سمې او باوري شي؛ نو ولسوالان باید خلکو ته د خدمت په روحیه سمبال او ځان خلکو ته مسوول وبولي. خلکو ته د ولسوال مسوولیت، د حکومت لخوا خلکو ته د خدمتونو برابرول او د حکومت او خلکو ترمینځ پیوستون پیاوړي کوي.

ولسوال د کشالو په حل او د سیمه اییزو لانجو او کشالو په اوارولو کې مهم رول لري. هڅه کیږي چې ډیر اختلافونه او لانجې خپله په ولس کې حل شي. کله چې د جرمونو او شخړو راپور ولسوالۍ ته رسیږي، لومړۍ شخړې کوونکي ولسوال ته مراجعه کوي، ولسوال په دې باب پریکړه کوي، چې وړاندې شوې عریضه بیرته د شخړې د حل په خاطر د کلي مخورو ته

[2] همنیش نکسن، د افغانستان د ولایتي ادارو جوړښت. د AREU د سنتیز مقاله، اپریل ۲۰۰۸

واستوي، پخپله يې حل کوي، او که يې پوليسو، څارنوالی او يا محکمې ته وليږي؟! د شخړو په حل کې د دوديزو ولسي جوړښتونو او دولتي ادارو ترمينځ تړاو وجود لري؛ او ولسوال ددې دواړو ډولونو اړيکو ترمينځ د اړيکو کړی دی. د شخړو په حل کې پوليس څارنوالي او محاکمې ته د خلکو مراجعه د ولسوال په نفوذ پورې تړاو مومي.

**د ولسوالۍ شورا:**

د اساسي قانون له مخې د ولسوالۍ شورا ددې لپاره جوړه شوې چې "د خلکو فعالېتونه او چارې سره منظمې کړي او خلکو ته ددې زمينه برابره کړي چې په خپله سيمه ييزه اداره کې فعاله ونډه واخلي" د ولسواليو شوراګانې لا تردې دمه نه دي انتخاب شوي. د ولسواليو شوراګانې په هرو درې کلونو کې د انتخاباتو د خپلواک کميسيون له لوري د پټو او مستقيمو رايو په پايله کې جوړيږي. د اساسي قانون ۸۴ مه ماده حکم کوي چې د هر ولايت د ټولو ولسواليو د شوراګانو له غړو څخه يو تن مشرانو جرګې ته د دريو کلونو لپاره، د ولايت د استازي په توګه ليږل کيږي.

**په ولسوالۍ کې د وزارتونو دريمه درجه واحدونه:**

د بيلابيلو لاملونو له کبله د کورنيو چارو وزارت، د کليو د بيا رغونې او پراختيا وزارت، د پوهنې وزارت او د کرهنې او مالدارۍ وزارت، د ولسوالۍ په کچه خپلې څانګې او تشکيلات لري. د وزارتونو دا څانګې لږ اجرايه وي مسوليتونه لري او د پريکړه کولو د صلاحيت کچه يې هم لوړه نده. په هغو ولسواليو کې چې هلته د پوهنې او د روغتيا د وزارت مسوول پرسونل نه وي؛ نو د کلنيکونو او ښوونځيو راپور مخامخ د ولايت په مرکز کې خپلو اړوند رياستونو او څانګو ته استوي. په ولسوالۍ کې د ادارو تر مينځ همغږي لږ ترسترګو کيږي او په ولسوالۍ کې د ادارو د مشرانو د کار موده، د دوه کلونو په شاوخوا کې ده.

**د ولسوالۍ پرمختيايي اسامبله:**

د ولسوالۍ پرمختيايي اسامبله د کليو د بيا رغونې او پراختيا د وزارت د سيمه ايېز ملي پرمختيايي پروګرام په بنسټ جوړه شوې، په هغو ولسواليو کې چې د کليو پرمختيايي شوراګانې وجود لري؛ نو د ولسوالۍ پرمختيايي اسامبله (D.D.A) د کليو د پرمختيايي شوراګانو له رييسانو او مرستيالانو څخه جوړيږي. په هغو ولسواليو کې چې د کليو د پرمختيايي اسامبلې نشته، د ټولنې غير منتخب مشران د ولسوالۍ پرمختيايي اسامبلې لپاره ټاکنې کوي. له دې کبله د ولسوالۍ

پرمختیایي اسامبلې ټاکنې بشپړه ولسواکه بڼه نه لري. د ولسوالۍ پرمختیایي اسامبله، په ولسوالۍ کې د کلیو د پرمختیایي شوراګانو استازیتوب کوي.

د کلیو د بیارغوني او پراختیا وزارت د ولسوالي د پرمختیایي اسامبلې او د کلیو لپاره د یو هراړخیزه پرمختیایي پلان جوړولو په هکله اجرایه وي لارښوني لري. ددغو لارښونو له مخې د ولسوالۍ د پرمختیایي شورا اساسي دندې دادي "له ولسوالۍ سره په پلان جوړولو، اداري، د پلان په تحقق، د پروژو په پلي کولو، د پروژو په پرمختګ، د پروژو په ارزونه او د سرچینو د انسجام په چارو کې مرسته وکړي." د ولسوالۍ پرمختیایي اسامبلې د پلان جوړولو، همغږۍ او مشورې ورکولو په برخو کې یو لړ دندې او وظایف لري. په دغو دندو کې د ولسوالیو لپاره د داسې لومړیتوبونو او ستراتیژیو په ګوته کول شامل دي، چې د خلکو او کلي ګټو ته انعکاس ورکړي او د ولایتي پلان جوړوني له بهیر سره په سمون کې وي. بله دنده یې داده چې د ولسوالیو اسامبلې د ولسوالیو لپاره د پرمختیایي پلانونو مشري وکړي. ددغې اسامبلې د کارلایحه هم دا په ګوته کوي چې د ولسوالۍ په کچه د ټولو پرمختیایي موسسو، پروګرامونو او پروژو ترمینځ اغیزناکه انسجام مینځ ته راولي. له همدې امله؛ نو د ولسوالي پرمختیایي اسامبله باید د ولسوالۍ په کچه د پلان جوړولو، سرچینو څخه د ګټې اخیستلو، پلي کولو، څارنې او ارزونې په کارونو کې پوره مرسته او همکاري وکړي.

**د کلي اداره :**

په دودیزه توګه ملک، خان او ارباب د کلي له لوري، حکومت کې د خلکو استازیتوب کاوه او له دې سره سره یې د خلکو د ستونزو په حل کولو کې  پوره ونډه اخیسته. په هیواد کې، په غیر رسمي ډول د کلیو د اداري جوړښتونه له یو بل سره ډیر توپیر لري. په ډیرو ټولنو کې ملک له حکومت سره د ټولنې د استازي په توګه کارکوي او ځینې اداري کارونه هم کوي. په ځینو ولسوالیو کې ملک د ولسوال لخوا په کلي کې د حکومت د استازي په څیر ګڼل کیږي؛ نو په دې لحاظ ملک د ځینو غیر رسمي واکونو څښتن دي.

**د کلي شورا:**

که څه هم اساسي قانون د کلي د شورا د جوړښت په اړه وایي چې "د کلي شورا کار د خلکو د فعالیتونو د تنظیم او هغوی ته ددې زمینه برابرول دي؛ چې په کلیواله اداره کې فعاله برخه

واخلي" په کليو کې شورا بايد انتخاب شي." خو په کليو کې دغه شوراګانې لا تر اوسه نه دي انتخاب شوي.

**د کلي پرمختيايي شورا:**

د کليو د بيارغاونې او پرمختيا وزارت په ۱۳۸۲ کال کې هڅه وکړه چې د ملي پيوستون د پروګرام، د يوې برخې په توګه، د کليو پرمختيايي شوراګانې جوړې کړي؛ له دې کار څخه د ملي پيوستون دغه دوه موخې درلودې:

۱. د پروژو پر بنسټ د کليو د پرمختيا پروګرام

۲. د ولس د اداره کولو د ظرفيت لوړول، د کلي پرمختيايي شورا تر شپيتو زرو ډالرو پورې بودجه ترلاسه کولای شي، ترڅو په دې بودجې باندې خپلې د اړتيا وړ پروژې پلې کړي، چې په دې پروژو کې د انساني سرچينو د پرمختيا پروګرامونه هم شامليدای شي.

په لومړيو دوو کلونو کې د کليو د بيا رغونې او پرمختيا وزارت د ملي پيوستون د پروګرامونو پر بنسټ، په هيواد کې ۱۰۴۰۰ کليوالي شوراګانې جوړې کړې دي. همدې وزارت په دريم کال هم د شوراګانو جوړولو ته دوام ورکړ چې۴۹۰۰ نورې شوراګانې يې جوړې کړې. په دې توګه په هيواد کې له ۱۷۰۰۰ څخه ډېرې کليوالي شوراګانې د دريو کلونو په موده کې جوړې شوي دي. په دې وروستيو وختونو کې تقريبا د افغانستان په نيمايي برخه کې کليوالي پرمختيايي شوراګانې جوړې شوي او په کار يې پيل کړی دی.

دغه کليوالي شوراګانې دا دنده لري چې د ولسونو لپاره، د هغوی د لومړيتوبونو پر بنسټ، ټولنيز پرمختيايي پلانونه جوړ کړي. کليوالي پرمختيايي شوراګانې د ملي پيوستون د پروګرام له لارې د منظورو شويو پروژو د پلي کولو لپاره پيسې ترلاسه کوي. د ملي پيوستون د پروګرام له لارې کليوالي پرمختيايي شوراګانو ته يوازې يو ځل پيسې ورکول کيږي، او دايمي بنه نه لري.

د ملي پيوستون پروګرام کليوال دې ته هڅوي چې د پروژو په انتخاب او پلي کولو کې برخه واخلي. د ملي پيوستون پروګرام، د ولسي وګړو لخوا د پروژو پلي کولو په برخه کې يو شمير پرمختللي معيارونه لري. ددغو معيارونو پلي کول، د هيواد په بيلا بيلو برخو او کليو کې يو له بل سره توپير لري. نادولتي موسسې د اسانتياوو برابرونکو په توګه، په کليو کې د ملي پيوستون پروګرام پلي کوي؛ دغه موسسې د کليوالي شوراګانو په ټاکنو کې مرسته کوي. د کليوالو لخوا ټاکل شوې پرمختيايي شوراګانې د کليوالو لومړيتوبونه په ګوته کوي او ددغو پروژو د پلي کولو

لپاره د قسطونو له لارې پېسې تر لاسه کوي. د ملي پيوستون پروګرام د سيمه ايېزې پرمختيا په برخه کې يو نوښت دی. بله خبره دا چې دا پروګرام  په کليو کې د خلکو د حکومتوالی د بنسټ اېښوولو په لاره کې يو نوښت هم دی. د هيواد په ډېرو برخو کې د کليوالي شوراګانو په ټېر انتخابي جوړښتونه ليدل کيږي. په ډېرو حالاتو کې د اسانتياوو برابرونکو موسسو لخوا د ټاکنو بهير په داسي ډول برابر شوی وي، چې په شوراګانو کې د ښځو ګډون زيات کړي. د کليو د پرمختيايي شوراګانو د مشرتابه په ټاکنو کې  توپيرونه ليدل کيږي.
کليوالي پرمختيايي شوراګانې پردې بريالۍ شوي چې د کلي په کچه د موجودو سرچينو په پرمختيا کې لوی ګام پورته کړي؛ چېرې چې دغه سرچينې د کليو په کچه په برياليو پرمختيايي پروژو اوښتي دي، هلته د حکومت د مشروعيت او محبوبيت ستنې لا ځواکمنې شوي دي. کليوالي پرمختيايي شوراګانې د هيواد په کچه داسي جوړښتونه دي چې  په ولسي ستنو ولاړ دي.

د ملي پيوستون پروګرام په بيلابيلو پړاونو کې پلی او ترسره شوی دی. ځينې له دې پړاونو څخه دادي:

- د کليوالي پرمختيايي شوراګانو ټاکنې،
- ددغو شوراګانو ترکيب او جوړښت،
- د کليوالي پرمختيايي شوراګانو پرمختيا او د پروژو پرغوره کولو او پلي کولو[3]سربيره د نورو فعاليتونو سرته رسول.

په داسي حال کې چې د کليوالي پرمختيايي شوراګانو ډېر شمير  غړي دا دعوه لري چې، په حکومتي فعاليتونو او د شخړو په حل کې بوخت دي؛ خو دا کارونه په ټولو ځايونو کې يو شانته نه دي. د شوراګانو دغه غړي دا ډول کارونه له دوديزو جوړښتونو سره په همغږۍ کې سرته رسوي. د کليو په پرمختيايي شوراګانو او د ولسي حکومتوالۍ په کارونو کې د ښځو ريښتينی ګډون له ډېرو ستونزو سره مخ دی؛ د ښځو ګډون ډېر د اسانتياوو په شتون پورې اړه لري. د ښځو ګډون د پروژو د انتخاب په پړتله په ولسي اداره کې ډېر لږ دی.

اکثره ټولنې، کليوالي پرمختيايي شوراګانې له پروګرام جوړولو څخه پرته، د نورو موخو لپاره هم کار وي. د راپورونو له مخې کليوالي پرمختيايي شوراګانې  حشرونه او د خپلې خوښې ډله ايېز کارونه هم تنظيموي. له دغو شوراګانو څخه ځينې يې د ناورين ځپلو لپاره مرستې او اسانتياوې برابروي او ځينې يې بيا د ټولنيزو خير ښېګڼو پروګرامونه لکه؛  تر ګواښ لاندې خلکو لپاره د کارونو پيدا کول او اړو کورنيو ته  د پيسو راټولول هم پرمخ وړي.

[3] هميش نيکسن. د سيمه ايېزی حکومتوالی بدلون، په افغانستان کې د کليو پرمختيايی شوراګانې، د AREU مقاله، فيبروری ۲۰۰۸

کليوالي پرمختيايي شوراګانو د ټولنې د سوکالۍ  په لار کې د يادونې وړ کارونه سرته رسولي دي. دې شوراګانو د هيواد په ډيرو برخو کې هيوادوال هڅولي دي چې د پرمختيا په باب خپل لومړيتوبونه په ګوته کړي. د کليوالي پرمختيايي شوراګانو مشروعيت او د خلکو لخوا د دوی منل؛ د کليوالي پرمختيايي شوراګانو لخوا خلکو ته د سرچينو له برابرولو سره تړاو لري.

په سيمه ايزه حکومتوالۍ کې د شوراګانو د اوږد مهال موجوديت او فعاليت په خاطر د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت قانوني زمينه برابره کړې ده. اوږد مهال موجوديت کليوالي پرمختيايي شوراګانو د فعاليت لپاره د همدې وزارت لخوا يو ځانګړې قانون جوړ شوی چې دغه قانون په ۱۳۸۵ (د ۲۰۰۶ کال نوامبر) کې د ولسمشر لخوا توشيح شو. دغه قانون د يوې اداري مقررې په توګه، په ولسونو او کليو کې، د کليو د بيارغونې اوپراختيا وزارت فعاليتونه تنظيموي؛ خو بل وزارت ددغه قانون په اجرا باندې ملزم نه دی. دغه ځانګړې مقرره، د کليوالي پرمختيايي شوراګانو ونډه او رول نور هم پراخوي او له اصلي فعاليتونو څخه بهر، د همغږۍ او ادارې نور فعاليتونه او دندې هم ورسپاري. د کليوالي پرمختيايي شوراګانو په باب په دغه مقررې کې يو شمير نورې موضوعګانې نه دي روښانه شوي؛ چې له کبله يې دا پته نه معلوميږي چې کليوالي پرمختيايي شورا د مدني ټولنې يو سازمان دی او که سيمه ييزه اداره؟ دغه راز په دې ځانګړې مقرره کې دا نه ده روښانه شوې چې ايا کليوالي پرمختيايي شوراګانې خپلې دندې او فعاليتونه له نورو کليوالي شوراګانو، ولسوالانو او يا هم د ولسوالۍ له شوراګانو سره څه ډول تنظيم او همغږۍ کړي؟ ددې ترڅنګ کليو کې د شخړو اورول؛ چې کليوالي پرمختيايي شوراګانو ته سپارل شوي؛ هم په مقرره کې نه دي واضح شوي.

په هيواد کې د کليوالي پرمختيايي شوراګانو د وړتيا په هکله هم يو لړ پوښتنې موجودې دي. دا پوښتنې را وړلاړيږي چې د کليوالي پرمختيايي شوراګانو ظرفيتونه او وړتياوې څه ډول لوړولای شو؛ ترڅو هغوی وکولای شي، د حکومتوالۍ فعاليتونه  سرته ورسوي. يوه بله پوښتنه چې په دې اړوند شته، هغه داده چې د ملي پيوستون پروګرام د بودجې د ودريدلو په وخت کې به ددې شوراګانو دوام څومره وي.

د واک ځينو دويزه جوړښتونو؛ چې په هغو کې ملکان، عنعنوي شوراګانې او ولسوالان شامل دي؛ د کليوالي پرمختيايي شوراګانو له موجوديت سره مخالفت څرګند کړی دی.

**د کليو په کچه غير رسمي اداري[4]:**

**ملك، ارباب، قريه دار:**

دا خلك د حكومت او ټولنې تر مينځ رابطه جوړوي. هغوی ستونزې حلولای شي. دوی د کلي د عامه ملکيت ساتنه کوي.

ملك يا قريه دار د خلکو او د ولسوالۍ د ادارې ترمينځ يو غوره اړيکه جوړونکی دی. د ملك اصطلاح د عربي له ژبې څخه اخيستل شوې چې د واك، کنټرول او حکمرانی معنا لري.

د ملك دنده، واك او ټاکنه د هيواد په بيلابيلو برخو کې يو ډول نه ده.

په ځينو سيمو کې دا نظام کمزوری شوی دی. په نورو سيمو کې ملك په کليوالو ادارو کې مرکزي حيثيت لري.

ملکان د ټولنې او د ولسوالۍ ادارې ترمينځ د پل حيثيت لري. هغوی په جرګو، مرکو، د ودونو او زيږيدنې په ثبتولو او په ودونو کې د کورنيو استازيتوب کول او داسې نورو چارو کې خپل رول لوبوي.

ملکان يا خو د خلکو په وسيله ټاکل کيږي او يا هم ورته ملکي په ميراث پاتې وي.

نوي ملکان د کورنيو د مشرانو د خوښې او جوړجاړۍ په ترڅ کې ټاکل کيږي. ملکان د زيات او يا کم نفوذ درلودونکي وي. ملک کيدلای شي د يوه کلي يا څو وړو کليو لپاره غوره شوی وي. په ځينو سيمو کې د فرعي ولسواليو په ډول يو نظام پيژندل شوی چې (منطقه) ورته ويل کيږي. دغه منطقې يو شمير ملکان لري. ملکان د خپلې څوکۍ لپاره نه له دولت او نه له خلکو څخه مادي ملاتړ ترلاسه کوي.

په ځينو ولايتونو کې د ارباب د اصطلاح اطلاق د ټولنې په با نفوذه خلکو کيږي. د اربابانو نفوذ د هغوی د زياتو ځمکو له کبله دی. په هيواد کې د کليو د حکومتوالۍ په نظام کې لوی توپير شته.

**خان:**

خان هغه لوی ځمکوال دی؛ چې د کليوالي ټولنې سرچينې کنټرولوي، د کلي خواريکښو ته د کار زمينې او بزګرو ته د کښت لپاره ځمکې ورکوي او په شخړو کې د منځګړي رول هم لوبوي.

**سپين ږيری، د ګوزر ملك او کلانتر:**

سپين ږيري د ټولنې هغه نارينه مشران دي چې زياتره د خپل ګاوند يا خپلې قبيلې مشري کوي.

---

[4] همنيش نکسن، د افغانستان د ولايتي ادارو جوړښت. د AREU د سنتيز مقاله، اپريل ۲۰۰۸

**ميراو(ميراب):**

په کليو کې د ويالو د اوبو ويش او کنترول د دوی په غاړه دی.

**علمآ، ملايان:**

عالمان د ټولني مذهبي لارښوونکي دي. دوی د شريعت د قانون له مخې د امامت، خطبو ويلو او په ټولنه کې د اخلاقي چارو په اړه د قضاوت واك لري. علما د شريعت له نظره شخړې هم حل او فصل کوي.

**اربکيان:**

اربکي د هيواد په جنوب ختيځ کې سيمه ييزې مليشې ته ويل کيږي؛ چې يو ډول قبايله يي بڼه او جوړښت لري. اربکي ځواک له سيمه ييزو قبيلو څخه جوړ دی، د سيمې خلك يې مرسته کوي، دوی هم په سيمه کې خلك پيژني. اربکي د اړتيا په وخت د سيمه ييزو جرگو د پريکړو د پلي کولو دنده پر غاړه اخلي. د اربکيو نظام پر قبيلو ولاړ دی او د ټولني د دفاع چارې پر مخ وړي. دوی د هغو سيمو لپاره اغيزمن دي، چيرې چې د يوې قبيلې خلك اوسي.

**د واليانو او ولسوالانو ټاکنه:**

په شفافه او اعتباري توگه د واليانو او ولسوالانو ټاکل، چې د وړتيا پر اساس وي؛ د حکومت په قانونيت او اغيزمنتوب باندې ستر رول لري. تجربو ثابته کړې هغه هيوادونه چې له شخړو راوتلي دي؛ کله چې يي مشرتوب مناسب، شفاف او مسوول اداري نظام جوړ کړي او بيايي په معقوله او مساوي توگه پلی کړي؛ نو سوله، امنيت او ټيکاو راوستل او د پرمختگ چاره اسانه کيږي.

که څه هم دولت باور او قانونيت پيدا کړي، خو اوس هم ورته په کار دي چې د واليانو او ولسوالانو د ټاکلو لپاره يو شفاف او مسول اداري نظام په کار واچوي. په هيواد کې د يوې تلپاتې سولې د ټينگښت لپاره ډير ضروري دي چې د واليانو او ولسوالانو ټاکنې د وړتيا پر بنسټ وشي.

د واليانو او ولسوالانو د گمارلو په هکله قانون او پاليسي روښانه دي. د لوړ پوړو چارواکو د مقررولو ميکانيزم بايد چې د لوړې کچې گمارلو لپاره د ټولو نوماندو هر اړخيزه ارزونه وکړي؛

لکه څنګه چې د افغانستان په پریکړه لیک(لندن تړون) کې راغلي او ولسمشر هم د لوړو دولتي څوکیو د انتخاب لپاره د مشورتي میکانیزم د جوړیدو ۲۴۲۱ ګڼه فرمان د ۲۰۰۸ کال د سپتمبر په ۱۶ لاسلیک کړی، چې پکې په دې اړه قانوني وضاحت موجود دی؛ چې څه ډول باید لوړ پوړي چارواکي وټاکل شي؛ خو د والیانو او ولسوالانو په ټاکلو کې دا قانون نه مراعتیږي.
د اساسي قانون ۵۰ مه ماده د وړتیا پر بنسټ د والیانو او ولسوالانو په ګډون د دولتي چارواکو د ګمارلو لپاره قانوني اساس جوړوي. په دې قانون کې راغلي" دولت مکلف دي چې د یوې سالمې اداري او د هیواد په اداري سیستم کې د سمون د را مینځ ته کېدو لپاره لازم تدبیرونه ونیسي. اداره خپل اجرات په بشپړه بیطرفۍ او د قانون له حکمونو سره سم عملي کوي.
د افغانستان وګړي حق لري د قانون د حکمونو په حدودو کې له دولتي ادارو څخه اطلاعات ترلاسه کړي، دا حق د نورو حقونو او عامه امنیت ته له زیان رسولو پرته حدود نه لري.
د افغانستان وګړي د اهلیت له مخې، پرته له هر ډول توپیر څخه، د قانون له حکمونو سره سم، د دولت خدمت ته منل کیږي."
د افغانستان د تړون مطابق چې د ۲۰۰۶ م کال په جنوري کې ورباندې موافقه شوې وه  په ملي کچه د مقرریو یو روښانه او شفاف میکانیزم په شپږ میاشتو (د ۲۰۰۶کال اګست پورې) دننه به جوړ او په دولس میاشتو (د ۲۰۰۷ کال فبروري) پورې به په کار واچول شي او په ۲۴ میاشتو (فبروري ۲۰۰۸) کې به په پوره توګه پلي شي؛ چې هدف به یې د مرکزي حکومت او قضائي نظام د لوړ پوړو چارواکو، والیانو، لوړ پوړو پولیسي افسرانو، ولسوالانو او د ملي امنیت ولایتي رییسانو او چارواکو ټاکل وي." په ملي کچه د مقرریو د میکانیزم موخه داده، چې د لوړو څوکیو لپاره د لوړ پوړو چارواکو د هر ډول ارزیابۍ رول ترسره کړي.

د افغانستان دولت د هغې ژمنې په ځواب کې چې د افغانستان په تړون کې یې کړې وه؛ ولسمشر د لوړ پوړو چارواکو د مقررۍ لپاره د مشورتي میکانیزم فرمان د ۲۰۰۶ کال په سپتمبر کې لاسلیک کړ. د مقرریو د میکانیزم په هکله د ولسمشر په ۲۴۲۱ګڼه فرمان (۲۰۰۶) او د افغانستان د تړون په موادو کې لوی توپیر موجود دی.
د فرمان په ۴ مه ماده کې راغلي چې "لوړې څوکۍ عبارت دي له والیانو، د وزارت معینانو، د ولایت د امنیي قومندانانو، د ملي امنیت ولایتي رییسانو او د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسیون له غړو څخه. د والیانو مرستیالان او ولسوالان به د ملکي خدمتونو کمیسیون د مقرریو د بورد لخوا، ددغه بورد د قانون له ۱۴ مې مادې سره سم ټاکل کیږي"

د ولسمشر له فرمان سره سم د لوړ پوړیو چارواکو د مقررولو عالي بورد مسوولیت لري چې د ذکر شویو څوکیو (والیانو، وزیرانو له معینانو، د ولایت د امنیي قومندانانو، د ملي امنیت ولایتي

رییسانو او د اداري اصلاحاتو او د ملکي خدمتونو کمیسیون غړو) لپاره د نوماندو په هکله خپل نظرونه په لیکلي بڼه ولسمشر ته وړاندې کوي.

ولسمشر د ۲۰۰۷ کال په اکتوبر په میاشت کې د ۱۲۹۷ ګڼه فرمان لاسلیک کړ، چې پکې راغلي دي. د اداري اصلاحاتو او د ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون په ځای به د سیمه ییزو اوګانونو خپلواکه اداره له ولسمشر سره د مرستیال والیانو او ولسوالانو په ټاکلو کې مرسته کوي.

ولسمشر د ۲۰۰۸ د اپریل په میاشت کې د لوړ پوړیو چارواکو د مقررولو عالي بورد د کړنلارو او د قواعدو په باب خپل ۶۷۷ ګڼه فرمان لاسلیک کړ. په دغو کړنلارو او قواعدو کې راغلي چې د د لوړ پوړیو چارواکو د مقررولو عالي بورد د والیانو او ولسوالانو د هر اړخیزې ارزیابۍ مسولیت په غاړه لري. د طرزالعملونو د قانون په لومړۍ ماده کې راغلي دي چې: ددې لپاره چې ملکي اداره اغیزناکه شي، دولتي مسولیتونه او د وزارتونو په کچه ظرفیتونو ته وده ورکړل شي، په استخدام کې د شفافیت او وړتیا اوصول په نظر کې ونیول شي؛ نو په کار ده چې کار اهل د کار ته وسپارل شي." د قواعدو ۵ مه ماده وایي چې هئیت باید د والیانو او ولسوالانو د ګمارلو او بدلولو په هکله خپل نظر ورکړي. هغه معیارونه چې نوماند کسان ورباندې ارزول کیږي دا دي:

۱. د اسلام د سپیڅلي دین د لارښوونو او ارزښتونو رعایتول

۲. د وړتیاو او لیاقت درلودل

۳. د اړونده دندې لپاره لازمه تجربه او مهارت

۴. د ښه شهرت، صداقت او ملي ارزښتونو ته د وفادارۍ درلودل

۵. د ژبې، قوم، مذهب، جنس، نژاد، سیاسي او ټولنیز حیثیت په باب بیطرفي او توپیر نه کول

۶. په جرم، د بشریت خلاف جرمونو او د مدني حقونو ترپښو لاندې کولو له امله د کومې باصلاحیته محکمې لخوا نه وي محکوم شوی

۷. له غیر قانوني وسله والو ډلو، د نیشه یي توکو له قاچاقچیانو، او د بشري حقونو تر پښو لاندې کولو سابقه ونلري

د سیمه اییزو اورګانونو خپلواکه اداره د والیانو د ټاکلو په برخه کې کار کوي؛ خو لا په دې باب دغې خپلواکې ادارې ته په رسمي ډول دغه واک نه دی ورکړل شوی.

د  سیمه اییزو اورګانونو خپلواکي اداري  فرمان کې راغلي، چې "دغه نوې اداره به د والیانو، ولسوالانو او ښاروالیو (کابل ښاروالي دې بهیر کې نه ده شامله) د چارو څارنه به کوي او د دوی د کړنو په هکله به جمهوري ریاست مقام ته راپور ورکوي."
د سیمه اییزو اورګانونو خپلواکي اداري په اړه فرمان کې د والیانو د مقررولو په هکله څه نه دي راغلي او نه هم داسي کوم قانوني بنسټ وجود لري چې د هغه له مخې سیمه اییزو اورګانونو خپلواکي اداري ته د والیانو د مقررولو په باب رول ورکړل شوی وي.

که څه هم چې د سیمه اییزو اورګانونو خپلواکي اداري د والیانو او ولسوالانو په مقرریو که رول ترسره کړی، ولې د افغانستان د ټرون له نویو معیارونو سره سم چې د کال ۲۰۰۸ د جولای د میاشتې پر ۶مه نیټه د همغږۍ او څارنې د ګډ بورد په اتمه غونډه کې  منظور شوی "په تیرو ۱۸ میاشتو کې د شویو مقرریو له ډلې څخه، یوازې د لسو مقرریو په هکله او هغه هم د ځانګړو نوماندو په برخه کې  له بورد سره سلا مشوره شوې وه. هغوی یوازې په اتو(۸) مواردو کې وړاندې شوي نوماندان تایید کړل.  له بورد څخه هیڅ وخت ونه غوښتل شول چې د هغو نوماندو لنډ لیست  وړاندې کړي، چې په نظر کې  نیول شوي دي."

**افغان ملي پولیس:**

امنیت د پرمختګ لپاره لومړنی شرط دی. د نظم شتوالی د دولت جوړولو او پرمختیا لپاره غوره زمینه برابروي. پیاوړی پولیسي ځواك په هیواد کې د حکومتوالۍ د پیاوړتیا لپاره ډیر اړین دی او ددې وس لري چې د قانون حاکمیت ته پایښت ورکړي. افغان ملي پولیس په ولایتونو کې د خلکو او حکومتوالی د ښللولو لومړنۍ کړۍ جوړوي. که څه هم په تیرو دوو کلونو کې د کورنیو چارو په وزارت کې د اصلاحاتو لپاره اقدامات شوي؛ خو د رازراز خنډونو له کبله دغه اصلاحات نیمګړي پاتې دي. د پولیسو د اصلاحاتو په لار کې اداري فساد غټ خنډ دی. که چېرې د پولیسو په وس، اغیزمنتوب او حساب ورکونه کې ښه والی را نه شي؛ نو دا به د قانون په حاکمیت، اقتصادي پرمختګ او همدا راز د ټولیز ټینګښت او د افغان دولت د مشروعیت په لار کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت وړتیا له خنډ سره مخ کړي.
ددې لپاره چې د پولیسو د ځواک د ډیرو ستونزو حل پیل شي، د تنخواګانو او رتبو هغه اصلاحات چې پیل شوي دي، د ۲۰۰۵ کال په پای کې به پیل شي. ددې اصلاحاتو غټ مقصدونه دا دي:

1. د لوړو څوکیو په لړیدو سره، د پولیسي ځواک د لوړو څوکیو په تشکیل کې بدلون راوستل،

2. د پولیسو د لوړ رتبه چارواکو د ټاکنې لپاره د ازموینې او ټاکنې د یوه داسې بهیر جوړول، چې ټاکنې د وړتیا په بنسټ وشي نه د خپلولی، بډو، او شخصي علاقمندیو پر بنسټ، او
3. د اړوندانو د مقررولو او د اوږده مهال لپاره د هغوی له خدمتونو څخه د برخمن کیدلو او دا شان فساد او درغلی د مخنیوي په خاطر لوړې تنخواګانې ورکړل شي

د تنخواګانو او رتبو د اصلاحاتو غوره توکي، د وړتیا پر بنسټ د مقرریو د یوه داسې بهیر جوړول دي؛ چې له مخې به یې د هغو لوړو څوکیو لپاره چې په شمیر کې یې لږوالی راغلی دی، وکارول شي.

د پولیسو په رتبو او تنخواګانو کې اصلاحات د ۲۰۰۵ کال له پای څخه د ۲۰۰۷ کال تر نیمایی پورې به پلی شي.

د پولیسو د اصلاح په لار کې لوی خنډ د وړتیا په بنسټ د ټاکنو او ترفیع نشتوالی دی.

په ۲۰۰۵ کال کې وزارت او نړیوالې ټولنې دا ومنله هغو اړوندانو ته چې په یوه نه اصلاح شوي ماحول کې کار کوي، د ډیرو روزنیزو ټریننګونو او وسائلو برابرول کافي نه دي، نو ځکه د افغان ملي پولیسو اداري جوړښت او اصلاحاتو ته ډیره پاملرنه وشوه او ډیرې سرچینې ورکړل شوې.

لاندې ټکي په اداري اصلاحاتو کې شامل دي:

- د افغان ملي اردو د سیمه اییز جوړښت په څیر، د پولیسو لپاره هم د قوماندې د پنځو سیمه اییزو مرکزونو جوړول،
- د قومندې د سیمه اییزو مرکزونو د شاملولو لپاره، د قوماندې مراتبو ته بیا له سره کتنه،
- د افغانستان په جنوب کې د یاغیانو پر خلاف د عملیاتو لپاره د پولیسي ځواك له سره تنظیمول او ګومارل
- د هیواد د لویو لارو د پولیسو د منتظره قطعاتو په څیر پولیسی ځواکونو لغوه کول او د هغو پر ځای د نویو پولیسی ځواکونو لکه افغان ملي مرستندویه پولیسو او د عامه نظم د پولیسو مینځ ته راوړل

- د افغانستان په ترون کې د پولیسو لپاره د تصویب شوې اندازې (یعني له ۶۲۰۰۰ څخه تر ۸۲۰۰۰) پولیسو په تشکیل او اندازه کې نوراصلاحات او زیاتوالی راوستل

له ۲۰۰۲ کال را په دې خوا په افغانستان کې، د کورنیو چارو د وزارت د پولیسو په اصلاحاتو کې د یوې هراړخیزې ستراتیژۍ نه شتون، د اداري اصلاحاتو لپاره یو غټه ستونزه ده. د ۲۰۰۲ را په دې خوا د دوو اداري اصلاحاتو د نوښتونو په برخو کې د پام وړ پرمختګ شوی- د تنخواګانو او رتبو په سیستم کې اصلاحات.
داسې مخ په زیاتیدونکې نښې نښانې لیدل کیږي چې د کورنیو چارو وزارت په خپلو پوستونو کې مسلکي کسان ګماري او داسې اقدامات تر لاس لاندې دي چې د هیواد وګړو ته دا وس ورکوي چې له پولیسو نه حساب کتاب وغواړي. څو میاشتې وړاندې د شکایتونو لپاره د ۱۱۹ نومره فعاله شوه. د کورنیو چارو وزارت د ۲۴ ساعتونو لپاره یو تیلفوني مرکز جوړ کړی دی، چې په دې توګه پولیس کولای شي د خپلو ملګرو او نورو پولیسو په هکله شکایتونه وړاندې کړي او خلکو ته د پولیسو په ضد د شکایت کولو وس ور ښني.
د داخلي چارو د څانګې شپږ سیمه اییز دفترونه د جوړیدو په حال کې دي. ددې لپاره چې د داخلي چارو مرکزي څانګه به ددې وس ولري، چې وروسته له دې سیمه اییزو دفترونو ته شکایتونه واستوي. دا به د شکایتونو په څیړنه کې د کورنیو چارو له وزارت سره لویه مرسته وکړي. د کورنیو چارو وزارت ته مخامخ په یوه کوڅه کې د پوښتنو ګرویږنو او استیناف لپاره یو داسې دفتر جوړ شوی چې د خلکو لیکلي شکایتونه واخلي؛ خو دا په کابل کې یوازینی دفتر دی؛ ترڅو هغه وګړي چې په ولایتونو کې تیلفون ته لاسرسی ونلري، د هغوی شکایتونه واخلي.
په کورنیو چارو کې یو شمیر د پام وړ اصلاحات را منځ ته شوي او راوستل کیږي. د نورو اصلاحاتو بهیر ترلاس لاندې دی؛ ترڅو لاسته راغلی پرمختګ پیاوړی شي او دا باوري کړي چې دوی د یو بل په کار کې لاسوهنه نه کوي او د خپلو دندو له چوکاټ څخه نه وځي.

## ښاروالی

د ښاروالیو قانون د ښاروالیو د اداري جوړښت لپاره او همدا راز خپل ماموریت ته د رسیدو لپاره د پوره اندازې انعطاف درلودلو اساسات برابروي. د ښاروالیو اوسنی اداري جوړښت، ښاروالیو ته ددې وس نه ورکوي چې اړتیاوړ نننی ښاري خدمتونه وړاندې کړي. په ښاروالیو کې د چارواکو لکه ښاروال، د ښاروال مرستیال او کلیدي جوړښتونو لکه د ښاروالۍ شورا او د ښاروالۍ اداري مجلس دندې په قانون کې نه دي روښانه شوي. د حکومتوالۍ زیاتره بهیرونه،

لکه د عملیاتي پالیسی جوړونه، سیمه اییزه قانون جوړونه، د پلان پلی کول، څارنه او ارزونه، د ښاري فعالیتونو اداره کول، داخلي څارنه او د نورو ترمنځ کنټرول تر اوسه پورې د ښاروالیو په ادارو کې بنسټیز شوی نه دی. د خلکو او ټولنې ګډون، چې په دوامداره توګه د پالیسی او قانوني چوکاټ په وسیله روښانه کیږي، د ادارې د یو منل شوي معیار په توګه له تعریف او روښانه کولو څخه پاتې دي. د ښاروالیو څارنه د سیمه اییزو اورګانونو د خپلواکي ادارې له لومړنیو دندو څخه ده. همدا راز توقع کیږي چې ښاروالی باید د ولایتي حکومتوالی تر مخامخ څارنې لاندې وي؛ خو له دې سره سره د څارنې اوسنۍ طریقه ګونګه ده. د سیمه اییزو اورګانونو خپلواکه اداره د ښاروالیو د چارو د ریاست له لارې ځینې وختونه د ښاروالیو په چارو کې مخامخ ورګډیږي، د معلوماتو لپاره ښاروالیو ته پلټوونکي پلاوي لیږي او ډیر ځله له ښاروال او نورو چارواکو څخه معلومات غواړي. د ولسوالي او ولایت په کچه ډیری ښاروالی په مستقیمه توګه والي او یا د ولایت اداري مجلس ته (وروسته روښانه کیږي) چې والي یې رییس او د ولایتي واحدونو رییسان او د اړوندو سکټوري وزارتونو د واحدونو، رییسان یې غړي دي؛ راپور ورکوي. کله کله داسې کیږي چې د ولسوالیو ښاروالی خپل راپور د ولایت ښاروالی ته لیږي او د هغو تر څارنې لاندې کار کوي. ددغو ترتیباتو له مخې ولایتي ښاروالی د ولسوالیو له ښاروالیو څخه عواید تر لاسه کوي او د هغوی د لګښت لپاره بودیجه تیاوري، چې بیا وروسته په عمومي ډول د ولایتي ښاروالی د بودجې یوه برخه ګرځي. یو بل بدلون دادی چې د ځینو ولسوالیو ښاروالان د ولسوال تر واک لاندې کار کوي، ښایي دا به ددې حقیقت څرګندونه کوي چې د ولسوالی د ښاروالیو پولې د ولایتي ولسوالیو په بنسټ جلا کیږي.

د کابل ښاروالي د نورو مرکزي ادارو په څیر ځانګړی حالت لري چې په مستقیمه توګه خپل راپور مرکزي حکومت ته ورکوي. دا په مرکزي کچه سکټوري ادارو ته مستقیم لاسرسی لري. نورې ښاروالی زیاتره له سکټوري ادارو سره، په مستقیم ډول په مرکز کې د وزارتونو د دفترونو له لارې او یا هم د ولایتي دفترونو له لارې تړلي وي.

ښاروالی دنده لري چې د خپلو حوزو د خلکو اړتیاوې لیرې کړي، او د اړوندو لارښوونو او د مرکزي حکومت د اړونده ادارو له پالیسیو سره س، له خپلو سرچینو او عوایدو څخه کار واخلي. د ښاروالیو له قانون سره سم، یوه ښاروالي ژمنه ده چې لاندې اساسي خدمتونه تر سره کړي:

- د خوراکي توکو په برابرولو او ویش، د ناروغیو په مخنیوي، د معیشت، کولتور، سپورټ، ښوونې او روزنې، او حرفه یې زده کړو په برخو کې لومړني ټولنیز اقتصادي خدمتونه وړاندې کړي

- ټولنيز خدمتونه لکه د اړو بيوزلو مړو وګړو تکفين او تدفين، حقوقي مرسته، او داسې نور.
- سوله، امنيت او عامه نظم
- د عامه ضروري زيربناوو لکه د پاکو اوبو رسولو، د ناپاکو اوبو ويستلو، سړکونو، سپورټي آسانتياوو، عامه تشنابونو او ځان وينځلو ځايونو، مارکيټونو او کولتوري او تاريخي مرکزونو، مدني مرکزونو، پارکونو، کور جوړولو او سوداګريزو مرکزونو، او د ولسي ليږد راليږ اسانتياوو، جوړول، خوندي کول او ترميماتي پالنه
- د چاپيريال ساتنه او پالنه.

هغه خدمتونه چې مرکزي اداري يې برابرولو ته ژمنې دي لکه کرنه، اړيکتيايي او معلوماتي تکنالوجي، زيربنا، سوداګري او دې ته ورته نورشيان، نيغ په نيغه ددغو ادارو لخوا په پلان او پروګرام کې شاملې او برابريږي. ښاروالۍ ددغو پلانونو په پلي کې مرسته کوي او ځينې وختونه د مرکزي ادارې پر ځای پروګرامونه څاري. د ښاروالۍ سرچينو نشتوالي د واقعي اړتياوو د پيدا کولو او د خدمتونو د وړاندې کولو د مالي ملاتړ، په دواړو برخو کې د ښاروالۍ د خدمتونو د وړاندې کولو مخه ډب کړې. د ښاروالۍ په اداره کې د خدمتونو د وړاندې کولو سيستمونه بنسټيز شوي نه دي؛ ترڅو واقعي غوښتنو ته ځواب ووايي يا پر هغو سيمو باندې تمرکز وکړي، چې ډيرې اړمنې دي.

د سيمه اييزو ادارو په کچه، په پرمختيايي پلان کې ټولنېزه-اقتصادي پلان جوړونه لا بنسټيزه شوې نه ده. په ډيرو حالاتو کې حتی ښاروالۍ هغه اساسي ارقام نه لري چې د ځواب ورکونکو پرمختيايي پلانونو د جوړولو لپاره اړين دي. ښاروالۍ د ماسټر پلان جوړونې د هغو هلو ځلو اصلي موضوع ده چې د مرکزي حکومت په وسيله ترسره کيږي او په اصل کې د ښاروالۍ د ماسټر پلانونو د جوړونې، تاييد او تصويب مسووليت لري. ښاروالي دغه ماسټر پلانونه د مرکزي ادارې تر سرپرستۍ او څارنې لاندې پلي کوي. په ټوليزه توګه د ښاروالۍ په کچه داسې اداري جوړښتونه او ميکانيزمونه چې د پلان او بودجې د بهير اړيکې باوري کړي، نه شته؛ د خلکو ګډون ددغه بهير اصلي برخه نه جوړوي. سره له دې چې قانون د ښاروالیو اداري مجلسونو ته دنده سپاري چې پلانونه او بودجې تصويب کړي؛ ترڅو د ټولنې د ضروري اړتياوو او د ښاروالۍ د انګيرنو تر منځ په اړين واقعيت باندې غور باوري کړي.

ښاروالي مالي خپلواکي لري. ددې لپاره چې د خپلو عوايدو د پيداکولو لپاره پياوړې شوي دي او له دغو سرچينو څخه په ګټې اخستلو کې څه ناڅه آزادي لري. د حکومتي ادارو ترمينځ د بودجې

لیږد د قانون له مخې اجازه لري؛ خو په عمومي توګه نه ترسره کیږي. که چیرې ښاروالي د بودجې له کمښت سره مخ شي؛ نو په دې وخت کې باید بودجه د مرکزي حکومت له لوري بشپړه شي. کله چې د مرکزي حکومت پروژې ښاروالیو ته لیږدول کیږي، نو ور سره تړلې بودجه هم باید ښاروالۍ ته ولیږدول شي. د ښاروالیو بودجې د ښاروال له لوري برابریږي، د ښاروالۍ د اداري مجلس له لوري تاییدیږي، د مالي وزارت له لوري کنټرول کیږي، په ملي بودجه کې شاملیږي، او د تصویب لپاره د وزیرانو شورا ته وړاندې کیږي. د ښاروالیو بودجې له دوو برخو څخه جوړیږي، چې عملیاتي بودجه یې په سلو کې ۴۵ د ښاروالۍ له عایداتي منظمو سرچینو او پاتې په سلو کې ٪۵۵ یې پرمختیایي بودجه ده چې د ښاروالۍ له منظمو او بدلیدونکو عایداتي سرچینو څخه لاس ته راځي. که چېرې منظم عواید عملیاتي اړتیاوې پوره نه کړی شي، دا کمی او کسر به د په سلو کې ۵۵ منظمو او بدلیدونکیو عوایدو څخه پوره کیږي؛ خو د مالي وزارت تائید به غواړي.

اوسنی قانوني چوکاټ په لاندې ډول خلاصه کیږي:

- د ښاروالیو قانون په ۱۳۸۲ ل.ل کې د نوي اساسي قانون تر نافذیدلو درې کاله مخکې تصویب شوی؛ ځکه نو دغه قانون په پوره توګه له اساسي قانون سره بشپړ مطابقت نه لري
- د ښاروالیو په قانون یا نورو قوانینو کې د هیڅ ډول دندو یا مسولیتونو د سپارلو وړاندوینه نه ده شوې، چې دا کار د اساسي قانون د حکمونو خلاف دی، ځکه اساسي قانون د ولسي ګډون په مرسته د سیمه ایيزو شرایطو د ښه والي لپاره د اړینو واکونو سپارلو حکم لري
- اساسي قانون د ښاروال او د ښاروالۍ د شورا د غړو لپاره د ټاکنو حکم ورکوي؛ په داسې حال کې چې د ښاروالیو قانون د ګمارنې امر کوي
- په داسې حال کې چې د ښاروالیو قانون غواړي چې ښاروالۍ دې له مالي پلوه خپلواکې او په خپلو عایداتي سرچینو ولاړې وي؛ ولې ښاروالیو ته یې د عوایدو د ټولولو واک نه دی ورکړی، نه یې هغوی ته د خپلو سرچینو د برابرولو یادونه کړې او نه یې د ښاروالیو لپاره د ځانګړو عوایدو سرچینې په ګوته کړي دي
- د ښاروالیو موجوده حقوقي تعریف بشپړ نه دی او نشي کولای د ښاروالیو واقعي ځانګړنې او حالت انځور کړی
- دغه تعریف غیر ښاري سیمې (د ولایتونو ولسوالۍ) بیلوي؛ کومې چې د سلسله مراتبو د موجوده جوړښت په بنسټ له ښاروالیو سره په یوه کچه کې راځي. په سیمه ایيزه کچه د

دوو بیلابیلو ډولو ادارو شتون په څارنه، ارزونه او د راپور ورکولو په چاره کې ګډوډي را منځ ته کوي

- د کابل ښار، د مرکزي حکومت د وزارتونو په شان، له یوه ځانګړې وضعیت څخه برخمن دی
- د ښاروالیو د جوړولو لپاره شرایط بشپړ نه دي؛ ځکه نو نوره مباحثه غواړي؛ په دې خاطر چې د ځینو نورو فکتورونو اندازه کول او په پام کې نه نیول، لکه د ځمکې پراخوالی، جغرافیوي پولې، مالي او د خدمت د لیږلو وړتیا، او د اداري واک قلمرو اندازه کول ستونزمن کارونه دي
- د ښاروالیو په قانون کې دا وس نشته چې په روښانه توګه واکونه وسپاري یا د اړونده سیمو د اوسیدونکو د عمومي ښېګڼې په اړه خپل ماموریت ته په پوره ډول ځواب ووایي. له ښاروليو څخه ډيرې اړینې دندې بې ځوابه پاتې کیږي یا روښانه نه دي او یا هم کافي نه دي، لکه د پرمختیایي پلان جوړول، د عوایدو پیداکول، د اساسي خدمتونو برابرول، د ټولنې پیاوړي کول او د ځایي قانون نافذول

د مخکنیو روښانه شویو قانوني توپیرونو او کمیو له کبله قانوني او اداري خنډونه به د ښاروالیو په حکومتوالۍ کې شتون ولري:

- حقوقي او د پالیسی کمزوري چوکاټونه
- د مرکزي حکومت له اجازې پرته په غیر رسمي توګه جوړې شوې ښاروالۍ
- له مرکزي حکومت څخه سیمه اییزو ادارو ته د ناڅرګنده واک ورسپارل
- د مسلکي بشري سرچېنو کموالی
- نا روښانه مسولیتونه او واکونه
- انحصاري مرکزیت، په ځانګړې توګه د پریکړو په نیولو کې
- هغه تنګ چاپیریال چې د خصوصي سکټور فعالیت او ولسي ګډون محدودوي
- د مرکزي حکومت کمزورې څارنه او نظارت
- بې ثباتي او بې نظمي
- له اساسي قانون څخه سرغړونکي چارواکي، درغلي او فساد
- د شریکو ادارو ټيټه وړتیا
- د خدمتونو د وړاندې کولو کمزورې وړتیا، چې د ښاروالۍ د بې کیفیته او ناکاره خدمتونو لامل ګرځي

- د حکومت د لوړ پوړو ادارو او همدا راز د خپلو سیمو د خلکو په وړاندې د شفافیت او مخامخ حساب ورکوني نشتوالی
- د ښاروالۍ پرمختیا د لارښووني لپاره د اوږد مهالو پلانونو نشتوالی
- د سیستماتیکو او اقتصادي اداري تشکیلونو او میکانیزمونو نشتوالی
- د پرمختیایي موخو د ترلاسه کولو لپاره لږې سرچینې
- په لږ اندازه عواید لاسته راوړل او کمزوری مالي مدیریت
- د ولسوالۍ استازیتوب نشتوالی
- د ښځو لږ ګډون

اوسنی قانوني چوکاټ دا وړتیا نه لري چې د ښاروالیو او ولسوالیو په ګډون د سیمه ایيزې حکومتوالۍ لپاره بشپړه لارښوونه وکړي. له مرکزي حکومت څخه ډیرې ټیټې کچې حکومتوالۍ ته د دندو د سپارلو عمودي حالت روښانه نه دی، تر یوه حده پورې ددې لامل دادی چې د ښاروالیو او د ولایت د ولسوالیو په منځ کې توپیر کیږي، که څه هم دواړه د سلسله مراتبو له مخې په یوه ډله کې دي. پردې سربیره، ښاروالۍ د خپلو خدمتونو په بشپړه توګه وړاندې کولو او په اغیزمنه توګه د عملیاتو د تنظیمولو پوره قانوني بنسټ نه لري.

د ښاروالیو قانون په ۱۳۷۹ل.ل کال کې تصویب شو. هیڅ مرستندوی اصول او مقررات نشته چې ددغه قانون د حکمونو د پلي کیدو لپاره میکانیزمونه او لارښووني برابرې کړي. دلته اووه نور قوانین دي چې د ښاروالیو د قانون ځانګړې شرایط بشپړوي.

دې حقیقت ته په پام سره، چې د ښاروالیو قانون د اساسي قانون تر اعلان درې کاله مخکې نافذ شوی؛ نو لازمه ده چې دغه قانون د اساسي قانون له حکمونو سره د سازګارۍ او تړاو پیدا کولو لپاره له سره وکتل شي. پردې سربیره، ددغه قانون ځیني حکمونه روښانه یا ددې جوګه نه دي چې د ښاروالۍ د اداري پالیسۍ د جدولبندۍ او د ستراتیژي د جوړولو لپاره کافي بنسټ برابر کړي.

**عمده موضوعګاني دا دي:**

- د ښاروالیو او ولسوالیو پیژندګلوي روښانه نه ده
- د ښاروالیو د ډلبندۍ حکمونه نشته

- هیڅ داسې شرایط نشته چې د نویو ښاروالیو جوړول، د بې ظرفیته یا په غیر رسمي توګه د جوړو شویو ښاروالیو له مینځه وړل او د ښاروالیو یو ځای کول رهبري کړي
- د ښاروالیو اصلي او اختیاري فعالیتونه په روښانه توګه نه دي انځور شوي
- د اداري جوړښتونو او میکانیزمونو، لکه د ښاروالۍ د عملیاتو او ادارې، د حکومتي ادارو ترمینځ اړیکو، اداري څارنې، پرمختیایي مدیریت، مالي ادارې، شبکې جوړولو، او شراکت حکمونه یا نشته یا روښانه نه دي او یا کفایت نه کوي
- د قانون له حکمونو نه د سرغړونې د سزا په هکله حکمونه یا خو له سره نشته او یا په روښانه توګه نه دي تعریف شوي

د ښاروالۍ د حکومتوالۍ پالیسي باید داسې جوړه شي، چې یو حقوقي چوکاټ رامنیځ ته کړي او په بشپړه توګه له اساسي قانون سره؛ د افغانستان د بنسټیز قانون په توګه، مطابقت ومومي؛ ترڅو دا باور را مینځ ته کړي چې دغه ډول حقوقي چوکاټ د ښاروالیو ځانګړنې او دندې او همدا راز د هغوی جوړېدل، یو ځای کیدل او له مینځه وړل تعریفولای شي. دا ددې لپاره چې د ښاروالیو جوړولو او د دوی له ماموریت سره سم، د ادارې او حکومتوالۍ دندو سرته رسولو لپاره بشپړ حقوقي بنسټ برابر کړي، او همدا راز د هغو قوانینو، اصولو او مقرراتو د رامینځ ته کولو لپاره اساس جوړ کړي چې د ښاروالیو چارې سمبالوي.

## د سیمه ایزې حکومتوالۍ د دفترونو ودانۍ او اسانتیاوې

په موجوده وخت کې پوره ودانۍ نشته چې د سیمه ایزې حکومتوالۍ دفترونه پکې ځای پرځای او په ښه توګه د دندو او مسولیتونو د ترسره کولو جوګه شي. په ولایتي کچه، د ۳۴ ولایتونو له ډلې څخه ۲۹ یې د والي لپاره د کار دفترونه لري او بیا ددغو ۲۹ ولایتي دفترونو له ډلې څخه یوازې۲۴ دفترونه بریښنایي آسانتیاوې لري، او د ۳۴ والیانو له مینځ څخه یوازې ۱۵ والیانو ته د اوسیدلو ځایونه د حکومت لخوا برابر شوي دي. په همدې ډول د ۳۴ ولایتي شوراګانو له ډلې څخه یوازې د ۵ ولایتي شوراګانو لپاره د حکومت له خوا د کار ودانۍ برابرې شوې دي.

د ولسوالۍ په کچه دا ډول ډیرې لږې اسانتیاوې موجودې دي. د ۳۶۴ ولسوالانو له ډلې څخه یوازې ۱۸۰ ولسوالانو ته د کار لپاره دفترونه د حکومت لخوا چمتو شوي دي. او د ۳۶۴ ولسوالانو له ډلې څخه حکومت یوازې ۱۱۷ ولسوالانو ته د هستوګنې ځایونه برابر کړي دي.

د ودانيو نشتوالي د واليانو، ولسوالانو او همدارنګه د ولايتي شوراګانو د کارونو په وړاندې ښکاره ځنډونه جوړ کړي دي او دوی نشي کولای چې خپلې دندې او مسووليتونه په اغيزمنه توګه ترسره کړي.

## مدني ټولنه او رسنۍ

مدني ټولنه عبارت ده له داسې يوې مرجعې څخه چې په هغې کې خلک په خپله خوښه د ګډو موخو او ارزښتونو لپاره کار کوي. په نظري توګه ددې اداري تشکيل د دولت، کورنۍ او بازار له تشکيل سره توپير لري؛ ولې په عمل کې د دولت، مدني ټولنې، کورنۍ او بازار تر منځ پولې ډير ځله پيچلې، ګونګې او د بيا ارزونې وړ دي. په عمومي ډول مدني ټولنه د ځای، فعالينو او اداري تشکيلونو رنګينوالی له ځان سره لري، چې د رسميت، واک او اختيار له مخې سره توپير لري. په مدني ټولنه کې د ثبت شويو خيريه سازمانونو، نادولتي پرمختيايي بنسټونو، ټولنيزو ډلو، د ښځو سازمانونو، مذهبي سازمانونو، مسلکي او سوداګريزو اتحاديو، رضاکاره مرستندويه ډلو، ټولنيزو حرکتونو، کارو باري اتحاديو، حمايه وي ايتلافونو او ګروپونو[5] او دې ته ورته نورو سازمانونو په څير ډلې شاملې وي.

مدني ټولنه هغه ټولګه ده له ملکي رضا کارانو او ټولنيزو موسسو او بنسټونو څخه جوړه ده. مدني ټولنه د يوې داسې فعالې ټولنې بنسټ جوړوي، چېرې چې د دولت او سوداګريزو ادارو زورواکي واکمنه نه وي. په مدني ټولنه کې دولت، سياسي ګوندونه او خصوصي سکټور شامل نه دي. په افغانستان کې د مدني ټولنې بنسټونه دا دي:

- شوراګانې،
- جرګې،
- غونډې،
- ټولنيزې شوراګانې،
- علمي ټولنې،
- اربکي ځواکونه (قومي مليشې)،
- ټولنيز سازمانونه او ګروپونه،
- رضاکاره ډلې،

[5] د لندن د اقتصاد ښوونځی، د مدنی ټولنې مرکز، http://www.lse.ac.uk/collections/CCS/what_is_civil_society.htm. last accessed 29 July 2008

- غیر حکومتي موسسې،
- مسلکي اتحادیې،
- مذهبي سازمانونه،
- د علماوو شوراګانې،
- کارو باري اتحادیې،
- کولتوري ټولنې،
- د کارګرو اتحادیې،
- د ښځو سازمانونه،
- د فعالینو ډلې،
- خیریه ادارې،
- مدني ډلې،
- کلپونه (سپورټي، ټولنیز او نور)
- او همدارنګه د چاپیریال ساتنې ټولنې.

ددې لپاره چې یوه اغیزمنه سیمه اییزه او ولسواکه حکومتوالي رامنځته شي افراد، ټولنې او مدني ټولنه باید دداسې غړ د پورته کولو وړتیا ولري؛ ترڅو د حکومت په هغو پریکړو باندې چې د دوی په ژوند اثر پریږدي، اغیز وکړي. که چېرته دولت د خلکو اړتیاوو او نظرونو په وړاندې بې پروا وی؛ نو د وګړو غږ پورته کول به لږ اغیز ولري. د دولت مشروعیت تر یوه حده پورې پردې ولاړ دی چې هغه تر کومې اندازې د وګړو غوښتنو ته ځواب وایي. سربیره پردې د دولت د پریکړو په بهیر کې د مدني ټولنې ګډون، د غوره حکومتوالی او د بیوزلانو د ملاتړ لپاره لازم دی. د مدني ټولنې غږ پورته کیدل، ډیر ځله د حساب ورکونې د یو داسې سیستم په پیاوړتیا پورې اړه لري چې دولت د خلکو په وړاندې ځواب ورکولو ته وهڅوي. بریالي دولتونه د اجرایه وي برخې په هکله د بهرني کنټرول په اهمیت پوهیږي چې په رسمي ډول دغه کنټرول د مقننه اوعدلي اورګانونو لخوا، او په غیر رسمي ډول د مدني ټولنې او رسنیو له لارې ترسره کیږي.

نادولتي سازمانونه(NGO) په افغانستان کې د نورو فعالیتونو تر څنګ د خدمتونو په تر سره کولو، د انساني مرستو په لیږد او مدني پوهې په برخو کې کار کوي. ددې تر څنګ کورنی غیر حکومتي موسسې د حکومت د کړنو څارنه هم کوي او د ځواب ورکونې په ښه والي کې هم هلې ځلې کوي. که څه هم نادولتي سازمانونه افغانستان ته ددې لپاره راغلي چې د مرستو د لیږد او د خدمتونو په وړاندې کولو کې مهم رول ولوبوي؛ نه دا چې د خلکو په وړاندې د ځواب ورکونې

ځخه به دفاع کوي، ځکه نو د مدني ټولني موسسې د حکومت په څارنه کې ډیر ظرفیت نه ښیي او ډیر لږ لیدل کیږي چې د ملي شورا او یا اجراییه قوې هڅونه وکړي. د افغانستان د مدني ټولنې کمزورتیا هغه وخت تر سترګو کیږي چې د دوی او رسنیو تر منځ خپلواکې اړیکې او پوهاوی راپوهاوی نه وي. دا باید ومنو چې افغانستان په ملي او سیمه اییزه کچه، په سیاسي پریکړو او پرمختیایي پلان جوړونه کې د ټولني د برخه اخیستنې کوم رسمي دود، یا له سره نه درلود او یا دغه دود ډیر لږ وو.

په ملي او هم سیمه اییزه کچه غیر رسمي اداري جوړښتونه هم د مدني ټولنې په څیر فعالیت کوي. شوراګانې، جرګې، علمأ او همدارنګه ملکان له حکومت سره اړیکې لري. رسمي فعالین، لکه والیان له دغو غیر رسمي فعالو غاړو سره سلا مشورې کوي، خو په دی برخه کې کوم رسمي او د پایښت وړ اساس او نظم وجود نه لري چې څرنګه د غیر رسمي حکومتوالۍ جوړښتونه او حکومت سره تعامل وکړي. د خپلې ټولنې د خلکو د غږ پورته کولو لپاره دودیزو شوراګانو او جرګو رول نشتوکی بریښي. دودیزې شوراګانې او جرګې چې ملکان یې مشري کوي، کیدای شي د سیمه اییزو واکدارانو په ګټه کار وکړي. دغه جوړښتونه ددې پر ځای چې کارونه یې پر تدبیر ولاړ وي، ډیر ځله د ناڅاپي غبرګون په ډول کړنې کوي. سربیره پردې، د بیوزلانو او ښځو په څیر د ګوښه شویو کمزورو ډلو استازیتوب ډیر لږ کیږي؛ ځکه نو د هغوی پر ګټو نورې هم سترګې پټیږي.

د کلي پرمختیایی شورا یو ټاکل شوی اورګان دی او د دودیزو شوراګانو په پرتله ډیر ښځینه استازي لري. کیدای شي دغو شوراګانو ته دومره وده ورکړل شي چې د کلیو په کچه د حکومتوالۍ په ادارو واوړي، خو که د حکومت یوه برخه وګرځي؛ نو بیا د خلکو آواز نشي پورته کولای.

## د عامه خدمتونو د وړاندې کولو حالت

که څه هم په تیرو اوو کلونو کې د دولت د پیاوړتیا په برخه کې لږ څه پرمختګ شوی دی، خو بیا هم حکومتي ادارې لا تر اوسه د خپلو لومړنیو تجربو په پړاو کې دي، خلکو ته د حساب ورکولو کچه ټیټه او بشري وړتیا کمزورې ده، چې دا کار د اغیزمنو او برابرو خدمتونو په وړاندې کولو کې خنډ رامینځ ته کوي، اداري په خپل لومړني حالت کې دي. دا چې افغانستان د اقتصادي ټولنیز او کولتوري حقونو د نړیوال کنوانسیون په وړاندې د خپلو مسوولیتونو په پوره کولو کې لږ پرمختګ کړی، همدا رنګه په هیواد کې انساني پرمختګ ټیټ او د زریزې د پرمختیایي موخو په تر لاسه کولو کې لږ پرمختګ شوی، ځکه نو افغانستان د نړۍ یو له هغو هیوادونو څخه دی چې پکې د خدمتونو د وړاندې کولو کیفیت ډیر ټیټ دی.

لکه څنګه د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون (AIHRC) راپور په افغانستان کې د اقتصاد او ټولنیزو حقونو په هکله لیکي **"د خپلو هڅو سره سره، بیا هم حکومت د خپلو اساسي مکلفیتونو په برخه کې په دې کې پاتې راغلی؛ تر څو افغانانو ته د ټولنیزو او اقتصادي حقونو په برابرولو کې، د اقتصادي، ټولنیزو او کولتوري حقونو د نړیوال کنوانسیون له اصولو سره سم اجرات وکړي"**[6] دا چې ولې حکومت نه دی بریالی شوی چې دغه مکلفیتونه ترسره کړي؛ اساسي علت یې د خدمتونو په وړاندې کولو کې د وړتیا کمښت دی او د محدودوالي لامل یا علت دادی چې ټولې پریکړې په مرکز کې نیول کیږي، نور لاملونه یې په سیمه اییزې حکومتوالۍ کې د اداري مهارتونو نشتوالی دی چې د واک او بودجې د سخت مرکزي جوړښت او د خلکو په وړاندې د سیمه اییزې حکومتوالۍ د حساب ورکونې د کمښت له امله رامنځ ته شوي دي.

په ۲۰۰۰م کال کې نړیوالو مشرانو د زریزې اعلامیه لاسلیک کړه چې په هغه کې هیوادونو ژمنه وکړه؛ ترڅو په نړیواله کچه د سولې، بشري حقونو، ولسواکۍ، غښتلي اداري، د چاپیریال ثبات، د نیستۍ له مینځه وړلو، د بشري کرامت د اصولو پرمختیا، او د حقونو برابرۍ ته وده ورکوي. د زریزې اته پرمختیایي موخې د اندازې وړ موخو په توګه، د زریزې د اعلامیې پر بنسټ، ددې لپاره طرحه شوي دي چې پرمختیایي کارونه سرته ورسیږي او نیستي له مینځه ولاړه شي. دغه معیارونه هیوادونه په ټینګه دې ته رابولي چې د لوږې او بیوزلۍ په له مینځه وړلو سره بشري حالت ته ښه والی ور وبښي، د ښوونې، روزنې او روغتیا پالنې بشپړې کچې برابرې کړي، د جنډر(د ښځو او نرو برابري) انډول پیاوړی کړي او چاپیریال خوندي وساتي. افغانستان د ۲۰۰۴ کال په مارچ کې د زریزی اعلامیه لاسلیک کړه او ژمنه یې وکړه چې د زریزې پرمختیایي هدفونه به په لاس راوړي. له دې سره سره به د امنیت د راوستلو موخه تر ۲۰۲۰ کال پورې تر لاسه کوي[7]. لکه څنګه چې د افغانستان په هکله د ۲۰۰۵ کال د زریزې د پرمختیایي موخو په راپور کې راغلي، د بشري حقونو د ساتنې په وړاندې د حکومت د مکلفیت او د زریزې د پرمختیایي موخو د ترلاسه کولو تر منځ نږدې اړیکه شته، نو زیاتره دغه مقصدونه په یوه وخت کې ترسره کیږي. د زریزې د پرمختیایي موخو د ترلاسه کولو په وړاندې د حکومت د پرمختګ ارزونه دا ښیي چې که د زریزې د پرمختیایي موخو ترلاسه کول چټک نه کړي، نو حکومت به خپل هدف تر ۲۰۲۰ کال پورې ترلاسه نه کړای شي. د خدمتونو د وړاندې

---

[6] د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون، په افغانستان کې اقتصادي او ټولنیز حقونه II، د ۲۰۰۷ کال د اګست میاشت

[7] د افغانستان له پاره د زریزی پرمختیایي هدفونه دا دی: ۱. د سختی نیستۍ او لوږي له منځه وړل. ۲. هراړخیزه لومړنی ښوونه او روزنه ترلاسه کول، ۳. د جنډر تعادل او د ښځو پیاوړې کول، ۴. د ماشومانو د مړینی د کچې کمول. ۵. د میندو روغتیایي شرایط ښه کول، ۶. د ایچ آی وي یا ایدز، ملاریا او نورو ناروغیو توافقنامه، ۰۷ د چاپیریال د ساتني باوری کول، ۸. د پرمختیا له پاره نړیواله همکاري او ملګرتیا جوړول. د امنیت تقویه کول.

کولو په هکله د غښتلي پرمختګ اړتیا لیدل کیږي؛ تر څو د افغانستان لپاره د زریزې پرمختیایي هدفونه لاس ته راشي[8].

په افغانستان کې د بشري پرمختګ کمزورې کچه او د زریزې د پرمختیایي موخو په لور پرمختګ، خلکو ته د موجوده خدمتونو د وړاندې کولو کمښت څرګندوي[9]. د افغانستان د بشري پرمختګ شاخص په ۰,۳۴۵ کې ولاړ دی. د نورو هیوادونو په پرتله افغانستان د ۱۷۸ هیوادونو له ډلې څخه یو سلو څلور اویایم هیواد دی. د ښځو لپاره د بشري پرمختګ حالت په څرګند ډول ټیټ دی.

د انساني پرمختګ د کچې د معلومولو اقدامات، د دریمې زریزې د پرمختیایي موخو د لاسته راوړلو لپاره پرمختګ، او همدارنګه هغه اندازه مکلفیتونه چې حکومت د اقتصادي ټولنیزو او کولتوري حقونو د نړیوال کنوانسیون په بنسټ اجرا کړي دي، دا ښیي سره له دې چې د نیستۍ په له مینځه وړلو او د سوکالۍ په لور پرمختګ شوی؛ خو بیا هم اقتصادي او ټولنیز پرمختګ کافي نه دی. ددې لپاره چې حکومت خپل مسوولیتونه سرته ورسوي، باید خلکو ته د روغتیا او پوهنې د خدمتونو لکه د پاکو اوبو برابرولو او ککړو اوبو ویستلو، ټرانسپورټ او ښوونې او روزنې برخو کې هڅې وکړي. د سیمه اییزې حکومتوالۍ او د خدمتونو په وړاندې کولو کې موجوده کمزورۍ ددې سبب شوي؛ تر څو د بشري پرمختیا کچه ټیټه پاتې شي او همدا راز یې د ښه امنیت، ثبات او همدا راز د افغانستان لپاره د زریزې پرمختیایي موخو تر لاسه کولو چانسونه له خنډ سره مخ کړي دي.

په افغانستان کې د خدمتونو د وړاندې کولو او د سیمه اییزې حکومتوالۍ د ځواکمنولو په لار کې یو له غټو خنډونو څخه، د سیمه اییزو حکومتونو د ادارې د جوړښت په هکله د ګډې پالیسۍ نشتوالی دی. د سیمه اییزې حکومتوالۍ رول او خپل منځي اړیکې ګونګې او ان له یو بل سره په ټکر کې دي. دا کار ددې سبب شوی چې دغه ادارې خپل رول په ښه توګه تر سره نشي کړای او د اغیزمنو خدمتونو د سیستم په جوړولو کې ستونزې رامینځ ته شي. د دا ډول ګډې پالیسۍ یا ستراتیژۍ نشتوالی له مرکز څخه د کنټرول سیستم او په هیواد کې د حکومتي ادارو ترمینځ د خدمتونو د وړاندې کولو جوړښت هم بې اغیزې کوي. ددغې پالیسۍ یو غټ هدف د حکومتوالۍ په جوړښت کې دداسې سمون راوستل دي چې د خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې د اغیزمنتیا او ګټورتوب خوا ته ولاړ شي.

---

[8] د لا ډیرو معلوماتو لپاره د ۲۰۰۵ کال د زریزې د پرمختیایي هدفونو رپورټ و ګوري.
[9] د لا ډیرو معلوماتو لپاره د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون او د افغانستان ۲۰۰۷ کال د بشر د حقونو د پرمختګ رپورټ وګورئ.

د سیمه اییزې حکومتوالی په کچه د حکومتوالی د موجوده جوړښت په دننه کې د حساب ورکونې اړیکې کمزورې دي. د افغانستان په اداره کې د حساب ورکونې او روڼتیا نشتوالی، په ځانګړې توګه د خلکو په وړاندې، د خدمت په وړاندې کولو کې یو څرګند خنډ دی؛ ځکه د حساب ورکونې پیاوړې اړیکې د اغیزمن خدمت تاکونکې دي، او یو سیستم رامنځته کوي چې له مخې یې په افغانستان کې د بشري پرمختیا د لاښه کولو لپاره اړینې اړیکې نورې هم بنستیزې شي.

**د افغانستان اقتصاد**

د افغانستان اقتصاد کمزوری پاتې دی. د سړي په سر د یو څو سوو ډالرو اقتصادي تولید ددې لپاره پوره نه دي چې پوره شخصي عواید رامینځ ته کړي، او یو اغیزمن عامه سکټور وساتلای شي یا د توکو او خدمتونو پراخو وارداتو ته مالي بودجه برابره کړي. پر دوامداره امنیتي ستونزو سربیره، په هیواد کې د ټیټ اقتصادي تولید غټ لاملونه عبارت دي له: د کار او روزګار کموالی، د کار ټیټ حاصل، د پانګې نشتوالی او د پانګې په وسیله لړه ګټه او دداسې هراړخیزو پالیسیو نشتوالی چې شرکتونه او سوداګریز فعالیتونه وهڅوي. دا ټول له دې امله دي چې د ښوونې او روزنې او مهارتونو کچه ټیټه ده، د پانګې اچونې فضا کمزوری ده او له دې امله افغانستان د سوداګریزو فعالیتونو لپاره ستونزمن دي او دا کار لوړ لګښت غواړي.

افغانستان د پرمختګ په لحاظ تر اوسه یو څه سالم ښکاري، خوله ګړندي پرمختګ سره سره، په ډېره ټیټه کچه، له زیاترو آسیایي هیوادونو سره په نسبي توګه د پرتلی وړ دی. د بهرنی پانګونې په برخه کې آفغانستان په منځنۍ توګه یو څه ښه اقدامات کړي دي. که لړ نورهم ورته ځیر شو؛ نو لیدل کیږي چې د افغانستان اقتصاد زورونکې بڼه لري. په لومړي سر کې په افغانستان کې د سړي سرعایداتو ته راځو: په ۲۰۰۵ کال کې د سړي سرعاید په افغانستان کې ۲۱۸ ډالره وو چې په پرتله یې په نیپال کې۲۷۰ ډالره، د قرغزستان په جمهوریت کې ۴۵۰ ډالره او په ترکمنستان کې ۱۱۸۶ ډالره وو. د افغانستان د اقتصاد بله زورونکې بڼه د روان تولید حالت دی: د هیواد تولیدات زراعتي توکي، منرالونه، د پسه غوښه، لرګي او سمنټ دي. دغه توکي لړ او هغه هم کم ارزښته صادرات برابروي، په داسې حال کې چې افغانستان نیزدې د ټولو با ارزښته جنسونو واردولو ته اړ دی؛ نو له دې امله هیواد په ۲۰۰۵ کال کې د ۲،۱ میلیاردو ډالرو منفي سوداګریزه موازنه درلوده.

د کارګرو کارونه په دوه غوره پیژندل شویو پدیدو باندې ښوول کیدای شي. لومړنی یې په لوړه کچه بېروزګاري ده. په ۲۰۰۵ کال کې د افغانستان د بېروزګارۍ کچه د ۴۰٪ په شاوخوا کې اټکل شوی وه[10]. دویم دا چې ښځې اوس هم په زیاته اندازه له کارکولو څخه ګوښه ساتل کیږي. دغه دواړه حقیقتونه د افغانستان د خلکو لپاره په اقتصادي تولیدي فعالیتونو کې د ګډون کولو فرصتونه په کلکه رالنډوي.

په افغانستان کې د کار حاصل د یو شمیر لاملونو له امله ټیټ دی. د لسیزو جګړو او بې پروایی، رسمي او غیر رسمي د زده کړې اداري په خراب حالت کې ودرولي او زیات شمیر خلکو، په ځانګړې توګه ښځو، ددې وس نه درلود چې هر راز ښوونه او روزنه ترلاسه کړي. دغه کار ډیر خلک له هغه تعلیم او کسب څخه بې برخې پریښودل چې هغوی ورته په اغیزمن کار او یا سوداګریزو فعالیتونو کې اړتیا درلوده. ډیر داسې خلک شته چې د سوداګرۍ او صنعت مهارتونه لري؛ خو د هغوی دغه مهارتونه اوس له کارولو غورځیدلي؛ ځکه چې هغوی د خپل کار په ساحه کې ددې فرصت نه دی ترلاسه کړی چې نوي فکر او نویو ټکنالوجیکي پرمختګونو ته لاسرسی ولري.

د یو شمیر لاملونو له امله پانګه اچونه ټیټه ده. لومړی دا چې په افغانستان کې ترینګلی امنیتي حالت دا اړینه کوي چې د لګیدونکې پانګې د ګټې بیرته لاسته راوړو لپاره به ښکاره خطر منې، چې دغه کار د پانګې له اچونې څخه د خلکو زړه توروي. دویم دا چې د پور پانګې ته د لاسرسی په اړه دودیزې ستونزې وجود لري، لکه څنګه چې ډیر موجود او بالقوه شرکتونه دا ډاډ نه لري چې آیا د پورونو بیلابیل ډولونه له شریعت سره برابر دي! په هر صورت، حقوقي او اداري چوکاټ کیدای شي افغانستان ته د پانګې اچونې د بهیر مهم خنډونه وي. [11]د نړیوال بانک په یو تازه راپور کې افغانستان د پورونو د برابرونکو د خوندیتوب قوانینو د پیاوړتیا لپاره له ۱۰ څخه صفر ترلاسه کړی او د پانګه والو د حقونو د برابرۍ د قوانینو لپاره یې له ۱۰ څخه ۰,۷ نومرې ترلاسه کړي، نو په دې دوه برخو کې د ۱۷۸ هیوادونو له ډلې څخه ۱۷۷ مقام نیسي.(مطلب دا چې په اوسني حالت کې افغانستان په ټوله نړۍ کې د پانګه والو لپاره تر ټولو خراب حقوقي خوندیتوب لري). دغه کمزوري حقوقي ضمانتونه د هغه حقیقت په وسیله لا نور هم پیاوړي کیږي چې افغانستان د افلاس (ډیوالیتوب)قانون نه لري او د عدلي سیستم یې هم اغیزمن نه دی. ددغو ستونزو د له مینځه وړلو لپاره یو پروګرام روان دی، د بیلګې په ډول تیر کال د نوو کمپنیو قانون تصویب شو، چې د پانګه اچونکو لپاره په مناسبه توګه د خوندیتوبونو

---

[10] سرچینه، د سی-آی-ای د ۲۰۰۶ کال د حقایقو کتاب

[11] "سوداګری" د افغانستان د ۲۰۰۷ کال ریپورټ

یوه هراړخیزه ټولګه جوړوي او همدا راز یو داسې قانون چې په موازي توګه خوندي پور ورکونې ته اجازه ورکړي، تسوید او تر بحث لاندې دی. په درېم ګام کی، په وچه کې ایسار هیواد بهرني احتمالي پانګه اچونکي له دې څخه راګرځوي چې د ماهرو کسانو د راجلبولو په تولیدي فابریکو کې پانګه واچوي، دا د بهرنی پانګې اچونې یو غوره ډول دی چې نور پرمختلونکي هیوادونه په اسانۍ را جلبوي.

د پانګونې د حاصل نشتوالی ددې حقیقت په وسیله روښانه کیږي چې په افغانستان کې سوداګري په ډېره پڅه او قیمتي توګه مخکې ځي. که څه هم یوه نوې سوداګري په یوه یا دوو ورځو کې ثبتیږي؛ خو کله چې پرانستل شي؛ نو د سوداګرۍ ډېر ډولونه سکټوري جوازونو ته اړتیا لري چې جوړول یې تر یوه کاله زیات وخت نیسي. دا حالت په هیواد کې د کمزورې زیربنا او د ماهرو کارکونکو د نشتوالي په وسیله نور هم خرابیږي او په پایله کې د ټیټې پانګې اچونې سبب کیږي.

د افغانستان د اقتصاد ټول انځور زړه تورونکی دی. په سیمه ایيزه کچه هغو نوښتونو ته پرمختګ ورکول چې سیمه ایيز اقتصادي پرمختګ ګړندی کوي، په پراخه اندازه به د افغانستان د اقتصاد په پیاوړي کولو کې مرسته وکړي. دغه نوښتونه باید پورته تعریف شوي بندیزونه د ځایي مقایسوي ګټو په بنسټ، تر څېړنې لاندې ونیسي.

**په سیمه ایيزه کچه پلان جوړونه او مالي چارې**

سیمه ایيزه ادارې په موجوده وخت کې د بودجې د لرلو درېځ نه لري. اوس مهال ولایتونه (اداري واحدونه) دي او (ابتدايي بودجوي واحدونه) نه دي. دغه حالت ولایتونه د بودجې له درلودلو یا د مالي له وزارت څخه د مالي لیږد له ترلاسه کولو څخه منع کوي. د سیمه ایيزو اورګانونو خپلواکه اداره لومړنی بودجوي واحد دی. د سیمه ایيزو اورګانونو خپلواکه اداره له مالي وزارت څخه مالي لیږد ترلاسه کوي. د والیانو دفترونه په اصل کې د سیمه ایيزو اورګانونو د خپلواکې ادارې فرعي بودجوي څانګې دي؛ هغوی ته د اړتیا په مهال یوه کمه اندازه نغدي پیسې ورکول کیږي؛ مګر نردې ټول تدارکات په مرکز کې ترسره کیږي.

په تخنیکي ډول، ولایتي بودجه وجود نه لري. په ټولیزه توګه ولایتونو ته د پیسو یوه ټولګه نه ځانګړې کیږي. دغه راز اړوند وزارتونه د ولایت لپاره د بودجې اندازه ټاکي او د هغو په بنسټ ولایتونو ته پیسې برابروي، کله چې دغه بودجه ورکړل شي؛ نو ډېرې پیسې بیا هم په مرکز کې

پاتې کیږي. سره له دې چې په ولایتونو، ښاروالیو او کلیو باندې ۶۹٪ پیسې لګیږي، یوازې ۱۷٪ ددغه لګښت ولایتونو ته د پیسو په ډول لیږل کیږي یا په ولایتونو ویشل کیږي. ولایتونو ته له لیږدیدونکو پیسو څخه زیاته برخه یې د ښوونکو د تنخواګانو لپاره دي چې د پوهنې وزارت ولایتي ریاستونو ته د ویشلو لپاره لیږل کیږي. سربیره پردې، د زیاترو تدارکاتو او قراردادونو په اړه په مرکز کې پریکړې کیږي.

ولایتونو ته د بودجې د ځانګړې کولو لپاره په شته بهیر کې ځینې ښکاره کمزورتیاوې دادي چې بودجه له مشورې پرته جوړیږي، ولایتي اړتیاوې او لومړیتوبونه په کې پام نه کیږي او نه په بودجه کې ښوول کیږي، اړوند ریاستونه په دې اړه ناخبره پاتې کیږي چې دوی د مالي کال لپاره څومره بودجه لري او ولایتي بودجې له ولایتي پرمختیایي پلانونو سره سمون نه خوري. د ولایتي سرچینو د ځانګړي کولو په اړه له ولایتي چارواکو سره په مشوره کې، د ولایتي بودجې جوړونې آزمایښت لومړی ګام دی.

د سړي سر تکراري لګښت د پرمختیا له اصلي لګښت سره  زیات توپیرونه لري. د لګښت توپیرونه د ولایتونو تر منځ د سرچینو د ویش په برخه کې په روښانه بې عدالتیو دلالت کوي. د ولایتونو تر منځ او په ولایتونو کې د بیلابیلو څانګو ترمنځ د بودجو یا د مالي سرچینو برابر تخصیص او ویشنه، لازمي ده. د ولایتونو ترمنځ د بودجو د ویش لپاره معیار په پوره ډول روښانه نه دی. د کمیسیونونو او ادارو (لکه څنګه چې د وزارتونو له سیمه اییزو دفترونو سره توپیر لري) د سیمه اییزو دفترونو تر منځ محاسبې یا بودجې لپاره معیاري طریقي نه کارول ګیږي.

په ولایتونو، ولسوالیو او کلیو کې د ټولو لګښتونو لپاره د بودجې پریکړه د ملي بودجې له لارې کیږي. مرکزي حکومت د بودجې یوازې یوه کچه لري. د بودجې واک او د بودجې د جوړیدو بهیر تر ډیره حده له مرکز سره دی، چې دا په نسبي توګه په کمه اندازه د پلي کولو مرکزي شوی بهیر لري، چې د حساب ورکونې له یو کمزوري چوکاټ سره مل دی. د بودجې څلور برخې (تنخاګانې، اجراییه وي او ساتنه، مرکزي پرمختګ او بهرنی پرمختګ) د بیلابیلو فورمولونو له مخې تیاریږي؛ مګر ټول په لوړه توګه د مرکزي شوي سیستم په طریقه جوړیږي.

ښاروالی د بودجې جلا بنسټونه دي چې د بودجې خپل رسمي واک لري. د هغوی د بودجې په واک باندې د مرکزي شوي سیستم تاییدي بهیر او نورو لوړ پوړو  لاسوهنو په وسیله بندیز لګول

کيږي. ښاروالی يو مناسب مالي کلنی چوکاټ نه لري. د کليو پرمختيايي شورا ګانې خپلې بودجوي سرچينې او واک د ملي پيوستون د پروګرام له لارې ترلاسه کوي.

د حکومتي ادارو ترمينځ مالي سيستم کې کنترول او واک هم په لوړه کچه مرکزي دی. دغه کار په سيمه ايیزو چارو کې د عامه سرچنيو د لګښت مخه نيسي. دا يوازې د بودجې د بهير موضوع نه ده؛ بلکې د حکومت په بيلابيلو کچو کې د بودجې د واک ويش په بر کې نيسي[12].

د ولايتي بودجو په اړه موجوده نوښتونه تر يوه حده پورې دغه موضوګانې څيړي؛ ترڅو په سيمه ايیزه کچه د خدمتونو په وړاندې کولو کې سمون راولي، او د خلکو لومړيتوبونو ته د اړوندو وزارتونو ځواب ورکولو کې ښه والي راولي او باوري يې کړي چې بودجې د ولايتي پرمختګ له پلانونو سره په سمه ليکه کې ولاړې دي، د مالي وزارت په ۱۳۸۵ لمريز کال کې د ولايتي بودجې جوړونې پروګرام جوړ کړ. دغه پروګرام د درې ازمايښتي وزارتونو، د پوهنې، د کليو د پراختيا او د کرنې، مالدارۍ او د اوبو لګولو وزارتونو او په دريو ازمايښتي ولايتونو، پنجشير، بلخ او قندهار کې پيل شو. د ولايتي بودجې د جوړولو لپاره ګړنلاره په لاندې ډول ده: د مالي وزارت هغو اړونده وزارتونو سکتوري واحدونو ته د مالي کال لپاره د بودجې وروستی حد يا مالي اندازه برابروي. دغه وزارتونه بيا له خپلو ولايتي اړوندو واحدونو څخه غواړي چې د خپلو ولايتونو لپاره د بودجو وړانديزونه طرحه کړي. ولايتي واحدونه په لومړي سر کې خپل وړانديزونه ولايتي پرمختيايي کميټې ته ورکوي چې تربحث لاندې يې ونيسي او په اړه يې پريکړه وکړي. کله چې دغه وړانديزونه د ولايتي پرمختيايي کميټې لخوا منظور شول؛ نو د بودجو وړانديزونه اړونده وزارتونو ته د منظورۍ لپاره ليږل کيږي. اړونده وزارتونه بيا بودجه را ټولوي او د مالي وزارت ته يې د بودجې استماعيه غونډو ته ليږي. له غونډو څخه وروسته، که چېرې په بودجه کې بدلونونه اړين وګڼل شي؛ نو د مالي وزارت يې بيرته اړونده وزارتونو ته د اړينو بدلونونو لپاره ليږي. وروسته تر هغې اړونده وزارتونه د خپلو واحدونو او د ولايتي پرمختيايي کميټو سره مشوره کوي؛ ترڅو ولايتي بودجه بشپړه کړي. هغوی يې بيا د مالي وزارت ته د کابينې او ملي شورا د تاييد لپاره ليږي. د ملي شورا له تاييد وروسته ښايي دغه بودجه په کار واچول شي. د مالي وزارت او اړونده وزارتونه د خپلو رياستونو او ولايتي پرمختيايي کميټو ته د بودجې د تاييد په اړه خبر ور کوي او د بودجې د تخصيص د بهير اړين اسناد ترينه غواړي. په پای کې ولايتي رياستونه او واحدونه ددې وس پيدا کوي چې د غوره اصولو او مقرراتو له مخې، له بودجې څخه کار واخلي.

[12] نړيوال بانک. په افغانستان کې بين الحکومتي مالي اړيکې او سيمه ايیز لګښتونه. نړيوال بانک. د ۲۰۰۸ کال اګست

په ۱۳۸۶ کال کې د ولایتي بودجې جوړول په اوو نورو ولایتونو که هم عملي شو. د ولایتي بودجې د جوړولو په پایله کې یو شمیر کمزورتیاوې په ډاګه شوې. د اړوندو وزارتونو او اړوندو واحدونو ترمنځ کمزورې اړیکې او همدارنګه په اړوندو واحدونو کې ټیټ ظرفیت تر سترګو شو. دغو ستونزو په وروستنی بودجې باندې د ولایتي بودجې د نوښت د اغیزې مخه نیولی. د ولایتي بودجې د نوښت په پایله کې یو شمیر مثبتې پایلې منځته راغلي دي. وزارتونو دا وړتیا پیدا کړه چې د ولایت په کچه خپلې ملي بودجې سره را ټولې کړي، د اړوندو وزارتونو او اړوندو واحدونو ترمنځ اړیکې ټینګې شوي، او تر ټولو لویه دا چې ولایتي پرمختیایي کمیټو دا تجربه ترلاسه کړه چې بودجه تحلیل او په دقت یې وڅیړي.

په پایله کې دې نتیجې ته رسیږو چې، د حکومت د بیلابیلو کچو تر منځ د بودجې د واک په ویش او ټولو ولایتونو ته د مالي سرچینو د ځانګړي کولو په یوه پالیسی باندې باید غور وشي او جوړه شي.

**۵. د پالیسی بهیر**

د سیمه ایيزو اورګانونو خپلواکه اداره د ۱۳۸۶ل.ل کال د وږي په ۸مه نیټه چې برابره ده د ۲۰۰۷ کال د اګست له ۳۰ مې نیټې سره د ولسمشر د یوه فرمان پر اساس رامنځته شوه. په فرمان کې راغلي چې د سیمه ایيزو اورګانونو د خپلواکې ادارې د جوړولو موخه د ولسوالیو او ولایتونو د چارو لپاره د غوره آسانتیاوو او ښه مدیریت برابرول دي. ددې لپاره چې خپله دنده په ښه توګه سرته ورسوي او د سیمه ایيزې حکومتوالی په هکله د اساسي قانون حکمونه عملي کړي، د سیمه ایيزو اورګانونو خپلواکه اداره د سیمه ایيزې حکومتوالی لپاره د بیلابیلو وزارتونو، لوړ پوړو چارواکو، کمیسیونونو او د افغانستان د نورو ادارو په همکارۍ د یوې پالیسی د جوړولو وړاندیز وکړ، چې ښاغلي ولسمشر او د هغه کابینې له دا ډول وړاندیز سره خپل رضایت وښود.

د اساسي قانون د ۱۳۶مې او ۱۳۷مې مادو له حکمونو سره سم او د وزیرانو شورا د ۲۰۰۸ کال د مارچ د ۱۸ مې نیټې له ۴۶لمبر پریکړه لیک پر بنسټ، د سیمه ایيزې حکومتوالی د پالیسی د تسوید او بیاکتنې ۱۰۴۷ ګڼه فرمان، د ولسمشر لخوا د ۲۰۰۸ کال د مې په ۸ نیټه لاسلیک شو. فرمان د دوه کمیټو جوړول تصویب کړل چې دنده به یې د سیمه ایيزو ادارو تر منځ د همغږۍ رامنځ ته کول او د سیمه ایيزې حکومتوالی د پالیسی جوړول وي، چې هدف یې ټولنیزو،

اقتصادي او امنيتي سکټورونو ته وده ورکول او د سيمه ايېزې حکومتوالۍ د ادارو لپاره د يوه ګډ چوکاټ جوړول دي.

ددې فرمان په اساس، د سيمه ايېزې حکومتوالۍ د پاليسي جوړولو(تدوين) کميټه جوړه شوه چې د پاليسۍ مسوده وليکي او د سيمه ايېزې حکومتوالۍ د پاليسۍ تدقيق لپاره ځانګړې کميټه هم جوړه شوه. د پاليسي د تسويد کميټه د لاندې وزارتونو له معينانو څخه جوړه شوې:
د کرنې، مالدارۍ او اوبو لګولو، مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ، اقتصاد، مالي، کورنيو چارو، عدلي، د کار ټولينزو چارو شهيدانو او معلولينو، کانو، سوداګرۍ او صنايعو، عامې روغتيا، ، د کليو د بيا رغونې او پراختيا، ښاري پراختيا، د ښځو چارو اود نيشه يي توکو پرخلاف وزارتونو معينان.

د لاندې حکومتي ادارو مرستيالان هم ددې کميټې غړي وو: د ټاکنو د خپلواک کميسيون، د بډو او اداري فساد پرضد لوی رياست، د ښاروال دفتر، د کابل ښاروالي، د جيودوزۍ او کارتوګرافۍ عمومي ادارې او د مرکز احصايې د ادارې، د چارو ادارې او د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کيمسيون مرستيالان.

د پاليسۍ د تدقيق کميټې مشري د جمهوري رياست دويم مرستيال په غاړه لرله او په غړو کې يې ټول وزيران، د خپلواکو رياستونو او کميسيونونو رئيسان شامل وو.


دغو کميټو ته دنده وسپارل شوه چې د سيمه ايېزې حکومتوالۍ لپاره د پاليسۍ مسوده جوړه کړي، پر هغې کره کتنه وکړي او د تصويب لپاره يې د١٣٨٧ ل.ل کال د تلې تر وروستيو پورې (٢٠٠٨ کال د اکتوبر ٢١ ) د وزيرانو شورا ته وړاندې کړي.

څلورکاري ډلې جوړې شوې؛ تر څو د پورته ياد شويو وزارتونو د پاليسۍ جوړونکي ددې جوګه کړي چې په پاليسۍ کې اختيارات په نظر کې ونيسي او په هکله يې غور وکړي.

دغه کاري ډلې په څلورو موضوعي برخو وويشل شوې:
(١) سيمه ايېزه حکومتوالي
(٢) د مدني ټولنې، خصوصي سکټور د ښځو او ځوانانو ګډون
(٣) د ښاروالیو حکومتوالي
(۴) د سيمه ايېزې حکومتوالۍ پلان جوړونه او مالي چارې

دغو کاري ډلو د ۲۴ ورځو په ترڅ کې د ۲۰۰۸ کال د جون له ۱۵ څخه د اګست تر ۲۷مې نیټې پورې غونډې وکړې.

د کاري ډلو د غونډو شمیره




دغه پالیسي ددې کاري ډلو، د پالیسۍ د تسوید د کمیټې او د پالیسۍ د بیا کتلو د کمیټې د غونډو پایله او لاس ته راوړنه ده. د پالیسۍ د تسوید د کمیټې پنځه غونډې د معینانو په کچه د ۲۰۰۸ کال د جون په دولسمه، د سپتمبر په لسمه، شلمه، او اته ویشتمه او د اکتوبر په پنځلسمه نیټه جوړې شوې. د پالیسۍ د تسوید له بهیر سره یو ځای د سیمه ا یزو اورګانونو خپلواکې اداري له یوې خوا په ملي او سیمه ایزه کچه له خلکو او ادارو سره او له بلې خوا له نړیوالې ټولنې سره سلا مشورې وکړې. د پالیسۍ د تسوید کمیټې په ډیرې پاملرنې سره د اړوندو غاړو پر نظرونو غور وکړ او له هغوی څخه ډیرو ته یې د پالیسۍ په سند کې ځای ورکړ؛ ځکه نو اړوندو غاړو له دغې پالیسۍ څخه هرکلی او پراخ ملاتړ وکړ. ټولو وزارتونو، ادارو او خپلواکو کمیسیونونو په ډیره اغیزناکه توګه د پالیسۍ د مسودې جوړولو په بهیر کې ونډه واخیسته. د وزیرانو په کچه د پالیسۍ د تدقیق کمیټې به د سیمه ایيزې حکومتوالۍ پالیسي بیا کتنه وکړه. دغه کمیټه د سیمه ایيزو ادارو د پالیسۍ وروستنۍ مسوده د منظورۍ لپاره د ولسمشر دفتر او کابینې ته وړاندې کوي.

## 6. د پالیسي لپاره مهال ویش

څرنګه چې په قوانینو او اداري جوړښتونو کې ژر ژر بدلون نشي راوستل کیدای، ځکه نو دولت غواړي د راتلونکو۵۰ کلونو په نظر کې نیولو سره یوه پالیسي جوړه کړي. په حقیقت کې د اصلاحاتو برخه ډیره پراخه ده؛ ځکه نو دولت پریکړه کړې چې ټول اصلاحات باید په یو وار مینځ ته رانشي؛ په دې خاطر چې کیدای شي دا کار نورې ستونزې راولاړې کړي.

دولت اراده لري چې په سیمه اییزو ادارو کې د اصلاحاتو لپاره تدریجي لارې په کار واچوي. دا پالیسي په سیمه اییزو ادارو کې د غټو اصلاحاتو راوستلو لپاره لومړنی ګام دی، چې په راتلوونکو ۵ کلونو ( ۲۰۰۸- ۲۰۱۳) کې به پلې شي. دا موده د افغانستان د ملي پرمختیایي ستراتیژۍ د پلي کولو له مودې سره برابره ده. په کومه موده کې چې دولت پریکړه کړې چې په بیلابیلو سکټورونو کې به پخپله پالیسي کې اصلاحات راولي. حکومت به ددغې پالیسۍ د پلې کولو لپاره یو داسې واحد میکانیزم ته لومړیتوب ورکړي، چې د ګڼو مرستندویه ډلو له خوا یې ملاتړ کیږي. حکومت به په راتلوونکو ۵ کلونو ۲۰۱۳. ۲۰۰۸ کې دا پالیسي په پوره توګه عملي کوي او په ۲۰۱۳ کال کې به ددې پالیسۍ د پلي کولو د کار له سره بیا کتنه کوي.

له بیا کتنې څخه د لاس ته راغلو حقیقتونو پر بنسټ به دولت د سیمه اییزو ادارو په پالیسۍ کې غټ بدلونونه راولي.

II. په سیمه اییزو ادارو کې به د اصلاحاتو دویم پړاو په۱۳۹۲ل.ل (۲۰۱۳ میلادي کال) کې پیل کیږي چې ورپسې به په راتلوونکو کلونو کې نور اصلاحات هم رامینځ ته شي.

## II. په مخ کې پرته لار: د سیمه اییزې حکومتوالۍ لپاره پالیسي

### ۱: ولایتي حکومتوالي

د یوه داسې قانون نشتوالی چې په روښانه توګه د ولایتي حکومتوالۍ دندې او مسولیتونه څرګند کړي، ددغې حکومتوالۍ رول په ابهام او شك کې اچوي. دغه ډول ابهام په سیمه اییزه کچه د حکومتوالۍ په کمزورتیا کې مرسته کوي، چې په هغه کې به نا اغیزمنتیا، کمزورې ځواب ورکونه او د ولایتي ادارو په منځ کې د غوره انسجام نشتوالی وي. دا ډول حالات د اغیزمنو

خدمتونو په وړاندې کولو کې د حکومت مخه نیسي او نه پرېږدي چې د خپلو خلکو اړتیاوې پوره کړي. دا قانون باید په روښانه ټکو کې په ډاګه کړي چې د ولایتي حکومتوالۍ له ادارو نه او په ولایتي ادارو کې له هرې ادارې څخه څه انتظار کیږي.

**په ولایتي کچه د حکومتوالۍ ادارې عبارت دي له:**

ولایتي شورا
ولایتي محکمې
والي
ولایتي پرمختیایي کمیټه
ولایتي اداري مجلس
د ولایت د امنیې قوماندان
مستوفیت
د سکټوري وزارتونو ولایتي واحدونه یا څانګې
ولایتي ښارنوالي
د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون ولایتي دفتر
د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو سیمه ایز دفتر
د ولایتي بیارغونې ډلې
خصوصي سکټور
د مطبوعاتي ګروپونو او شوراګانو په شمول مدني ټولنه

**ددغو موسسو او ادارو له ډلې څخه په ولایتي اداره کې لاندې دفترونه شامل دي:**

والي
ولایتي پرمختیایي کمیټه
د ولایت اداري مجلس
مستوفیت
د ولایت د امنیې قومندان
د ولایت په کچه د سکټوري وزارتونو واحدونه او ریاستونه
د ښارنوالۍ ولایتي دفتر

**د ولایتي ادارو اساسي مسولیتونه:**

۱. په ولایت کې سوله، امنیت، نظم او ټیکاو ساتل

۲. په ولایت کې د قانون حاکمیت برقرارول

۳. د خلکو بشري حقونو ته درناوی، ساتل او رواجول

۴. په ولایت کې ټولنیزو، اقتصادي، تعلیمي، او کولتوري چارو ته وده ورکول

۵. د ولایت خلکو ته خدمتونه وړاندې کول، چې دا ډول خدمتونه عبارت دي له: عدالت، امنیت، په عمومي سړکونو د خلکو او د مالونو د تګ راتګ خوندیتوب، پاکې اوبه، د ککړو اوبو ویستل، روغتیا، تغذیه، پوهنه، برېښنا، سړکونه، سیمه ایيز ترانسپورت، ښاري او کلیوالي زیربنا، کرنه او اوبه خور، د طبیعي سرچینو مدیریت، د ځمکو ثبتول، ټولنېز خوندیتوب، پیژند پاڼې، د خصوصي سکټور وده او غوړیدنه، ښاري خدمتونه، لکه د چټلیو لپاره انتظام، ترافیکي بندوبست، د کوڅو رڼا کول، تفریحي اسانتیاوې او د کتابتونونو جوړول\پرانستل

۶. **په ولایتونو کې د ښې حکومتوالی لپاره لاندې ټکي اړین دي:**

- شفافیت او څرګندوالی
- خلکو ته حساب ورکول
- د خلکو ګډون په تیره بیا د ښځو او ځوانانو
- د مدني ټولنې او د خصوصي سکټور ګډون
- سیمه ییزه ولسواکي
- اغیزمنتیا، او مثمریت
- ټولنېز عدالت
- د جنډر یا جنسیت په برخه کې عدالت
- یووالی او ټولنېز تړون
- په هره کچه په قانون ولاړ نظام

۷. په ولایت کې د بیوسۍ او ناروغیو کچه را ټیټه او د ولایت خلکو ته باید چې د زریزې پرمختیایي موخې په لاس راوړل شي

۸. په ولایت کې باید د طبیعي آفتونو د مخنیوي لپاره انتظام موجود وي

۹. د کوکنارو کر ختم او بدیل معیشیت ته وده ورکړل شي

۱۰. د چاپیریال ساتنه او له طبیعي سرچینو څخه اوږد مهالي ګټه اخستل

۱۱. د اسلامي شعایرو او مناسبتونو له جوړولو او سرته رسولو څخه ملاتړ

۱۲. په ولایت کې  د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتیژي او د  ملي لومړیتوب پروګرامونو په پلي کې همکاري کول.

## د ولایت په کچه رول او مسولیتونه

| اداره | مسولیتونه او رول |
|---|---|
| ولایتي شورا | • د ولایتي پرمختیایي پلانونو او ولایتي بودجې تصویبول<br>• څارنه، ارزونه او د کیفیت باوري کول<br>• په ولایتي اداره کې د کړنو مدیریت<br>• له خلکو، رسنیو او مدني ټولنې سره اړیکې درلودل<br>• د امنیت، عامه نظم او د قانون په حاکمیت کې مرسته کول<br>• د شریعت پر خلاف رواجونه له مینځه وړل<br>• بشري حقونه<br>• چاپیریال ساتنه<br>• د نیشه یي توکو پر ضد مبارزه |
| والي | • د ولایتي اداري اجرایه مشر<br>• سوله، ټیکاو، عامه نظم او امنیت برابرول<br>• د قانون حاکمیت او د اساسي قانون نفاذ<br>• بشري حقونه<br>• څارنه، ارزونه، د کیفیت باوري کول او په ولایت کې د عامه خدمتونو اداره کول<br>• د ولایت لپاره پرمختیایي پلانونو جوړول<br>• د ولایتي بودیجې تیارول<br>• سیمه ییز اقتصادي پرمختګ<br>• د خصوصي سکټور پرمختګ<br>• ښه حکومتوالي<br>• د بیوزلۍ له مینځه وړل<br>• د زریزې د پرمختیایي موخو لاس ته راوړل<br>• قواعد او مقررات<br>• همغږي پیداکول<br>• اداره کول<br>• د پیسو د لګولو واك او د مالیاتو اداره کول<br>• د نیشه یي توکو پر ضد مبارزه<br>• د طبیعي پیښو مدیریت<br>• د ځمکو ثبت او ترلاسه کول<br>• د کلیو نقشه اخستل<br>• له اسلامي شعایرو او مراسمو څخه ملاتړ<br>• له خلکو، مدني ټولنې او خبري رسنیو سره اړیکې |
| د ولایت د امنیې قومندان | • سوله، امنیت، عامه نظم، ټیکاو، د قانون پلي کول، د جرمونو د کچې راټیټول او د نیشه یي موادو پر ضد |

| | |
|---|---|
| | مبارزه او بشري حقونه |
| په ولايتي کچه د سکتوري وزارتونو واحدونه | په ښه توګه د خدمتونو وړاندې کول، قواعد او مقررات او مرکز ته د پالیسیو په برابرولو کې مواد برابرول |
| ولايتي محکمې | په قضايي اجرااتو باندې بيا غور کول |
| ولايتي څارنوالۍ | پلټنه او محاکمه |
| د ولايتي بيارغوني ډلې | د ولايتي او سيمه ايېزه ادارو په مرسته بيارغونه |
| مدني ټولنه، شوراګانې، رسنۍ، قومي او مذهبي مشران | څارنه، کيفيت باوري کول، د پرمختيايي توکو ګډ توليد او په ولايت کې د عامه خدمتونو تنظيمول |

**په ولايت کې د حساب ورکونې اړيکې**

د ولايت په کچه ټولې حکومتي ادارې د ولايت خلکو ته مسولې او حساب ورکونکې دي

د ولايت، ولسوالۍ، ښاروالۍ او کلي ادارې او همدارنګه د ولايت، ولسوالۍ، ښاروالۍ او کلي شوراګانې، په اړوندو سيمو کې اوسيدونکو وګړو ته حساب ورکوي. د هرې کچې حکومت ددې لپاره دی چې خلکو ته خدمت وکړي. تر ټولو لوړ او مهم خلک دي او د حکومت د واک او زرو سرچينه همدا خلک دي. ټاکل شوې سيمه ايېزې شوراګانې په سيمه ايېزه کچه د واک د مراتبو په لړۍ کې، تر خلکو وروسته راځي، ځکه چې دوی د خلکو د ارمانونو او هيلو استازيتوب کوي. سيمه ايېزې ادارې بايد د اړوندو انتخاب شويو شوراګانو له لارې خلکو ته حساب ورکړي. قضايه ځواک به پر سيمه ايېزو شوراګانو او ادارو نظر ساتي چې له واک څخه ناوړه ګټه پورته نه کړي.

د ولايت، ولسوالۍ، ښاروالۍ او کلي شوراګانې خلکو ته حساب ورکوي؛ ځکه چې د خلکو لخوا ټاکل کيږي. ددغو شوراګانو غړي بايد له خپلو خلکو سره په منظمه توګه سلا مشورې وکړي.

ولايتي اداره به ولايتي شورا ته حساب ورکوي او د ولسوالۍ اداره به د ولسوالۍ شورا ته حساب ورکوي. سربيره پردې د ولايت امنيه قومندان، مستوفيت، د ولايت په کچه سکتوري واحدونه او ولسوالان به والي او ولايتي شورا ته حساب ورکوي. د ولسوالۍ په کچه سکتوري واحدونه او د ولسوالۍ امنيه قومندان به ولسوال او د ولسوالۍ شورا ته حساب ورکوي.

## د ولايت په کچه د حساب ورکولو اړيکې

**حکومتي اداري چې خلکو ته مسوولې دي:**

- ولایتي شورا
- ولایتي اداره

**حکومتي اداري چې ولسمشر او مرکزي وزارتونو ته مسولې دي**

- د ولایت والي
- ولایتي اداره

**د حکومتوالۍ هغه اداري چې ولایتي شورا ته حساب ورکوي**

- د ولایت والي
- د ولایت د امنیې قومندان
- مستوفیت
- د ولایت په کچه سکټوري واحدونه

**د حکومتوالۍ هغه اداري چې د ولایت والي ته حساب ورکوي**

- د ولایت د امنیې قومندان
- مستوفیت
- د ولایت په کچه سکټوري واحدونه
- ولسوالان

**په ولایتي کچه استازیتوب**

ولایتي شورا د خلکو په وسیله ټاکل کیږي

**په ولایتي کچه مقررۍ**

د ولایت په کچه له ۳یمې رتبې څخه تر ۶یمې رتبې ملکي اړوندان چې د وړوالي او سیالۍ په اساس د ولایت د مقرریو کمیټې لخوا ټاکل کیږي، دغه ټاکنې وروسته د ولایت د والي لخوا تصوبیږي.

ددې لپاره چې امنیت، حکومتوالي، اقتصاد او د افغانانو مجموعي ژوند لا ښه شي؛ نو ولایتي اداره به په لاندې ډول فعالیتونه سرته رسوي.

## واليان

**رول او مسوليتونه:**

د والي او ولسوال ستري دندې دادي چې سوله، امنيت، نظم او ټيکاو وساتي او قانون واکمن کړي. همدارنګه دوی باید د وګړو بشري حقونه تامين او وده ورکړي. ټولنيزه، اقتصادي، پوهنيزه او کولتوري پرمختيا رامينځ ته کړي. دوی بايد ډاډ ترلاسه کړي چې خلک خپل اړين خدمتونه ترلاسه کوي. همدا ډول به د غوره حکومتوالی په رامينځ ته کولو، د ناروغيو او بيوزليو په کمولو، د خلکو لپاره د زريزې د پرمختيايي موخو د ترلاسه کولو، د طبيعي پيښو مديريت او د هغو د اغيز په راکمولو کې هم خپلو هڅو ته دوام ورکوي. والي او ولسوال به دې ته هم پوره پاملرنه کوي، چې د کوکنارو کښت له مينځه ولاړ او پرځای يې اړوندو خلکو ته بديل معيشيت برابر شي، د چاپيريال ساتنه وشي، له طبيعي سرچينو په داسې توګه استفاده وشي چې د پايښت وړ وي، اسلامي شعاير مراعت او وپالل شي او د افغانستان د ملي پرمختيا ستراتيژي او ملي لومړيتوبونو پروګرامونو په پلي کيدلو کې مرسته وشي.

- **والي د ولايتي ادارې اجرايه وي مشر ګڼل کيږي. د ولايت والي به د ولايت په کچه د پلان جوړونې، بودجې تيارونې، اداري، پرمختيايي او امنيتي چارو کې همغږی رامينځ ته کوي.** والي ته دومره لوی واك ورکول چې د نورو ولايتي ادارو لکه د ولايت سکټوري واحدونو، ولايتي شوراګانو او ولايتي پرمختيايي کميټو سره يو ځای پلانونه جوړ او فعاليتونه همغږي کړي؛ والي ته ددې وس وربښي چې داسې پروګرامونه جوړ کړي چې د ولايت د خلکو غوښتنو ته پکې په غوره توګه مثبت ځواب وويل شي. له سکټوري وزارتونو سره نږدې همغږي به ، د پلان جوړوني په کارونو (چې د ولايتي ادارې له لارې تر سره کيږي) کې ښه والي راولي، لکه د بودجې تيارول، چې د هر ډول فعاليتونو ملاتړ کوي، والي ته د سکټوري واحدونو د کارونو د څارنې صلاحيت ورکول، ددې ضمانت کوي چې دوی به پلان شوو فعاليتونو او پروګرامونو ته د عمل جامې ورواغوندي.
- **واليان به لږ تر لږه په مياشت کې يو ځل د ولايتي پرمختيايي کميټو د غونډې مشري کوي.** په دغه کار سره به ډاډ ترلاسه شي چې پلان او بودجه په وخت او په منظمه توګه پرمخ ځي، او همدا راز ولايتي اداري له ولايتي پلانونو څخه څارنه کوي؛ تر څو ډاډ ورکړي چې دغه پلانونه په وخت او په اغېزناکه توګه پلي کېږي. دغه غونډې به د ولايتونو په کچه د دولتي ادارو تر مينځ په لا نيږدې همغږی کې مرسته وکړي.

- **له دا رنګه پلانونو د ملاتړ په موخه، واليان به له نورو دولتي اورګانونو سره په همغږۍ د ولايتي پرمختيايي شوراګانو د ناستو په ترڅ کې، نور ولايتي پلانونه او بودجې جوړوي.**

د ولايتي پرمختيايي کميټو غونډې بايد په مياشت کې يو ځل جوړې شي.

- **واليان به د نورو ولايتي ادارو په مرسته د لګښتونو د اړتياوو په هکله، په ځانګړې توګه د ولايت د اړوندو واحدونو د لګښتونو په اړه پرېکړه کوي.**
- **واليان به له نورو ولايتي ادارو سره د اړتيا په وخت کې د ولايتي پلان په پلي کولو کې مرسته کوي.** واليان به د خپلو اړوندو کارونو راپور د سيمه ييزو اورګانونو خپلواکې ادارې ته ورکوي، په ځانګړې توګه د هغو فعاليتونو په هکله چې د ولايتونو د پرمختيايي پلانونو د يوې برخې په توګه پلي کېږي.
- **واليان به د ولايتي ادارو او د ولايتونو د پرمخيتايي کميټو اجرايه وي مشرتوب کوي. دوی به ډاډ ترلاسه کوي چې په ولايتي پرمختيايي پلانونو او د ولايت، ولسوالۍ، ښاروالۍ او کليو د حکومتوالۍ په کارونو کې د جنسيت مسالې ته پوره پام کيږي.** والي به همدا راز دا باوري کوي چې ولايتي واحدونه د خپلو اړوندو وزارتونو په ستراتيژيو او پلانونو کې د جنسيت د برابرۍ موخه هم ورګډوي.
- **واليان به ډاډ ترلاسه کوي چې ولايتي اداره ولايتي شورا ته حساب ورکوي. واليان به د اړوندو واحدونو د کارونو څارنه کوي، ترڅو دا چاره باوري کړي چې دغه واحدونه د خدمتونو په وړاندې کولو کې حداقل معيارونه په پام کې نيسي او خپل پرمختيايي پلانونه له ټاکل شوي وخت او لګښت سره سم پلي کوي.** دا واک به واليانو ته ددې وړتيا ورکړي چې ډاډ ترلاسه کړي، ولايتي واحدونه خپل پروګرامونه له ولايتي پلانونو سره سم پلي کوي. واليان به د اړوندو واحدونو د کارونو څارنه کوي، همداراز ددغو څارنو په وسيله به واليان وکولای شي؛ ترڅو د اړوندو وزارتونو له کارونو څخه هم څارنه وکړي. که چېرته داسې معلومات ترلاسه کړي، دوی کولای شي چې له اړوندو وزارتونو څخه د هغوی د کارونو د معيار په هکله پوښتنه وکړي. په داسې حالاتو کې چې د وزارتونو د کارونو معيار ټيټ وي؛ نو خلک کولای شي چې د رسمي مکتوبونو له لارې واليانو او يا هم ولايتي شوراګانو ته شکايت وکړي. کله چې پريکړه وشي چې د دوی شکايتونه پرځای دی، نو د هغو شکايتونه به اړوندو څانګو او واحدونو ته د هغوی د کارونو د اصلاح لپاره واستول شي او که داسې ونشي؛ نو دغه اداره به شکايت د والي دفتر او اړونده وزارت مرکزي دفتر ته واستوي. په دې هکله به

والي مسول ګڼل کیږي؛ تر څو ډاډ ورکړي چې دغه شکایت او ستونزه به په سمه او منطقي لاره حل کیږي.

- **والي ته به واک ورکول کیږي چې د نیشه يي توکو سره د مبارزې او طبیعي پیښو د مدیریت په ګډون ټول هغه پروګرامونه پلي کړي چې د نورو ولایتي واحدونو له مکلفیت څخه بهر دي.** له نیشه يي توکو سره د مبارزې او طبیعي پیښو د مدیریت په څیر برخو کې به والي د پلان او بودجې جوړولو او د لګښت د کارونو مشري په غاړه لري. والیان به همدار زار په ولایتي کچه له نیشه يي توکو سره د مبارزې اړوند په لاندې بهیرونو کې مرکزي رول ولوبوي: پلان جوړول، همغږي، څارنه او ارزونه. والي به له نیشه يي توکو سره د مبارزې په ټولو څلور واړو برخو کې ونډه ولري، په تیره بیا تر کرلو مخکې عامه معلومات، بدیل معیشت، د نیشه يي توکو له مینځه وړل او د قانون نافذول. په هر ولایت کې به د طبیعي پیښو د مدیریت ولایتي کمیټه جوړه شي. دغه کمیټه به په ولایتي کچه طبیعي پیښو ته د چمتوالي، غبرګون او د هغو د اغیزو د کمولو د فعالیتونو د څارنې او مدیریت دنده په غاړه ولري.
- **والیان به د ولایتونو په کچه د طبیعي پیښو د مدیریت د کمیټې مشري پر غاړه لري.** دغه کمیټه مسولیت لري؛ تر څو د ولایت په کچه د چمتووالي، غبرګون، بیارغونې او د پیښو د اغیزو د کمښت له فعالیتونو څخه څارنه وکړي. دغه کمیټه د والي تر مشرئ لاندې کار کوي او د پیښو په وړاندې د غبرګون د لویې ادارې ، ولایتي شورا، ټولو اړوندو ولایتي واحدونو، ملي اردو، ملي پولیسو او د سرې میاشتې په څیر د مدني ټولنې د سازمانونو استازي به یکی غړیتوب لري.
- **د والي موخې، مقصدونه او لاسته راوړنې:**

| د والي موخې | د والي مقصدونه | د والي لاسته راوړنې |
|---|---|---|
| **1. په ولایت کې د سولې، امنیت او عامه ثبات او ټیکاو رامینځته کول او ساتل** | د خلکو له امنیت نظم ا و ثبات څخه ډاډ ترلاسه کول | <u>والي به ډاډ ترلاسه کوي چې:</u><br>ملي یوالی منځته راشي، توکمیز او سیمه اییز اختلافونه له مینځه ولاړې شي<br>▪ د بیلابیلو قومونو خلک یو ځای سره په سوله او ارامی کې ژوند وکړي<br>▪ د ولایت او د سیمې له امنیت څخه ډادګیرنه<br>▪ هغه خلک چې په ولایت کې ژوند کوي، هغوی ځانونه خوندي بولي<br>▪ د ولایت سړکونه د خلکو د تګ راتګ او د هغو د وړلو راوړلو لپاره خوندي دي<br>▪ په سړکونو باندې هیڅ ډول غیر قانوني پوستې یا پاټکونه نشته، او د دولتي پوستو لخوا هیڅ |

| | | |
|---|---|---|
| | | ډول شوکه نه ترسره کيږي او سړکونه له هر ډول خطرونو، داړه مارانو او د دولت له وسلوالو مخالفينو څخه پاک دي<br>▪ په ولايت کې ښوونځي او نورې عامه ودانۍ او دفترونه د وسلوالومخالفينو له هر ډول بريدونو څخه په امن کې دي<br>▪ په ولايت کې د ملکي هوايي ډګرونو د امنيت ډاډګيرنه<br>▪ ملي پوليس له خپل قانون څخه سرغړونه نه کوي<br>▪ د ولايت اداره د افغانستان له ملي پوليسو او ملي اردو سره د خلکو د امنيت د مسالې په هکله دوامداره همغږي لري<br>▪ د امنيتي ځواکونو د عمومي تياريو په وخت کې به والي د امنيتي ځواکونو د ژر تر ژره چمتووالي لپاره چټک ګامونه پورته کوي<br>▪ د ولايت په کچه د دولت ټولې امنيتي ادارې به د يو واحد په توګه، د امنيتي ننګونو په وړاندې غبرګون ښي<br>▪ د خلکو په امنيت او ثبات کې به ولايتي شورا، خلک، مدني ټولني او رسنۍ برخه لري.<br>▪ والي به له شريعت سره سم په ولايت کې د قطعې د قوماندانانو لخوا د پوځي قطعاتو د احترام مراتب مني |
| **2. په ولايت کې د قانون د حاکميت برقرارول او خوندي کول.** | د اساسي قانون او نورو قوانينو له انفاذ څخه ډاډ ګيرنه | ▪ اساسي قانون او نور قوانين به په کلکه پلي شي. والي به په دې هکله نورو دولتي کارکونکو ته لارښونه او د هغوی له کارونو څخه به څارنه کوي<br>▪ هغه حقونه چې د اساسي قانون او نورو قوانينو په رڼا کې د هيواد اوسيدونکو ته په نظر کې نيول شوي، هغوی ته ورکړل شي<br>▪ ددغو قوانينو له سرغړونکو سره بايد قانوني چلند وشي<br>▪ نيول، توقيفول، شکنجې، چا څخه په زور څه شی اخستل او د خلکو د ملکيتونو غصبولو قضيې بايد له قانون سره سم پر مخ يوړل شي<br>▪ د ولايت په کچه ټولې پريکړې به د غير رسمي شبکو او ملحوظاتو پر بنسټ نه؛ بلکې د هيواد له قوانينو سره سم تر سره کيږي |

| | | |
|---|---|---|
| | | ▪ بې اعتباره رواجونه او بې اعتباره معاملات د ولایت په کچه په عامو پریکړو کې هیڅ ډول ځای نه لوبوي<br>▪ خلکو ته به د هغو د مسولیتونو او د قانون د حاکمیت په اړوند پوهاوی ورکول کیږي |
| **3. په ولایت کې د اوسیدونکو د بشري حقونو پوهاوی، ساتنه، پرمختګ او پراخوالی** | د بشري حقونو پوهیدل، ساتنه، پرمختګ او له رواجیدلو څخه ډاډګیرنه | ▪ د بشري حقونو پر ضد د سرغړونو د مخنیوي لپاره چټک ګامونه پورته کول<br>▪ د جنسیت مسالو په پام کې نیولو سره له قانون سره سم د ښځو او نارینو له حقونو څخه ساتنه کول<br>▪ په ولایت کې باید غیر رسمي عدلي او قضایي اداري هم د بشري حقونو اصول پلي کړي<br>▪ د ښځو، ماشومانو او نور معذورو خلکو د بشري حقونو پیژندل او د هغو ساتنه<br>▪ په ټیټ عمر کې د ودونوکولو، کورني تاوتریخوالي، د غچ په توګه د ښځو په بدو کې ورکولو او له ښځو او ماشومانو سره له جنسي تیریو څخه مخنیوی<br>▪ ولایتي اداري به د بشري حقونو خپلواک کمیسیون له ولایتي دفتر او ولایتي شورا سره د هغوی د موخو د ترلاسه کولو په اړوند، د بشري حقونو په څارنه، پلټنه، ساتنه او د بشري حقونو د پرمختګ په اړه مرسته کوي |
| **4. د ولایت ټولنیزه، اقتصادي، تعلیمي او کولتوري پرمختیا** | ددغو موخو د ترلاسه کولو لپاره باید د ولایت په کچه ګډ ستراتیجیک او کلني پلانونه جوړ شي.<br><br>د ولایت په کچه د خلکو د اړتیاوو په ګوته کول | ▪ هرکال باید د ولایت په کچه ګډ پلانونه او ګډې بودجې جوړې شي<br>▪ په ولایت کې د موجودو ولایتي شوراګانو، مدني ټولنو او وزارتونو/ادارو سره په اغیزناکه توګه همغږۍ وشي. په ولایتي پرمختیایي پلان کې د وزارتونو/ادارو د پروګرامونو او پلانونو او د خلکو له لومړیتوبونو سره یو ځای شي او د عامه پانګې اچولو پروګرامونه باید ترسره شي<br>▪ د خلکو عامه ګټې، لومړیتوبونه او ولایتي پلانونه جوړ او ولایتي شورا ته وړاندې شي<br>▪ د ولایتي پرمختیایي پلانونو په جوړولو کې د اړوندو وزارتونو د ګډون چارې همغږې شي<br>▪ هغو سرچینو ته چې ترې د سیمه ایيزو لومړیتوبونو د تر لاسه کولو لپاره کار اخیستل کیږي، باید بودجه تخصیص شي |

| | | |
|---|---|---|
| | | ▪ په ولایت کې د هر ښار او کلي د برېښنا د جوړولو لپاره د وړاندیزونه برابر شي<br>▪ د کانونو له راایستلو څخه ملاتړ وشي |
| | ولایتي پرمختیایي پلان او ولایتي بودجه له یو بل سره نښلول | ▪ د ولایتي پرمختیایي پلانونو او ولایتي بودجې په مینځ کې یوه نه بېلېدونکې اړیکه شته<br>▪ هر کال باید ګډه بودجه جوړه شي |
| | د ولایتي پرمختیایي پلانونو پر وخت پلي کول | ▪ د ولایتي اړوندو واحدونو او ادارو لخوا د منظور شویو پلانونو پر وخت پلي کولو په اړوند مرسته کول<br>▪ په ولایت کې د ښارونو او کلیو د پرمختیایي پلانونو په اغیزناکه توګه پلي کول<br>▪ د عامه کارونو او ودانیو جوړولو د چارو پر وخت ترسره کېدل او د هغو د کیفیت څخه ډاډګیرنه |
| | ولایت ته د پانګو را جلبول | ▪ خصوصي سکټور باید وهڅول شي؛ ترڅو د سوداګرۍ، ودانۍ، ترانسپورت، کرنې، روغتیایي چارو، زده کړو او نورو عامه ګټو په اړوند پانګه اچونه وکړي<br>▪ د سیمې اړتیاوې باید د کوچنیو پروژو د پلي کولو لپاره وڅېړل شي او ولایتي اړونده واحدونه دې وهڅول شي؛ ترڅو همدارنګه پروژې د خلکو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره پلي کړي<br>▪ ښاروالیو لخوا باید د لویو او وړو پلورنځایونو بازارونه جوړشي |
| | په ولایت کې د بشري سرچینو وده | ▪ په ولایت کې د ښځو، نارینه و، هلکانو او نجونو لپاره باید د زده کړې پروګرامونه پلي شي او ددغو چارو د پلي کولو لپاره اړینې مرستې<br>▪ خلک، دولتي ادارې او ښاروالۍ باید وهڅول شي؛ ترڅو دیني مدرسې، علمي ادارې، کتابتونونه او نور داسې کولتوري مرکزونه جوړ کړي او همداراز پرمختیایي او د زده کړې پروګرامونه پلي کړي<br>▪ د بشري سرچینو د ظرفیت د لوړولو لپاره باید د لازمو روزنیزو ترینګونو له لارې اړوندې روزنې او علمي غونډې (لکه سیمینارونه او کنفرانسونه) جوړ شي؛ تر څو بشري سرچینو سره د ظرفیت په لوړولو کې مرسته وشي |

| | | |
|---|---|---|
| | | ▪ افغاني کولتور څخه ساتنه او د هغه د لاغوړیدنې او بداینې لپاره هڅې |
| | د پرمختیایي پروګرامونو، پروژو او نور کارونو د پلي کولو لپاره د خلکو هڅول | ▪ د خلکو هڅول او د هغو د خپلې خوښې کارونو همغږي کول؛ ترڅو د ویالو او کانالونو په پاکولو او کیندلو او همداراز د اوبو د بندونو ټینګولو او د اوبو رسولو په نورو پروژو کې د خپلې خوښې کار وکړي<br>▪ خلک باید وهڅول شي؛ تر څو د سړکونو او پلونو په جوړولو او د کوڅو او داسې نورو عامګټو ودانیو په ساتلو کې برخه واخلي<br>▪ خلک او حکومتي اداري باید د لرغونو دودیزو لوبو په بیا راژوندي کولو کې برخه واخلي او ورسره مرسته وکړي، او ددې ترڅنګ د نویو او عصري لوبو لپاره د کلپونو او لوبغالو په جوړولو کې هم برخه واخلي |
| | د ودانولو چارو اسانتیاوې او د عامه دفترونو، ودانیو او نورو اسانتیاووو ساتل | ▪ د ټولو سیمه ایزو شوراګانو، دولتي دفترونو او ښاروالیو د اسانتیاوو، ودانیو او نورو موجوده سامانونو څخه بیا کتنه<br>▪ ټولې سیمه ایزې شوراګانې، حکومتي دفترونه او ښاروالۍ باید اساسي اسانتیاوې، لکه مناسب ځای، تشنابونه، کمپیوټرونه، اړیکتیایي اسانتیاوې او میزونه او څوکۍ او دې ته ورته توکي ولري<br>▪ هغه لوړ پوړي چارواکي چې ټاکل شوي او یا ګمارل شوي دي، باید پوره سرچینې او وسایل په لاس کې ولري؛ تر څو وکولای له هغو خلکو سره چې هغوی ته کار کوي اړیکې ټینګې کړي<br>▪ عامه شتمنۍ لکه سړکونه، او ودانۍ باید د ولایتي څانګو او سیمه اییزو حکومتي ادارو لخوا د خلکو په مرسته وساتل شي<br>▪ د دولتي ادارو د ودانولو پروژې باید وڅارل شي<br>▪ د دولت خپل منځي اړیکي او دولت سره د خلکو اړیکو ته پرمختیا ورکړل شي |
| **5. خلکو ته د هغو پوره او با کیفیته عامه خدمتونو له** | د کیفیت په باب د ډاډ پیدا کولو لپاره څارنه،<br>د ولایت خلکو ته د وړاندې شوو خدمتونو | ▪ دولتي اداري باید خلکو ته په ولایت کې ښه خدمتونه وړاندې کړي<br>▪ خلک باید هغه خدمتونه له حکومتي ادارو څخه ترلاسه کړي، چې هغوی یې غواړي<br>▪ خلک باید پر وخت او بې له بډو خدمتونه تر |

| | | |
|---|---|---|
| **رسیدلو څخه ډاډ ګیرنه، چې هغوی ورته اړتیا لري** | مدیریت | لاسه کړي<br>▪ عامه لګښتونه له لاسته راوړنو سره ژوري اړیکې ولري<br>▪ د خدمتونو وړاندې کونکو ته باید پوره پیسې ورسیږي<br>▪ والي باید له دغو ټولو کارونو، لکه غیر رسمي عدلي پریکړو، امنیت، په عامه سړکونو د خلکو په خوندي توګه تګ را تګ او د هغو د سوداګریزو توکیو خوندي وړلو راوړلو، اوبو او حفظ الصحې، روغتیا او خواړو، زده کړې، بریښنا، سړکونو، سیمه ایز ترانسپورت، ښاري او کلیوالي زیربناوو، کرهنې او اوبو رسولو، د طبیعي سرچینو مدیریت، ټولنیزه ساتنه، د تذکرو ویش، د خصوصي سکټور پرمختیا، مدني خدمتونه لکه د چټلیو راټولول، د ترافیکي وسیلو کنټرولول، د کوڅو څراغونو، تفریحي اسانتیاوو او کتابتونونو جوړولو څخه څارنه وکړي<br>▪ والي باید د ټولنې په کچه په ښارونو او کلیو کې د خلکو د ځمکو د ثبتولو د بهیر مشري پرغاړه ولري<br>▪ والي باید د ولایت د خلکو په مشوره او د اړوندو دولتي ادارو په مرسته د کلیو سیاسي او اداري نقشه کول پرمخ بوځي<br>▪ والي باید د ولایت په کچه ټول بیوزلانو، ښځو او لرې پرتو کلیو ته ځانګړې پاملرنه ولري<br>▪ له خلکو څخه باید د هغوي له وس سره سم فیس (چیرته چې اړتیا وي) ترلاسه شي |
| **6. په ولایت کې د ښو اداري اسانتیاوو باوري کول** | په دیموکراتیکه لار ټاکل شویو ادارو او مدني ټولنو څخه ملاتړ | ▪ له ولایتي شوراګانو څخه د اړتیا وړ ملاتړ وشي؛ ترڅو وکولای شي له خپلو فعالیتونو، لکه د قانون پلي کولو ، انډولیزې پرمختیا، د خدمتونو وړاندې کولو او بشري حقونو څخه څارنه وکړي<br>▪ ولایتي شوراګانو ته باید د ولایتي پرمختیایي پلان او بودجې جوړولو په کار کې د فعال ګډون اسانتیاوې برابرې شي<br>▪ د والي دفتر او اړوندې اداري باید ولایتي شوراګانو ته د هغوی د اړتیا وړ معلومات بې له کوم ځنډ څخه برابر کړي<br>▪ د والیانو د دفترونو او ولایتي شوراګانو ترمینځ به مشورتي بهیرونه روان وي او د مسالو په |

| | | |
|---|---|---|
| | | اړوند د هغوی لنډې کتنې او وړاندېزونه به په پام کې نیول کیږي او پر هغوی به عمل کیږي |
| | خلکو ته د حساب ورکولو له بهیرونو څخه ملاتړ | ▪ ولایتي اداري او والیان به د خپلو کړنو په اړوند خلکو ته د ولایتي شوراګانو او مدني ټولنو د څارنو له لارې حساب ورکوي |
| | له شفافیت څخه ملاتړ | ▪ د معلوماتو د ترلاسه کولو د قانون ماده به په اغیزناکه توګه پلي کیږي. وګړي او مدني ټولنې کولای شي؛ ترڅو له خپل دغه قانوني حق څخه ګټه پورته کړي. وګړي کولای شي؛ ترڅو د والیانو له دفترونو څخه د قانون له حکمونو سره سم معلومات تر لاسه کړي دولتي معلوماتو ته لاسرسی د دولت د فعالیتونو شفافیت او حساب ورکولو لپاره په خاطر رامینځ ته شي |
| | د خلکو په ځانګړې توګه د ښځو او ځوانانو له ګډون څخه ملاتړ | ▪ ښځې او ځوانان به د ولایتونو په کچه د پریکړې په کولو کې فعاله برخه ولري |
| | د مدني ټولنې د سازمانونو له ګډون څخه ملاتړ | ▪ مدني ټولنې کولای شي؛ تر څو د حکومتوالی په چارو کې ګډون وکړي<br>▪ حکومت او سیمه ییزې حکومتي اداري باید له خلکو سره اړوند معلومات (حکومت او سیمه ییزې حکومتي اداري باید د بودجې او عامه خدمتونو په اړوند معلومات له خلکو سره شریک کړي)، سلا مشورې (حکومت او سیمه ییزې حکومتي اداري باید د مهمو پریکړو له کولو څخه مخکې د شوراګانو، جرګو، ټولنیزو شوراګانو او غیر حکومتي ادارو سره د خلکو د لومړیتوبونو په هکله د معلوماتو د راټولو لپاره سلا مشورې وکړي) له خلکو سره ګډه پریکړه وکړي ( خلک نه یوازې دا چې د خپلو لومړیتوبونو په اړوند معلومات ورکړي؛ بلکه په پریکړو کې باید فعاله ونډه واخلي، پیل او کنټرول (خلک باید د پروژو د پلي کولو یا پالیسی لکه د ملي پیوستون پروګرام یا د کلي پرمختیایي شوراګانو او داسې نورو ټولنیزو پرمختیایي پروژو، په څیر د بودجې په پرمختیا او ترلاسه کولو په چارو کنټرول ولري.) |

| | | |
|---|---|---|
| | | ▪ مدني ټولنه کولای شي؛ تر څو حکومت او سیمه ایيزو حکومتي ادارو له کړنو څخه څارنه وکړي<br>▪ مطبوعات کولای شي په فعاله توګه د عامه خدمتونو په اړه راپور خپور کړي<br>▪ د بودجې په اړوند معلومات باید په پوره توګه د خلکو لخوا د لاسرسي وړ وي<br>▪ والي به د خلکو د شکایتونو لپاره د کار کولو میکانیزم جوړوي<br>▪ خلکو ته د حساب ورکولو ګامونه، لکه د عامه لګښتونو تعقیب، ټولنیزه پلټنه او د ټولنیزې ارزونې کارتونه باید پیاوړې شي<br>▪ والي باید د پلان او بودجې جوړولو لپاره له خلکو سره ګډ کار وکړي<br>▪ طبیعي سرچینې باید د یوه ستر مشورتي بهیر پر بنسټ (چې په هغه کې کلیوالي ډلې ونډه ولري) برابرې شي<br>▪ د طبیعي سرچینو برابرول د سیمې ارزښتونو ته انعکاس ورکوي<br>▪ له مسلکي اتحادیو سره باید د هغوی د علاقې وړ مسالو په اړه سلا مشوره وشي |
| | د خصوصي سکټور د برخې اخستنې ملاتړ | ▪ سوداګریزو کارونو ته د خصوصي سکټور له لارې په هغو سیمو کې وده ورکړل شي چې تر ټولو اوچت لومړیتوبونه لري<br>▪ د خلکو د کاروبار د مهارتونو لوړوالی<br>▪ د خلکو کاروبار ته لا زیاتې مالي سرچینې برابرول<br>▪ د خلکو د کاروبار په اړوند د قانوني او اداري ستونزو لیرې کول<br>▪ خلکو ته په کاروبار کې د لا ښو امکاناتو او اسانتیاوو برابرول<br>▪ د سوداګرۍ او کاروبار په وړاندې د هغو خنډونو او موانعو لیرې کول چې د هغوی د ودې مخنیوی کوي |
| | له اغیزمنوالي او وړتیا څخه ملاتړ | ▪ د حکومت ولایتي ادارې باید خپل اړوند پرمختیایي کارونه پر وخت پای ته ورسوی؛ ترڅو وکولای شي د ټولنې اړتیاوې پوره کړي چې ددې په ترڅ کې به له سرچینو څخه په غوره توګه ګټه اخلي |

| | | |
|---|---|---|
| | | ▪ ټولي پريکړې بايد خلکو ته د ډېرو نيږدې ادارو له لارې ترسره شي |
| | له برابرۍ او د ټولو خلکو له ګډون څخه ملاتړ | ▪ ټولي ډلي په ځانګړې توګه تر ټولو زيات تر ګواښ لاندې خلکو ته بايد موقع ورکړل شي؛ ترڅو ښيګڼې او هوسايني وساتي<br>▪ روغتيا او زده کړې بايد ټولو خلکو ته برابرې شي، په ځانګړې توګه هغو کسانو ته چې تر اوسه ترې برخمن نه وو<br>▪ ځانګړې پاملرنه بايد په هغو ښځو او ماشومانو وشي چې لا تر اوسه بې برخې پاتې شوي<br>▪ د ولايت ولسوالۍ او ښاروالۍ په کچه حکومتي ادارې به په منظمه توګه د معيوبو کسانو د شهيدانو د ورثې د شميرې او پيژندګلوۍ په اړه معلومات او همدا راز د بې کارو کسانو د شمير او د هغوی د مهارتونو د څرنګوالي په اړه معلومات راټول کړي |
| | د جنسيت له برابرۍ څخه ملاتړ | ▪ دواړه برخې (نارينه او ښځينه) بايد په مباحثو، نوښتونو او هغو هوکړو کې فعاله برخه واخلي چې د هيواد د برخليک په ټاکلو کې ډېر اهميت لري<br>▪ بايد د نرو او ښځو ترمينځ د تاريخي واټن او توپير د له مينځه وړلو لپاره پرله پسې هڅې او کوښښونه وشي<br>▪ د داسې چاپيريال جوړول چې په هغه کې دغه دواړه خواوې يعني نارينه او ښځينه وکولای شي خپلې ستراتيجيکي اړتياوې تر لاسه کړی.<br>▪ نران او ښځې دواړه بايد د ولايت په کچه د بشري سرچينو ارزښتناکه برخې وي |
| | له يوالي او کاري تسلسل څخه ملاتړ | ▪ والي به د ولايتي ادارو د بيلابيلو سيستمونو تر مينځ د اړيکو ډاډمن کولو لپاره پياوړې مشري او اړيکي برابرې کړي<br>▪ دغه اړيکي به خلکو ته د حکومت په اعتبار کې زياتوالی راولي |
| | د قانون پر بنسټ سيستم په ټولو کچو کې | ▪ ولايات، ولسوالۍ، ښاروالۍ او کلي د قانوني بنسټونو په توګه کار کوي؛ خو نه د قوميت پر بنسټ د ولاړ سيستم د ادارو په توګه |
| **7. د طبيعي پيښنو اداره کول او د هغو د** | د طبيعي پيښنو مديريت يا اداره او د بيړنيو حالاتو مرستې | ▪ والي به طبيعي پيښنو مديريت د کميټې مشري کوي<br>▪ دغه کميټه به د اړوندو ولايتي رياستونو او د مدني ټولني د سازمانونو په مرسته د ولايت په |

| | | |
|---|---|---|
| **ورانونکو اغیزو کمول** | | کچه د طبیعي پېښو مدیریت لپاره کاري پلان جوړوي<br>▪ دغه کمیټه به د طبیعي پېښو په وړاندې د چمتوالي او غبرګون چارې همغږې کوي<br>▪ ولایتي اړوند واحدونه به د پېښو په وړاندې د غبرګون اساسي ګامونه او چارې پلي کوي<br>▪ په دغه ولایتي کمیټه کې د ولایتونو، ولسوالیو او ښاروالیو په کچه د کنټرول څانګه، د همغږۍ کمیټې او پلي کوونکې څانګې موجودې وي<br>▪ دغه کمیټه به د ولایتي اړوندو واحدونو رولونه ټاکي او د هغو د غبرګون چارې به همغږې کوي<br>▪ همدا راز دغه کمیټه به ډاډ ترلاسه کوي چې اړوند وزارتونه د پېښو د کمښت ستراتیژۍ پلي کوي<br>▪ د طبیعي او د خلکو لخوا د رامنځته شویو ناورینونو د څارنې لپاره یو سیستم باید جوړ شي<br>▪ خلک باید وهڅول شي؛ تر څو د ناورین په مخنیوي، له هغه څخه د راوړلو شویو زیانونو د کمښت او په هیواد کې د بیا ودانولو په چارو کې ګډون وکړي<br>▪ خلک باید د ناورین د بېړنیو حالاتو لپاره د غبرګون مرکزونه جوړ کړي |
| | عامه روغتیایي چارو ته له غبرګوني څخه ډاډ ګیرنه | ▪ ولایت باید چمتو وي؛ ترڅو عامه روغتیایي چارو ته غبرګون وښيي او د ساري ناروغیو له خپریدو څخه مخنیوی وکړي<br>▪ له مودې لویدلو او نقلي دواګانو له پلورلو څخه د مخنیوي لپاره باید اغیزناکه ګامونه پورته شي<br>▪ تیر ایستونکي او درواغجن ډاکټران باید د دولت لخوا په قانوني توګه وڅارل شي |

| | | |
|---|---|---|
| | | |

| | | |
|---|---|---|
| **۸. د کوکنارو د کښت له منځه وړل او د بدیل معیشت پیاوړي کول:** | د کوکنارو کښت له منځه وړل او د بدیل معیشت پیاوړي کول | • د اړونده حکومتي ادارو په مرسته د افیمو او نورو نیشه یي توکو کښت منع شي<br>• د ولایت مقام د کوکنارو د کښت د له مینځه وړلو ځایونه په ګوته کوي، ځکه چې والي شاید د سیمې د حالاتو په اړه کره معلومات ولري<br>• والي د کوکنارو د کښت د اړولو د وروستني پلان منظوري ورکوي<br>• والي د نشه يي توکو د غوښتنې کمولو د ځارنې کمېټې مشري پرغاړه لري. په نوموړې کمېټه کې د روغتیا، پوهنې، ځوانانو، اطلاعات او کولتور وزارتونه شامل دي. نوموړې کمېټه د نشه يي توکو د غوښتنې د کمولو پروګرام فعالیتونو ( لکه د کلینیکونو جوړول، د نیشه یانو د درملنې پروګرامونه) او داسې نور، د پروګرامونو د اغېزمنتيا ( لکه پایله او د پیسو ارزښت) په اړه راپور ورکوي. کمېټه د تولو کړنو په اړه قضاوت کوي<br>• والي پروګرام برابروي چې د کوکنارو د کښت د له مینځه وړلو په وخت کې له بيوزلو کروندګرو سره لنډ مهاله مرستې وشي، د بېلګې په توګه د اړینو توکو ویشل، د ابتدایي تخنیکي مرستو تیارول، او بازار ته د مالونو په لېږدولو کې مرسته، دغه مرستې د نشه يي توکو پرضد د مبارزې کمپاین د تولو پړاونو لکه د کوکنارو له کښت نه مخکې د عامه پوهاوي کمپاین، بدیل معیشیت، د کوکنارو د کښت له مینځه وړل او د قانون پلي کولو یوه برخه ده<br>• د ولایت مقام په بریالیتوب سره د وزارتونو د بدیل معیشت د پروژو پلي کولو په موخه د اړونده ولایت د پلانونو د پلي کولو مشري پر |

| | | |
|---|---|---|
| | | غاړه لري، لکه د کرنې په برخه کې ټریننګ او نور پرمختګونه چې د کرنې ، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت په وسیله ترسره کېږي، د فواید عامې وزارت په وسیله د سړکونو د کارونو په سمه توګه سرته رسول<br>• والي او ولایتي شورا د بدیل معیشت د خدمتونو وړاندې کولو او همغږي کولو دنده پرغاړه لري<br>• نړیواله سازمانونه د اړونده ولایتي پلان او تطبیقي سیستم سره سم کار کوي: د پرمختیایي بودجې د لګښت له مخې د کاري ظرفیت لوړول ، تخنیکي همکارۍ او مالي سرچینې برابروي<br>• والي د ولایت په کچه د نشه يي توکو پرضد د مبارزې قانون د پلي کولو د څارنې کمېټې مشري کوي<br>• ددې کمېټې غړي به د لويې څارنوالۍ ، د نشه يي توکو پرضد د مبارزې وزارت ، د نشه يي توکو پرضد د مبارزې پولیس، د نشه يي توکو پرضد د مبارزې کاري قوې، د کورنیو چارو وزارت او داسې نورو ادارو استازي وي. کمېټه د نشه يي توکو د کاروانونو او لابراتوارونو باندې د یرغل وروړلو او د هغوی د نیولو په اړه راپورونه ورکوي، همدارنګه د نیشه يي توکو په تولید او صنعت کې د ککړ کسان نیسي او محکمې ته يې سپاري. کمېټه د اړونده ټولو فعالیتونو د سرته رسولو او پرمختګ په اړه قضاوت کوي او حکم صادروي |
| **۹. د غربت راکمول او د زریزې پرمختیایي** | په ولایت کې د خلکو لپاره د غربت راکمول او د زریزې پرمختیایي | • والي نه یوازې دا چې د بنې حکومتوالۍ منظمولو ته ژمن دی، بلکې همدارنګه بیوزلو خلکو ته د حساب ورکونې مسوول هم دی |

| | | |
|---|---|---|
| **موخې لاسته راوړل** | موخې لاسته راوړل | • والي خپلې سرچینې هغو ټولنېزو خدمتونو ته ګماري، چې په اساسي توګه د غربت په راکمولو او له منځه وړلو کې رول ولري لکه: ( د بېلګې په توګه: پوهنه، روغتیا، د اوبو رسونې سیستم) او هغه ډلې خلکو ته چې ډېر اړ او مجبور وي (لکه د بېلګې په توګه: ښځې، ماشومان، فزیکي معیوب وګړي، د ځمکو کروندګر او بې ځمکې کارګر په کلیوالو سیمو کې، په ښارونو کې د جونګړو بیوزلي اوسیدونکي) او هغه کلیوالي ولسوالی چې له پامه غورځول شوي دي<br>• والي د عامه بودجې لګولو په چاره کې د حساب ورکونې عملیه د بیوزلو خلکو په خوښه ډاډمنوي<br>• ولایتي اداره له حکومت سره د بیوزلو خلکو لپاره د ښو خدمتونو په سرته رسولو کې مرسته کوي<br>• والي د بیوزلو په پلوي او ګټه پرېکړې کوي<br>• والي له بیوزلو سره مرسته کوي چې خپل ځانونه برابر کړي<br>• والي د بډې اخستلو مخه نیسي<br>• والي د بیوزلو د ملاتړ په خاطر د قانون حاکمیت پیاوړې کوي،<br>• والي له بیوزلو سره د ناحکومتي ټولنو د مرستې کولو په بهیر کې برخه اخیستنه پیاوړې کوي<br>• والي د جنس په برخه کې د غربت پر اهمیت او اندازې باندې ځان پوهوي او اجراات کوي؛ ترڅو په مساوي توګه نارینه او ښځینه ورڅخه ګټه پورته کړي |
| ۱۰. د | په ولایت کې د افغانستان | والي به دا باور ترلاسه کوي چې:<br>•په ولایت کې په اغیزمنه توګه او پر وخت د |

| | | |
|---|---|---|
| **افغانستان د ملي پرمختيايي ستراتيژۍ او ملي لومړيتوبونو پروګرام په پلي کولو کې مرسته کول** | د ملي پرمختيايي ستراتيژۍ اوملي لومړيتوبونو پروګرام او د مرکزي حکومت د فعاليتونو په اغېزمه توګه پلي کول | افغانستان د ملي پرمختيايي ستراتيژي پلي شوې ده<br>• د ملي لومړيتوبونو پروګرامونه په اغېزمنه توګه پلي شوي دي<br>• والي په پوره توګه د احصايي، ټاکنو او ملکي خلکو د نوم ليکنې له بهير څخه ملاتړ کوي<br>• سرحدي چارې له قانون سره سم پلي شوي دي<br>• د کډوالو چارې اسانه شوي يعني افغان وګړو ته له قانون سره سم له هيواد څخه بهرتللو سفر په موخه د اسانو لارو چارو له لارې اړين اسناد ورکړل شوي دي. |
| **۱۱. په ولايت کې همغږۍ شوی حکومت او سيمه ييزه حکومتوالي خپل کارونه پرمخ بيايي.** | په ولايت کې د مرکزي او سيمه ييزې حکومتوالۍ همغږه شوې هڅې | • په ټولو وختونو کې د وزارتونو او دولتي ادارو او ښاروالۍ اړونده ډيپارټمنټونو ته د خپلو کارونو په سرته رسولو کې لارښود تهيه شوی دی<br>• د مرکزي او سيمه ييزې حکومتوالۍ د ادارو ترمينځ فعالي او يووالي اړيکې رامنځته او برقراره شوي دي<br>• ولايت ته د مرکزي حکومت د کارکوونکيو رسمي سفر همغږه او د کارونو د اسانتيا په موخه يې کار شوی دی<br>• د عامه خلکو په خوښه، د دولتي ځمکو د پلورلو او يا پيرودلو او د دولتي او عامه مقصدونو په موخه د ځمکو د لاسته راوړلو اندازه اخيستل شوې ده<br>• د ځکمو هغو ښتنتو ته چې د عامه موخو په خاطر يې د حکومت لخوا ځمکه په حتمي توګه استملاک شوې، مناسب تاوان ورکړل شي |

| | | |
|---|---|---|
| | | • په ولایت کې هیڅ عامه یا شخصي ځمکې په زور او غیر قانوني توګه له چا څخه وانخستل شي<br>• دولتي ډیپارټمنټونه او ټولنې د طبیعي سرچینو په تثبیتولو، منظمولو او چاپېریال او ځنګلونو په خوندي کولو کې دخیل شوي دي<br>• د اړونده ډیپارټمنټونو وړاندیزونه مرکزي وزارتونو او ادارو ته په مرکز کې د عامه خلکو په خوښه او اراده سپارل شوي دي<br>• د سرې میاشتې له ادارې سره کلکه همغږي رامنځته شوې، چې خپل عاید زیات کړي، خپلې مالي مرستې پیاوړې کړي او پخپلو عملیاتو کې د خپلې خوښې ګډون بهیر په خوځښت راولي |
| ۱۲. د عامه ګټو منظموال | د عامه ګټو منظموال | والي ددې ډاډ ترلاسه کوي چې:<br>• د اساسي توکو او خوراکي موادو بیې په پرله پسې توګه د ښاروالۍ لخوا څارل کېږي؛ تر څو په ناقانونه توګه د اړینو توکو او خوراکي موادو له زیرمه کولو او احتکار څخه مخنیوی وشي؛<br>• د حبوباتو او نورو ضروري توکو د اخیستلو ، لیږدولو او په خلکو باندې د ویشلو پلان د حکومت د موجوده پالیسی له مخې ترسره شوی دی<br>• د دولتي ملکیتونو څارنه<br>• د طبیعي سرچینو برابرول لکه: ځکمې، ځنګلونه، د اوبو سرچینې او نورې طبیعي سرچینې، په داسې توګه برابرول چې د اغېزناکه لګولو ډاډ یې ورکړل شي<br>• غېر قانوني کیندنې او د منرالونو او چارتراشو سوداګري منع شوې ده |

| | | |
|---|---|---|
| • د کوچیانو او رمو درلودونکیو لپاره د څړځایونو د مناسبې او ښې ګټې اخستنې په موخه مرستې برابرې شوې دي<br>• څړځایونه د کرنې او مالدارۍ دیپارټمنټ لخوا د ځایي خلکو د اړتیاوو او د شرعي احکامو له مخې په ګوته شوي دي<br>• د میټریك اندازې سیستم له تطبیقولو څخه ملاتړ شوی دی<br>• په ولایتونو کې د احصایوي معلوماتو د راټولو او زېرمه کولو لپاره اسانتیاوې برابرې شوي او اوسیدونکي دې ته هڅول شوي، چې ټاکل شوو ټیمونو ته کره احصایوي معلومات ورکړي<br>•د سیمه ییزو حکومتي واحدونو د رامنځته کولو او له مینځه وړلو په اړه وړاندیزونه جوړ شوي او د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکي اداري لخوا د وزیرانو شورا ته وړاندې شوي دي | | |
| • ټول هغه سیمه ییز حکمونه او فرمانونه، چې باید په ولایتونو کې پلي شي، د ضروري او شاید د ملي قوانینو د اجازې پر بنسټ، صادر شوي دي | د سیمه ییزو فعالیتونو د قوانینو د برابرولو او منظورولو تمرین | |
| والي به ډاډ ترلاسه کوي چې:<br>•یو داسي سیستم رامنځته شوی، چې له مخې به یې د بودجې د لګښتونو، نغدي تادیاتو، د بودجې په وړاندیزونو کې بدلونونو، د بېلابېلو قراردادونو پایلې، چې پکې د اړونده قوانینو له مخې د والي او ولسوال د دفترونو په وسیله | د بودجې ټاکنې او پیسو د ورکړې او مالي ځواب ورکونې کرنلارې | **۱۳. په ولایتونو کې د مالي مدیریت اوعامه تدارکاتو د چارو پیاوړي** |

| | | |
|---|---|---|
| **کول** | | اجاره شوي ملکيتونه شامل وي، کنترول<br>• د داوطلبۍ او تدارکاتو کمېټه د اړونده قوانينو له مخې رامنځته شوې چې د والي او ولسوال د دفترونو لپاره د څيزونو او خدمتونو له مناسبې بيې سره برابريدل ډاډمنوي<br>• د والي او ولسوال لخوا تدارکات په خپل وخت سره او د اړونده قوانينو د اصولو له مخې ترسره شوي دي<br>• د والي او ولسوال د دفترونو، ادارو او ديپارتمنټونو د بودجې د لګښتونو څارنه او د حسابي چارو تصفيه کول د اړونده قوانينو له مخې ډاډمن شوي دي |
| | د دولت او ښاروالیو لپاره د عوايدو لاسته راوړل | • د دولت قانوني عوايد او د ښاروالۍ ټکسونه او لګښتونه پر وخت او ټاکلي اندازې سره راټول شوي دي<br>• د مدني ټولنې هغو سازمانونو سره بايد مرسته وشي، چې په وګړو کې د ټکس د مسووليتونو په هکله عامه پوهاوی رامينځ ته کوي |
| **۱۴. د بنسټيز پرمختګ او اغېزمن مديريت ډاډ ورکول** | د نويو اداري جوړښتونو پلي کول | • په پوره اندازه وړ کارکوونکي په ولايتي ادارو کې له دريم څخه تر شپږم بست پورې ګمارل شوي دي<br>• د نويو واليانو د دفترونو جوړښتونه لکه څرنګه چې تصميم نيول شوی، چې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کميسيون په وسيله به په پوره توګه فعال شي؛ ترڅو هغوی خپل اداري کارونه د خپلو کاري لايحو له مخې پرمخ |

| | | |
|---|---|---|
| | | بوځي<br>• د والي او ولسوال د دفترونو لپاره اړین سامانونه، وسایل او ودانی شته؛ ترڅو د والي د دفتر د ټولو فعالیتونو پلي کولو ته اسانتیا برابره شي<br>• د عامه اداري او د امتیازاتو او تنخواګانو د ورکړې ریفورمونه په ټولو دولتي ادارو کې په ولایتي کچه او د ولایت په ښاروالیو کې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسیون له لارښوونو سره سم پرمخ وړل کیږي |
| | په وړ او مناسبه توګه د ملکي خدمتونو پرمخ بیول<br><br>د کره عملیاتي او اداري سیستمونو معرفي کول | ډاډ ترلاسه کول چې:<br>• ټولو کارکوونکیو ته ضروري ټریننګ ورکول کیږي، چې دوی به د خپلو ورځنیو دندو په سمه توګه سرته رسولو کې وړ وګرځوي، چې په هغې کې ځانګړې روزنه هم شامله ده<br>• ټولو کارکوونکیو ته د کمپیوټر ابتدایي روزنه ورکول کیږي، چې ځینو ته به یې د کمپیوټر ځانګړې زده کړې هم ورکړل شي<br>• اړونده کارکوونکي پخپلو معمولو دندو کې ټریننګ ترلاسه کوي<br>• د استخدام ځانګړی سیستم رامنځته شوی دی، چې پکې کاري ارزونه هم شامله ده<br>• اغېزمنې اداري او عملیاتي کړنلارې معرفي شوي او پلي شوي دي<br>• ساده شوي قوانین او سوداګریز بهیرونه معرفي شوي او پلي شوي دي<br>• کارکوونکي په نویو قوانینو او کړنلارو کې روزل شوي دي |

| | | |
|---|---|---|
| | | |
| **.15 په ولايت کې د ديني فعاليت ملاتړ** | د اسلامي شعايرو او مناسکو د ترسره کولو ملاتړ | • ديني، تاريخي او ملي مراسم لمانځل شوي دي<br>• له ديني عالمانو او مشرانو سره د دوی د کارونو پرمخ بيولو په برخه کې مرسته کيږي او همدارنګه ورسره د جوماتونو او نورو عبادت ځايونو په بيا رغاولو او جوړولو او څارلو کې مرسته کيږي |
| | د حج او عمرې اسانتيا رامنځته کول | • مکې معظمې ته د حج او عمرې او همدارنګه د عبادت نورو سپيڅلو ځايونو ته د تګ په موخه د پاسپورت او ويزې په ترلاسه کولو او نورو اړونده کارونو کې اسانتياوې رامنځته شوي دي |

## د والیانو مرستیالان (مرستیال والیان)

هغه قانون چې د ولایتونو د مرستیالانو (د والیانو مرستیالانو) د رول په هکله پکې څه راغلي، ډیر لنډ دی. دا قانون په ساده ټکو کې داسې څرګندوي چې د والي د مرستیال/مرستیالې مسوولیتونه د ولایت د والي لخوا (د ځایي ادارې د قانون د ۱۹ مې مادې) سره سم تشریح شوي دي. د ولایت د والي پرخلاف چې د نوموړي ګومارنه سیاسي بڼه لري، د والي مرستیال (مرستیال والي) د ملکي خدمتونو سره ارتباط لري. مرستیال والي باید د ملکي مامور په توګه د مسوولیتونو او دندو څرګنده لایحه ولري. په ولایت کې د لوړ پوړي مسوول په توګه مرستیال والي د ولایتي ادارې تسلسل او په منظمه توګه د هغې بریالیتوب باوري کوي.

**رول او دندې**

په ولایتي اداره کې د والي مرستیال د یو لوړ پوړي ملکي چارواکي په توګه بلل کیږي. په داسې حال کې چې والي نورو ستراتیژیکو مسئلو ته پاملرنه کوي، هماغسې د مرستیال والي لومړنی مسوولیت، ورځنیو ستراتیژیکو موضوعاتو ته د لازمې پاملرنې باوري کول دي. په دې ډول به د ولایت والي ته ددې وخت په لاس ورشي، څو خپل پام هغو ستراتیژیکو پریکړو ته واړوي چې د سیاسي بدلونونو سره سره په یوه وخت کې د ولایتي ادارې یوخیلوالي ته لار اواروي.
که د والي له خوا ورته په دې اړه دنده او واک ورکړل شي؛ نو مرستیال والي به د ورځنی پلان جوړونې، بودجې جوړونې او په ولایتي کچه د انسجام او سمون مسوولیت په غاړه ولري. نوموړي به د اړتیا پر مهال د ولایتي پرمختیایي کمیټې د سکټوري ډلو په غونډو کې ګډون کوي او همداشان به د والي له لاربښوونې سره سم د ولایتي پرمختیایي کمیټې په غونډو کې هم برخه اخلي. په دې ډول به د پلان او بودجې جوړونې تسلسل او همدارنګه د پروژو د پلي کولو اغیزمنتیا هم پر ټاکلي وخت پلی کړل شي.

ورځنیو کارونو ته په کتو سره به د والي مرستیال د هېواد په کچه د افغانستان د ملي پرمختیایي ستراتیژۍ (د جنډر برابري، د نشه يي توکو په وړاندې مبارزه، سیمه ایېزه همکاري، د اداري فساد/درغلی په وړاندې مبارزه او چاپیریال ساتنې اړوندو موضوعاتو) په برخه کې اساسي او مهم رول لوبوي.

په ټولیزه توګه مرستیال والي د ولایتي اداري په منظم ډول د دندو د ترسره کولو په برخه کې مسوول بلل کیږي او هم دا چې ددغو دندو د پلي کولو کار له  قانون سره سمون لري. نوموړی به دا باوري کوي چې د ملکي خدمتونو او ملکي مامورینو په هکله قوانین په لازمه توګه تطبیقیږي او هم دا چې په ولایتي کچه د ملکي خدمتونو د ترسره کولو په موخه لازم او مناسب شرایط رامینځ ته شوي دي.

مرستیال والي به پر ولایتي اداره د ټولنیز اقتصاد او سیاسي څېړنو د تمایلاتو، د اغېزې په برخه کې هم مسوولیت ولري او هم به احتمالي خطرونه په ګوته کوي، څو باوري کړي چې د ولایت والي په ټولو وختونو کې وروستی پرمختیاوې، په لازم او مناسب ډول ترلاسه کوي.
مرستیال والي به د ولایت د والي په نه موجودیت کې او یا هم د هغه له لارښوونې سره سم د ولایتي ادارې استازیتوب کوي.

مرستیال والي به د لیاقت پر بنسټ ولاړې، پرانستي سیالۍ له لارې، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د مقرریو د بورد لخوا ټاکل کیږي.

**حساب ورکول:**

- **د ولایتونو والیان د ولسمشر او سیمه ایزو اورګانونو خپلواکي اداري په وړاندې مسوول بلل کیږي.** د ولایتونو والیان به په ولایت کې د روانو فعالیتونو، په ځانګړې توګه د هغو فعالیتونو چې د ولایتي پرمختیایي پلانونو د پلي کیدلو د یوې برخې په توګه ترسره کیږي او همدارنګه په امنیت، سالمې اداري، پرمختګ او اقتصادي حالت پورې اړوندو موضوعګانو په اړه راپور ورکوي. څرنګه چې د ولایتونو والیان د جلالتماب ولسمشر لخوا ګومارل کیږي؛ نو د هغه په وړاندې ځواب ویونکي هم دي
- **د ولایتونو والیان ولایتي شوراګانو ته او د ولایتي شوراګانو  له لارې د اړونده ولایت د خلکو په وړاندې ځواب ویونکي دي**
- **له حقوقي پلوه والیان مکلف دي چې ولایتي شورا ته په میاشت کې یوځل ورشي او د خپلو اجرااتو په اړه معلومات او ځواب ورکړي.** د امکان په وخت کې نوموړي والیان د ولایتي شورا له لارې په بشپړه توګه د هغو مالوماتو په هکله په ځواب ویلو مکلف بلل کیږي، چې د ولایتي شورا لخوا یې غوښتنه کیږي. والي به ولایتي شورا ته، د ولایتي پلانونو د پلي کولو د پرمختګ، او هغو پرمختګونو په هکله چې د ولایت لخوا د پرمختګ، امنیت، بشري حقونو، سالمې اداري او قانون د حاکمیت په برخو کې ترلاسه کیږي، راپور ورکوي. د ولایت د والي مقام به د لازمو او دقیقو تدبیرونه او اجراأتو په

ترسره کولو سره نوموړي مالومات بشپړوي. ولایتي شورا به د خلکو په وړاندې میاشتنۍ غونډې جوړوي او په دغو غونډو کې به دوی په رسمي ډول د ولایتي پلانونو د پرمختګ د پلي کېدو او هغو پرمختګونو په هکله اعلان کوي چې د ولایت لخوا د پرمختګ، امنیت، بشري حقونو، سالمي ادارې او قانون د حاکمیت په برخو کې ترلاسه کېږي او همدارنګه د هغو مهمو فعالیتونو اعلان هم کوي چې د همغې میاشتې په اوږدو کې واقع شوي وي

- **ممکن د ولایت والي د ولایتي پرمختیایي کمیټې د غونډو د نه را بللو، د ولایتي پرمختیایي شورا د نه اجراأتو او هغو وظایفو په هکله د اجراأتو د نه ترسره کولو له امله، چې د هېواد له قوانینو څخه په پیروۍ د ولایت والي ته سپارل شوې دي، د ولایتي شورا لخوا مسوول وبلل شي.** که چېرې ولایتي شورا په دې باور وي چې د والي کړنې له اخلاقي اوصولو او مقرراتو سره سمې نه دي؛ نو په هغه حال کې به دغه شورا د سیمه ایېزو اورګانونو خپلواکې ادارې او د جمهوري ریاست مقام دفتر ته خبر ورکوي. ولایتي شورا به تر داسې راپور ورکولو دمخه والي ته دا موقع ورکوي چې په اړونده برخه کې خپل نظر او دلیلونه ووایي

## سرچینې:

- **د والي د دفتر عملیاتي لګښتونو تمویل به د سیمه ایزو ادارو لخوا برابرېږي.**
- **د نشه يي توکو پر وړاندې مبارزې او طبیعي آفتونو د مدیریت په ګډون د هغو پروګرامونو د پلي کولو په موخه تمویل او بسپنې به چې د اړوندو دیپارتمېنتونو له صلاحیت څخه بهر وي، د سیمه ایزو اورګانونو د خپلواکې ادارې د بودجې لخوا تهیه او برابرېږي**

## ولایتي شوراګانې

### دندې او مسوولیتونه

- **ولایتي شوراګانې به د خلکو او مدني ټولنې د سازمانونو لپاره له ولایتي ادارې سره د برخې اخیستلو او ګډون په موخه یو چوکاټ جوړوي.** ولایتي شورا به د شوراګانو او جرګو په ګډون د مدني ټولنې له سازمانونو او ځایي اوسېدونکیو سره منظمې مشورې

کوي. ولایتي شورا به د ولایت په اداره کې د خلکو او د مدني ټولنې سازمانونو ګډون ته وده ورکوي

- **د ولایتي شورا غړي به د خپلو انتخابي حوزو له خلکو سره په منظمه توګه سلا مشورې کوي**
- **د ولایتي شورا رئیس به د ولایتي پرمختیایي کمیټې غړی وي. ولایتي شورا به د ولایتي پرمختیایي پروګرامونو په جوړولو کې برخه اخلي**
- **ولایتي شورا به د پلان او بودجې د فورمول په جوړولو کې ګډون ته لاره اواروي.** دا کار د بودجې په جوړولو او لومړیتوبونو په ټوته کولو کې د خلکو د ورګډولو لپاره یو نوښت ثابت شوی دی. د مدني ټولنې سازمانونه کیدای شي دداسې پروژو وړاندیز وکړي، کومې چې به وروسته تر عامه بحث لاندې نیول کیږي. وړاندیزونه به له تخنیکي ارزونو سره یوځای شي او دا کړنلاره به تکرارېږي، ترڅو د بودجې وروستنی تخصیص معلوم شي
- **ولایتي شورا به په پای کې ولایتي پرمختیایي پلانونه او ولایتي بودجه منظور او لاسلیکوي**
- ولایتي شورا به ولایتي بودجې منظورووي. د شفافیت د باوري کولو او دا چې خلک وپوهیږي له ولایتي شورا سره څومره بودجه شته؛ نو هغه بودجه چې ولایتي شورا منظوره کړې ده، خلکو ته څرګندیږي
- **ولایتي شورا به د ولایتي ادارې په سترو پریکړو باندې بحث کوي او منظورووي به یې دا چې ستره پریکړه کومه ده، په دې باب به د ولایتي شورا لخوا پریکړه کیږي. که چیرې ولایتي شورا له پریکړې سره موافقه نه وي؛ نو هغه به بیرته ولایتي ادارې ته د بیا کتلو لپاره لیږي**
- **ولایتي شورا باید د څارنې او حساب ورکونې ستر رول ولوبوي؛ ترڅو د حساب ورکونې بهیر پرمختګ وکړي.** د حساب ورکولو اړیکې د خدمتونو په اغیزمنه توګه وړاندې کولو لپاره ډیرې اړینې دي. ولایتي شورا پوره واک لري چې د والي او د ولایت اړونده ادارو د کار کولو یا نه کولو حساب له ځان سره وساتي
- **د ولایتي شورا کلیدي رول دادی چې د حساب ورکونې د بهیر پر دندې عمل وکړي.** د ولایتونو والیان او ورسره سکټوري ادارې یې د ولایتي پرمختیایي پلان د اسبابو د برابرولو په برخه کې د ولایتي شورا د وندې او پرمختګ په اړه د راپور ورکولو او همدارنګه د ولایتي پرمختګ، امنیت، د بشري حقونو، د غوره حکومتوالۍ او د قانون د برابرۍ په برخه کې د ولایت د پرمختګ د جریان د راپور ورکولو چاره په غاړه لري،

ولايتي شورا ددې مسوليت هم پرغاړه لري،چې د ولايتي پرمختيايي پلان په برخه کې د اړونده ادارې د وخت په وخت پرمختګ او همدارنګه کم تر کمه د خدمتونو د وړاندې کولو معيار چې د اړونده وزارتونو لخوا ورته ټاکل شوی، د تکميلولو جاج واخلي او همدا شان ډاډ ترلاسه کړي. ولايتي شورا دا اختيار هم لري، چې د ولايت د والي د کړنو جاج او ډاډ تر لاسه کړي، چې آيا نوموړی (ښاغلی/اغلې) د قانون مطابق او هغه اختيار چې دی يې لري، ورسره سم چلند او عمل کوي او که نه؟

- **په قانوني ډول واليان اړ دي، چې د ولايتي شورا غونډو ته په مياشت کې يو ځل ورشي او د خپلو اجرااتو په اړه معلومات او حساب ورکړي.** واليان به ولايتي شورا ته حساب ورکوي؛ ترڅو د ولايتي شورا ممکنه پراخو او بشپړو غوښتنو ته ځواب ووايي. والي به د ولايتي پرمختيايي پلان د اسبابو د برابرولو، امنيت، د بشري حقونو، د غوره حکومتوالی او د قانون د حاکميت په برخه کې د ولايت د پرمختګ له جريان نه ولايتي شورا خبروي. **ولايتي شورا دا اختيار هم لري، چې والي پر دې پر کړي چې د ولايتي پرمختيايي کميټې د مياشتنيو غونډو مشري يې نه ده کړې، او هم دا چې ولايتي پرمختيايي کميټې خپل ورسپارل شوی کار له قانون سره سم نه دی تر سره کړی.** که چيرې ولايتي شورا په دې باور وي چې د والي کړنې د اخلاقي اوصولو او مقرراتو سره سمې نه دي؛ نو په هغه حال کې به دغه شورا د سيمه ايېزو اورګانونو خپلواکې ادارې او د جمهوري رياست مقام دفتر ته خبر ورکوي. ولايتي شورا به تر داسې راپور ورکولو دمخه والي ته دا موقع ورکوي چې په اړونده برخه کې خپل نظر او دليلونه ووايي
- **ولايتي شوراګانې بايد له والي نه د ولايتي پرمختيايي پلان د اسبابو د برابرولو، امنيت، د بشري حقونو، د ښه طرز حکومت کولو او د قانون له مخې په مساوي ډول په اړونده برخه کې د ولايت د پرمختګ د جريان په هکله راټول شوي معلومات او شاهدي واوري**
- **ولايتي شوراګانې بايد د خدمتونو وړاندې کولو د بهير ارزونه او څارنه وکړي.** د ولايتي شوراګانو د څارنې پرمختګ، ارزونه او د مشورې رول د حساب ورکونې د بهير د اړيکو د پرمختګ مرکزي ټکي دي او همدا ډول د خدمتونو د سرته رسولو پرمختګ هم ډاډمنوي. هغسې چې د خدمتونو د سرته رسولو په ځنځيري لړی کې اړونده وزارتونو سترې چارې ځانګړې کړي دي، دا په ولايتي شوراګانو باندې د غوره او ښې څارنې ځانګړی فشار دی. د مشورې او څارنې رول ددې لپاره؛ ترڅو دا ډاډمن کړي، چې آيا سيمه ييز اړوندان او چارواکي د کيفيت له مخې د ستاينې وړ او د وړتيا له مخې ګټور او پوره خدمتونه ترسره کوي او که نه. ولايتي شوراګانې د اړونده ادارو د کاري ظرفيتونو د څارنې او ارزونې او همدارنګه د عامه پوهاوي لپاره ، چې له اړونده ادارو څخه د څه ډول خدمت کولو هيله ولري، بايد يو ډول اسباب په کار واچوي. د لاندې روښانه شويو

اسبابو کارول به په سیمه اییزه کچه د حکومتوالۍ په برخه کې د داسې یوه  سیستم په رامینځ ته کولو کې مرسته وکړي چې پر پایلو ولاړوي.

د کړنو د اندازه کولو سیستم به د ولایتي شوراګانو د اساسي موادو لاندې ثابت او د کتې وړ وګرځي. دا سیستم به ولایتي پرمختیایي کمیټې په دې بریالۍ کړي چې پر سیمه اییزه کچه حکومتوالۍ د خدمتونو څارنه وکړي او دا باوري کړي، چې له پوره معیارونو او د کړنو له موخو سره سم یو ځای شوي دي. ټول هغه معلومات چې د ولایتي شورا په وسیله راغونډ شوي، باید روښانه او د عامه خلکو لپاره موجود وي[13]. ولایتي شورا ګانې د اړونده ادارو او ټاکلو ولایتونو د فعالیتونو د معیارونو او لړ تر لړه د خدمت د معیارونو د خپراوي پړه او مسولیت پر غاړه لري. دا به د سیمه ییزې حکومتوالۍ د لاربنود د کتابچو د کارولو په وسیله ترسره کیږي. دا د عامه خدمتونو لپاره د ضروري معلوماتو رسولو او په حکومتي خدمتونو او پړاونو د معلوماتو د برابرولو لپاره یوه وسیله ده. ولایتي شورا عامه خلکو ته د لاربنود کتابچو د ښودلو او رسولو دنده په غاړه لري. ددې معلوماتو د خپراوي لپاره به یو منځنی جدول د استفادې وړ وګرځي

- ولایتي شوراګانې له دولتي ادارو څخه د وګړو لخوا د ارزونې د کارتونو وېشلو دنده هم پر غاړه لري. هیوادوال به له دغو کارتونو څخه د خدمتونو د وړاندې کولو په اړه د خپلو ارزونو د په ډاګه کولو د یوې وسیلې په توګه او همدارنګه د سکټوري وزارتونو د ولایتي واحدونو لخوا د حداقل معیارونو د پوره کولو په باره کې د راپور ورکولو د وسیلې په توګه کار کوي. ولایتي شورا د ارزونې د کارتونو د موجودیت په اړوند د عامه پوهاوي دنده هم پر غاړه لري. ولایتي شورا ګانې به همدارنګه د ارزونې د کارتونو د ویشلو مسوولیت پر غاړه لري. دوی به د ښاریانو لپاره د منځګړي په توګه خدمت کوي، چې په ټولیزه توګه د عامو خلکو له خدمتونو سره خپلې تجربې پرتله کړي او همدارنګه د ښاریانو لپاره د یو منځګړي په توګه خدمت وکړي، چې ددې خبرې راپور ورکړي چې اړونده وزارتونه په کومو ځایونو کې خپلو خدمتونو او نورو کړنو ته ځانګړې اړتیا لري. ولایتي شورا به راټول شوي معلومات د ارزونې کارتونو له مخې راټول او والي او د سیمه ایزو اورګانونو خپلواکې ادارې او اړونده وزارتونو ته ولیږدوي، ځکه مرکز ددې وړتیا لري چې د حساب ورکونې ځنځیر بشپړ او د سیمې په کچه د خدمتي کړنو په اړه ټول ممکنه معلومات ترلاسه کړي. مرکز به د هغو وزارتونو د ولایتي څانګو د کارونو

---

[13] ددي سیسټم د اغیزمنتیا لپاره باید په ټولو  وزارتونو کې د خدمت د وړاندې کولو حد اقل معیارونه جوړ کړي.

په اړه د رسېدلو شکایتونو په اړه پلټنې پيل کړي، کومو ادارو چې دغه حداقل معيارونه پوره کړي نه دي او وروستی پايلې به عامه خلکو ته وړاندې شي.

ولايتي شورا به د سکتوري وزارتونو د ولايتي واحدونو د اجرااتو څارنه کوي؛ ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې دغه اداري د جنډر(جنيست) د برابری په اړه ګامونه پورته کوي. همدا رنګه به ددې کار څارنه هم کيږي چې ايا دغو ادارو د جنسيت د برابری په برخه کې ټاکل شوي هدفونه پوره کړي دي که څنګه؟

**ولايتي شورا به د عامه شکايتونو د اوريدلو د ميکانيزم د څارنې مسوليت ولري.** د عامو خلکو شکايتونه کيدای شي د خدمت کولو او يا د عوامو د خوښی د نورو ټولنيزو موضوعاتو په اړه وي. والي او ولايتي اړونده څانګې به ولايتي شورا ته ځواب ورکوونکي وي، چې شکايتونو ته پر وخت سره ځواب ورکول شوی دی. که چېرې ولايتي شوراګانې يوې پرېکړې ته ورسېدلې چې د اړونده وزارت ولايتي څانګې دغه کړنې د حداقل معيارونو له مخې نه ترسره کوي؛ نو په هغه وخت کې به ولايتي شورا مرکز او همدارنګه والي ته د اصلاحي اقداماتو لپاره خبر ورکوي. دغه ډول معلومات به د سيمه اييزه حکومتونو د لارښود کتاب او نورو وسايلو په وسيله د عامو خلکو په اختيار کې ورکول کيږي.

- **ولايتي شورا به په ولايتي اداره کې د خلکو د ټاکل شويو استازو په څير کړنې کوي**

ولايتي شورا به له خلکو سره منظمې عمومي غونډې دايروي؛ ترڅو هغوی ته د ولايتي ادارې د ترسره کړو کارونو په هکله معلومات ورکړي. په ځانګړي ډول سره ولايتي شورا به د والي او ولايتي اړوندو واحدونو د هغو کړنو په اړه چې د ولايتي پرمختيايي پروګرام د پلي کولو لپاره يي کړي دي، او د هغو پرمختياوو په اړه چې په ولايت کې يي د پرمختګ، امنيت، انساني حقونو، ښې حکومتوالی او د قانون د حاکميت په برخه کې يي سرته رسولي دي راپور ورکوي. کله چې د خدمتونو او کړنو حد اقل اندازه وټاکل شي؛ نو ولايتي شورا به لويه غونډه جوړوي؛ ترڅو د اړوندو واحدونو د هغو کړونو په اړه چې ددغو حداقل موخو د لاسته راوړلو لپاره يي کړي دي، خلکو ته معلومات ورکړي

د ولايتي شورا مشر به د ولايتي پرمختيايي کميټې په غونډو کې د خلکو له اړتياوو او غوښتنو څخه استازيتوب کوي.

ولايتي شورا به د مهمو پريکړو کولو په وخت کې له خلکو څخه را غونډ شوي معلومات په پام کې نيسي. ولايتي شورا به د پلان جوړولو، بودجې، اداري چلونې، پرمختګ او امنيت په برخو کې د مدني ټولنې له اتحاديو سره مشوره کوي.

- **ولايتي شورا به:**

**د ملکي لانجو په هوارولو کې، که د لانجې دواړه خواوې د شورا د منځګړيتوب کولو په باره کې موافقه ولري، مرسته کوي**

- **ولايتي شورا به له اړونده ادارو سره يو ځای او په همغږي ډول سره د هغو رسم او رواجونو چې د قانون، انساني حقونو، او اسلامي شريعت سره مخالف وي (لکه جبري ودونه او د لانجو د هوارولو لپاره د ښځو په بدو کې ورکول) په له منځه وړلو کې ترون کوي**
- **ولايتي شورا د طبيعي پيښو او افتونو په وړاندې د چمتوالي او غبرګون د چارو کتنه او څېړنه کوي** او ددغو څيړونو پايلې به خلکو ته او د طبيعي پيښو د مديريت ولايتي کميتې، د سيمه ايزو اورګانونو خپلواکې ادارې او له طبيعي پيښو سره د مبارزې ملي ادارې ته ورکول کيږي

## حساب ورکونه

- **لومړنی وسيله چې ولايتي شورا د خلکو په وړاندې مسووليت لري، هغه د خلکو لخوا ټاکنې دي**
- **د ولايتي شورا اساسي دنده حساب اخستل دي**
- **ولايتي شورا واک لري چې د والي او له اړوندو واحدونو څخه د هغوی د اجراتو او نه اجراتو په هکله پوښتنې وکړي. والي او اړونده واحدونه د خپلو تصميمونو په باره کې ولايتي شورا ته د ځواب ورکولو مسوول دي**

## سرچينې

- **حکومت د سیمه اییزو اورګانونو د خپلواکې اداري له لارې ولایتي شورا ګانو ته کافي مالي مرستي ورکوي؛ ترڅو شورا ګاني د خپلو ژمنو د ترسره کولو جوګه شي**
- **د سیمه اییزو اورګانونو خپلواکه اداره به ولایتي شورا ګاني پیاوړې کوي؛ ترڅو شورا ګاني د خپلو خلکو په وړاندې د دندو او مسؤلیتونو د اجراء کولو ځواک پیدا کړي**
- **د سیمه اییزو اورګانونو خپلواکه اداره به د ولایتي شورا ظرفیتونه لوړوي، د ولایتي شورا ګانو ترمینځ د پوهنې او تجربو راکړې ورکړې او شریکولو ته وده ورکوي**

## د ولایت سکټوري واحدونه

### دندې او مسؤولیتونه[14]

- د هر سکټوري ریاست یا واحد اساسي دنده د خدمتونو وړاندې کول دي. سکټوري واحدونه باید پوره هڅه وکړي چې دغه خدمتونه په تر ټولو ښه توګه وړاندې کړي
- هر وزارت به د دندو، واک او سرچینو د سپارلو لپاره مناسبه پالیسي جوړوي. ریاستونه او واحدونه به له سر منظم شي او واکونه، دندې او سرچینې به د ولایتي او مرکزي دفترونو ترمینځ وویشل شي، ترڅو د کارونو اغیزمنتیا زیاته شی. هر وزارت به خپلو اړوندو واحدونو ته دندې په دې خاطر سپاري چې هغوی یې په اړوندو سیمو کې په ښه توګه سرته رسولای شي. دغه شان د دندو سپارل د یوه شرط په توګه سیمه اییزو خلکو ته د دندې د موضوع نیږدې والی هم په پام کې نیول کیږي. ولایتي واحدونو او ولسوالیو ته د واک سپارل یو له هغو اړینو ګامونو څخه دي چې وزارتونه به یې د خدمتونو د وړاندې کولو د لا ښه والي لپاره پورته کوي. د خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې خلکو ته نیږدې والی د کار اغیزمنتوب او حساب ورکونه ښه کوي. وزارتونه ددې ترڅنګ چې ولایتونو او ولسوالیو ته واک او دندې ورسپاري، هغوی ته به ددغو دندو د ترسره کولو لپاره مالي سرچینې هم په واک کې ورکوي. د تدارکاتو او ترون کولو په برخو کې د ولایتي او ولسوالیو د واحدونو او والي او ولسوال د دفترونو واک به مشخص او تر ډیره حده زیات شي، چې په دې توګه به وزارتونه د ولایتونو په استازیتوب د تدارکاتو او پریکړو کولو لړ واک له ځانه سره پریږدي. مرکز به په ولایتونو باندې باور

[14] دغه دندي او مسولیتونه د هغو کړنو نه علاوه دي چې دوي یې د خدمتونو د وړاندي کولو په ترڅ کې تر سره کوي.

کوي او مرکزي وزارتونه به په خپلو اړوندو واحدونو او ریاستونو باور کوي؛ تر څو د خلکو د غوښتنو په رڼا کې سمې پریکړې وکړي. که څه هم د پالیسۍ جوړولو دنده به له مرکز سره پاتې شي، خو د وخت په تیریدلو سره به د پاکو اوبو د برابرولو، ککړو اوبو د ویستلو، روغتیا او تغذیې، پوهنې، سیمه ایيزو سړکونو، سیمه ایيز ترانسپورټ، کلیوالي او ښاري زیربنا، کرنې او اوبو رسولو، طبیعي پیښو مدیریت، ځمکو د ثبتول او قوالو، ټولنیز خوندیتوب، پیژند پاڼو یا تذکرو، خصوصي سکټور د ودې، مدني خدمتونو (لکه د کلکو چټلیو له مینځه وړلو، ټرافیکي مدیریت، کوڅې څراغونو، تفریحي اسانتیاوو، کتابتونونو او هغو ټولو خدمتونو د پلي کولو په برخه کې چې خلکو ته ډیر ارزښت لري او یا په سیمه ایيزه توګه سرته رسیږي) بیرته ولایتونو، ولسوالیو او ښاروالیو ته وسپارل شي

- **د واک د سپارلو په برخه کې به وزارتونه ددې انتظار نه باسي چې د اړوندو واحدونو وړتیا دې لوړه شي، ځکه چې وړتیا تر هغو نشي لوړیدلای چې دغو واحدونو یا ریاستونو ته دندې ونه سپارل شي او باور پرې ونشي.**
- حکومت به په کال کې یوځل د وزارتونو او والیانو یو کنفرانس را بولي؛ ترڅو په مرکز کې د وزارتونو او په ولایتونو کې د والیانو ترمینځ همغږۍ ته وده ورکړي او ولایتونو ته نور واک هم ور وسپارل شي. حکومت به د واک سپارلو د ستراتیژۍ په برخه کې وزارتونه هڅوي او د هغوی ملاتړ او لارښوونه به کوي.
- **په سیمه ایيزه کچه عمومي اداري اصلاحاتو او د تنخواګانو او رتبو اصلاحاتو بهیر به نور هم چټک شي. او د۱۳۹۲ لمریز کال ( ۲۰۱۳ م.کال) له پاي څخه مخکې به بشپړیږي.** ددغو اصلاحاتو له لارې به اداري جوړښت اصلاح، اداري او سوداګریز بهیرونه به ساده او د ملکي کارکوونکو اړینو مهارتونو او پوهې ته به وده ورکړل شي.
- ریاستونه او واحدونه به د کاري کیفیت د مدیریت سیستم او همدا شان اجرایه وي سیستم په جوړولو کې له ولایتي شورا سره مرسته کوي. د اجراتو یا خدمتونو وړاندې کولو حداقل معیارونه هم په دې کې شامل دي. دغه واحدونه نه یوازې د خپلو ټاکل شویو معیارونو په باره کې ولایتي شورا ته معلومات ورکوي؛ بلکه مکلف دي په دې باب هم راپور ورکړي چې د ټاکل شوو موخو ترلاسه کولو کې بریالي دي، پاتې راغلي او که له ټاکل شوو معیارونو څخه هم زیاتې لاسته راوړنې لري.
- **اړونده وزارتونه به د ولایتي بودجې جوړولو په نوښت کې خپله ونډه زیاته کړي. اړوند واحدونه به له ولایتي شورا، د ولایت له پرمختیایي کمیټې او والي سره د اړتیا په وخت**

**کې مرسته کوي، چې د ولایتي بودجې جوړولو نوښت ته پراختیا ورکړل شي؛ ترڅو ټول وزارتونه او ولایتونه د پالیسي د پلې کولو په موده کې تر پوښښ لاندې راولي**

- **ولایتي ریاستونه باید د جنډر یا جنسیت د برابرۍ په باره کې ستراتیژۍ جوړې او موخې وټاکي او ددغو موخو د ترلاسه کولو له بهیر څخه د څارنې په نیت به شاخصونه جوړکړي**

**حساب ورکونه**

- **ولایتي ریاستونه د اړونده وزارتونو مرکزي دفترونو ته حساب ورکوونکي دي**

- **ولایتي ریاستونه، ولایتي شورا او د ولایتي شورا له لارې د خلکو په وړاندې مسؤول دي.** دغه ریاستونه به په منظم ډول سره په میاشت کې یو ځلې د خپلو کارونو په هلکه معلومات ورکوي. ددغو ریاستونو رئیسان او یا د هغوی استازي به ولایتي شورا ته د عامو ګټو رڼاوي لپاره راغوښتل کیږي. ولایتي شورا ته د ریاستونو حساب ورکونه د خلکو په وړاندې مسؤولیت رامینځ ته کوي، حساب ورکولو دغه ډول اړیکې د خدمتونو د وړاندې کولو غوره سیستم رامنځته کوي
- **هغه رئیسان چې حداقل ټاکل شویو معیارونو په ترلاسه کولو کې پاتې راغلي، کیداي شي چې مجازات شي.** دا چې ولې یو رئیس دغو ټاکل شوو موخو په ترلاسه کولو کې پاتې راغلي د تحقیق نه وروسته به دغه رئیس یا:

۱. نوره زده کړه ترلاسه کوي

۲. امتحاني یا ازمايښتي دوره به ورته ټاکل کیږي؛ ترڅو دغه موخې ترلاسه کړي

۳. یا به لرې کیږي

والي به له اړونده وزارت او ولایتي شورا سره په سلا مشوره پریکړه کوي چې په یاد شوي رئیس باندې کوم بند پلی کړي. اړونده وزارت به ددې ارزونه کوي چې ریاست اداري اصلاحاتو یا د ظرفیتونو لوړولو ته اړتیا لري.

- **ولایتي ریاستونه به د والي په وړاندې د خپلو کړنو او نه کړنو د راپور ورکولو مسوولیت ولري**

**سرچینې:**

**ریاستونه به د ملي بودجې (د پروګرام بودجې) له لارې تمویلیږي.**

## ولايتي پرمختيايي کميټې

**دندې او مسووليتونه**

- **د ولايت پرمختيايي کميټه به د داسې يو اداري اورګان په حيث کار کوي چيرته چې د پرمختيايي همغږۍ، پلان او بودجې جوړول ترسره کيږي.** د ولايت د پرمختيايي کميټې غونډې به په منظم ډول په مياشت کې يوځل کيږي. والي به د ولايت د پرمختيايي کميټې د غونډو مشري کوي. د ولايتي شورا رئيس د ولايتي پرمختيايي کميټې له غړو څخه وي. والي به د ولايتي شورا له رييس سره په مشوره د غونډې د نيټې، وخت، ځای او اجنډا په هکله پريکړه کوي. د ولايتي شورا رئيس، والي او د ولايتي واحدونو رييسان به دغو غونډو کې د ګډون لپاره بلل کيږي. والي غونډې ته بلل کيږي؛ خو حتمي نه ده چې په هره غونډه کې به ګډون کوي. ولايتي پرمختيايي شورا به د مدني ټولنې د سازمانونو له استازو، د ولايتي بيارغونې له ډلو او مرستندويه سازمانونو په ګډون نورو هغو خلکو ته چې د مرستې توقع ترې کيږي، بلنه ورکوي. ولايتي پرمختيايي کميټې لپاره به د داسې قواعد او کړنلارې جوړيږي چې په ټول هيواد کې به د پلي کولو وړوي.
- **د ولايت پرمختيايي کميټه به په پيل کې د سکټوري رياستونو او واحدونو هغه وړانديزونه منظوروي چې د ولايتي بودجې د نوښت د يوې برخې په توګه وړاندې شوي دي**

**حساب ورکونه**

**ولايتي پرمختيايي کميټه د پرمختيايي هڅو د همغږي کوونکې اورګان دريځ لري؛ نو ځکه د حساب ورکولو نويو ليکو ته اړتيا نه لري.**

**سرچينې:**

- **ملي بودجه يي د تمويل منبع ده (د پروګرام بودجه)**
- **د ولايت د اقتصاد رياست به په دې لړ کې د ولايتي پرمختيايي کميټې سکرتريت کوي**

## ولايتي اداري مجلسونه

### دندې او مسووليتونه

د ولايت په اداري مجلس کې والي د رييس او د سکتوري واحدونو او رياستونو رييسان، د ولايت څارنوالي، د ولايت مرستيال، د ولايت د امنيې قوماندان او مستوفي ددغه مجلس غړيتوب لري. ولسوالان ددغه مجلس بلل شوي غړي دي. ولايتي اداري مجلس ۴۵کاله دمخه يعني د ۱۳۴۲کال د مرغومي په مياشت کې مينځ ته راغلی دی؛ ترڅو له والي سره د بيلابيلو واحدونو د فعاليتونو په همغږي کې مرسته وکړي. مجلس په اونۍ کې د يو ځل لپاره هغه وخت دايرېږي، کله چې لږ تر لږه نيمايي غړي يې حاضر وي. د حاضرو غړو د اکثريت پريکړه د منلو وړ ده. په تير وخت کې د ولايت اداري مجلس به هغه دندې مخته وړلې چې د ښاروالۍ او مالدارۍ د قوانينو له مخې مشورتي شوراګانو ته ورسپارل کيدلې. په ولايت کې د دولتي ځمکو خرڅول او په اجاره ورکول، دولتي تاديې يا ورکړې په قستونو اړول، د نيمګړو قراردادونو لغوه کول؛ په دې شرط چې له قوانينو سره په ټکر کې وي او يا د هغو موضوعاتو په باب بحث کول چې د ولايتي اړونده واحدونو د رييسانو لخوا څرګنديدلې. په راتلونکې کې به د ولايت اداري مجلس داسې اورګان وي چې د هغه په وسيله به والي په اړونده بيلابيلو رياستونو او ادارو کې امنيتي او اداري همغږي رامنځته کوي. پريکړې به د حاضرو کسانو د دووېر دريو برخو لخوا کيږي. په ولايت کې د مراتبو د لړۍ له مخې، د همغږۍ راوستونکو مهمو ادارو په برخه کې د ولايت اداري مجلس تر ولايتي پرمختيايي کميټې وروسته په دويم مقام کې راځي. د ولايت په کچه دا دواړه همغږي کوونکي اورګانونه دي چې ترمينځه يې د فعاليتونو د ورته والي امکان شته؛ خو بياهم ددوی دندې او مکلفيتونه له يو بل څخه په بشپړه توګه بيل دي. د ولايت اداري مجلس به اداري او امنيتي همغږي رامنځته کوي، په داسې حال کې چې ولايتي پرمختيايي کميټه به پرمختيايي همغږي رامنځته کوي. پلي کول د ولايتي اداري مجلس دنده ده، په داسې حال کې چې پلان جوړول د ولايتي پرمختيايي کميټې کار دی. ولايتي پرمختيايي کميټه به ولايتي پلانونه او ولايتي بودجه ترتيبوي او ولايتي پلانونه به له ولايتي بودجې سره نښلوي. د ولايت اداري مجلس په اونۍ کې يو ځل، خو ولايتي پرمختيايي کميټه په مياشت کې يوځل غونډه کوي. په حقيقت کې ولايتي اداري مجلس د ولايتي پرمختيايي کميټې يوه برخه ده. ولايتي پرمختيايي کميټه په پراخه پيمانه د ولايتي پلان جوړونې او د بودجې جوړولو په کار لګيا ده. بلاخره دواړه اورګانونه د ولايتي شورا له لارې د خلکو په وړاندې د حساب ورکول مسووليت لري. د ولايتي اداري مجلس په شان په ولسواليو کې به هم د ولسوالي اداري مجلس موجودي وي.

## ۲. د ولسوالۍ په کچه حکومتوالي

پرته له داسي یو قانون څخه چې د ولسوالۍ د اداري اورګانونو دندې او مسوولیتونه بیان کړي ددي ادارو دندې به ناڅرګندې پاتې وي. دغه ناڅرګندتوب په سیمه ییزه کچه د کمزورې اداري سبب کیږي چې ځانګړنې یې نه اغیزمنتیا، د مسولیت نه احساسول، په ولایتي اورګانونو کې نااغیزمنه همغږي منځته راوړي. په دغو حالاتو کې د خدمتونو وړاندې کول له ځنډ سره مخ کیږي او دولت نشي کولای چې د وګړو اړتیاوو ته ځواب ووایي؛ نو قانون باید په روښانه توګه څرګنده کړي چې د ولسوالۍ اړونده اداري او د ادارو په دننه کې فرعي څانګې کوم مسولیتونه لري.

### د ولسوالي په کچه اورګانونه عبارت دي له:

- د ولسوالۍ شورا
- د ولسوالۍ محکمې
- ولسوال
- د ولسوالۍ پرمختیایي شورا
- د ولسوالۍ اداري مجلس
- د ولسوالۍ د امنیې قومندان
- د ولسوالۍ مدیریتونه
- د ولسوالۍ څارنوالي
- خصوصي سکتور
- د غیر رسمي شوراګانو، جرګو او رسنیو په ګډون مدني ټولنه
- ټولنې

### له دغو اورګانونو څخه د ولسوالۍ په اداره کې لاندې اورګانونه شامل دي:

- ولسوال
- د ولسوالي اداري مجلس
- د ولسوالي امنیې قومندان
- د ولسواي مدیریتونه، د ولایتي ریاستونو اړونده څانګې
- د ولسوالۍ څارنوالي

- محکمه

**د ولسوالۍ د ادارو مسوولیتونه عبارت دي له:**

1. په ولسوالۍ کې د سولې، امنیت، ټیکاو او عامه نظم ساتنه
2. په ولسوالۍ کې د قانون واکمني
3. د انساني حقونو پلي کول او ساتنه، په دې هکله د خلکو پوهاوی او د ولسوالۍ د وګړو انساني حقونو ته وده ورکول
4. د ولسوالي ټولنیز، اقتصادي، روزنیز او کولتوري پرمختګ ته وده ورکول
5. خلکو ته د خدمتونو وړاندې کول، چې عبارت دي له: عدالت، امنیت، په عمومي لارو کې د خلکو او مالونو خوندي تګ راتګ، پاکې اوبه او د ککړو اوبو ویستل، روغتیا او تغذیه ښوونه او روزنه، بریښنا، سړکونه او لارې، سیمه ایيز ترانسپورت، ښاري او کلیوالي زیربناء، کرنه او اوبه خور، د طبیعي سرچینو تنظیمول، د ځمکو ثبت، د خصوصي سکټور وده، پیژند پاڼې یا تذکرې، مدني خدمتونه، لکه د فاضله موادو کنټرول، د ترافیکو اداره کول، د لارو او سړکونو روښانه کول، تفریحي اسانتیاوې، کتابتونونه او داسي نور خدمتونه چې خلکو ته ډیر ارزښت لري
6. **په ولسوالۍ کې د ښې ادارې لپاره ددغو ټکو برابرول:**
   - شفافیت
   - د خلکو په وړاندې د مسوولیت احساس او ځواب ورکول
   - د خلکو په ځانکړي ډول د ښځو او ځوانانو ګډون
   - د مدني ټولنې او خصوصي سکټور ګډون
   - ځایي دیموکراسي(ولسواکي)
   - اغیزمنتیا او کفایت
   - عدالت او برابري
   - د جندر (جنسیت) برابري
   - ارتباط او تړاو
   - په ټولو کچو کې د قانون په اساس سیسټم
7. د غربت او ناروغیو د کچې ټیټول او د ولسوالۍ د اوسیدونکو لپاره د دریمې زریزې د پرمختیایي موخو تعقیبول
8. د طبیعي پیښو مدیریت او د زیانونو د کچې را ټیټول

9. د کوکنارو د کر له منځه وړل او بدل معیشت پروګرام ته وده ورکول

۱۰. په ولسوالۍ کې د افغانستان د ملي پرمختیایي ستراتیژۍ او د ملي لومړیتوبونو د پروګرامونو په عملي کولو مرسته کول

- د چاپیریال ساتنه او له طبیعي سرچینو څخه اوږد مهالي ګټه اخستنه
- د اسلامي شعایرو ملاتړ او مرسته

## د ولسوالۍ په کچه دندې او مسؤلیتونه

| د ادارې نوم | مسؤولیتونه |
|---|---|
| **د ولسوالۍ شورا** | د ولسوالۍ د پرمختیایي پلان منظورول، څارل او ارزونه<br>د کار د کیفیت ډاډمنول او د ولسوالۍ د ادارې د کار مدیریت<br>له خلکو، مدني ټولني او رسنیو سره اړیکې<br>د عامو خلکو ترمینځ د امنیت په تأمین، عامه نظم او د قانون د حاکمیت لپاره مرسته کول<br>د قانون او شریعت د مخالفو رواجونو له مینځه وړل<br>انساني حقونو ساتنه، روجول او پراخول<br>د چاپیریال ساتنه<br>د نیشه یي موادو پر ضد مبارزه |
| **ولسوال** | ولسوال د ولسوالۍ اجرایه وې مشر دی چې دندې یې دادي:<br>امنیت، عامه نظم، ټیکاو او سوله<br>د اساسي قانون او نورو نافذه قوانینو د حاکمیت ساتل<br>انساني حقونو ساتنه، روجول او پراخول<br>څارنه، د کیفیت باوري کول او په ولسوالۍ کې د عامه خدمتونو کاري مدیریت<br>د ولسوالۍ پرمختیایي پلان جوړول<br>سیمه ابیزه اقتصادي پرمختیا<br>د خصوصي سکټور پرمختیا<br>ښه حکومت کول<br>د عامه ادارې اصلاحات او ظرفیتونو لوړول<br>د غربت کمول<br>د دریمې زریزې پرمختیایي موخو په لاس راوړل<br>قواعد او مقررې<br>همغږي او اداره<br>د مالي او اداري چارو او لګښت د واک مدیریت<br>د چاپیریال ساتنه<br>د نیشه یي موادو مخنیوی<br>د ناڅاپي پیښو مدیریت<br>د ځمکو ثبتول او استملاک |

| | |
|---|---|
| | د کليو نقشه اخستل او د حدودو معلومول<br>د اسلامي شعايرو ساتنه او ملاتړ<br>له خلکو، مدني ټولني او رسنيو سره اړيکې |
| **د ولسوالۍ د امنيې قوماندان** | **دندې او مسوولیتونه:**<br>امنيت، عامه نظم، ټيکاو، سوله، د قانون پياوړې کول<br>د جرايمو مخنيوی، انساني حقونه، د نيشه يي موادو مخنيوی |
| په ولسواليو کې سکټوري واحدونه | د خدمتونو وړاندې کول، د خدمتونو د کيفيت ښه کول او ولايت او مرکز ته د پاليسی جوړولو لپاره د معلومات برابرول |
| د ولسوالۍ محکمې | د اجرا تو، کارونو عدلي او قضايي کتنه |
| د ولسوالۍ څارنوالي | تحقيق او عدلي تعقيب |
| د بياروغوني ولايتي ډلې | د سيمه ايبزه او ولايتي ادارو او د ولسوالۍ د ادارې په وسيله بيا روغونه |
| مدني ټولنې، جرګې او شوراګانې، رسنۍ، قومي مشران، مذهبي مشران | کنټرول، پلټنه، د کيفيت تأمين، په ولسوالۍ کې د عامه خدمتونو د عرضې او اجرأتو اداره، د پرمختيايي جنسونو/ خدمتونو ګډ توليد |

## د ولسوالۍ په کچه د حساب ورکولو اړيکې

د ولسوالۍ ټولې ادارې د ولسوالۍ خلکو ته د حساب ورکولو مسؤليت لري. د ولسوالۍ اداره او د ولسوالۍ شوراګانې به په خپلو اړوندو سيمو کې اوسيدونکو وګړو په وړاندې مسئوله وي. حکومت په هره کچه بايد د خلکو خدمت وکړي. خلک تر ټولو لوړ او د حکومت د واک او زور سرچينې دي. د ولسوالۍ ټاکل شوې شوراګانې د مراتبو په لړۍ کې له خلکو سمدستي وروسته راځي، دا له دې کبله چې شوراګانې د خلکو لخوا ټاکل شوي دي او د خلکو استازيتوب کوي. د ولسوالۍ اداره به خلکو ته د ټاکل شويو شوراګانو له لارې حساب ورکوي. د ولسوالۍ په کچه محکمې به د ولسوالۍ پر شوراګانو او ادارې باندې نظر ساتي؛ ترڅو له خپل واک څخه ناوړه ګټه پورته نه کړي.

د ولسوالۍ شوراګانې خلکو ته حساب ورکوي، دا ځکه چې د خلکو لخوا ټاکل شوي دي. د ولسوالۍ شوراګانو غړي به په منظمه توګه د خپلو حوزو له خلکو سره سلا مشورې کوي.

د ولسوالۍ امنيه قومندان او د ولسوالۍ په کچه د واحدونو چارواکي به ولسوال او د ولسوالۍ شورا ته ځواب وايي.

**د ولسوالۍ په کچه د حساب ورکولو اړيکې**

**د حکومتوالۍ ادارې چې خلکو ته حساب ورکوي په لاندې ډول دي:**

- د ولسوالۍ شورا
- د ولسوالۍ اداره

**د حکومتوالۍ هغه ادارې چې والي، ولسمشر او وزارتونو ته حساب ورکوي:**

- ولسوال
- د ولسوالۍ اداره

**هغه ادارې چې د ولسوالۍ شورا ته د حساب ورکولو مسؤوليت لري:**

- ولسوال
- د ولسوالۍ امنيه قوماندان
- په ولسوالۍ کې د ولايتي رياستونو اړوند دفترونه

**هغه ادارې چې ولسوال ته حساب ورکوي:**

- د ولسوالۍ امنيه قوماندان
- په ولسوالۍ کې د ولايتي رياستونو اړوند دفترونه

**د ولسوالۍ په کچه د خلکو استازيتوب:**

- د ولسوالۍ شورا د خلکو له خوا ټاکل کيږي

**د ولسوالۍ په کچه ګمارنې (استخدام):**

له ۷مې تر ۸ مې رتبې د ملکي اړوندانو ګمارنه بايد داسې ترسره شي: نوماند به د مقرريو د کميټې لخوا معرفي کيږي چې بيا به د اهليت او پرانستې سيالۍ د کړنلارې له مخې غوره او د ولسوال لخوا به د هغه مقرري منظوريږي،

د امنيتي، اداري او اقتصادي چارو د اصلاح او په مجموع کې د افغانانو د هوساينې لپاره د ولسوالۍ په اداري چارو کې دی لاندې اصلاحات را منځته شي.

## ولسوالان

وجایب او مسؤلیتونه

د ولسوال سترمسوولیتونه دادي چې سوله، امنیت، نظم ټیکاو او د قانون حاکمیت وساتي. د وګړو د بشري حقونو ساتنه او وده، د ټولنیزې، اقتصادي، پوهنیزې او کولتوري پرمختیا وده هم د ولسوال له دندو څخه دي. ولسوال باید ډاډ ترلاسه کړي چې خلکو ته هغه خدمتونه چې ډېر ورته ارزښت لري، وړاندې کیږي. همدارنګه ولسوال باید غوره حکومتوالۍ ډاډمنه کړي او د بیوزلیو او ناروغیو په کمولو، د خلکو لپاره د زریزې د پرمختیایي موخو په لاس راوړلو، د طبیعي پیښو د مدیریت او اغیزو کمولو، د کوکنارو د مخنیوي او بدیل معیشت ته وده ورکولو کې هم هڅې وکړي. ولسوال دا دنده هم لري چې چاپیریال ساتنې ته پاملرنه وکړي او له طبیعي سرچینو څخه اوږد مهاله ګټه اخستنه رامینځ ته کړي. د اسلامي شعایرو ساتنه او ملاتړ او د افغانستان د ملي پرمختیایي ستراتیژۍ او ملي لومړیتوبونو پروګرام پلي کولو کې مرسته هم د ولسوال له دندو او مسوولیتونو څخه دي.

- **ولسوال د ولسوالۍ د اداري چارو اجرایه وي مشر دی، چې د ولسوالۍ په کچه پلان جوړونه او همغږۍ به رهبري کوي او د ادارې، پرمختیا او امنیت په برخه کې به د ولسوالۍ په کچه همغږي رامینځ ته کوي.** ددې لپاره چې له نورو واحدونو سره د همغږۍ او پلان جوړونې لپاره په ولسوالۍ کې د سکټوري واحدونو اړوند دفترونو په شمول او د ولسوالۍ له شورا سره کله چې هغوی په۱۳۸۹ل.ل کال( ۲۰۱۰ میلادي کال) کې انتخاب شي، ولسوال ته به ددې وس ورکړي او ډاډمن به یې کړي چې ولسوالۍ پلان په پوره ډول سره د خلکو او کلیو ګټې منعکسوي او همدا چې د ولسوالۍ پلان به په وخت پلی او پرمخ بیول کیږي.

له سکټوري وزارتونو سره نیږدې اړیکې او همغږۍ د پلان په هغو فعالیتونو کې ښه والی راولي چې د ولسوالۍ د ادارې لخوا ترسره شوي. ولسوال په لومړي سر کې د کلیو اساسي اړتیاوو ته د لومړیتوب حق ورکوي، چې په پای کې به دغه لومړیتوبونه د ولسوالۍ د شورا له منظورۍ څخه وروسته د ولایت پرمختیایي کمیټې ته وړاندې کیږي. ولسوال د کلیو په لومړیتوبونو او پروژو بیا کتنه کوي؛ ترڅو د لګښت په لحاظ د کفایت او اغیزمنتیا په نظر کې نیولو سره پروژه تشخیص کړي. ولسوال به د سکټوري واحدونو د فعالیتونو څارنه کوي؛ ترڅو دا باوري کړي شي چې کارونه له پلان سره سم پلي کیږي.

- **ولسوال ته به واک ورکول کیږي چې هغه پروګرامونه پلي کړي چې د سکټوري واحدونو له مکلفیت څخه د باندې وي چې په هغو کې له نیشه یي توکو سره مبارزه او د طبیعي پیېنو مدیریت هم شامل دي**

د نیشه يي توکو د مخنیوي او د ناڅاپي طبیعي پیښو د مدیریت په شان برخو کې به ولسوال د پلان جوړوني، د لګښت او بودجې په برخه کې لارښوونه کوي. د ولسوالۍ په کچه د نیشه يي توکیو د مخښوي لپاره اړونده لاندې ذکر شویو بهیرونو کې به ولسوال مرکزي رول لوبوي: ولسوال به د نشه يي موادو د مخنیوي په ټولو څلورو اساسي برخو کې برخه اخلي، په ځانګړي ډول سره له کرلو څخه مخکې عامو وګړو ته عامه معلومات ورکول، بدل معیشت، په کروندو کې د کوکنارو د کر له مینځه وړل او د قانون نافذول. سربیره پردې په ټولو ولایتونو کې به د ولسوالیو په کچه د ناڅاپي پیښو د اداره کولو کمیټې جوړیږي، چې دغه کمیټې به د ولسوالۍ په کچه د تیاریو، چمتوالي او غبرګون څارنه او مدیریت کوي.

- **ولسوالان د ملکیت او معلوماتو برابرولو لکه د زوکړو، مړینو او ودونو د ثبت په ګډون به اداري دندې ولري.** کله چې د کلي شورا وټاکل شي؛ نو دغه شورا په کلیو کې د زیږیدنو، مړینو او ودونو د معلوماتو ثبتولو دنده په غاړه اخلي. د ولسوالۍ دفتر ددغو معلوماتو د ترتیبولو مسؤلیت لري
- **ولسوالان به د ولسوالۍ د پرمختیایي شورا په غونډو کې برخه اخلي** چې دا کار به دا خبره باوري کړي چې پلان جوړونه په منظمه توګه ترسره شوې او د ولسوالۍ اداره به له نیږدې څخه د ولسوالۍ له پلانونو څخه څارنه کوي، ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې دغه پلانونه په اغیزناکه توګه په خپل وخت پلي کیږي. داسې غونډې به د ولسوالۍ په کچه د موجودو واحدونو (ادارو) ترمینځ د زیاتې همغږۍ د رامنځته کیدو سبب وګرځي.
- **ولسوال به د ولسوالۍ د پرمختیایي پلانونو د پلي کولو په څارلو کې مرسته کوي**
- **ولسوال به د ولسوالۍ له نورو ادارو سره د اړتیا په وخت کې د هغوی د پرمختیایي پلانونو د جوړولو او پلي کولو په برخه کې مرسته او همغږي رامینځ ته کوي** چې په دغو چارو کې به د ولسوالۍ شوراګانې هم له ټاکل کیدو څخه وروسته ور شاملې شي

- **ولسوال به د قانون له حکمونو سره سم کله چې وغوښتل شي په میاشت کې یو ځل د ولسوالۍ شورا (په۱۳۸۹ل.ل او ۲۰۱۰ میلادي کال کې د ولسوالۍ شوراګانو له ټاکل کیدلو وروسته) غونډو ته ورځي او د خپلو اجرااتو په باب به معلومات او ځواب**

**ورکوي**، چې دغه کار به د خلکو په وړاندې د زيات مسؤليت سبب ګرځي، له دې کبله به ولسوالۍ اداره دې ته وهڅوي چې د خلکو غوښتنو ته ځواب ووايي.

- **ولسوالان به په ولسوالۍ کې ولايتي رياستونو اړوندو مديريتونو د فعاليتونو څارنه کوي.** دغه ډول کار به ولسوالانددې وړ وګرځوي؛ ترڅو په ولسوالۍ کې د سکټوري وزارتونو د څانګو له فعاليتونو څخه څارنه هم وکړي. که چيرې څه معلومات په لاس راځي؛ نو سکټوري واحدونه به مسوول وي چې د خدمتونو د وړاندې کولو د حداقل معيارونو د پوره کولو په اړه ځواب ووايي. په هغه وخت کې چې سکټوري واحدونه د ټاکل شويو معيارونو په پوره کولو کې پاتې راځي؛ نو عام خلک کولای خپل رسمي شکايتونه ولسوال او د ولسوالۍ شورا ته په ليکلې بڼه ورکړي او کله چې دا معلوم شي چې شکايت په ځای دی؛ نو دغه شکايت بايد په ولسوالۍ کې اړونده څانګې ته ورکړل شي؛ ترڅو په خپلو کړنو کې سمون راولي، که اړونده څانګې داسې ونه کړل؛ نو هغه ادارې چې خلکو ورته شکايت کړي وو، د شکايتونو رسمي پاڼې اړوند ولايتي رياست او يا د ولسوال دفتر ته ليږي. ولسوال ددې مسوول دی چې ځان باوري کړي چې شکايت او موضوع په منطقي او قانوني توګه حل کيږي.

## د يوه ولسوال هدفونه، موخې او د کارونو پايلې

| د ولسوال موخې | د ولسوال مقصدونه | د ولسوال لاسته راوړنې |
|---|---|---|
| **۱. په ولسوالۍ کې د سولې، امنيت او عامه ثبات ساتل** | د خلکو له امنيت نظم ا و ثبات څخه ډاډ ترلاسه کول | ولسوال به پردغو مسووليتونو عمل کوي:<br>• ملي يوالۍ منځته راشي، توکميز او سيمه ايز اختلافونه له مينځه ولاړ شي<br>• د بيلابيلو قومونو خلک يو ځای سره په سوله او ارامۍ کې ژوند وکړي<br>• د ولسوالۍ او د سيمې له امنيت څخه ډادګيرنه<br>• هغه خلک چې په ولسوالۍ کې ژوند کوي، هغوی ځانونه خوندي بولي<br>• د ولسوالۍ سړکونه د خلکو د تګ راتګ او د هغو د وړلو راوړلو لپاره خوندي دي |

| | | |
|---|---|---|
| • په سړکونو باندې د هرډول غیر قانوني پوستې له شته والي څخه مخنیوي، او د دولتي پوستو لخوا هیڅ ډول شوکه نه ترسره کیږي او سړکونه له هر ډول خطرونو، داړه مارانو او د دولت له وسلوالو مخالفینو څخه پاک دي<br>• په ولسوالۍ کې ښوونځي او نورې عامه ودانۍ او دفترونه د وسلوالو مخالفینو له هر ډول بریدونو څخه په امن کې دي<br>• په ولسوالۍ کې د ملکي هوایي ډګرونو د امنیت ډاډګیرنه<br>• ملي پولیس له خپل قانون څخه سرغړونه نه کوي.<br>• د ولسوالۍ اداره د افغانستان له ملي پولیسو او ملي اردو سره د خلکو د امنیت د مسالې په هکله دوامداره همغږي لري<br>• د امنیتي ځواکونو د عمومي تیاریو په وخت کې به ولسوال د امنیتي ځواکونو د ژر تر ژره چمتوکولو لپاره چټک ګامونه پورته کوي<br>• د ولسوالۍ په کچه د دولت ټولې امنیتي ادارې به د یو واحد په توګه د امنیتي ننګونو په وړاندې غبرګون ښيي<br>• د خلکو په امنیت او ثبات کې به د ولسوالۍ شورا، خلک، مدني ټولنې او رسنۍ برخه لري<br>• ولسوال به له شریعت سره سم په ولسوالۍ کې د قطعې د قوماندانانو لخوا د پوځي قطعاتو د احترام مراتب مني | | |

| | | |
|---|---|---|
| **۲. په ولسوالۍ کې د قانون د حاکمیت ساتل** | د خلکو له امنیت نظم ا و ثبات څخه ډاډ ترلاسه کول. | ▪ اساسي قانون او د قانون حاکمیت به په کلکه پلي شي. ولسوال به په دې هکله نورو دولتي کارکونکو ته لارښونه او د هغوی له کارونو څخه به څارنه کوي<br>▪ هغه حقونه چې د هیواد اوسیدونکو ته د اساسي قانون او نورو قوانینو په رڼا کې په نظر کې نیول شوي، هغو ته ورکړل شي<br>▪ ددغو قوانینو له سرغړونکو سره باید قانوني چلند وشي<br>▪ بې ځایه نیول، توقیفول، شکنجې، چا څخه په زور څه شی اخستل او د خلکو د ملکیتونو غصبولو قضیې باید له قانون سره سم پر مخ یوړل شي<br>▪ د ولسوالۍ په کچه ټولې پریکړې به د هیواد له قوانینو سره سم تر سره کیږي او د غیر رسمي شبکو او ملحوظاتو پر بنسټ به نه ترسره کیږي.<br>▪ بې اعتباره رواجونه او بې اعتباره معاملې د ولسوالۍ په کچه په عامو پریکړو کې هیڅ ډول اغیز نلري<br>▪ خلکو ته به د هغوی د مسولیتونو او د قانون د حاکمیت په اړوند پوهاوی ورکول کیږي |
| **۳. په ولسوالۍ کې د اوسیدونکو د بشري حقونو پوهاوی، ساتنه، پرمختګ او پراخوالی** | په بشري حقونو پوهیدل، ساتنه، پرمختګ او له رواجیدلو څخه ډاډګیرنه | ▪ د بشري حقونو پر ضد د سرغړونو د مخنیوي لپاره چټک ګامونه پورته کول<br>▪ د جنسیت د مسایلو په پام کې نیولو سره له قانون سره سم د ښځو او نارینه وو له حقونو څخه ساتنه کول<br>▪ په ولسوالۍ کې باید د غیر رسمي عدلي |

| | | |
|---|---|---|
| | | او قضايي اداري هم د بشري حقونو اصولو څخه اطاعت وکړي<br>▪ د ښځو، ماشومانو او نور معذورو خلکو د بشري حقونو پيژندل او د هغو ساتنه<br>▪ په ټيټ عمر کې د ودونوکولو، کورني تاوتريخوالي، د غچ په توګه د ښځو په بدو کې ورکولو او له ښځو او ماشومانو سره له جنسي تيريو څخه مخنيوی<br>▪ د ولسوالی اداري به د بشري حقونو خپلواک کميسيون د ولسوالی له دفتر او د ولسوالۍ شورا سره د هغوی د موخو د ترلاسه کولو په اړوند هغو سره د بشري حقونو په څارنه، پلټنه، ساتنه او د بشري حقونو د پرمختګ په اړه مرسته کوي |
| **۴. د ولسوالۍ ټولنيزه، اقتصادي، تعليمي او کولتوري پرمختيا** | ددغو موخو د ترلاسه کولو لپاره بايد د ولسوالی په کچه ګډ ستراتيجيک او کلني پلانونه جوړ شي.<br><br>د ولسوالی په کچه د خلکو د اړتياوو په ګوته کول. | ▪ هر کال بايد د ولسوالی په کچه ګډ پلانونه او ګډې بودجې جوړې شي<br>▪ په ولسوالۍ کې د موجودو شوراګانو، مدني ټولنو او وزارتونو/ادارو سره په اغيزناکه توګه همغږي وشي. د ولسوالۍ پرمختيايي پلان کې د وزارتونو/ادارو د پروګرامونو او پلانونو او د خلکو له لومړيتوبونو سره يو ځای شي او د عامه پانګې اچولو پروګرامونه بايد ترسره شي<br>▪ د خلکو عامه ګټې، لومړيتوبونه او د ولسوالۍ پلانونه جوړ او د ولسوالی شورا ته وړاندې شي<br>▪ د ولسوالی پرمختيايي پلانونو په جوړولو کې د اړوندو وزارتونو د ګډون چارې همغږی شي<br>▪ هغو سرچينو ته چې ترې د سيمه اييزو |

| | | |
|---|---|---|
| | | لومړيتوبونو د تر لاسه کولو لپاره کار اخیستل کیږي، باید بودجه بیله شي<br>▪ په ولسوالۍ کې د هر ښار او کلي د سړکونو اوبو او برېښنا د سیستمونوجوړولو لپاره وړاندیزونه برابر شي<br>د کانونو له رااېستلو څخه ملاتړ وشي |
| | د ولسوالۍ پرمختیایي پلان او د ولسوالۍ بودجه له یو بل سره نښلول | ▪ د ولسوالۍ پرمختیایي پلانونو او د ولسوالۍ بودجې په مینځ کې یوه نه بیلیدونکې اړیکه شته<br>▪ هر کال باید ګډه بودجه جوړه شي |
| | د ولسوالۍ پرمختیایي پلانونو پر وخت پلي کول | ▪ د ولسوالۍ اړوندو څانګو او ادارو لخوا د منظور شویو پلانونو پر وخت پلي کولو په اړوند مرسته کول<br>▪ په ولسوالۍ کې د ښارونو او کلیو د پرمختیایي پلانونو په اغیزناکه توګه پلي کول<br>▪ د عامه کارونو او ودانیوجوړولو د چارو پر وخت ترسره کیدل او د هغو د کیفیت څخه ډاډګیرنه |
| | ولسوالۍ ته د پانګو را جلبول | ▪ خصوصي سکټور باید وهڅول شي؛ تر څو د سوداګرۍ، ودانۍ، ترانسپورت، کرنې، روغتیایي چارو، زده کړو او نورو عامه ګټو په اړوند پانګه اچونه وکړي<br>▪ د سیمې اړتیاوې باید د کوچنیو پروژو د پلي کولو لپاره وڅیړل شي او د ولسوالۍ |

| | | |
|---|---|---|
| | | اړونده ځانګې دی وهڅول شي؛ ترڅو همدارنګه پروژې د خلکو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره پلي کړي<br>▪ ښــاروالیو لخــوا بایــد د لویــو او وړو پلورنځایونو بازارونه جوړشي |
| | په ولسوالی کې د بشري سرچینو وده | ▪ په ولسوالۍ کې د ښځو، نارینو، هلکانو او نجونو لپاره باید د زده کړې پروګرامونه پلي شي او ددغو چارو د پلي کولو لپاره اړینې مرستې<br>▪ خلک، دولتي ادارې او ښاروالۍ باید وهڅول شي؛ ترڅو، ښوونځي، دیني مدرسي، علمي ادارې، کتابتونونه او نور داسي کولتوري مرکزونه جوړ کړي او همداراز پرمختیایي او د زده کړې پروګرامونه پلي کړي<br>▪ د بشري سرچینو د ظرفیت د لوړولو لپاره باید د لازمو تریننګونو له لارې اړوندې روزنې او علمي غونډې (لکه سیمینارونه او کنفرانسونه) جوړ شي؛ ترڅو بشري سرچینو سره د ظرفیت په لوړوالی کې مرسته وشي<br>• له افغاني کولتور څخه ساتنه او د هغه د لاغوړیدني او بداینې لپاره هڅې |
| | د پرمختیایي پروګرامونو، پروژو او نور کارونو د پلي کولو لپاره د خلکو هڅول | ▪ د خلکو هڅول او د هغو د خپلې خوښې کارونو همغږي کول؛ تر څو د ویالو او کانالونو په پاکولو او کیندلو او همداراز د اوبو د بندونو تینګولو او د اوبو رسولو په نورو پروژو کې د خپلې خوښې کار وکړي<br>▪ خلک باید وهڅول شي؛ تر څو د سړکونو |

| | | |
|---|---|---|
| | | او پلونو په جوړولو او د کوڅو او داسې نورو عام ګټو ودانیو په ساتلو کې برخه واخلي<br>• خلک او حکومتي ادارې باید د لرغونو دودیزو لوبو په بیا را ژوندي کولو کې برخه واخلي او ورسره مرسته وکړي، او ددې ترڅنګ د نویو او عصري لوبو لپاره د کلپونو او لوبغالو په جوړولو کې هم برخه واخلي |
| | د ودانولو چارو اسانتیاوې او د عامه دفترونو، ودانیو او نورو اسانتیاوو ساتل | ▪ د تولو سیمه ایزو شوراګانو، دولتي دفترونو او ښاروالیو د اسانتیاوو، ودانیو او نورو موجوده سامانونو څخه بیا کتنه<br>▪ تولې سیمه ایزې شوراګانې، حکومتي دفترونه او ښاروالی باید اساسي اسانتیاوې لکه مناسب ځای، تشنابونه، کمپیوټرونه، اړیکتیایي اسانتیاوې او میزونه او څوکۍ او دې ته ورته توکي ولري<br>▪ هغه لوړ پوړي چارواکي چې ټاکل شوي او یا ګمارل شوي دي، باید پوره سرچینې او وسایل په لاس کې ولري؛ ترڅو وکولای له هغو خلکو سره چې هغوی ته کار کوي اړیکې ټینګې کړي<br>▪ عامه شتمنی لکه سړکونه، او ودانۍ باید د ولسوالی څانګو او سیمه اییزو حکومتي ادارو لخوا د خلکو په مرسته وساتل شي<br>▪ د دولتي ادارو د ودانولو پروژې باید وڅارل شي<br>• د دولت خپل منځي اړیکې او دولت سره د خلکو اړیکو ته پرمختیا ورکړل شي |

| | | |
|---|---|---|
| **۵. خلکو ته د هغو کافي او با کیفیته عامه خدمتونو له رسیدلو څخه ډاډ ګیرنه، چې هغوی ورته اړتیا لري** | د کیفیت په هکله د ډاډ څارنه د ولسوالۍ خلکو ته د وړاندې شوو خدمتونو مدیریت | ▪ دولتي اداري باید خلکو ته په ولسوالۍ کې ښه خدمتونه وړاندې کړي<br>▪ خلک باید هغه خدمتونه له حکومتي ادارو څخه ترلاسه کړي، چې هغوی یې غواړي<br>▪ خلک باید پر وخت او بې له بډو خدمتونه تر لاسه کړي<br>▪ عامه لګښتونه له لاسته راوړنو سره ژورې اړیکې ولري<br>▪ د خدمتونو وړاندې کونکو ته باید پوره پیسې ورسیږي<br>▪ ولسوال باید له دغو ټولو کارونو، لکه غیر رسمي عدلي پریکړو، امنیت، په عامه سړکونو د خلکو په خوندي توګه تګ را تګ او د هغو د سوداګریزو توکیو وړلو راوړلو، پاکواوبو برابرولو او ککړو اوبو ویستلو، روغتیا او خوړو، زده کړې، بریښنا، سړکونو، سیمه ایز ترانسپورت، ښاري او کلیووالي زیربناوو، کرهنې او اوبو رسولو، د طبیعي سرچینو مدیریت، ټولنیزه ساتنې، پیژندپاڼو یا تذکرو ویش، د خصوصي سکټور پرمختیا، مدني خدمتونو لکه د چټلیو راټول، د ترافیکي وسیلو کنټرولول، د کوڅو څراغونو ، تفریحي اسانتیاوو او کتابتونونو جوړولو څخه څارنه وکړي<br>▪ ولسوال باید د ټولنې په کچه په ښارونو او کلیو کې د خلکو د ځمکو د ثبتولو د بهیر مشري پر غاړه ولري<br>▪ ولسوال باید د ولسوالۍ د خلکو په مشوره او د اړوندو دولتي ادارو په مرسته د کلیو |

| | | |
|---|---|---|
| | | سیاسي او اداري نقشه کول پرمخ بوځي<br>▪ ولسوال باید د ولسوالی په کچه ټولو بیوزلانو، ښځو او لري پرتو کلیو ته ځانګړي پاملرنه ولري<br>• لـه خلکو څخه باید د هغوي د وس سره سم فیس (چیرته چې اړتیا وي) ترلاسه شي |
| **۶. په ولسوالۍ کې د ښو اداري اسانتیاوو باوري کول** | په ولسواکه توګه ټاکل شویو ادارو او مدني ټولنو څخه ملاتړ | • د ولسوالۍ شوراګانو څخه د اړتیا وړ ملاتړ وشي؛ تر څو وکولای شي له خپلو فعالیتونو، لکه د قانون پلي کولو ، اندولیزې پرمختیا، د خدمتونو وړاندې کولو او بشري حقونو څخه څارنه وکړي<br>• د ولسوالی شورا ته باید د ولسوالۍ پرمختیایي پلان او بودجې جوړولو په کار کې د فعال ګډون اسانتیاوې برابرې شي<br>• د ولسوال دفتر او اړوندې اداري باید د ولسوالۍ شورا ته د هغوی د اړتیا وړ معلومات بی له کوم ځنډ څخه برابر کړي<br>• د ولسوال د دفتر او د ولسوالۍ شورا ترمینځ به مشورتي بهیرونه روان وي او د مسالو په اړوند د هغوی لنډې کتنې او وړاندیزونه به په پام کې نیول کیږي او پر هغوی به په چټکتیا سره عمل کیږي |
| | خلکو ته د حساب ورکولو له بهیرونو څخه ملاتړ | • د ولسوالۍ اداري او ولسوالان به د خپلو کړنو په اړوند خلکو ته د ولسوالۍ شوراګانو او مدني ټولنو د څارنو له لارې حساب ورکوي |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | له رونوالي او شفافیت څخه ملاتړ | • د معلوماتو د ترلاسه کولو د قانون ماده به په اغیزناکه توګه پلي کیږي. وګړي او مدني ټولنې کولای شي؛ ترڅو له خپل دغه قانوني حق څخه ګټه پورته کړي. وګړي کولای شي؛ ترڅو له حکومتي دفترونو څخه د قانون له حکمونو سره سم معلومات تر لاسه کړي دولتي معلوماتو ته لاسرسی د دولت د فعالیتونو شفافیت او حساب ورکولو په خاطر رامینځ ته کیږي | |
| | د خلکو په ځانګړې توګه د ښځو او ځوانانو له ګډون څخه ملاتړ | • ښځې او ځوانان به د ولسوالیو په کچه د پریکړې په کولو کې فعاله برخه ولري | |
| | د مدني ټولنې د سازمانونو له ګډون څخه ملاتړ | ▪ مدني ټولنې کولای شي؛ ترڅو د حکومتوالۍ په چارو کې ګډون وکړي<br>▪ حکومت او سیمه ایزې حکومتي اداري باید له خلکو سره اړوند معلومات (حکومت او سیمه ایزې حکومتي اداري باید د بودجې او عامه خدمتونو په اړوند معلومات له خلکو سره شریک کړي)، سلا مشورې (حکومت او سیمه ایزې حکومتي اداري باید د مهمو پریکړو له کولو څخه مخکې د شوراګانو، جرګو، ټولنیز شوراګانو او غیر حکومتي ادارو سره د خلکو د لومړیتوبونو په هکله د معلوماتو د راټولولو لپاره سلا مشورې وکړي) له خلکو سره ګډې پریکړې وکړي ( خلک نه یوازې دا چې د خپلو لومړیتوبونو په اړوند معلومات ورکړي؛ بلکه په پریکړو کې باید فعاله ونډه واخلي، پیل او کنټرول (خلک باید د | |

| | | |
|---|---|---|
| پروژو د پلي کولو یا پالیسۍ لکه د ملي پیوستون پروګرام یا د کلي پرمختیایي شوراګانو او داسې نورو ټولنیزو پرمختیایي پروژو، په څیر د بودجې په پرمختیا او ترلاسه کولو په چارو کنټرول ولري.)<br>▪ مدني ټولنې کولای شي؛ ترڅو حکومت او سیمه ایزو حکومتي ادارو له کړنو څخه څارنه وکړي<br>▪ مطبوعات/رسنۍ کولای شي په فعاله توګه د عامه خدمتونو په اړه راپور خپور کړي<br>▪ د بودجې په اړوند معلومات باید د خلکو د پوهیدلو او لاسرسي وړوي<br>▪ ولسوال به د خلکو د شکایتونو لپاره د کار کولو میکانیزم جوړوي<br>▪ خلکو ته د حساب ورکولو ګامونه، لکه د عامه لګښتونو تعقیب، ټولنیزه پلټنه او د وګړو لخوا پلټنه، د ټولنیزې ارزونې کارتونه باید پیاوړې شي<br>▪ ولسوال باید د پلان او بودجې جوړولو لپاره له خلکو سره ګډ کار وکړي<br>▪ طبیعي سرچینې باید له ځایي خلکو سره د یوه سترمشورتي بهیر پر بنسټ (چې په هغه کې ګوښه شوې ډلې ونډه ولري) برابرې شي<br>▪ د طبیعي سرچینو برابرول د سیمې ارزښتونو ته انعکاس ورکوي<br>• له مسلکي اتحادیو سره باید د هغوی د علاقې وړ مسالو په اړه سلا مشوره وشي | | |

| | | |
|---|---|---|
| | د خصوصي سکټور د برخې اخستنې ملاتړ | • سوداګریزو کارونو ته د خصوصي سکټور له لارې په هغو سیمو کې وده ورکړل شي چې تر ټولو اوچت لومړیتوبونه لري<br>• د خلکو د کاروبار د مهارتونو لوړوالی<br>• د خلکو کاروبار ته لا زیاتې مالي سرچینې برابرول<br>• د خلکو د کاروبار په اړوند د قانوني او اداري ستونزو لیرې کول<br>• خلکو ته په کاروبار کې د لا ښو امکاناتو او اسانتیاوو برابرول<br>• د سوداګرۍ او کاروبار په وړاندې د هغو خنډونو او موانعو لیرې کول چې د هغوی د ودې مخنیوی کوي |
| | له اغیزمنوالي او ورتیا څخه ملاتړ | ▪ د حکومت د ولسوالی اداري باید خپل اړوند پرمختیایي کارونه پر وخت پای ته ورسوی؛ تر څو وکولای شي د ټولنې اړتیاوې پوره کړي چې ددې په ترڅ کې به له سرچینو څخه په غوره توګه ګټه اخلي<br>• ټولې پریکړې باید خلکو ته د ډیرو نیږدې ادارو له لارې ترسره شي |
| | له برابرۍ او د ټولو خلکو له ګډون څخه ملاتړ | ▪ ټولې ډلې په ځانګړې توګه تر ټولو زیات تر ګواښ لاندې خلکو ته باید موقع ورکړل شي ترڅو د ښیګڼې او هوساینې څخه برخمن شي<br>▪ روغتیا او زده کړې باید ټولو خلکو ته برابرې شي، په ځانګړې توګه هغو کسانو ته چې تر اوسه ترې برخمن نه وو |

| | | |
|---|---|---|
| | | ▪ ځانګړې پاملرنه باید په هغو ښځو او ماشومانو وشي چې لا تر اوسه بې برخې پاتې شوي<br>• د کلي او ښاروالۍ په کچه حکومتي اداري به په منظمه توګه د معیوبو کسانو د شهیدانو د ورثې، یتمیانو، او ترګواښ لاندې ماشومانو، زړو کسانو د شمیرې او پیژندګلوۍ په اړه معلومات او همدا راز د بې کارو کسانو د شمیر او د هغوی د مهارتونو د څرنګوالي په اړه معلومات راټول کړي |
| | د جنسیت له برابرۍ څخه ملاتړ | ▪ دواړه جنسونه (نارینه او ښځینه) باید په مباحثو، نوښتونو او هغو هوکړو کې فعاله برخه واخلي چې د هیواد د برخلیک په ټاکلو کې ډیر اهمیت لري<br>▪ باید د نرو او ښځو ترمینځ د تاریخي واټن او توپیر د له مینځه وړلو لپاره پرله پسې هڅې او کوښښونه وشي<br>▪ د داسې چاپیریال جوړول چې په هغه کې دغه دواړه خواوې یعني نارینه او ښځینه وکولای شي خپلې ستراتیجیکي اړتیاوې تر لاسه کړی<br>• نران او ښځې دواړه باید د ولسوالۍ په کچه د بشري سرچینو ارزښتناکه برخې وي |
| | له یووالي او کاري تړاو او تسلسل څخه ملاتړ | ▪ ولسوال به د ولسوالۍ ادارو د بیلابیلو سیستمونو تر مینځ د اړیکو ډاډمن کولو لپاره پیاوړې مشري او اړیکې برابرې کړي.<br>• دغه اړیکې به خلکو ته د حکومت په |

| | | |
|---|---|---|
| | | اعتبار کې زیاتوالی راولي |
| | د قانون پر بنسټ سیستم په ټولو کچو کې | • په ولسوالیو کې دننه ښاروالۍ او کلي د قانوني بنسټونو په توګه کار کوي؛ خو نه د ملحوظاتو پر بنسټ د ولاړ سیستم د ادارو په توګه |
| **۷. د طبیعي پیښو اداره کول او د هغو د ورانونکو اغیزو کمول** | د طبیعي پیښو مدیریت یا اداره او د بیړنیو حالاتو مرستې | ▪ دغه کمیټه به د اړوندو سکټوري څانګو او د مدني ټولنې د سازمانونو په مرسته د ولسوالۍ په کچه د طبیعي پیښو مدیریت لپاره کاري پلان جوړوي<br>▪ دغه کمیټه به د طبیعي پیښو په وړاندې د چمتوالي او غبرګون چارې همغږۍ کوي<br>▪ د ولسوالۍ اړوندې څانګې به د پیښو په وړاندې د غبرګون اساسي ګامونه او چارې پلي کوي<br>▪ د ولسوالۍ په دغه کمیټه کې د ولسوالیو او ښاروالیو په کچه د کنټرول څانګه، د همغږۍ کمیټې او پلي کوونکې څانګې موجود وي<br>▪ دغه کمیټه به د ولسوالۍ اړوندو سکټوري څانګو دندې او کارونه ټاکي او د هغو د غبرګون چارې به همغږۍ کوي<br>▪ همدا راز دغه کمیټه به ډاډ ترلاسه کوي چې اړوندو وزارتونو څانګې د پیښو د اغیزو د کمښت ستراتیژۍ پلي کوي<br>▪ د طبیعي او د خلکو لخوا د رامنځته شویو ناورینونو د څارنې لپاره یو سیستم باید جوړ شي<br>▪ خلک باید وهڅول شي؛ تر څو د ناورین په مخنیوي، له هغه څخه د راوړلو شویو زیانونو د کمښت او له ناورین څخه |

| | | |
|---|---|---|
| | | وروسته د مرستو او د بیا ودانولو په چارو کې ګډون وکړي<br>خلک باید د ناورین د بیرنیو حالاتو لپاره د غبرګون او اړینو احتیاطي توکو مرکزونه جوړ کړي |
| | عامه روغتیايي چارو ته له غبرګون څخه ډاډ ګیرنه | ▪ ولسوال به طبیعي پېښو مدیریت د کمېټې مشري کوي<br>▪ ولسوالۍ باید چمتو وي؛ ترڅو عامه روغتیایي چارو ته غبرګون وښي او د ساري ناروغیو له خپریدو څخه مخنیوی وکړي<br>▪ له مودې لویدلو او نقلي دواګانو له پلورلو څخه د مخنیوی لپاره باید اغیزناکه ګامونه پورته شي<br>● تیر ایستونکي او نقلي ډاکتران باید د دولت لخوا په قانوني توګه وپوښتل شي |

| | | |
|---|---|---|
| **٨. د کوکنارو د کښت له مینځه وړل او د بدیل معیشت پیاوړي کول:** | د کوکنارو کښت له مینځه وړل او د بدیل معیشت پیاوړي کول: | ● د اړوندو حکومتي ادارو په مرسته د افیمو او نورو نیشه یي توکو د کښت له مینځه وړل<br>● د ولسوالۍ مقام د کوکنارو د کښت د له مینځه وړلو ځایونه په ګوته کوي، ځکه چې ولسوال شاید د سیمې د حالاتو په اړه کره معلومات ولري<br>● ولسوال د کوکنارو د کښت د اړولو د وروستي پلان منظوري ورکوي<br>● ولسوال د نشه یي توکو د غوښتنې کمولو د څارنې کمېټې مشري پرغاړه لري. په نوموړې کمېټه کې د روغتیا، پوهنې، او نورې اړوندې |

| | | |
|---|---|---|
| اداري شاملې دي. نومورې کمېټه د نشه يي توکو د غوښتنې د کمولو پروګرام فعاليتونو ( لکه د کلينيکونو جوړول، د نيشه يانو د درملنې پروګرامونه) او داسې نور، د پروګرامونو د اغېزمنتيا ( لکه پايله او د پيسو ارزښت) په اړه راپور ورکوي. کمېټه د ټولو کړنو په اړه قضاوت کوي<br>• ولسوال پروګرام برابروي چې د کوکنارو د کښت د له مينځه وړلو په وخت کې له بيوزلو کروندګرو سره لنډ مهاله مرستې وشي، لکه د بېلګې په توګه د اړينو توکو ويشل، د لومړنيو تخنيکي مرستو تيارول، او بازار ته د مالونو په لېږدولو کې مرسته، دغه مرستې د نشه يي توکو پرضد د مبارزې کمپاين د ټولو پړاونو، لکه د کوکنارو له کښت نه مخکې د عامه پوهاوي کمپاين، بديل معيشيت، د کوکنارو د کښت له مينځه وړل او د قانون پلي کولو يوه برخه ده<br>• د ولسوالۍ مقام په برياليتوب سره د وزارتونو د بديل معيشت د پروژو پلي کولو په موخه د اړونده ولسوالۍ د پلانونو د پلي کولو مشري پر غاړه لري، لکه د کرنې په برخه کې ټريننګ او نور پرمختګونه چې د کرنې ، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت په وسيله ترسره کېږي، د فوايد عامې وزارت په وسيله د سړکونو د کارونو په سمه توګه سرته رسول<br>• ولسوال او د ولسوالۍ شورا د بديل معيشت د خدمتونو وړاندې کولو او همغږي کولو دنده پرغاړه لري<br>• نړيوال سازمانونه د اړونده ولسوالۍ د پلان او تطبيقي سيستم سره سم کار کوي: د پرمختيايي | | |

| | | |
|---|---|---|
| | | بودجې د لګښت له مخې د کاري ظرفیت لوړول ، تخنیکي همکارۍ او مالي سرچینې برابروي<br>• ولسوال د ولسوالۍ په کچه د نشه يي توکو پرضد د مبارزې قانون د پلي کولو د څارنې کمېټې مشري کوي<br>• ددې کمېټې غړي به د لويې څارنوالۍ ، د نشه يي توکو پرضد د مبارزې پولیس، د کورنیو چارو وزارت او داسې نور ادارو استازي وي. کمېټه د نشه يي توکو د کاروانونو او لابراتوارونو باندې د يرغل وروړلو او د هغوی د نیولو په اړه راپورونه ورکوي، همدارنګه د نیشه يي توکو په تولید او صنعت کې د ککړو کسان نیسي او محکمې ته يې سپاري. کمېټه د اړونده ټولو فعالیتونو د سرته رسولو اوپرمختګ په اړه قضاوت کوي او حکم صادروي |
| **۹. د غربت راکمول او د زریزې پرمختیایي موخې لاسته راوړل** | په ولسوالۍ کې د خلکو لپاره د غربت راکمول او د زريزې پرمختیایي موخې لاسته راوړل | • ولسوال يوازې دا نه چې ښې حکومتوالۍ منظمولو ته ژمن دی، بلکې همدارنګه بیوزلو خلکو ته د حساب ورکونې مسوول هم دی<br>• ولسوال خپلې سرچینې هغو ټولنېزو خدمتونو ته ګماري، چې په اساسي توګه د غربت په راکمولو او له مینځه وړلو کې رول ولري لکه ( د بېلګې په توګه: پوهنه، روغتیا، د اوبو رسونې سیستم) او هغه ډلې خلکو ته چې ډېر اړ او مجبور وي (د بېلګې په توګه: ښځې، ماشومان، فزیکي معیوب وګړي، په کلیوالو سیمو کې د ځمکو کروندګر او بې ځمکې کرګر، په ښارونو کې د جونګړو بیوزلي اوسیدونکي) او هغه کلیوالي سیمې چې له پامه غورځول شوي دي<br>• ولسوال د عامه بودجې په استعمال کې د حساب ورکونې عملیه د بیوزلو خلکو په خوښه ډاډمنوي |

| | | |
|---|---|---|
| • د ولسوالی اداره له حکومت سره د بیوزلو خلکو لپاره د ښو خدمتونو په سرته رسولو کې مرسته کوي<br>• ولسوال د بیوزلو په پلوي او ګټه پرېکړې کوي.<br>• ولسوال له بیوزلو سره مرسته کوي چې خپل ځانونه برابر کړي<br>• ولسوال د بډې اخستلو مخه نیسي<br>• ولسوال د بیوزلو د ملاتړ په خاطر د قانون حاکمیت پیاوړې کوي،<br>• ولسوال له بیوزلو سره د ناحکومتي ټولنو د مرستې کولو په بهیر کې برخه اخیستنه پیاوړې کوي<br>• ولسوال د جنسیت په برخه کې د غربت پر اهمیت او اندازې باندې ځان پوهوي او اجراات کوي؛ ترڅو په مساوي توګه نارینه او ښځینه ورڅخه ګټه پورته کړي | | |
| ولسوال به دا باور ترلاسه کوي چې:<br>• په ولسوالۍ کې په اغیزمنه توګه او پر وخت د افغانستان د ملي پرمختیایي ستراتیژي پلي شوې ده<br>• د ملي لومړیتوبونو پروګرامونه په اغېزمنه توګه پلي شوي دي<br>• ولسوال په پوره توګه د احصایې، ټاکنو او ملکي خلکو د نوم لیکنې له بهیر څخه ملاتړ کوي<br>• سرحدي چارې له قانون سره سم پلي شوي دي<br>د کډوالو چارې اسانه شوي یعني افغان وګړو ته له هیواد څخه د باندې سفر کولو لپاره د سفر اړین اسناد ورکړل شوي او له قانون سره سم لارې چارې ورته اسانه کړل شوې دي | په ولسوالۍ کې د افغانستان د ملي پرمختیایي ستراتیژۍ اوملي لومړیتوبونو پروګرام او د مرکزي حکومت د فعالیتونو په اغېزمه توګه پلي کول | **۱۰. د افغانستان د ملي پرمختیایي ستراتیژۍ او ملي لومړیتوبونو پروګرام په پلي کولو کې مرسته کول** |
| | | |

| | | |
|---|---|---|
| **۱۱. په ولسوالۍ کې همغږی شوی حکومت او سیمه ییزه حکومتوالي خپل کارونه په همغږۍ پرمخ بیایي** | په ولسوالۍ کې د مرکزي او سیمه ییز حکومت همغږه شوې هڅې | 1. په ټولو وختونو کې د وزارتونو او دولتي ادارو او ښاروالی اړونده څانګو ته د خپلو کارونو په سرته رسولو کې لارښود برابر شوی دی<br>2. د مرکزي او سیمه ییزې حکومتوالۍ د ادارو ترمینځ د فعالي او همغږې اړیکي رامنځته او برقرارې شوې دي<br>3. ولسوالۍ ته د مرکزي حکومت د کارکوونکیو رسمي سفر همغږه او د کارونو د اسانتیا په موخه یې کار شوی دی<br>4. د عامه خلکو په خوښه، د دولتي ځمکو د پلورلو او یا پېرودلو او د دولتي او عامه مقصدونو په موخه د ځمکو د لاسته راوړلو اندازه اخیستل شوې ده<br>5. د ځکمو هغو څښتنو ته چې د عامه موخو په خاطر یې د حکومت لخوا ځمکه په حتمي توګه استملاک شوې، مناسب تاوان ورکړل شي<br>6. په ولسوالۍ کې هیڅ عامه یا شخصي ځمکي په زور او غیر قانوني توګه له چا څخه وانخستل شي<br>7. دولتي ادارې او ټولني د طبیعي سرچینو په تثبیتولو، منظمولو او چاپېریال او ځنګلونو په خوندي کولو کې دخیل شوي دي<br>8. د اړونده څانګو وړاندیزونه مرکزي وزارتونو او ادارو ته په مرکز کې د عامه خلکو په خوښه او اراده سپارل شوي دي<br>9. د سرې میاشتي له ادارې سره کلکه همغږي رامنځته شوې، چې خپل عاید |

| | | |
|---|---|---|
| | | زيات کړي، خپلې مالي مرستې پياوړې کړي او پخپلو عملياتو کې د خپلې خوښې ګډون بهير په خوځښت راولي |
| **۱۲. د عامه ګټو منظموال** | د عامه ګټو منظمول | ولسوال ددې ډاډ ترلاسه کوي چې:<br>● د اساسي توکو او خوراکي موادو نرخونه په دوامداره توګه د ښاروالۍ لخوا څارل کيږي ترڅو د اړينو توکو او خوراکي موادو په ناقانونه توګه له زيرمه کولو او احتکار څخه مخه ونيسي؛<br>● د حبوباتو او نورو اړينو توکو د اخيستلو ، ليږدولو او په خلکو باندې د ويشلو پلان د حکومت د موجوده پاليسۍ له مخې ترسره شوی دی<br>● د دولتي ملکيتونو ساتنه<br>● د طبيعي سرچينو مديريت لکه: ځکمي، ځنګلونه، د اوبو سرچيني او نورې طبيعي سرچيني، په داسې توګه برابرول چې د اغېزناکه کارونې ډاډ يې ورکړل شي<br>● غېر قانوني کيندني او د منرالونو او د ځنګلونو د لرګيو ناقانونه سوداګري منع شوې ده<br>● د کوچيانو او رمو درلودونکيو لپاره د څر ځايونو د مناسبې او ښې کارونې په موخه مرستې برابرې شوې دي<br>● څرځايونه د کرنې او مالدارۍ څانګې لخوا د ځايي خلکو د اړتياوو او د شرعي قانون له مخې په ګوته شوي دي<br>● د ميټريك اندازې سيستم له تطبيقولو څخه ملاتړ شوی دی<br>● په ولسواليو کې د احصايوي معلوماتو د راټولو |

| | | |
|---|---|---|
| | | او زېرمه کولو لپاره اسانتیاوې برابرې شوي او اوسیدونکي دې ته هڅول شوي، چې ټاکل شوو ډلو ته کره احصایه وي معلومات ورکړي<br>● د سیمه ییز حکومتي واحدونو د رامنځته کولو او له منځه وړلو په اړه وړاندیزونه جوړ شوي او د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکي اداري او والي له لارې د وزیرانو شورا ته وړاندې شوي دي |
| | د سیمه ییزو فعالیتونو د قوانینو د برابرولو او منظورولو تمرین | ● ټول سیمه ییز حکمونه او فرمانونه، چې باید په ولسوالیو کې پلي شي، د اړینو او شاید د ملي قوانینو د اجازې په وسیله، صادر شوي دي |
| **۱۳. په ولسوالیو کې د مالي مدیریت او عامه تدارکاتو د چارو پیاوړي کول** | د بودجې ټاکنې او پیسو د ورکړې او مالي ځواب ورکونې کړنلارې | ولسوال به ډاډ ترلاسه کوي چې:<br>● یو داسې سیستم رامنځته شوی، چې له مخې به یې د بودجې د لګښتونو، نغدي تادیاتو، د بودجې په وړاندیزونو کې بدلونونه، د بېلابېلو قراردادونو پایلې، چې پکې د اړونده قوانینو له مخې د ولسوال او ولسوال د دفترونو په وسیله اجاره شوي ملکییتونه شامل وي، کنترول<br>● د داوطلبۍ او تدارکاتو کمېټه د اړونده قوانینو له مخې رامنځته شوې چې د ولسوال د دفتر لپاره داجناسو او خدمتونو له مناسب نرخ سره برابریدل ډاډمنوي<br>● د ولسوال او د ولسوالۍ د دفتر لپاره تدارکات په خپل وخت سره او د اړوندو قوانینو د اصولو له مخې ترسره شوي دي<br>● د ولسوال او ولسوالۍ د دفترونو، ادارو او څانګو د بودجې د لګښتونو څارنه او د حسابي چارو تصفیه کول د اړونده قوانینو له مخې ډاډمن شوي |

| | | |
|---|---|---|
| | | دي |
| | د دولت او ښاروليو لپاره د عوايدو لاسته راوړل | ● د دولت قانوني عوايد او د ښاروالۍ ټکسونه او لګښتونه پر وخت او ټاکلې اندازې سره راټول شوي دي<br>● د مدني ټولنې هغو سازمانونو سره بايد مرسته وشي، چې په وګړو کې د ټکس د مسووليتونو په هکله عامه پوهاوی رامينځ ته کوي |
| **۱۴. د بنسټيز پرمختک او اغېزمن مديريت داړ ورکول** | د نويو اداري جوړښتونو پلي کول | ● په پوره اندازه وړ کارکوونکي به د ولسوالۍ ادارو کې له اووم څخه تر اتم بست لپاره استخدام شوي دي.<br>● د نويو ولسوالانو د دفترونو جوړښتونه لکه څرنګه چې پريکړه شوی، چې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کميسيون په وسيله به په پوره توګه فعال شي؛ ترڅو هغوی خپل اداري کارونه د خپلو کاري لايحو له مخې پرمخ بوځي<br>● د ولسوال او ولسوالۍ د دفترونو لپاره اړين تجهيزات او ودانۍ شته؛ ترڅو د ولسوال د دفتر د ټولو فعاليتونو پلي کولو ته اسانتيا برابره شي<br>● د عامه ادارې او د امتيازاتو او تنخواګانو د ورکړې ريفورمونه په ټولو دولتي ادارو کې د ولسوالۍ کچه په ښاروالیو کې، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کميسيون له لارښوونو سره سم پرمخ وړل کيږي |

| | | |
|---|---|---|
| | په وړ او مناسبه توګه د ملکي خدمتونو پرمخ بیول<br><br>د کره عملیاتي او اداري سیستمونو معرفي کول | ډاډ ترلاسه کول چې:<br>• ټولو کارکوونکیو ته اړینې زده کړې ورکول کیږي، چې دوی به د خپلو ورځنیو دندو په سمه توګه سرته رسولو کې وړ وګرځوي، چې په هغې کې ځانګړې روزنه هم شامله ده<br>• ټولو کارکوونکیو ته د کمپیوټر ابتدایي روزنه ورکول کیږي، چې ځینو ته به یې د کمپیوټر ځانګړې زده کړې هم ورکړل شي<br>• اړونده کارکوونکي پخپلو ورځنیو دندو کې زده کړه ترلاسه کوي<br>• د ګمارلو ځانګړی سیستم رامنځته شوی دی، چې پکې کاري ارزونه هم شامله ده<br>• اغېزمنې ادارې او عملیاتي کړنلارې معرفي شوي او پلي شوي دي<br>• ساده شوي قوانین او سوداګریز بهیرونه معرفي شوي او پلي شوي دي.<br>• کارکوونکي په نویو قوانینو او کړنلارو کې روزل شوي دي. |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۵. **په ولسوالۍ کې د ديني شعايرو او مناسکو ملاتړ** | د اسلامي شعايرو او مناسکو د ترسره کولو ملاتړ | • ديني، تاريخي او ملي مراسم لمانځل شوي دي<br>• له ديني عالمانو او مشرانو سره د دوی د کارونو پرمخ بيولو په برخه کې مرسته کېږي او همدارنګه ورسره د جوماتونو او نورو عبادت ځايونو په بيارغاولو او جوړولو او څارلو کې مرسته کېږي |
| | د حج او عمرې اسانتيا رامنځته کول | • مکې معظمې ته د حج او عمرې او همدارنګه د عبادت نورو سپيڅلوځايونو ته د تګ په موخه د پاسپورت او ويزې په ترلاسه کولو او نورو اړونده کارونو کې اسانتياوې رامنځته شوي دي |

**حساب ورکونه (مسوولیت)**

• **ولسوال، د والي، سيمه ايزو اورګانونو خپلواکي ادارې او ولسمشر په وړاندې مسؤول دی.** ولسوال به په ولسوالۍ کې د روانو کارونو په ځانګړي ډول د هغو کارونو په باره کې چې د ولسوالۍ د پرمختيايي پلان د برخې په توګه ترسره کيږي، امنيت پورې اړوند چارو، حکومتوالۍ او اقتصادي پرمختيا په باره کې د سيمه ايزو اورګانونو خپلواکې ادارې او والي ته راپور ورکوي. ولسوالان د جلالمتاب ولسمشر په وړاندې؛ چې دوی يې ګمارلي دي، مسوول دي

• **ولسوالان د ولسوالۍ شورا ګانو او د همدې شورا ګانو له لارې د ولسوالۍ د خلکو په وړاندې مسوول دي**

• **ولسوالان قانوناً مکلف دي چې په مياشتني ډول هره مياشت د ولسواليو شورا ګانو غونډو ته حاضر شي،** د ولسوالۍ د شورا په وړانديز جوړې شوې غونډې ته به ولسوال د تفصيلي حساب او ځواب ورکولو لپاره حاضريږي. هغه د ولسوالۍ د پرمختيايي پلان په پلي کولو کې د پرمختياوو، امنيت، ښې حکومتوالۍ، انساني حقونو او د قانون د حاکميت په هکله

راپور ورکوي. د ولسوال دفتر به د خپلو اجرااتو په اړه یو لنډیز برابروي، د ولسوالۍ شورا به خلکو ته د ولسوالۍ د پرمختیایي پلان د پلي کولو لپاره د ترسره شوو اقداماتو د رسمي اعلان او د ولسوالۍ د لاسته راوړونو، د امنیت، ښې اداري، انساني حقونو، د قانون د حاکمیت او نور مهم فعالیتونه چې د میاشتې په اوږدو کې ترسره شوي دي، له خلکو سره به میاشتنې غونډې کوي

- د خدمتونو په وړاندې کولو کې د اصلاحاتو د برابرولو، او د مسوولیت په اساس د اړیکو د سمون لپاره، د ولسوالۍ شورا د څارنې او نظارت اساسي دندې لري. څرنګه چې اړونده سکتوري وزارتونه د خدمتونو د وړاندې کولو مسئولیتونه، د خدمتونو د عرضې سیمه ایزو اورګانونو ته سپاري؛ نو د ولسوالۍ شورا به د څارنې او نظارت په وسیله ددې لپاره لاره برابروي چې سیمه ایز اورګانونه با کیفیته خدمتونه په پوره او اغیزمنه توګه وړاندې کړي. د ولسوالۍ شورا د اړونده ادارو د اجراتو د څارلو کنترول او خلکو ته د هغو په باره کې د معلوماتو لپاره هغه وسایل به وکاروي چې کولای شي په ولسوالي کې له اړونده څانګو څخه یې وغواړي. د ولایتي شورا په څیر دوی د اجراتو د ارزونې د سیستم څارنه کوي. د ولسوالي شورا کولای شي د ځایي حکومتوالی په اړه لارښود کتاب او د اوسیدونکو لخوا د ارزونې کارتونه وکاروي.
- **د ولسوالۍ شورا ددې واک لري چې د ولسوال او د ولسوالۍ د سکتوري څانګو د اجراتو او نه اجراتو په باره کې پوښتنې وکړي. ولسوال او د ولسوالۍ اړوند مدیریتونه د خپلو پریکړو په باره کې د ځواب ورکولو دنده لري.** ولسوالۍ شورا به د ولسوالۍ د پرمختیایي شورا د ناسمو کړنو په هکله له ولسوال څخه پوښتنه کوي، همدارنګه به ولسوال له قانون سره سم د خپلو کړنو په هکله هم د ولسوالۍ شورا ته ځواب وایي. که چیرې د ولسوالۍ شورا په دې باور ولري چې د ولسوال کړنې ناسمې، او له اخلاقي اوصولو سره په ټکر کې دي، نو د ولسوالۍ شورا به د ولایتي شورا له لارې د سیمه ایزو اورګانونو خپلواکې ادارې او د ولسمشر دفتر ته خبر ورکوي. د ولسوالۍ شورا به تر داسې راپور ورکولو دمخه د ولسوال دلیلونو ته هم غوږ ږدي.

**سرچینې**

- **د ولسوال د دفتر عملیاتي لګښتونه به د سیمه ایزو اورګانونو خپلواکې ادارې لخوا ورکول کیږي**

- **هغه کارونه چې د سکټوري ځانګو په ژمنو کې شامل نه وي، د هغو د ترسره کولو لپاره او همدارنګه د نیشه یي توکو د مخنیوي او ناڅاپي پیښنو د مدیریت لپاره مالي سرچینې او بودجه د سیمه ایيزو اورګانونو خپلواکي اداري لخوا برابريږي**

## د ولسوالي شوراګانې

د هیواد په ۳۶۴ ولسواليو کې به د ولسوالۍ شورا ګانې موجودې وي، ددې ترڅنګ ۲۹ ولسوالۍ د ولایتي مرکزونو په توګه د ولسوالي شورا ګاني لري. هرات، جلال اباد، کابل، مزار شریف او میمنه داسې ولایتي مرکزونه دي چې په خپل قلمرو کې هیڅ کلي نه لري؛ نو ځکه دغه ولایتي مرکزونه د ولسوالۍ شورا ګانې نه لري، د نورو ۲۹ ولایتونو مرکزونه په خپل تشکیل کې کلي لري؛ نو ځکه هغوی د ولسوالۍ شورا ګانو په ډله کې هم راځي، چې په لاندې جدول کې د ټولو تفصیل ذکر شوی دی:

| ګڼه | ولایت | د ولایت مرکز | د ولسواليو شمیر | د ولایتي مرکزونو ولسوالۍ | د ۱/۷/۲۰۰۴ د احصایي د مرکزې اداري د اټکل له مخې د ولایتي مرکز د ولسوالۍ نفوس | د ولایتي مرکز د کليو شمير |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | بدخشان | د بدخشان ښار | ۲۷ | د بدخشان ولایتي مرکز | ۶۱۰۵۷ | ۱۰۴ |
| ۲ | بادغیس | د قلعه نوښار | ۶ | د بادغیس ولایتي مرکز | ۶۹۳۴۹ | ۸۵ |
| ۳ | بغلان | د پلخمري ښار | ۱۴ | د بغلان ولایتي مرکز | ۱۹۱۶۴۰ | ۱۵۸ |
| ۴ | بلخ | مزار شریف | ۱۴ | د بلخ ولایتي مرکز | ۳۷۵۱۸۱ | ... |
| ۵ | بامیان | د بامیانو ښار | ۶ | د بامیان ولایتي مرکز | ۷۰۰۲۸ | ۱۵۹ |
| ۶ | دایکنډي | د نیلي ښار | ۸ | د دایکنډي ولایتي مرکز | ۳۰۰۵۸ | ۱۰۵ |
| ۷ | فراه | د فراه ښار | ۱۰ | د فراه ولایتي مرکز | ۱۰۹۴۰۹ | ۱۱۸ |
| ۸ | فاریاب | د میمنې ښار | ۱۳ | د فاریاب ولایتي مرکز | ۶۸۰۵۵ | ... |
| ۹ | غزني | د غزني ښار | ۱۸ | د غزني ولایتي مرکز | ۱۵۴۶۱۸ | ۷۲ |
| ۱۰ | غور | د چغچران ښار | ۹ | د غور ولایتي مرکز | ۱۳۲۴۴۲ | ۳۰۰ |
| ۱۱ | هلمند | د لښکرګاه ښار | ۱۲ | د هلمند ولایتي مرکز | ۲۰۱۵۴۶ | ۱۰۲ |
| ۱۲ | هرات | د هرات ښار | ۱۵ | د هرات ولایتي مرکز | ۳۹۷۴۵۶ | ... |
| ۱۳ | جوزجان | د شبرغان ښار | ۱۰ | دجوزجان ولایتي مرکز | ۱۴۸۳۲۹ | ۷۷ |
| ۱۴ | کابل | د کابل ښار | ۱۴ | د کابل ولایتي مرکز | ۱۹۲۵۵۴۸ | ... |
| ۱۵ | کندهار | د کندهار ښار | ۱۵ | د کندهار ولایتي مرکز | ۴۳۷۶۲۵ | ۱۳۷ |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۶ | کاپیسا | د محمود راقي ښار | ۶ | د کاپیسا ولایتي مرکز | ۴۸۷۷۴ | ۶۱ |
| ۱۷ | خوست | د خوست ښار | ۱۲ | د خوست ولایتي مرکز | ۱۶۰۲۱۴ | ۱۵۵ |
| ۱۸ | کونړ | د اسدآباد ښار | ۱۴ | د کونړ ولایتي مرکز | ۲۹۱۷۷ | ۱۱ |
| ۱۹ | کندز | د کندز ښار | ۶ | د کندز ولایتي مرکز | ۲۴۷۴۵۰ | ۱۷۱ |
| ۲۰ | لغمان | د مهترلام بابا ښار | ۴ | د لغمان ولایتي مرکز | ۱۱۲۸۵۶ | ۱۵۸ |
| ۲۱ | لوګر | د پل علم ښار | ۶ | د لوګر ولایتي مرکز | ۸۸۸۸۶ | ۱۹۳ |
| ۲۲ | نیمروز | د زرنج ښار | ۴ | د نیمروز ولایتي مرکز | ۴۹۸۵۱ | ۸۰ |
| ۲۳ | ننګرهار | د جلال آباد ښار | ۲۱ | د ننګرهار ولایتي مرکز | ۲۰۵۴۲۳ | ... |
| ۲۴ | نورستان | د پارون ښار | ۷ | دنورستان ولایتي مرکز | ۱۱۵۰۸ | ۲۲ |
| ۲۵ | پکتیا | د ګردیز ښار | ۱۰ | د پکتیا ولایتي مرکز | ۷۳۱۳۱ | ۹۱ |
| ۲۶ | پکتیکا | د ښرنې ښار | ۱۸ | د پکتیکا ولایتي مرکز | ۵۴۴۱۶ | ۹۷ |
| ۲۷ | پنجشیر | د بازارک ښار | ۶ | د پنجشیر ولایتي مرکز | ۱۵۵۹۳ | ۵۳ |
| ۲۸ | پروان | دچاریکارو ښار | ۹ | د پروان ولایتي مرکز | ۱۳۰۶۱۳ | ۷۷ |
| ۲۹ | سمنګان | د ایبک ښار | ۶ | د سمنګان ولایتي مرکز | ۸۵۴۲۷ | ۷۸ |
| ۳۰ | سرپل | د سرپل ښار | ۶ | د سرپل ولایتي مرکز | ۱۱۵۴۶۳ | ۲۰۱ |
| ۳۱ | تخار | د تالقان ښار | ۱۶ | د تخار ولایتي مرکز | ۱۹۴۴۷۱ | ۱۹۲ |
| ۳۲ | ارزګان | د ترینکوټ ښار | ۴ | د ارزګان ولایتي مرکز | ۱۰۹۷۱۲ | ۱۴۶ |
| ۳۳ | میدان وردک | میدان ښار | ۸ | د میدان وردک ولایتي مرکز | ۳۵۰۰۸ | ۶۴ |
| ۳۴ | زابل | د کلات ښار | ۱۰ | د زابل ولایتي مرکز | ۳۶۵۶۰ | ۹۱ |
| | مجموعه | | ۳۶۴ | | | |

**دندې او مسولیتونه**

- **د ولسوالۍ شورا به د ولسوالۍ له ادارې سره د خلکو او د مدني ټولنې د سازمانونو ګډون او برخه اخیستنې لپاره یو جوړښت رامنځته کوي.** د ولسوالۍ شورا به د جرګو او شوراګانو په شمول د خلکو او مدني ټولنې له سازمانونو سره په منظمه توګه سلا مشورې کوي. ولسوالۍ شورا به د ولسوالۍ په اداره کې د خلکو او مدني ټولنې د سازمانونو ګډون هڅوي او وده به ورکوي
- **د ولسوالۍ شورا غړي به په منظه توګه د خپلو حوزو له خلکو سره غونډې کوي**

- **د ولسوالۍ شورا به د ولسوالۍ د پرمختیایي پلانونو په پرمختګ کې برخه اخلي او د دغو پلانونو د پلي کولو څارنه کوي**
- **د ولسوالۍ شورا به د داسي پلان جوړوني لپاره اسانتیا برابروي چې د خلکو او ټولنو ګډون پکې وي.** دا کار د یوه داسي نوښت په توګه ثابت شوی دی چې خلک د لومړیتوبونو په معلومولو کې بوختوي. ددغه نوښت له لارې د مدني ټولني سازمانونه کیدای شي دداسي پروژو وړاندیز وکړي چې وروسته پرې په عام ډول بحث وشي. وړاندیزونه به له تخنیکي ارزونو سره یوځای کیږي
- **ولسوالۍ شوراګاني به په پای کې د ولسوالۍ پرمختیایي پلانونه منظور او لاسلیکوي**
- **د ولسوالۍ شورا به د ولسوالۍ د ادارې د لویو پریکړو په هکله بحث کوي او هغه به منظوروي. د ولسوالۍ شورا به دا جوتوي چې لویه او مهمه پریکړه کومه ده. که چیرې د ولسوالۍ شورا له دې پریکړې سره موافقه ونه کړي؛ نو د ولسوالۍ شورا به هغه پریکړه بیرته د ولسوالۍ ادارې ته د بیا کتنې لپاره لیږي**
- **د حساب ورکولو په چارو کې د اصلاحاتو لپاره به د ولسوالۍ شورا د کنټرول او محاسبې دنده اجرا کوي.** د حساب د ورکړې شرطونه د خدمتونو د اغیزمنو وړاندې کولو په برابرولو کې بنسټیز رول لري. د ولسوالۍ شورا دا واک لري چې د ولسوال او د ولسوالۍ له اړوندو ادارو څخه د هغوی د اجراتو او نه اجرااتو په باره کې حساب وغواړي
- **د ولسوالۍ شورا اساسي دنده د حساب ورکولو او پوښتنې فضا را منځته کول دي.** ولسوالان او همدارنګه اړونده سکټوري څانګې د ولسوالۍ شورا ته به د سولې د پرمختیایي پلانونو په پلي کولو، امنیت، غوره حکومتوالۍ، انساني حقونو او د قانون د برلاسي په برخو کې د لاسته راوړنو په باره کې راپور ورکوي. د ولسوالۍ شورا د پلان د پلي کولو په بهیر کې له وخت سره سم د اړونده مدیریتونو د فعالیتونو د برابرولو مسوولیت لري او همدارنګه دا اسانتیا رامینځ ته کوي چې ولسوال خپلې دندې او مسوولیتونه اجراء کړي او د اختیاراتو له دایرې څخه د باندې اقدام به نه کوي.
- **ولسوال قانوناً مکلف دی چې په میاشتني ډول سره د ولسوالي شورا ته حاضر شي .** ولسوال مسوول دی چې د شورا پوښتنو ته تفصیلي ځوابونه ورکړي، ولسوال به شورا ته د ولسوالۍ د پرمختیائي پلانونو د عملي کولو په باره کې د پرمختیاوو، امنیت، غوره حکومتوالۍ، بشري حقونو او د قانون د حاکمیت په برخه کې د لاسته راوړونو په هکله معلومات ورکوي. شورا کولای شي چې ولسوال د هغو چارو په هکله چې ترسره کړي

يې نه دي، مسوول وګڼي. ولسوالۍ شورا به د ولايتي شورا له لارې د سيمه اييزو اورګانونو د خپلواکې ادارې او ولسمشرۍ دفتر ته هغه وخت راپور ورکوي، چې شورا باوري وي چې د ولسوال کړنې ناسمې او له اخلاقي اوصولو سره برابرې نه دي او شورا به د پورته ذکر شوو چارو په هکله له راپور ورکولو دمخه، د ولسوال خبرې، دليلونه او راغونډ شوي معلومات اوري.

- **د ولسوالۍ شوراګانې به هره مياشت له ولسوال څخه د ولسوالۍ د پرمختيايي پلان په اړه د ترسره شويو کارونو، امنيت، بشري حقونو، غوره حکومتوالۍ او د قانون د حاکميت په برخو کې د پرمختګ په اړه معلومات راغونډوي او د ولسوال خبرو ته به غوږ نيسي**
- **د ولسوالي شورا د څارنې او نظارت دندې لري.** د ښه خدمت کولو او غوره ځواب ورکولو سيستم لپاره د ولسوالۍ د شورا د څارلو، نظارت کولو او کنټرول په سيستم کې اصلاحات راوستل بنسټيز رول لري. څرنګه چې اړونده سکټوري وزارتونه د ځانګړو شوو خدمتونو وړاندې کول، په ولسواليو کې د سيمه ايزو اورګانونو له لارې تر سره کوي؛ نو د ولسواليو شوراګانو لوی مسووليت ور په غاړه کيږي؛ تر څو د سيمه ايزو سکټوري څانګو او ادارو په وسيله د خدمتونو د وړاندې کولو د کيفيت، مقدار او اغيزمنتيا څارنه او ارزونه وکړي. د ولسوالي شورا به د اړوندو مديريتونو د فعاليتونو د ارزونې او عامو خلکو ته د هغو کارونو په هلکه چې دوی يې له مديريتونو څخه توقع کوي، د معلوماتو ورکولو لپاره يوه اندازه وسايل کارولی شي. دغه کارول چې لاندې پرې رڼا اچول شوې، په سيمه ايزه کچه د محصول او پايلې سيستم په جوړولو کې مرسته کوي، په موجوده وخت کې سيستم يوازې د وسايلو اندازه معلوموي.

**د ولسوالۍ د شورا له نظرونو سره سم د اجراتو د ارزونې د سيستم رامنځته کول او کارول،** دغه سيستم به حکومت ددې جوګه کړي چې په سيمه ايزه ګچه د ښه کيفيت د خدمتونو وړاندې کول او د معياري موخو حاصلول برابر کړي. د ولسوالۍ د شورا له لارې ددغه سيستم په اساس را غونډ شوي معلومات به عامو خلکو ته وړاندې کړي.[15] د ولسوالي شورا د اجراتو د معيارونو او حداقل موخو د معيارونو د نشرولو مسؤوليت لري او دا کار د سيمه ايزو ادارو د لارښود کتاب په وسيله کولای شي. دغه د عامه خدمتونو د بهيرونو د رڼولو او اړينو معلومات د ليږد لارې دي. د ولسوالي شورا د وګړو لخوا د ارزونې کارتونو د ويش مسؤوليت لري. دوی به د عامه خدمتونو په باره کې د وګړو له

[15] ددي سيستم د اغيزمنتيا لپاره بايد په ټولو وزارتونو کې د خدمت د وړاندې کولو حد اقل معيارونه جوړ کړي

تجربو څخه د استفادې وسایلو په حیث کار کوي او همدارنګه د اړونده ځانګو او مدیریتونو د فعالیتونو په باره کې د راپور ورکولو د وسیلې په حیث کار کوي، چې ایا دغه مدیریتونو له اصولو سره سم د لږترلږه ټاکل شوو معیارونو څومره برخه لاسته راوړې ده. د ولسوالي شورا د وګړو د راپور کارتونو د کارولو د مودې او همدارنګه د هغو د ډکولو په باره د خلکو د پوهاوي مسؤولیت لري. ددغو کارتونو په وسیله غونډ شوي معلومات به اړوندو سکټوري وزارتونو لخوا تعقیبیږي. ددغو معلوماتو پایلې به والي ته هم ورکول کیږي؛ نو ځکه والي، ولایتي شورا او ولایتي سکټوري واحدونه ددې وړ دي چې د حسابدهی او ځواب ورکولو دوره بشپړه او د ولسوالی له ادارې څخه د هغوی د اجراتو په باره کې مخامخ او د ولسوال له لارې ممکن معلومات ترلاسه کړي او ولسوال مسؤل دی چې دغه ډول معلومات د ولسوالۍ عامو خلکو ته د ولسوالی د شورا له لارې ورکړي. ولایت د اړوندو سکټوري وزارتونو د ولسوالی دفترونو له معیار څخه ټیټو اجرااتو په باب څیړنې کوي او ددغو څیړنو پایلې به د عامو خلکو په اختیار کې ورکول کیږي.

ولسوالی شورا به د سکټوري وزارتونو د ولسوالی د ځانګو له کړنو څخه څارنه کوي؛ ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې دغه ادارې د جنسیت د برابرئ په هکله ګامونه پورته کوي، همدارنګه به د جنسیت د برابرئ په لړ کې ټاکل شویو موخو ته ددغو ادارو له پرمختګ څخه هم څارنه کیږي.

**د ولسوالي شورا به د خلکو د شکایتونو د اوریدلو د مکانیزم څارنه کوي.** د خلکو شکایتونه کیداي شي چې په عمومي ډول سره د خدمتونو د وړاندې کولو او یا کومي عام المنفعه مسئلي په باره کې وي. ولسوال او په ولسوالي کې د ولایتي ریاستونو اړونده ادارې د ولسوالي شورا ته د خلکو د شکایتونو په خپل وخت سره د ځوابولو مسؤول دي، که د ولسوالي شورا دې پایلې ته ورسیږي چې اړونده سکټوري ځانګې د حداقل ټاکل شوو معیارونو په اساس فعالیتونه نه ترسره کوي؛ نو د ولسوالی شورا ولسوال، والي، ولایتي شورا او مرکز ته د اصلاح کولو په موخه راپور ورکوي. دغه معلومات به د سیمه ایزو ادارو د معلوماتي لاربنود کتاب او نورو وسیلو له لارې د خلکو په اختیار کې به هم ورکول کیږي.

- **د ولسوالی شورا به د ولسوالۍ په اداره کې د خلکو د لومړني ټاکل شوي استازي اورګان په څیر کار کوي.** د ولسوالی شورا له خلکو سره عمومي غونډې په منظمه توګه ترسره کوي؛ ترڅو د ولسوالی د ادارې د فعالیتونو په باره کې خلکو ته معلومات ورسول

شي. په مشخص ډول سره د ولسوالۍ شورا به په ولسوالۍ کې د اړوندو واحدونو او ولسوال د کارونو او کړنو په باره کې چې د ولسوالي د پرمختیایي پلانونو د پلي کولو او پرمختیا، امنیت، غوره حکومتوالۍ، انساني حقونو او د قانون د حاکمیت په برخو کې د لاسته راوړنو په اړه راپور ورکوي، کله چې د خدمتونو د وړاندې کولو حداقل معیارونه رامینځ ته شي؛ نو د ولسوالۍ شورا ددغو معیارونو په لور د اړونده سکټوري واحدونو د پرمختګونو په هکله معلومات راټول اوعامو خلکو ته ورکوي.

ولسوالۍ شورا به مهمو پریکړو کې له خلکو سره د مشورو په پایله کې را غونډ شوي معلومات په پام کې نیسي. د ولسوالۍ شورا به د پلان جوړولو، پرمختیا، حکومتوالۍ او امنیت سره د اړوندو موضوعګانو په برخه کې د مدني ټولنې له سازمانونو سره سلا مشورې کوي.

- **د ولسوالي شورا به، که چیرې د لانجې دواړه خواوې د ولسوالۍ شورا له منځګړتوب سره موافقې ولري، د ملکي لانجو په هوارولو کې مرسته کوي**
- **د ولسوالۍ شورا به له اړونده چارواکو سره د زور ودونه او یا د شخړو د هوارۍ لپاره د ښځوپه بدو کې ورکول په څیر هغو دودونو او رواجونو چې له قانون، انساني حقونو او اسلامي شریعت سره ټکر لري، په له مینځه وړلو کې مرسته او همکاريٍ کوي**
- **ولسوالۍ شورا مسوولیت لري چې د طبیعي پیښو په وړاندې د غبرګون، بیا کتنه او څیرنه وکړي.** ددغې کتنې او څیړنې پایلې به خلکو ته وړاندې کیږي او همدا ډول به د ولسوالۍ او ولایت په کچه د طبیعي پیښو د مدیریت کمیټو، والي، ولایتي شورا، د سیمه اییزو اورګانونو خپلواکي ادارې او له طبیعي پیښو سره د مبارزې ملي ادارې ته لیږي

**حساب ورکونه**

- **د خلکو په وسیله د ولسوالي د شورا ټاکني د ځواب ورکولو او مسوولیت درلودلو لومړنۍ وسیله ده**
- **د ولسوالۍ شورا لومړنۍ دنده داده چې د مسوولیتونو په اړه د حساب ورکولو لارې چارې وکاروي**

- **د ولسوالی شوراګانې له ولسوال او د ولسوالیو په کچه له سکتوري ځانګو څخه د هغوی د اجراتو او نه اجراتو په اړه د پوښتنې واک لري او ولسوال او د ولسوالۍ په کچه سکتوري ځانګې باید د خپلو کړنو په هکله د ولسوالۍ شورا ته ځواب ووايي**

**سرچینې:**

- **د ولسوالي شورا ته به د سیمه ایزه اورګانونو د خپلواکې ادارې له لارې د دولت لخوا پوره مالي مرستي ورکول کیږي؛ ترڅو د ولسوالي شورا د هغو فعالیتونو په سرته رسولو کې، چې د دوی په اختیار کې دي، دغه پیسي وکاروي**
- **د سیمه اییزو اورګانونو خپلواکه اداره به د ولسوالۍ شوراګانې پیاوړې کوي؛ ترڅو شوراګانې د هغو مسؤلیتونو چې د خپلو اړوندو انتخابي حوزو د خلکو په وړاندې یې لري د ترسره کولو جوګه شي**
- **د سیمه اییزو اورګانونو خپلواکه اداره به د ولسوالیو د شورا ګانو ظرفیتونه پیاوړي کوي او د ولسوالیو د شوراګانو ترمینځ د پوهې او تجربو راکړې ورکړې ته به وده ورکوي**
- **د سیمه اییزو اورګانونو خپلواکه اداره به داډ تر لاسه کوي چې ټاکل شوې شوراګانې په دریواړو سطحو یعني ولایت، ولسوالۍ او کلي کې له یو بل سره په همغږۍ خپل کارونه پرمخ وړي. د سیمه اییزو اورګانونو خپلواکه اداره به همداراز ددغو شوراګانو په کار کې د همغږۍ د پیدا کولو لپاره د اړوندو قوانینو له مخې مقررات تسوید کړي چې د حکومت له منظورۍ وروسته به دغه مقررات خپاره او نافذ شي**

## د ولسوالیو په کچه د اړوندو سکټوري وزارتونو واحدونه

**دندې او مسوولیتونه**

- د سکتوري وزارتونو د ولسوالیو ځانګې باید د خدمتونو په تر ټولو ښه توګه د وړاندې کولو پوره هڅه وکړي
- **د سکتوري وزارتونو د ولسوالۍ په کچه دفترونه د اړوندو وزارتونو له خوا د ورسپارل شوو دندو په اساس مسؤول دي. هر وزارت د دندو د سپارلو لپاره یوه مناسبه پالیسي جوړوي.** سکتوري وزارتونه به د یوې موخې په اساس را غونډېږي چې

بیلابیل کارونه او وسایل د ولسوالی، ولایتي او مرکزي دفترونو تر مینځ وویشي؛ ترڅو هر وزارت د خپلو اړوندو ادارو په کچه ځانګړې دندې په اغیزمنه توګه تر سره کړي او په یو ځانګړي وزارت کي تر داسې کچې واک وسپاري چې د خدمتونو وړاندي کول په نسبتاً ښه توګه سرته ورسیږي. که ادارې هرڅومره له خلکو سره نیږدې وي؛ نو د خدمتونو د وړاندي کولو مؤثریت او اغیزمنتوب به يې هغومره ډیر وي. دا کار د خدمتونو د وړاندي کوونکو له خوا خلکو ته حساب ورکول باوري کوي. په هر سکټور کي دننه به د واک سپارل د هغه سکټور له ځانګړتیاوو سره سم وي. د خدمتونو په ښه توګه وړاندي کولو لپاره باید وزارتونه د واک سپارلو د کار په ښه توګه سره مدیریت وکړي؛ ترڅو خلکو ته نیږدې وي. د سکټوري وزارتونو د ولسوالی او ولایت په کچه د دفترونو او د ولسوال د دفتر د تدارکاتو او قراردادونو په برخو کي واک به تر ډیره حده زیات شي. هر چیرې چي شونې وي، مرکز به نور د ولسوالیو او ولایتونو په استازیتوب د پیرودلو پریکړې نه کوي. مرکز به د روغو پریکړو کولو په برخه کي پر ولایتونو (د سکټوري وزارتونو د ولایت په کچه واحدونو) باور کوي او ولایت به د خلکو له لومړیتوبونو سره سم غوره پریکړې کوي. په همدي ډول به ولایتونه په ولسوالیو باندې د خلکو د لومړیتوبونو په اساس د سمو پریکړو کولو په برخه کي باور کوي.

- **وزارتونه به واک د سپارلو په برخه کي خپل پلانونه پرته له ځنډه پلي کوي او ددې انتظار به نه کوي چي د ادارو ظرفیت لوړ شي. ځکه چي ظرفیت تر هغو نه شي لوړیدلای چي د ولایت او ولسوالی په کچه سکټوري څانګو ته واک ونه سپارل شي او پر هغوی باندې په دې لړ کي باور ونه شي**
- **عامه اداري اصلاحاتو ته به د ولسوالیو تر کچې پراختیا ورکړل شي او د۱۳۹۲ل.ل کال(۲۰۱۳ میلادي کال) تر پایه به دا کار بشپړیږي.** د عمومي اداري اصلاحاتو له لارې به ټول اداري جوړښتونه اصلاح او د مدیریت او سوداګرۍ بهیرونه به ساده شي. ددې تر څنګ به د ملکي کار کوونکو د زده کړې او اړینو مهارتونو ته وده ورکړل شي
- **په ولسوالی کې د وزارتونو اړوند دفترونه به په دقت د ولسوالی له شورا سره کار کوي تر څو یو ښه اداري او عملیاتي سیستم رامنځته او ګټه ترې واخلي.** په دې کې د خدمتونو د حداقل معیارونو وده هم شامله ده. یوازې د ولسوالۍ مدیریتونه په دې مکلف نه دي چې د ولسوالۍ شورا ته د حداقل خدمتونو د معیار په هکله راپور ورکړي؛ بلکه دوی مکلف دي چې ولسوالۍ شورا ته ددغو معیارونو د پوره کولو یا نه کولو او یا له معیارونو څخه د زیات کارکولو په اړه راپور ورکړي، چې په دې راپور کې به له معیار څخه د زیات کار اندازه هم په ګوته شوې وي

- **په اوږده موده کې به ټول اړوند وزارتونه د ولسوالۍ په کچه خپل دفترونه پرانیزي؛ ترڅو وکولای شي په ښه توګه خلکو ته خدمت وکړي**

**حساب ورکونه**

- **د ولسوالۍ دفترونه تر ځانه پورته د سکټوري وزارتونو ولايتي او مرکزي واحدونو یا دفترونو  په وړاندې مسوولیت لري**
- **د ولایتي اړوند واحدونو د ولسواليو مدیریتونه د ولسوالي د شورا په وړاندې د ځواب ورکولو او د شورا له لارې د خلکو په وړاندې د حساب ورکونې مسؤول دي.** دوی به د ولسوالۍ شورا ته په میاشت کې یو ځلې په منظم ډول سره د خپلو کړنو په اړه او په ځانګړو حالتونو کې د شورا د غوښتنې په اساس معلومات ورکوي. که په ولسوالۍ کې د اړوندو مدیریتونو کوم کارکونکی د ولسوالي شورا لخوا ورغوښتل کیږي؛ نو هغه باید د شورا دفتر ته حاضر او لازم ځوابونه ووایي. د ولسوالۍ شورا ته د ځواب ورکولو دغه بهیر خلکو ته د مدیریتونو لخوا د حساب  ورکولو بهیر پیاوړی کوي او د خدمتونو د وړاندې کولو بهیر نور هم ښه کوي.
- **د سکټوري واحدونو هغه مشران چې د خدمتونو د حداقل ټاکل شویو معیارونو په وړاندې کولو کې پاتې راغلي وي مجازات کیداي شي.** له دې څیړنې څخه وروسته چې حد اقل معیارونه ولې نه دي پوره شوي، د اړونده څانګې مشر به یا:

۱. روزل کیږي

۲. امتحاني دوره به ورته ټاکل کیږي؛ ترڅو د خدمتونوحداقل معیارونه ترلاسه کړي او یا

۳. له کاره به ګوښه کیږي.

ولسوال به د ولسوالۍ شورا او له ولایتي سکټوري واحدونو سره به په سلا مشوره دا پریکړه کوي چې د نومړې څانګې مشر ته له پورتنیو دریو شرطونو څخه کوم یو وټاکي. په ولایت کې د وزارتونو اړوند ریاستونه ددې ارزونه کوي چې ایا په ولسوالۍ کې د هغوی اړوند دفتر نورو اداري اصلاحاتو یا د ظرفیتونو لوړولو ته اړتیا لري که څنګه.

- **د ولسوالي مدیریتونه ولسوال ته د خپلو ترسره کړو او نه ترسره کړو اجراتو په باره کې د جواب ورکولو مسوول دي**

**سرچینې**

- **د ولسوالیو د مدیریتونو بودجه له ملي بودجې( د پروګرام بودجې) له لارې تمویلیږي**

## د ولسوالي پرمختيائي اسامبلی (DDA)

**دندې او مسووليتونه**

- د ولسوالۍ پرمختيائي اسامبله به د ولسوالۍ د شورا ګانو تر جوړېدو پورې چې د اساسي قانون له مخې د ۱۳۸۹ل.ل کال( ۲۰۱۰م کال) کې جوړيږي، خپلو موجوده دندو او مسؤوليتونو ته دوام ورکوي. د کليو شورا ګانې به د اساسي قانون له مخې په ۱۳۹۰ل.ل کال کې(۲۰۱۱ م کال) ټاکل کيږي
- د ولسوالۍ پرمختيائي اسامبله به د ولسواليو د شورا ګانو تر رامنځته کيدو پورې د شورا د پرمختيايي پلان جوړوني فعاليتونه سرته رسوي
- د ولسوالۍ پرمختيائي اسامبله به د ولسواليو د لومړيتوبونو او د سيمې خلکو د اړتياوو په اساس د ولسوالي پرمختيايي پلان جوړوي. د ولسوالۍ له سکټوري څانګو سره په همغږۍ به د ولسوالۍ پرمختيايی اسامبله د ولسوالۍ په کچه د پلان جوړونې، څارنې او ارزونې او سرچينو په لټولو کې برخه اخلي. د ولسوالۍ پرمختيائي اسامبله په دندوکې د ولسوالۍ په کچه د لومړيتوبونو په ګوته کول، داسې ستراتيژي جوړول چې د خلکو او کليو ګټو ته انعکاس ورکړي او د ولسوالۍ د پرمختيايي پلانونو د جوړولو د کار لارښوونه شامل دي. د ولسوالۍ پرمختيائي اسامبله به د ولسوالۍ په کچه د ټولو سازمانانونو، پروګرامونو او پرمختيايي پروژو ترمينځ اغيزمنه همغږي رامينځ ته کوي.

**حساب ورکونه**

- د ولسوالۍ پرمختيائي اسامبله به د کليو د بيا رغاونې او پراختيا وزارت ته حساب ورکوي.

د ولسوالي پرمختيايي اسامبله به په هغه ولسوالۍ کې چې دوی فعاليت کوي، خلکو ته د ځواب ورکولو مسؤوليت لري

**سرچينې:**

- ملي بودجه (د پروګرام بودجه) د ولسوالۍ د پرمختيايي اسامبلی د تمويل سرچينه ده

## د ولسوالي اداري مجلس (DAA)

**دندې او مسؤولیتونه**

د ولسوالي اداري مجلس د ولسوال او د ولسوالي له اړونده مدیریتونو څخه جوړ دی، چې ولسوال به ددغه مجلس مشر او اړونده مدیران د مجلس غړي دي. ددغه مجلس په وسیله ولسوال د بیلابیلو مدیریتونو او ادارو په اداري، پرمختیایي او امنیتي فعالیتونو کې همغږي راوستلی شي.

**حساب ورکونه**

- د ولسوالۍ اداري مجلس د خپل فعالیت په هکله د اړونده ولسوالۍ خلکو ته د ولسوالۍ شورا له لارې د حساب ورکولو مسؤولیت لري

## ۳. د کلي اداره

**د کلیو په کچه اداري تاسیسات عبارت دي له:**

- د کلي شورا
- د کلي پرمختیا شورا ګانې (CDC):
- د شورا، جرګو او خبري رسنیو په ګډون مدني ټولنه،
- د حکومتوالۍ غیر رسمي اداري لقبونه لکه ملك، ارباب، قریه دار، خان، سپین ږیرې، د ګوزر ملك، کلانتر، میراو، عالمان، ملایان، اربکي،
- ټولني او خلک

ددغو ادارو او بنسټونو له ډلې څخه د کلي اداره د کلي له شورا څخه عبارت ده .

**د کلي د ادارې مسؤولیتونه په لاندې ډول دي**

1. په کلي کې د سولې، امنیت، نظم او ثبات ساتل
2. په کلي کې د قانون حاکمیت ته پام کول

3. د کليو د اوسيدونکو د انساني حقونو تحقق، ساتنه او وده
4. د کلي ټولنيزې، اقتصادي، تعليمي، او کولتوري حالت ته وده ورکول
5. خلکو ته د خدمتونو وړاندې کول، دغه خدمتونه عبارت دي له عدالت، امنيت په عامه لارو کې د خلکو او مالونو خوندي ليږد، د پاکو اوبو برابرول او د ککړو اوبو ويستل، روغتيا او تغذيه، ښوونه او روزنه، برېښنا، سړکونه، سيمه ييز ترانسپورت، د ښاري او کليوالي سيمو زيربناء، کرنه او اوبه خور، د طبيعي سرچينو تنظيمول، د ځمکو ثبت، ټولنيز خونديتوب، پيژند پاڼې يا هويت کارتونه، د خصوصي سکټور پرمختيا، مدني خدمتونه، لکه د فاضله موادو کنټرولول، د ترافيکو اداره کول، د سړکونو روښانه کول، کتابتونونه او تفريحي اسانتياوې.
6. په کلي کې د ښې حکومتوالی برابرول. په دې هکله به له لاندې چارو څخه ډاډ ترلاسه شي:
   - پرانستوب/شفافيت
   - د خلکو په وړاندې ځواب ورکول
   - د خلکو په ځانګړي ډول د ښځو او ځوانانو ګډون
   - د مدني ټولنې او خصوصي سکټور ګډون
   - سيمه ييزه ولسواکي(ديموکراسي)
   - اغيزمنتوب او کفايت
   - عدالت او برابري (له استثنا پرته)
   - د جندريا جنسيت برابري او عدالت
   - ارتباط او تړاو
   - په ټولو کچو کې پر قانون بناء سيستم
7. د غربت او ناروغيو کمول او د کلي له خلکو لپاره د دريمې زريزې د پرمختيايي موخو (MDG) لاسته راوړل
8. د طبيعي پېښو مديريت او د زيانونو د اندازې کمول
9. د کوکنارو د کروندو له مينځه وړل او د بدل معيشت وده
10. د چاپيريال ساتل او د طبيعي سرچينو پايښت لرونکې کارونه
11. د اسلامي شعايرو او مناسکو د سرته رسولو لپاره اسانتياوې او ملاتړ
12. په کلي کې د افغانستان د ملي پرمختيا د ستراتيژۍ او د ملي لومړيتوبونو د پروګرامونو په پلي کولو کې مرسته

## د کليو په کچه دندې او مسؤليتونه

| ټولنه | دندې او مسؤليتونه |
| --- | --- |
| د کلي شورا | • د کلي د پرمختيايي پلان جوړول او پلي کول<br>• څارنه، کتنه، کيفي ډاډمنتيا، د دولتي خدمتونو تنظيم او سمبالول، له ټولنو سره اړيکې، ټولنې او رسنۍ، سوله ساتنه، امنيت، عامه نظم او ټيکاو، او د قانون په پلي کولو کې مرسته کول.<br>• بشري حقونو ساتل، وده او رواجول<br>• ښه اداره<br>• د بيوزلۍ او نيستۍ د کچې ټيټوال<br>• د زريزې د پرمختيايي موخو پلي کول<br>• د هغو دودونو له مينځه وړل چې له اسلامي شريعت او قانون سره په ټکر کې وي<br>• له نيشه يي توکو سره مبارزه<br>• له ناورين ځپلو خلکو سره مرسته او د طبيعي پيښو مديريت<br>• اداره<br>• د لګښتونو او مالي مديريت واک<br>• همغږي<br>• د دولت له شته پاليسۍ سره سم د خدمتونو وړاندې کول<br>• د پرمختيايي خدمتونو وړاندې کول<br>• مقررې؛ لکه د بيا آبادولو مقررې، امنيتي مقررې، سيمه ايز ويش او داسي نورې مقررې<br>• ټولنيزه ساتنه<br>• د شخړو هوارې<br>• د کلي د ګډو سرچينو مديريت<br>• د عامه شتمنيو ساتنه |

| | |
|---|---|
| | • چاپیریال ساتنه<br>• د ځمکو ثبت او راجسترکول<br>• د کلي د پولو ټاکنه<br>• د نفوس ثبتول او د وګړو د احصاېې اخیستل<br>• د کلي پرمختیایي شوراګانو فعالیتونو د اسانتیاوو را منځته کول<br>• په لوړه کچه معاملاتو کې د دولت له چارواکو سره همغږي |
| د کلي پرمختیایي شوراګانې | • د کلي په کچه د پروژوجوړول او بشپړول |
| مدني ټولنې، شوراګانې، رسنی، قومي مشران، مذهبي لاربښوونکي | • څارنه، کتنه، کیفي ډاډمنتیا،<br>• په کلي کې د وړاندې شویو عامه خدمتونو تنظیم او اداره،<br>• د پرمختیایي خدمتونو وړاندې کول |

**د کلي په کچه د حساب ورکولو اړیکې:**

د کلي د حکومتوالی ټول جوړښتونه د خلکو په وړاندې د حساب ورکولو مسؤولیت لري.

**د خلکو په وړاندې مسؤولیت لرونکې ټولنې:**

- د کلي شورا
- د کلي د شورا مشر
- د کلي پرمختیایي شورا (CDC)

**د ولسوالی، ولایت او سترې محکمې په وړاندې مسؤولیت لرونکې د حکومتوالی جوړښتونه:**

- د کلي شورا

**د ولسوالۍ او ولایت د شوراګانو په وړاندې مسؤلیت لرونکې ټولنې:**

- د کلي شورا

**د کلي د شورا په وړاندې مسؤولیت لرونکې ټولنې:**

- د کلي مشر لکه د کلي د شورا ټاکل شوی مشر
- او د کلي د شورا غړي

**د کلي په کچه استازیتوب**

- د کلي شوراګانې د خلکو لخوا ټاکل کیږي
- د کلي مشران د کلي د شورا د غړو لخوا ټاکل کیږي

د امنیت، اداري، اقتصاد او د افغانانو د هوساینې د سمون او لا ښه کولو په خاطر، **د کلي اداره باید په لاندې توګه جوړه شي:**

## د کلي شوراګانې

**دندې او مسؤلیتونه**

د افغانستان اساسي قانون د کلیو د شوراګانو په جوړولو ټینګار کوي. کلیوالي شوراګانې به په ۲۰۱۱ کال کې وټاکل شي. د کلیو له ۳۸ زرو څخه زیاتو شوراګانو په ټاکل کیدو سره به د دولت شتون او واک د هیواد هرې برخې ته وغځول شي؛ د دوی دندې او مسؤلیتونه به په لاندې ډول وي:

- د کلي شوراګانې به په کلي کې د لاندې دندو د ترسره کولو مسوولیت پر غاړه ولري:
  - د کلي د پرمختیایي پلان جوړول او پلي کول
  - د پرمختیایي پلانونو او پروژو پلې کول
  - څارنه، کتنه، کیفي ډاډمنتیا، د دولتي خدمتونو تنظیم او اداره
  - له خلکو، مدني ټولنې او رسنیو سره د اړیکو ټینګول
  - د سولې، عامه نظم او ټیکاو په رامنځته کولو کې مرسته
  - د قانون په پلي کولو کې مرسته کول

- بشري حقونو ساتنه، وده او رواجول
- ښه اداره
- د بیوزلۍ او نیستی د کچې راټیټول
- د زریزې د پرمختیایي موخو پلي کول
- د هغو دودونو له منځه وړل چې له اسلامي شریعت او قانون سره په ټکر کې وي
- له نیشه یي توکو سره مبارزه
- له ناورین ځپلو خلکو سره مرسته او د طبیعي پېښو مدیریت
- اداره
- د لګښتونو او مالي مدیریت واک
- همغږي
- د دولت له شته پالیسۍ سره سم د خدمتونو وړاندې کول
- د پرمختیایي خدمتونو وړاندې کول
- مقررې؛ لکه د بیا آبادولو مقررې، امنیتي مقررې، سیمه ایز ویش او داسې نورې مقررې
- ټولنیزه ساتنه
- د شخړو هواری
- د کلي د ګډو سرچینو مدیریت
- د عامه شتمنیو ساتنه
- چاپیریال ساتنه
- د ځمکو ثبت او راجسترکول
- د کلي د پولو ټاکنه
- د نفوس ثبتول او د وګړو د احصاېې اخیستل
- د کلي پرمختیایي شوراګانو فعالیتونو د اسانتیاوو را منځته کول
- په لوړه کچه معاملاتو کې د دولت له چارواکو سره همغږي

- **له اړوندو غاړو سره همغږي:** د کلي شوراګانې دنده لري؛ ترڅو پلان جوړ او په ولسوالۍ کې د وزارتونو له اړونده ادارو سره او همدا شان له ولسوالانو، د ولسوالۍ له شوراګانو او له نورو اړینو ادارو سره خپل فعالیتونه همغږي کړي. دغه شان همغږي به دا چاره ډاډمنه کړي چې د دولت، او مرسته کوونکو ټولنو پلانونه او پروژې د کلیو له اړتیاوو او لومړیتوبونو سره په سمون کې وي

- o د کلي شورا د ټولنې پلانونه د ولسوالۍ مشرتابه ته د منظورولو په موخه وړاندې کوي
- o د کلي شورا به د کلي وګړي د پلانونو جوړولو او د لومړیتوبونو په ګوته کولو کار کې ګډون ته هڅوي او په دې چارو کې به لازمي اسانتیاوې ورته برابروي
- د کلي شورا به خدمتونه چیرته چې اړتیا ورته لیدل کیږي؛ د دولت له پالیسیو سره سم وړاندې کړي
- د کلي شورا به کلیوالي چارې پرمخ بیایي
- د کلي شورا به د کلي په تنظیم او اداره کې برخه اخلي لکه:
  - o د ځمکو ثبت او راجسترول
  - o د وګړو د احصایې اخیستل: د کلي شورا به په کلي کې د کلي د نارینه او ښځینه وګړو شمیر او د زیږیدنو، مړینو، او ودونو په ګډون د وګړو احصاییه اخلي
- د کلي شورا به خلکو ته د کلي د ادارې په اړه اړین معلومات وړاندې کوي
- د کلي شورا به په دوامداره توګه د ښځو او ځوانانو په ګډون د کلي له خلکو سره مشوره کوي
- د کلي شورا به د کلي د اداري چارو د استازې په توګه، له قانون سره سم خپلې دندې او مسؤلیتونه ترسره کوي
- د کلي شورا به د کلي په کچه د ټولو ټولنو له رسمي او غیر رسمي کړنو او فعالیتونو څخه څارنه کوي
  - o د کلي شورا به په دوامداره توګه د اړونده پولیسو او ملي پوځ له چارواکو سره د امنیتي مسئلو په اړه خبرې اترې کوي
  - o د کلي شورا به د امنیتي پیښو په اړه اړین معلومات ولسوال او د ولسوالي د پولیسو ادارې ته وړاندې کوي
- د کلي شورا به بیوزلو خلکو او کورنیو ته د ټولنیزې هوساینې او خوندیتوب د رامنځته کولو، هغو کسانو ته چې ځانګړي مراقبت او څارنې ته اړتیا لري، د ټولنیزو خدمتونو وړاندې کولو، د کار په ترڅ کې د خطر او د ګواښونو د اقتصادي زیانونو په وړاندې د خلکو د ساتنې په موخه د ټولنیزې بیمې رامنځته کولو، او د ټولنیزو خطرونو لکه؛ تبعیض او ناوړه ګټې اخیستنې د مخنیوي په موخه، د ټولنیزې برابرۍ د پلي کولو په برخه کې بشپړه مرسته کوي. که چیرې اقتصادي ګواښونه د ټول کلي په کچه وي؛ نو د کلي شورا به له لوړ پوړو ادارو سره موضوع شریکوي او په اړه به یې پریکړه کوي.

- د کلي شورا به د غوښتني په وخت کې، د هغو غیرجنایي پیښنو په حل او هاوري کې هم مرسته کوي، چې د کلیوالو ترمنځ، رامینځ ته شوې وي
- د کلي شورا هغه جنايي پيښې چې هاواری او پريکړه يې د دوی له واکه بهر وي، حقوقي ادارو ته وړاندې کوي
- د کلي شورا د ککړو اوبو د ویستلو په باب د حداقل معیارونو په مراعتولو کې مرسته کوي
  - په دې هکله د کلي شورا دنده لري ترڅو ډاډ ترلاسه کړي، چې د کورونو ناپاکۍ او سرې په سمه توګه ځای پرځای او د ککړو اوبو د ویستلو لپاره جلا لارې او لښتې جوړ شوي دي.
- د کلي شورا به له اړونده حکومتي ادارو سره یوځای د قانون، بشري حقونو او اسلامي شریعت خلاف دودونو او عنعنو، لکه جبري ودونو او د بدو او دښمنیو په بدل کې د نجونو د ورکړې په مخنیوي کې بشپړه برخه اخلي
- د کلي شورا به د کلي له خلکو سره یو ځای د ناورین او طبیعي پیښنو د مخنیوي او د دا راز پیښنو په وړاندې د چمتوالي، مبارزې او د هغوی د ګواښ په راکمولو کې په کډه برخه اخلي. هر کلی به د ناورین او طبیعي پیښنو سره د مبارزې او مخنیوي یوه کمیټه ولري، چې په دې کمیټه کې به د کلي د شورا او د سیمې د بیلابیلو ټولنو او ډلو (لکه کلیوالي پرمختیایي شورا ګانو) استازي او نور رضا کاره وګړي برخه ولري.
- دا کمیټه مسؤلیت لري؛ ترڅو د بیلابیلو بیړنیزو پیښنو په وړاندې د مرستې پلان جوړ، د مرسته شوو توکو د ویش سم او عادلانه ویش ډاډمن، او د مرستو بهیر له دولت سره همغږی کړي. دا کمیټه باید د کنټرول او څارنې یوه داسې خونه ولري چې د ولسوالۍ او ولایت د کنټرول او څارنې له دفتر سره د مخابراتي وسایلو له لارې تړل شوې وي

**حساب ورکونه:**

- **کلیوالو خلکو ته د شورا لخوا د حساب ورکولو تر ټولو ډاډمنه لار داده چې، شورا د کلیوالو لخوا د ازادو ټاکنو له لارې رامنځته شي**
- **د کلي د شورا تر ټولو لومړی کار د حکمتوالۍ د دندو ترسره کول دي**
- **د کلي شورا به د خپلو دندو او لکښتونو راپور د ولسوالۍ شورا او ولسوال ته وړاندې کوي**

- د کلي شورا باید دادمنه کړي چې د کلي ټول جوړښتونه خلکو ته د خپلو دندو او فعالیتونو په اړه معلومات وړاندې کوي
- د کلي شورا به د کلیوالو په ګډون خپلې عمومي غونډې په منظمه او دوامداره توګه جوړوي؛ ترڅو خلك وکولای شي د کلي د شورا کړنې وڅیړي. د کلي د شورا غونډه به د کلي د وګړو پرمخ پرانستې وي. د څیړنې پایلې به د ولسوالۍ شورا ته سپارل کیږي

سرچینې

- د کلي له شورا ګانو سره به د دولت لخوا پوره مالي مرسته کیږي؛ ترڅو وکولای شي خپلې ټاکلې دندې ترسره کړي. حکومت د کلیوالي شوراګانو مالي ملاتړ کوي؛ ترڅو دغه شوراګانې وکولای شي چې په خپلواک ډول او هم د کلیو په استازیتوب قراردودونه او تړونونه لاسلیک کړي، او همدارنګه ددغو قراردادونو او تړونونو د اجرا وړتیا هم ولري. وزارتونه باید د خپلې بودجې یوه د پام وړ سلنه یا فیصدي په کلیو کې ولګوي
- د سیمه ایزو اورګانونو خپلواکه اداره به د کلیو له شورا ګانو سره بشپړه مرسته کوي؛ ترڅو وکولای شي، د خلکو په وړاندې خپلې دندې او مسؤلیتونه په سمه توګه اجرا کړي
- د سیمه ایزو اورګانونو خپلواکه اداره به د کلي د شورا ګانو د ظرفیت د لوړول، د پوهې د کچې د پیاوړتیا او د تجربو د راکړې ورکړې په برخه کې مرسته کوي
- د کلیو د شورا ګانو د فعالیتونو لګښتونه به د د سیمه ایزو اورګانونو خپلواکې ادارې لخوا ورکول کیږي

## د کلیو پرمختیایي شوراګانې (CDC)

### دندې او مسوولیتونه

- د کلیو پرمختیایي شورا ګانې به خپلې اوسنۍ دندې د خلکو د استازې شورا په توګه، له اساسي قانون سره سم، د کلیو د شورا ګانو د ټاکنو تر وخته (۲۰۱۱) پورې پرمخ بیایي
- د کلیو پرمختیایي شورا ګانې به تر ۲۰۱۱ کال پورې د والي او ولسوال په مشوره د کلیو د شورا ګانو پورته یادې شوې دندې پرمخ بیایي

- کله چې د کليو شوراګانې د رسمي ټاکنو له لارې رامنځته شي؛ نو کيدای شي چې بيا له هغې وروسته د کليو پرمختيايي شورا ګانې له مينځه لاړې شي
- دغه شوراګانې به ازادې وي چې د مدني ټولنې د سازمانونو په شان، د ټولنې په پرمختيايي کارونو کې بوختې وي، او خپلو دندو ته ادامه ورکړي

**حساب ورکونه**

- د کليو پرمختيايي شورا ګانې د هغو خلکو په وړاندې، چې دوی يې ټاکلي دي، مسؤليت لري
- د کليو پرمختيايي شورا ګانې د کليو د بيا رغونې او پراختيا وزارت ته، چې له دوی سره مالي مرسته کوي، حساب ورکوي
- د کليو پرمختيايي شورا ګانې د کليوالي شوراګانو تر جوړيدلو پورې د هغوی دندې سرته رسوي او په دې باب کليوالو ته حساب ورکوي

**سرچينې**

- د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت د کليو له پرمختيايي شورا ګانو سره د ملي پيوستون د پروګرام (NSP) له لارې لوړې مالي مرستې کوي

## ۴ ـ د سيمه اييزو اورګانونو خپلواکه اداره

- **د سيمه ايیزو اورګانونو خپلواکه اداره د ۱۳۸۶ ل.ل کال د وږی د مياشتې په ۸مه نيټه چې برابره ده د ۲۰۰۷ کال د اګست له ۳۰ مې نيټې سره، د جمهوري رياست د مقام د حکم پر بنسټ رامينځ ته شوې. دغه اداره د واليانو، ولسوالانو، ولايتي شورا ګانو او ښاروالیو (د کابل له ښاروالۍ پرته) د چارو د څارنې مسووليت لري. ولسمشر هيله څرګنده کړې ده چې د سيمه ايیزو اورګانونو خپلواکه اداره به خلك او حکومت سره ونښلوي او په سيمه ايیزه کچه به د خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې د پام وړ ښه والی رامينځ ته کړي.** د سيمه ايیزو اورګانونو خپلواکې ادارې يوه له ډيرو ارزښتناکو دندو څخه دا ده چې د سيمه ايیزو جوړښتونو له دندو څخه څارنه او کتنه وکړي، چې

دغه کار به یې د خدمتونو له لا ښه وړاندې کولو سره مرسته وکړي. د سیمه اییزو اورګانونو خپلواکه اداره به په سیمه اییزو ادارو کې د هغو دندو له تر سره کولو ډاډ ترلاسه کوي چې ددغې پالیسی له مخې ور سپارل شوي دي.

- د سیمه اییزو اورګانونو خپلواکه اداره به ډاډ تر لاسه کوي، چې ټاکل شوې شوراګانې په دریواړو سطحو یعني ولایت، ولسوالۍ او کلي کې له یو بل سره په همغږۍ خپل کارونه پرمخ بیایي. د سیمه اییزو اورګانونو خپلواکه اداره به همداراز ددغو شوراګانو په کار کې د همغږۍ د پیدا کولو لپاره د اړوندو قوانینو له مخې مقررات تسوید کړي چې د حکومت له منظورۍ وروسته به دغه مقررات خپاره او نافذ شي

- **د اصلاحاتو د پلي کولو واحد یا اداره (RIMU) به د سیمه اییزو اورګانونو په خپلواکه اداره کې رامنځته شي. د اصلاحاتو د پلي کولو واحد به ددغې ادارې مرکز او سیمه اییز دفترونه د عامه اداري اصلاحاتو لپاره چمتو کړي**

## ۵. د کلي او ولسوالۍ د شورا ګانو، ښاروال او ښاروالیو شورا ګانو ټاکنې

### ***۵،۱ د ټاکنو ځرنګوالی***

**د ولایتي، ولسوالۍ، کلیو، ښاروال او ښاروالۍ د شورا ګانو د ټاکنې نقشه په لاندې ډول ده:**

| شورا | دویم ځل | دریم ځل | څلورم ځل | پنځم ځل | شپږم ځل |
|---|---|---|---|---|---|
| ولایتي شورا | ۱۳۸۸ (۲۰۰۹ م) | ۱۳۹۲ (۲۰۱۳ م) | ۱۳۹۶ (۲۰۱۷ م) | ۱۴۰۰ (۲۰۲۱ م) | ۱۴۰۴ (۲۰۲۵ م) |
| | | | | | |
| د ولسوالۍ شورا | ۱۳۸۹ (۲۰۱۰ م) | ۱۳۹۲ (۲۰۱۳ م) | ۱۳۹۵ (۲۰۱۶ م) | ۱۳۹۸ (۲۰۱۹ م) | ۱۴۰۱ (۲۰۲۲ م) |
| د کلي شورا | ۱۳۹۰ (۲۰۱۱ م) | ۱۳۹۳ (۲۰۱۴ م) | ۱۳۹۶ (۲۰۱۷ م) | ۱۳۹۹ (۲۰۲۰ م) | ۱۴۰۲ (۲۰۲۳ م) |
| ښاروال | ۱۳۸۹ (۲۰۱۰ م) | ۱۳۹۳ (۲۰۱۴ م) | ۱۳۹۷ (۲۰۱۸ م) | ۱۴۰۱ (۲۰۲۲ م) | ۱۴۰۵ (۲۰۲۶ م) |
| د ښاروالۍ شورا | ۱۳۸۹ (۲۰۱۰ م) | ۱۳۹۳ (۲۰۱۴ م) | ۱۳۹۷ (۲۰۱۸ م) | ۱۴۰۱ (۲۰۲۲ م) | ۱۴۰۵ (۲۰۲۶ م) |

## ۵،۲ د ټاکنو لپاره مالي سرچينې

- د ولايتي، ولسواليو او د کليو د شوراګانو د ټاکنو مالي لګښتونه له ملي بودجې څخه ورکول کيږي
- د ښاروالۍ بودجه به د ښاروال او ښاروالیو شوراګانو د ټاکنو لپاره مالي سرچينه وي

## ۵،۳ د خدمت موده

| شورا | د اساسي قانون له مخې | د دغې پاليسۍ له مخې |
|---|---|---|
| ولايتي شورا | ۴ کاله | په اساسي قانون کې تررونبانه شوې مودې پورې |
| د ولسوالۍ شورا | ۳ کاله | په اساسي قانون کې تررونبانه شوې مودې پورې |
| د کلي شورا | ۳ کاله | په اساسي قانون کې تررونبانه شوې مودې پورې |
| ښاروال | نه ده ټاکل شوې | ۴ کاله |
| ښاروليو شورا | نه ده ټاکل شوې | ۴ کاله |

## ۵،۴ د دورې اندازه

| شورا | د دورې اندازه |
|---|---|
| ولايتي شورا | نه لري |
| د ولسوالۍ شورا | نه لري |
| د کلي شورا | نه لري |
| ښاروال | دوه ځله |
| ښاروالیو شورا | نه لري |

يادونه: هيڅوک نشي کولاي له دوځلو زيات د ښاروالۍ پرځوکۍ کښيني.

## ۵,۵ د ښځو لپاره ځانګړې څوکۍ

- د ولایتي شورا ٪۲۵ څوکۍ د ښځو لپاره بیلې شوې دي. دا د ښځو لپاره د څوکیو ترټولو ټیټه اندازه ده. ښځې کولای شي له ځانګړو شویو څوکیو څخه پرته، د نورو څوکیو لپارهم سیالي وکړي
- د ولسوالۍ په شورا کې ٪۲۵ څوکۍ د ښځو لپاره بیلې شوې دي. ددغو څوکیو ترڅنګ ښځې کولای شي د نورو څوکیو ګټلو لپاره په ټاکنو کې برخه واخلي. که چیرې د دغو څوکیو د نیولو لپاره په پوره شمیره ښځې موجودې نه وي؛ نو بیا به دغه څوکۍ نارینه وو ته ورکړل شي
- د کلي په شورا کې د ښځو لپاره په ځانګړې توګه هیڅ یوه څوکۍ نه ده په پام کې نیول شوې؛ مګر یوه ښځه کولای شي، د عمومي نوماندې (کاندیدې)په توګه، د یوې څوکۍ لپاره ځان ونوموي او په سیالیو کې برخه واخلي. کله چې په کال ۱۳۹۲ (۲۰۱۳) کې د لومړي ځل لپاره د پالیسۍ د پلي کولو بیا کتنه کیږي؛ نو حکومت به هغه وخت د کلیو په شوراګانو کې د ښځو لپاره د څوکیو پر بیلولو هم غور کوي
- په ښاروالۍ کې د ښځو لپاره په ځانګړې توګه هیڅ یوه څوکۍ نه ده په پام کې نیول شوې؛ مګر یوه ښځه کولای شي چې د دغو څوکیو لپاره د یوې عمومي نوماندې په توګه رامخته شي
- د ښاروالیو شورا کې د ښځو لپاره ٪۲۵ څوکۍ په پام کې نیول شوې دي. چې دا د ښځو لپاره د څوکیو ترټولو لږه برخه ده؛ مګر یوه ښځه کولای شي، د عمومي نوماندې (کاندیدې)په توګه، د یوې څوکۍ لپاره ځان ونوموي او په سیالیو کې برخه واخلي

## ۵،۶ د عمر شرایط

د لاندې څوکیو لپاره د عمر شرایط په داسې ډول ټاکل شوي:

- د ولایتي شورا غړي: لږ ترلږه ۲۲ کاله عمر
- د ولسوالۍ د شورا غړي: لږ ترلږه ۲۲ کاله عمر
- د کلي د شورا غړي: لږ ترلږه ۲۲ کاله عمر
- ښاروال: لږ ترلږه ۳۰ کاله عمر
- د ښاروالیو شورا غړي: لږ ترلږه ۲۲ کاله عمر

## ۵،۷ . د ټاکنو حوزې

| شورا | د ټاکنو حوزې |
|---|---|
| ولايتي شورا | د ټول ولايت په کچه |
| د ولسوالۍ شورا | د ټولي ولسوالۍ په کچه |
| د کلي شورا | د ټول کلي په کچه |
| ښاروال | د ښارپه کچه |
| د ښاروالۍ شورا | د ښار په کچه |

د۱۳۸۹ل.ل (۲۰۱۰)کال له سرشميرنې وروسته به حکومت پريکړه وکړي چې د ولايتي شورا لپاره ټاکنيزې حوزې، د نفوسو له مخې مينځ ته راځي. خلکو ته د ښه حساب ورکولو په خاطر اړينه ده چې له هرې ولسوالۍ څخه ولايتي شورا ته يو تن لاره ومومي. يعني دا چې هره ولسوالۍ کولای شي په ولايتي شورا کې يو تن استازی ولري؛ خو که يې نفوس زيات وي، کولای شي د خپلو استازو شمير دوه يا درې تنو ته لوړ کړي. دغه استازي به د خپلې حوزې خلکو ته حساب ورکوي. په اوسني نظام کې داسې هيڅ ضمانت نشته چې ولايتي شورا کې به د ولايت له هرې ولسوالۍ څخه غړي موجود وي.

## ۵،۸ د ټاکنو سيستم

| شورا | د ټاکنو سيستم |
|---|---|
| ولايتي شورا | ګن کسيزه انتخاباتي حوزه- واحده نه ليږديدونکې رايه. هغه کس چې زيات شمير رايې بې ترلاسه کړې وي؛ ټاکل کيږي. د ولايتي شورا د ټاکنو په لومړي پړاو کې يو پر څلورمه برخه څوکۍ د هغو ښځينه نوماندو لپاره، چې زياتې رايې بې ترلاسه کړې وي، په پام کې نيول کيږي. په دويم پړاو کې هغه نوماند کسان چې زياتې رايې بې ګټلې دي، د پاتو څوکيو لپاره ټاکل کيږي. |
| د ولسوالۍ شورا | ګن کسيزه انتخاباتي حوزه - واحده نه ليږديدونکې رايه. هغه کس چې زيات شمير رايې بې ترلاسه کړې وي، ټاکل کيږي. په لومړي پړاو کې يو پر |

| | |
|---|---|
| | څلورمه برخه څوکۍ د هغو ښځینه نوماندو لپاره چې زیاتې رایې یې ترلاسه کړې دي؛ په پام کې نیول کیږي. په دویم پړاو کې هغه نوماند کسان چې زیاتې رایې یې ګټلې دي، د پاتو څوکیو لپاره ټاکل کیږي. که چیرې ښځو ته د بیلو شوو څوکیو په اندول ښځینه نوماندانې موجودې نه وي، نو په دې وخت کې د هغوې څوکۍ د هغوی له برخې ایستل کیږي. |
| د کلي شورا | ګڼ کسیزه انتخاباتي حوزه - واحده نه لیږدیدونکې رایه. هغه کس چې زیات شمیر رایې یې ترلاسه کړې وي ټاکل کیږي. |
| ښاروال | د ښاروالانو د ټاکنو لپاره هغه نوماند چې له٪۵۰څخه زیاتې رایې یې ترلاسه کړې وي ګټونکې بلل کیږي. که چیرې هیڅ یو نوماند په لومړي پړاو کې له ٪۵۰ څخه زیاتې رایې ترلاسه نکړي؛ نو د دوو هغو کسانو ترمنځ چې، د رایو شمیرلو په لومړي پړاو کې یې تر ټولو ډیرې رایې ګټلې وي؛ د لومړي پړاو د پایلو له اعلان وروسته، د دوه اونیو په موده کې، دویم ځل ټاکنې ترسره کیږي. د ټاکنو دا پړاو یوازې او یوازې د هغو دوه کسانو ترمنځ چې په لومړي پړاو کې یې تر ټولو زیاتې رایې ګټلې دي، ترسره کیږي. هغه نوماند چې په دویم پړاو کې زیاتې رایې وګټي؛ ګټونکې پیژندل کیږي. |
| د ښاروالیو شورا | د ښارګوټي یا ښار په کچه ګڼ غړي لرونکې حوزه، واحده نه لیږدیدونکې رایه. د تر ټولو زیاتو رایو وړونکې کاندیدان به ګټونکې وي. د ښاروالۍ شورا د ټاکنو په لومړي پړاو کې به لږ تر لږه یو پر څلور څوکۍ د هغو ښځینه کاندیدانو لپاره ځانګړې کیږي چا چې تر ټولو زیاتې رایې ګټلې دي. په دویم پړاو کې به هغه کاندیدانې چې تر ټولو زیاتې رایې یې ګټلې دي د پاتې څوکیو لپاره ټاکلې کیږي |

## ۵،۹. د بیلابیلو ټاکنو اصول او مقررات

ا. د ولایتي شورا ګانو لپاره څوکۍ په لاندې توګه بیلې شوې دي:

(۱) د ولایتي شورا ګانو لپاره څوکۍ د هر ولایت د نفوسو پر اساس په لاندې توګه ټاکل کیږي:

- هغه ولایتونه چې د وګړو شمیر یې له ۵۰۰،۰۰۰ څخه لږ دی: ۷ غړي
- هغه ولایتونه چې د وګړو شمیریې له ۵۰۰،۰۰۰ څخه تر ۱۰۰۰،۰۰۰پورې دی: ۱۳ غړي
- هغه ولایتونه چې د وګړو شمیر یې له ۱۰۰۰،۰۰۰ څخه تر ۲۰۰۰،۰۰۰ پورې دی: ۱۹ غړي
- هغه ولایتونه چې د وګړو شمیر یې له ۲۰۰۰،۰۰۰ څخه تر ۳۰۰۰،۰۰۰ پورې دی: ۲۵ غړي
- هغه ولایتونه چې د وګړو شمیریې له ۳۰۰۰،۰۰۰ څخه زیات دی: ۳۱ غړي

**(۲) په هغو ولایتونو کې چې د کوچیانو تګ راتګ زیات دی، نو د کوچیانو لپاره څوکۍ د هغوی د نفوس په تناسب په پام کې نیول کیږي.**

## II. د ولسوالۍ د شورا ګانو لپاره څوکۍ په لاندې توګه په پام کې نیول کیږي:

**(۱) د هرې ولسوالۍ د شورا د غړو شمیر د هغې ولسوالۍ د نفوس په تناسب په لاندې ډول ټاکل کیږي:**

- هغه ولسوالۍ چې د وګړو شمیر یې د۲۰،۰۰۰ څخه کم دی: ۵ غړي
- هغه ولسوالۍ چې د وګړو شمیر یې له ۲۰،۰۰۰ څخه تر ۴۰،۰۰۰ پورې دی: ۷ غړي
- هغه ولسوالۍ چې د وګړو شمیر یې له ۴۰،۰۰۰ څخه تر۶۰،۰۰۰ پورې دی: ۹ غړي
- هغه ولسوالۍ چې د وګړو شمیر یې له ۶۰،۰۰۰ څخه تر ۸۰،۰۰۰ دی: ۱۱ غړي
- هغه ولسوالۍ چې د وګړو شمیر یې له ۸۰،۰۰۰ څخه تر۱۰۰،۰۰۰ پورې دی: ۱۳ غړي
- هغه ولسوالۍ چې د وګړو شمیر یې له ۱۰۰،۰۰۰ څخه زیات دی: ۱۵ غړي

(۲) په هغو ولسوالیو کې چې د کوچیانو تګ راتګ زیات دی، د کوچیانو لپاره د هغوی د نفوس په تناسب څوکۍ په پام کې نیول کیږي.

**III. د کلیو د شورا ګانو لپاره څوکۍ په لاندې توګه ټاکل کیږي:**

**(۱) د کلي د شورا د غړو شمیر، د نفوسو په تناسب په لاندې ډول ټاکل کیږي:**

۱.هغه کلي چې د وګړو شمیر یې له ۱۰۰ څخه تر ۳۰۰ پورې وي: ۳ غړي
۲. هغه کلي چې د وګړو شمیر یې له ۳۰۰ څخه تر ۵۰۰ پورې وي: ۵ غړي
۳. هغه کلي چې د وګړو شمیر یې له ۵۰۰ څخه تر ۷۰۰ پورې وي: ۷ غړي
۴. هغه کلي چې د وګړو شمیر یې له ۷۰۰ څخه تر ۱۰۰۰ پورې وي: ۹ غړي
۵. هغه کلي چې د وګړو شمیر یې له ۱۰۰۰ زیات وي: ۱۱ غړي

**(۲)** په هغو کلیو کې چې د کوچیانو تګ راتګ زیات وي، د هغو کوچیانو لپاره څوکۍ، د هغوی د نفوس په تناسب په پام کې نیول کیږي.

**IV د ښاروالیو شورا ګانو لپاره څوکۍ په لاندې توګه په پام کې نیول کیږي:**

۱. د ښاروالۍ هره شورا باید لږ ترلږه پنځه څوکۍ ولري

۲. هغه ښاروالۍ په ناحیو نه وي ویشل شوې، د ښاروالۍ شورا د څوکیو شمیره یې لږ ترلږه اوه وي. ددغو څوکیو لپاره باید د نوموړي ښار له ټولو برخو څخه، ښاریان خپل استازي وټاکي. له دغو څوکیو څخه دوې به یې د ښځو لپاره ځانګړې شوې وي

۳. هغه ښارونه چې یوازې یوه ناحیه لري، د ښاروالیو د شوراګانو لپاره به اووه څوکۍ ولري. ددغو څوکیو لپاره باید د نوموړي ښار له ټولو برخو څخه، ښاریان خپل استازي وټاکي. له دغو څوکیو څخه دوې به یې د ښځو لپاره ځانګړې شوې وي

۴. هغه ښاروالۍ چې دوې یا زیاتې ناحیې ولري؛ نو د ښاروالۍ د شورا د څوکیو ټول شمیر او د ښځو لپاره د ځانګړو شویو څوکیو شمیر به یې له لاندې جدول سره سم وي. د ښاروالۍ د شورا غړي به په ټول ښاریا ښارګوټي کې د جوړو شویو ټاکنیزو حوزو له مخې د یوې واحدې نه لیږدول کیدونکې رایې له لارې ټاکل کیږي. هر هغه کاندید چې زیاتې رایې وګټي، به ګټونکی بلل کیږي

| په ښاروالیو کي د ناحیو شمیر | په ښاروالیو کي د څوکیو شمیر | د ښار په کچه ټاکنیزې حوزې | د ښځو لپاره ځانګړې شوې څوکۍ چې انتخابي حوزه یې ټول ښار دی | د ښځو لپاره د بیلو شویو څوکیو سلنه یا فیصدي |
|---|---|---|---|---|
| ۰ | ۷ | ۷ | ۲ | ۲۹٪ |
| ۱ | ۷ | ۷ | ۲ | ۲۹٪ |
| ۲ | ۷ | ۷ | ۲ | ۲۹٪ |
| ۳ | ۷ | ۷ | ۲ | ۲۹٪ |
| ۴ | ۷ | ۷ | ۲ | ۲۹٪ |
| ۵ | ۷ | ۷ | ۲ | ۲۹٪ |
| ۶ | ۹ | ۹ | ۳ | ۳۳٪ |
| ۷ | ۹ | ۹ | ۳ | ۳۳٪ |
| ۸ | ۱۱ | ۱۱ | ۳ | ۲۷٪ |
| ۹ | ۱۳ | ۱۳ | ۴ | ۳۱٪ |
| ۱۰ | ۱۳ | ۱۳ | ۴ | ۳۱٪ |
| ۱۱ | ۱۵ | ۱۵ | ۴ | ۲۷٪ |
| ۱۲ | ۱۷ | ۱۷ | ۵ | ۲۹٪ |
| ۱۳ | ۱۷ | ۱۷ | ۵ | ۲۹٪ |
| ۱۴ | ۱۹ | ۱۹ | ۵ | ۲۶٪ |
| ۱۵ | ۱۹ | ۱۹ | ۵ | ۲۶٪ |
| ۱۶ | ۲۱ | ۲۱ | ۶ | ۲۹٪ |
| ۱۷ | ۲۳ | ۲۳ | ۶ | ۲۶٪ |
| ۱۸ | ۲۳ | ۲۳ | ۶ | ۲۶٪ |
| ۱۹ | ۲۵ | ۲۵ | ۷ | ۲۸٪ |
| ۲۰ | ۲۷ | ۲۷ | ۷ | ۲۶٪ |
| ۲۱ | ۲۹ | ۲۹ | ۸ | ۲۸٪ |
| ۲۲ | ۲۹ | ۲۹ | ۸ | ۲۸٪ |
| ۲۳ | ۲۹ | ۲۹ | ۸ | ۲۸٪ |
| ۲۴ | ۳۱ | ۳۱ | ۸ | ۲۶٪ |
| ۲۵ | ۳۳ | ۳۳ | ۹ | ۲۷٪ |

د کابل ښاروالی د څوکیو شمیر به له پورته فورمول سره سم ددغې ښاروالۍ له خوا د خپلو ناحیو د شمیر په هکله د ورکړل شویو معلوماتو پر بنسټ ټاکل کیږي.

## ۶. د ټاکل شویو او انتصابي سیمه اییزو چارواکو لپاره کړندود

د ټاکل شویو سیمه اییزو اړوندانو او انتصابي ملکي کارکوونکو لپاره کړندود او اخلاقو اصول په **۱ او ۲ ضمیمو** کې شامل دي. د دا راز کړندودونو معرفي کول، د ټاکل شوو چارواکو او اړوندانو او همدا شان نورو ملکي کارکوونکو لپاره د ښې اداري د اساساتو په توګه اړین؛ مګر د داسې صادقو ملکي اړوندانو د درلودلو لپاره چې د ښې حکومتوالۍ د اوصولو د لا پیاوړتیا په خاطر له هیڅ راز هڅو څخه ځانونه ونه سپوي، کافي ندي. د دغو کړندودونو د لا پیاوړتیا لپاره اړینه ده، له ځینو نورو میکانیزمونو څخه هم ګټه واخیستل شي.
کړندودونه په ټوله نړۍ کې، په بیلابیلو ډولونو د ملکي خدمتونو په برخه کې پلي شوي دي. د یوه اغیزمن کړندود د جوړولو او پلي کولو لپاره اړینه ده، چې دوامداره مسلکي روزنیز پروګرامونه، اغیزمن اداري مدیریت او د سیاسي او اداري چارواکو لخوا ځواکمنه رهبري په پام کې ونیول شي. د دا راز کړندودونو لاسلیک او پلي کول، د هر ټاکل شوي او انتصابي سیمه اییز چارواکي لپاره خورا د اهمیت وړ بلل کیږي. یو کړندود لاندې اساسات په پام کې نیسي:

- د عامه ګټو ساتنه،
- رونبوالی یا شفافیت،
- صداقت،
- مشروعیت،
- تناسب،
- مسؤلیت پیژندنه،
- او اغیزمنتیا درلودل.

ددغه کړندود د پلي کولو په خاطر دکارکوونکو د هڅوني لپاره، د لاندې فعالیتونو ترسره کول اړین دي:

- د یوه اخلاقي چاپیریال شتون؛ ترڅو مسلکي مسؤلیت پیژندنه، انضباط او د قانون او مقرراتو د رعایت روحیه پیاوړې کړي. دغه راز چاپیریال کیدای شي د یوه اغیزمن قانون د شتون په وخت کې رامنځته شي؛ ترڅو ملکي کارکوونکي د قانوني لاملونو(دلیلونو) له مخې پریکړې وکړي.

- د اداري پړاونو او کړنلارو شتون، د کړنو او اجرااتو د څېړنې لپاره، د اغیزمنو تخنیکونو په شان، د اخلاقي ارزښتونو د پیاوړتیا لامل بلل کیږي
- د مدیریت او اداري تګلارې کارول، هم ټاکل شوي چارواکي او هم کارکوونکي د فساد او ناقانونه کړنو د مخنیوي په برخه کې هڅوي
- د بشري ځواك د تنظیم او مدیریت د داسې ستراتیژیو کارول، چې اخلاقي کړنې له پرمختګونو او غیراخلاقي کړنې له مجازاتو او قانوني غبرګون سره مخ کوي
- د کړندود ښوونه، لکه د اخلاقیاتو د اساساتو پلي کول، د رسمي صلاحیت سمه کارونه او د مسلکي مسؤلیت غوښتنې

## ۷. د والي، د والي د مرستیال او ولسوال ټاکنه

د والیانو ټاکنه به همدارنګه سیاسي وي. د ولسوالانو ټاکنې، د لوړ پوړیو چارواکو د مقررولو عالي بورد لخوا ترسره کیږي. دغه بورد ته دا دنده د افغانستان تړون(لندن پریکړه لیک) او د جمهوري ریاست د مقام د ۲۴۲۱/۲۰۰۶ او ۶۷۷/۲۰۰۸ګڼو حکمونو پر بنسټ ورکړل شوې، دا حکمونه په ترتیب سره د جګپوړو دولتي چارواکو د مقرریو لپاره د یو مشورتي میکانیزم د جوړولو او د لوړ پوړیو چارواکو د مقررولو عالي بورد د مقرراتو او کړنلارو په اړه صادر شوی دي. د لوړ پوړیو چارواکو د مقررولو عالي بورد به له والیانو پرته د ټولو هغو څوکیو لپاره کاندیدان چې د افغانستان په تړون کې په ګوته شوي، ترڅېړنې او کتنې لاندې نیسي. دغه راز څېړنه ځنګه چې د افغانستان په تړون او د مشورتي میکانیزم د جوړولو په اړه د جمهوري ریاست په حکم کې راغلي، د پریکړو په اغیزمنتیا او دغه شان د پیاوړو او تجربه لرونکو ولسوالانو د ګمارنې په کار کې بشپړه مرسته وکړي. د لوړ پوړیو چارواکو د مقررولو عالي بورد خپل کار د هغو مقرراتو او کړنلارو له مخې، چې د ولسمشر لخوا منظور شوي، ترسره کوي

د ولسوالانو د مقررولو د بهیر تر تیب به لاندې ډول وي:

۱. د سیمه ایزو اورګانونو خپلواکه اداره د لوړ پوړیو چارواکو د مقررولو عالي بورد ته د بالقوه نوماندو لست ورکوي

۲. د لوړ پوړیو چارواکو د مقررولو عالي بورد د ۳۰ ورځو په ترڅ کې د نوماندو د څېړنې پړاونه بشپړوي

۳. بورد به د وړتیا لرونکو کاندیدانو لست ولسمشر ته وړاندې کوي
۴. د سیمه ایيزو اورګانونو خپلواکه اداره به له ولسمشر سره د هغو نوماندو په هکله چې د والي د مرستیال او ولسوال څوکیو ته د بورد لخوا د وړتیا لرونکو کسانو په توګه پېژندل شوي، مشوره وركړي
۵. ولسمشر به د ولسوال څوکۍ لپاره د هغو نوماندو له ډلي څخه چې د لوړ پوړیو چارواکو د مقررولو عالي بورد لخوا د ډيرې وړتیا لرونکو په توګه پيژندل شوي، غوره کسان وټاکي

د ولسوالانو د مقررۍ بهیر به دغه ځانګړتیاوې ولري : د مقرریو عالي بورد ته کره معلومات وړاندې کول، د بهیر رونوالی، د بهیر د حد اقل معیارونو په پام کې نیول، د مقررولو لپاره پر واقعیت ولاړ یو شان اصول

د والي مرستیال به د یوې پرانستې سیالۍ په پایله کې د وړتیا له مخې د مقررولو د بورد ، چې اوس مهال د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو له خپلواک کمیسیون سره یوځای کار کوي، له لارې غوره او مقرریږي.

## ۸. په سیمه ایيزه کچه د امنیت سمون

د افغانستان ملي پولیس د اساسي قانون ساتونکي او د افغانستان د ټولو اوسیدونکو د حقونو د ملاتړ په غرض د موجوده قوانینو نافذونکي دي. پولیس خپلې دندې په مسلکي معیارونو ولاړې، له تبعیض څخه پرته، په حساب ورکونکي او باوري توګه سرته رسوي.

د افغانستان ملي پولیس دنده لري چې قانون پلی کړي. پولیس له خلکو سره یو ځای کار کوي؛ ترڅو وکولای شي د جرمونو پرضد په فعاله او کارنده توګه مبارزه وکړي، په تیره بیا هغه جرمونه چې د ښځو، ماشومانو، بوډاګانو او قومي لږکیو پرضد کیږي. همدارنګه پولیس دنده لري چې له بې نظمۍ، ترهګرۍ، ناقانونه وسله والو فعالیتونو، د نیشه یي توکو د کښت، تولید او قاچاق او اداري فساد او درغلۍ پرضد مبارزه وکړي. پولیس به د هیواد د ملي حاکمیت او سرحدي پولو ساتنه کوي.

پولیس د خلکو خدمتګار دي. پولیس به له خلکو سره په دې ډول چلند کوي چې د هغوی همکاري، باور او درناوی را جلب کړي. پولیس به خپلې دندې له هر ډول توپیر څخه پرته، اسلامي اوصولو ته په درناوي او ملي دودونو او همدارنګه جنسیتي ارزښتونو په پام کې لرلو

سره سرته رسوي. پوليس به خپلې دندې د بشري حقونو له نړيوالو اوصولو، ولسواکۍ او دغه راز د قانون د حاکميت اوصول چې د حکومت لخوا منل شوي دي، سره په پوره سمون کې مخته وړي. پوليس به خپل ټول قانوني وسايل او ځواک له قانون سره سم کاروي. د پوليسو اجراات به قانوني، متناسب او د اړتيا له مخې وي.

پوليس به د خپلو اجرااتو او کاري سرچينو په اړه چې په واک کې يې دي؛ په رڼه او ښکاره توګه حساب ورکوي. امنيه قومندانان او د پوليسو نور چارواکي به د هغو اړوندانو پرضد چې د داخل خدمت له اوصولنامې څخه سرغړونه کوي، له انضباطي تدبيرونو څخه کار اخلي. له قانون څخه د سرغړونې په وخت کې به د څارنوالی او محکمو لخوا د سرغړونکو اړوندانو پرضد قانوني چلند کيږي. پوليس به مسلکي او با دسپلينه چلند ولري؛ صداقت، ناپيلتوب، حقيقت پالنه، حساب ورکول، شفافيت او خلکو ته نيږدې والی به د پوليسو له ښکاره نښو څخه وي.

## د واليانو او پوليسو ترمنځ د اړيکو پياوړي کول

د واليانو او پوليسو ترمينځ د اړيکو د ښه کولو لپاره اړينه ده چې د واليانو او سکتوري وزارتونو ترمينځ اړيکې روښانه وي. د اوسنيو اصلاحاتو او سمونونو له بنستيزو ټکو څخه يو هم دادی چې د واليانو ورتياوې او ظرفيتونه لوړ شي؛ ترڅو دوی وکولای شي په ولايتونو کې د وزارتونو له دويمه درجه واحدونو سره خپل اقدامات همغږي کړي؛ خو دا چاره بايد ددې سبب نشي چې واليان د کورنيو چارو او نورو سکتوري وزارتونو په ورځنيو چارو کې دومره بوخت شي چې د ولايتونو نورې اړينې چارې په ټپه ودريږي. د پوليسو او د سيمه اييزو ادارو په قوانينو کې نور ښه والی او څرګندتيا او د هغو پلي کول؛ يادې شوې موخې ته د رسيدلو لپاره ډېر اړين دي. يو بل اړين ټکی چې کولای شي، د افغان ملي پوليسو په خدمتونو کې ښه والی راولي، دادی چې د پوليسو مقررئ بايد يوازې د وړتيا او لياقت پر بنسټ ولاړې وي او د والي په ګډون د هيڅ بلې کړئ لخوا پکې لاسوهنه ونشي.

- د پوليسو د قانون ۴ مه ماده به په دا ډول نوې شي؛ ترڅو چې پوليس مکلف کړي چې خپلې دندې په مرکز کې د کورنيو چارو وزارت تر مشرئ، لارښوونې او څارنې لاندې او په ولايتونو او ولسواليو کې د واليانو او ولسوالانو ترلارښوونې او څارنې لاندې ترسره کړي. واليان دنده لري ترڅو د پوليسو او د ملي امنيت د ادارو فعاليتونه په ولايت او ولسوالان بې په ولسواليو کې همغږي او تنظيم کړي. پوليس به د واليانو او ولسوالانو لخوا د ورکړل شويو لومړيتوبونو او لارښوونو پيروي کوي؛ خو د امنيې قومندانان به د تشکيلاتو او عملياتو کنټرول او واک له خپل ځان سره خوندي ساتي.

- **د سیمه ایيزو ادارو قانون**: لکه څنګه چې پورته یادونه وشوه، د سیمه ایيزو ادارو په قانون کې به دندې او صلاحیتونه د والیانو او ولسوالانو ترمنځ، د ښې همغږۍ په موخه، تربیا کتنې لاندې ونیول شي. د والیانو د دندو څرنګوالې به د ولایتي بیلابیلو ادارو سره د امنیتي سکټور په ګډون د اغیزمنو اړیکو په ټینګولو کې مرسته وکړي
- والیان د پولیسو اړوندانو د مقررۍ په برخه کې لاس نلري. د پولیسو ټولې مقررۍ د وړتیا پربنسټ، د یوې رڼې پروسې له لارې ترسره کیږي

## د ملي پولیسو د اغیزمنتیا پیاوړي کول

- د وړتیا پر بنسټ د پولیسو د ګمارلو په بهیر کې به هیڅ راز لاس وهنې ته اجازه ورنکړل شي

- د پولیسو په ځانګه کې د نوماندو(کاندیدانو) څیړنه اړینه ده، د هغوی په څیړنه کې هر راز لاس وهنه د جزا وړده
- له ملي پوځ سره د پولیسو د تنخواګانو د کچې برابرول، د پولیسو په اداره کې د فساد د مخنیوي لپاره یو ښه ګام دی

- د قاضي القضات ښاغلي عبدالسلام عظیمي ترمشرۍ لاندې ګمارل شوي کمیسیون د فساد ضد او اداري اصلاحاتو لپاره یوه ستراتیژي چمتو کړه. حکومتي کابینې د کمیسیون راپور منظور کړ او همدا شان د اداري فساد او درغلۍ په وړاندې د نوموړې ستراتیژۍ د پلي کولو د څارنې قانون هم د ملي شورا لخوا منظور شو. په دغه ستراتیژۍ کې د پولیسو په سکټور او د دولت په ټولو ادارو کې د فساد پر ضد د ځانګړې کړنلارې ځایول شامل دي. د کورنیو چارو وزارت، د ولایت او ولسوالیو ادارې به د اداري فساد په وړاندې د مبارزې قانون پلی کړي. د کورنیو چارو وزارت او ولایتي او د ولسوالیو ادارې به د اداري فساد پر ضد د څارنې او ارزونې د ستراتیژۍ قانون په پوره ډول سره پلی کړي

**خلکو ته د پولیسو لخوا ښه حساب ورکول**

خلکو ته د پولیسو لخوا د حساب ورکولو په چاره کې ښه والی راوستل، د پولیسو د کړنو د اصلاح او سمون لپاره یو اړین ګام بلل کیږي.

د پولیسو د کړندود مسوده په دې وروستیو کې چمتو شوې چې د دې کړندود له مخې د پولیسو لومړنی دنده د افغانستان خلکو ته خدمت کول دي. همداشان دغه سند د پولیسو ټولې دندې او مسؤلیتونه په ګوته کوي. دغه کړندود داسې یو میکانیزم وړاندې کوي چې د هغې له مخې پولیس د خپلو دندو په وړاندې مسؤل او حساب ورکونکي بلل کیږي.

- دغه کړندود به له قانون او مقرراتو سره د سمون په موخه تربیا کتنې لاندې ونیول شي. دغه کړندود به په اصولو، ارزښتونو، معیارونو او مقرراتو یو سمبال سند وي؛ ترڅو پولیس وکولای شي د هغه له مخې داسې پریکړه وکړي، چې د دواړو غاړو هم د پولیسو او هم د خلکو په ګټه وي او له بله پلوه د عامو وګړو حقونه هم پکې خوندي وي
- د پولیسو د کړندود د پلي کولو لپاره به یو لړ میکانیزمونه چمتو او وکارول شي

د شکایتونو د وړاندې کولو لپاره د ۱۱۹ شمیرې میکانیزم رامینځ ته کیدل یو مهم او ارزښتناک نوښت دی.

- د ۱۱۹ شمیرې میکانیزم به لومړی لویو سیمو، ښاروالیو او وروسته د مالي سرچینو د شتون په وخت کې ولایتونو ته وغځول شي
- څرنګه چې د هیواد زیات شمیر اوسیدونکي تیلفون ته لاس رسی نلري؛ نو د هغوی لپاره به ځیني نورې لارې رامنځته شي؛ ترڅو وکولای شي خپل شکایتونه او ستونزې وړاندې کړي. همدا شان خلك به وپوهول شي چې کولای شي، خپل شکایتونه په لیکلي او شفاهي توګه ولایتي شورا ته وړاندې کړي. ولایتي شورا مسؤلیت لري؛ ترڅو شکایتونه د کورنیو چارو وزارت اړوندې څانګې ته، چې د خلکو د شکایتونو د حل او هاوارئ دنده پر غاړه لري، وړاندې کړي.
- اداري اصلاحات به د کورنیو چارو په وزارت کې ترسره شي؛ ترڅو داډ پیدا شي چې شکایتونو ته له قانون سره سم په مسولانه ډول پام کېږي او په ناپیلي ډول او پوره شفافه توګه تر غور لاندې نیول کیږي. یو خپلواك کمیسیون به د کورنیو چارو وزارت ته د رارسیدلو شکایتونو د څیړنې لپاره رامنځته شي. د دغه کمیسیون د ناپیپلتوب او خپلواکئ د ډاډمنه کولو لپاره به یوه جلا بودجه په پام کې ونیول شي؛ ترڅو کمیسیون وکولای شي

خپلې دندې په سمه توګه ترسره کړي. په دغه کميسيون کې به د مدني ټولنې استازی هم شامل وي

## ۹. په دولتي سيمه اييزو ادارو کې اسانتياوې

دولت به په ټولو ټاکل شوو شورا ګانو، دولتي ادارو او ښاروالیو کې شته آسانتياوې ترکتنې لاندې ونيسي. د ۱۳۹۲ کال ترپايه (د ۲۰۱۳ د مارچ تر۲۰) به ټولې ټاکل شوې شوراګانې، سيمه اييزې دولتي ادارې او ښاروالی لومړنی آسانتياوې لکه پوره ځای او ودانی، د ښځو لپاره تشنابونه، د ماشومانو د پالنې مرکزونه (وړکتونونه)، کمپيوټرونه، مخابراتي وسايل او فرنيچر، په واك کې ولري. ملي او سيمه اييز لوړ پوړي چارواکي به له کافي ترانسپورتي اسانتياوو څخه برخمن وي؛ ترڅو وکولای شي د خپل مسوليت په ساحه کې اړمنو خلکو ته په وخت ور ورسيږي. همداشان دولت به د دولتي ادارو د بيلابيلو فعاليتونو لپاره کافي مالي امکانات برابرکړي. له دې کبله دولت به د ټولو دولتي ادارو فعاليتونه او اجراأت هغوی ته د فزيکي اسانتياوو، مخابراتي وسايلو او نورو لګښتونو د برابرولو له لارې، پياوړي کړي.

## ۱۰. کليو، ولسواليو او ولايتونو ته د مسؤليتونو ويش او سپارل

د مسؤليتونو ويش او تفويض د خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې لويه آسانتيا او اغيزمنتيا رامنځته کوي، همداشان له دې لارې کيدای شي هغه کسان چې د خدمتونو د وړاندې کولو مسؤليت پر غاړه لري، مرستو ته د اړمنو کسانو د په ګوته کولو په چارو کې ښه تصميم ونيسي. خدمتونه هغه وخت د ډيرې اغيزمنتيا لرونکي بلل کيږي چې خلکو ته د ډيرو نيږدې دولتي ادارو لخوا وړاندې شي. په دې توګه کيدای شي د خدمتونو په وړاندې کولو کې حساب ورکول باوري شي.

د سکټوري وزارتونو واکونه به د وخت په تيريدو سره ورو ورو د هغو دويمو او دريمو درجه واحدونو ته داسې ليږدول کيږي:

- د لومړنيو زده کړو په اړه د پاليسي جوړولو د چارې ډيره برخه به له مرکز سره وي، په داسې حال کې چې ددغې پاليسی د پلي کولو چارې به ولايتونو او ولسواليو ته ليږدول کيږي او څارنه او ساتنه به يې کليو ته سپارل کيږي.

- د منځنيو زده کړو په اړه د پاليسي جوړولو د چارې ډيره برخه  به له مرکز سره وي، په داسې حال کې چې د دغې پاليسۍ د پلي کولو چارې به ولايتونو ته سپارل کيږي
- د روغتيايي کلينيکونو او روغتونونو په اړه د پاليسي جوړولو د چارې ډيره برخه  به له مرکز سره وي، په داسې حال کې چې د دغې پاليسۍ د پلي کولو د چارې ډيره برخه  به له مرکز سره وي. د ساتنې چارې به يې کليو ته سپارل کيږي

د عامه ټرانسپورت د پاليسي جوړول د چارې ډيره برخه  به له مرکز سره وي، په داسې حال کې چې د دغې پاليسۍ د پلي کولو تقريباً ټولې چارې به ولايتونو او ښارواليو ته ورکړل شي

- د ولايتي سړکونو د جوړولو د پاليسي د چارې ډيره برخه  به له مرکز سره وي، په داسې حال کې چې د دغې پاليسۍ د پلي کولو ډيرې چارې به ولايتونو ته ورکړل شي
- د سيمه اييزو يا فرعي سړکونو د جوړولو د پاليسۍ د پلي کولو دندې به ولايتونو ته ورکړل شي. ددغې پاليسۍ د پلي کيدو، ساتنې او د ساحو د ټاکلو د واك يوه برخه به ولسواليو او کليو ته ورکړل شي

د خصوصي سکټور د پرمختيا د پاليسي جوړولو د چارې ډيره برخه  به له مرکز سره وي، او پلي کيدلو چارې به يې ولايتونو او ولسواليو ته ورکول کيږي


- د کرهنې د پرمختيا د پاليسي جوړولو د چارې ډيره برخه  به له مرکز سره وي او پلي کيدل به ولايتونو او ولسواليو ته سپارل کيږي
- د طبيعي سرچينو د مديريت د پاليسي جوړولو د چارې ډيره برخه به له مرکز سره وي او ددغې پاليسۍ پلي کيدل به ولايتونو او ولسواليو چاره وي. د پاليسۍ د تطبيق يوه برخه به کليو ته هم ورکړل شي
- د ناورين او طبيعي پيښو د مديريت پاليسي د جوړولو د چارې ډيره برخه  به له مرکز سره وي او پلي کيدل به يې د ولايتونو، ولسواليو او کليو لخوا ترسره کيږي
- د ټولنيز خونديتوب د پاليسي جوړولو د چارې ډيره برخه  به له مرکز سره وي او پلي کيدل به يې د ولايتونو او ولسواليو ته سپارل کيږي. کلي هم کولای شي د مالي مرستو او هستوګن ځايونو د برابرولو له لارې په دې بهير کې برخه واخلي
- د بديل معيشت د پاليسي جوړول او پلي کول به ولايتونو ته تفويض شي؛ خو د دغې پاليسۍ د پلي کيدو يوه برخه چارې به ولسواليو ته هم ورکړل شي. کلي هم کولای شي د ساحو او د مرستې د څرنګوالي په ټاکلو کې برخه واخلي
- د نيشه يي توکو د له مينځه وړلو د پاليسي جوړول په مرکز(کابل) پورې تړاو لري؛ خو ددغې پاليسۍ د پلي کولو لويه برخه به ولايتونو او ځينو ولسواليو کار وي. له کر مخکې پروګرامونو د پلي کولو چارې به کليو ته هم ورکړل شي

- د اوبو رسولو د پاليسي جوړول په کابل پورې تړاو لري خو د دغې پاليسۍ د پلي کيدو يوه برخه به ولايتونو او ښاروالیو ته ورکړل شي. په داسې حال کې چې د ماليو او ټکسونو د راټولو چارې به ښاروالۍ او کليو کاروي
- د ککړو اوبو او ناپاکيو د ويستلو د پاليسي جوړول به د مرکزکار وي، او د پلي کولو دندې به يې ولايتونو او ښاروالیو ته ورکړل شي، ددغې چارې د فعال ساتلو او څارلو چارې به ښاروالیو او کليو ته ورکړل شي
- د تفريحي اسانتياوو د پاليسي جوړولو او پلي کولو واک به ولايتونو او ښاروالیو ته ورکړل شي او د ساتنې چارې به يې ښاروليو او کليو ته سپارل کيږي


د بيلابيلو وزارتونو د پاليسۍ ريئسانو د مسؤليتونو د تفويض او ويش په اړه خپل نظرونه وړاندې کړي دي، چې ددغه سند په VIII څپرکي کې د (ډله ييز کار د تحليل: د تفويض لارې) ترعنوان لاندې راغلي دي

# لومړنی ښوونځي‌په مرکز کي د پالیسی جوړول او په ولایتونو کي د هغې پلې کول


## د پالیسي جوړولو د واك سپارل





## د تدارکاتو، لګښت او پلې کولو په برخو کې واك سپارل




# په ولایتونو کې کوچني سړکونه:په ولایتونو کې د پالیسی جوړول او پلې کول







# کرهنیزه وده‌په مرکز او ولایتونو کې د پالیسی جوړول او په ولایتونو کې د هغو پلې کول

## د پالیسی جوړولو د واك سپارل




## د تدارکاتو، لګښت او پلې کولو په برخو کې واك سپارل



## ۱۱. اوسني سيمه ايېز قلمروونه

افغانستان په  مرکزي آسيا کې يو پروت هيواد دی چې نيږدې ۶۵۲،۸۶۴ مربع کيلومتره مساحت لري. دا هيواد له شپږو هيوادونو سره ګډه پوله لري:

| ګاونډي  هيوادونه | پوله | د پولې اوږدوالی په کيلومتر |
|---|---|---|
| پاکستان | ختيځ او سهيل ختيځ | ۲۴۳۰ کيلومتره |
| ايران | لويديځ | ۹۳۶ کيلومتره |
| ترکمنستان | شمال لويديځ | ۷۴۴کيلو متره |
| ازبکستان | شمال | ۱۳۷ کيلو متره |
| تاجکستان | شمال ختيځ | ۱۲۰۶ کيلومتره |
| چين | ختيځ | ۷۶ کيلومتره |

د افغانستان له ۳۴ ولايتونو څخه نولس يې له ګاونډيو هيوادونو سره ګډه پوله لري. نو له دې کبله له نيمو څخه زيات ولايتونه بايد د قومونو قبايلو او سرحدي چارو وزارت له فعاليتونو سره مرسته وکړي. سربيره پردې دغه سرحدي ولايتونه له نورو وزارتونو لکه د ماليې، کورنيو چارو، او دفاع وزارتونو سره چې د هيواد له ګټو څخه د دفاع او د پولو د چارو په تنظيمولو کې بوخت دي، په ګډه کار کوي.


افغنستان ۳۴ ولايتونه، ۳۴ ولايتي مرکزونه او ۳۶۴ ولسوالۍ لري. هرات، جلال اباد، کابل، مزارشريف او ميمنه داسې ولايتي مرکزونه دي چې په خپل قلمرو کې هيڅ کلي نه لری. په داسې حال کې چې پاتې ۲۹ ولايتي مرکزونه په خپلو حدودو کې تر ۳۰۰ پورې کلي لري. (دغه معلومات کولای شو له III ضميمې څخه ترلاسه کړو.) دغه ضميمه درې جدولونه لري. لومړی جدول د ولايت نوم، په ولايت پورې اړوندې ولسوالۍ، د ولسواليو نفوس، او په ولسوالۍ کې د کليو شمير په ګوته کوي. دويم جدول د ۱۵۳ ښاروالیو نومونه او ددغو ښاروالیو په اړه په ۱۳۸۶ لمريز کال کې راټول شوي اساسي معلومات وړاندې کوي. دريم جدول د ښاروالیو د ناحيو نومونه (چيرته چې ناحيې شتون ولري) را پيژني. ناحيه د ښاروالۍ يو فرعي اداري واحد دی. ۲۷ ښاروالۍ په ټوليزه توګه ۱۲۱ ناحيې لري. پاتې ۱۲۶ ښاروالۍ دغه راز فرعي اداري واحدونه يعني ناحيې نلري.

د احصايې د مرکزي ادارې د اټکل له مخې د هیواد د وګړو شمیر د ۲۰۰۴ م.کال د جولای ترلومړۍ نیټې پورې ۲۳میلیونه ۵۶۵ زره او ۲۰۰تنه اټکل شوی دی. د افغانستان د نفوس ۱۳،۹٪ په کابل کې ژوند کوي (له هرو ۷ کسانو څخه ۱ یې په کابل کې ژوند کوي)، ۷٪ نفوس په هرات ولایت، ۶٪ په هلمند، ۵،۷٪ په ننګرهار، ۴،۹٪ په بلخ، او ۴،۷٪ په غزني ولایت کې هستوګنه لري.

د احصایې د مرکزي ادارې د معلوماتو پر بنسټ، ۸۰،۶٪ نفوس په کلیوالو سیمو کې او ۱۹،۴۰٪ یې په ښاري سیمو کې ژوند کوي. د افغانستان د کلیوالو اوسیدونکونفوس (د احصایې د مرکزې ادارې د ۲۰۰۴ کال د جولای د لومړۍ نیټې د اټکل له مخې) ۱۸،۹۸۵،۲۰۰ تنه اټکل شوی دی. کلیوال اوسیدونکي په۳۸۵۷۹ لویو او وړو کلیو کې هستوګنه کوي. په منځنی کچه د یوه کلي نفوس د ۳۰۹ تنو په شاوخوا کې دی. په دې معنا چې د کلیوالو خلکو نیږدې نیمایي برخه په داسې کلیو کې چې د نفوس شمیر یې ۳۰۹ تنه او یا ترهغې ټیټ دی ژوند کوي. پاتې دویمه نیمایي کلیوال خلك په داسې کلیو کې چې نفوس یې تر ۳۰۹ تنو زیات دی ژوند کوي. په افغانستان کې د کلي د نفوس منځنی حد ۴۸۱ تنو ته رسیږي. د احصایې د مرکزي ادارې د کورنی سروې د معلوماتو پر بنسټ د هرې افغاني کورنی منځنی شمیر ۳,۶ تنه دی.

**په بيلابيلو کليو کې د شمير له مخې د کليوالو وګړو د نفوس ويش په لاندې ډول دی:**

**په افغانستان کې د اندازې او طبقې له مخې د کليوالي اوسيدونکو ويش ۲۰۰۳-۲۰۰۵ کال**
**د کليو سليزه**




د هغې کورنی سروې له مخې چې په ۲۰۰۳ او ۲۰۰۵ کلونو کې د احصايې د مرکزي اداري لخوا ترسره شوې، له ۳۸۵۷۹ کليو څخه ۱۴۰۹ يې د بيلابيلو لاملونو لکه وچکالي، جنګ جګړو کې د ورانيدلو او ياهم په کليو کې د د دولتي تاسيساتو، رسمي ودانيو او هټيو د شتون له امله اوسيدونکي نلري. د مرکزې احصايې د ادارې د کورنی سروې د معلوماتو له مخې ۴۴۲ کلي تش او ۹۶۷ کلي وران دي، چې له دې مخې د کورنۍ سروې د سرته رسولو پر مهال ۳۷۱۷۰ کليو کې د وګړو د اوسيدلو اټکل شوی دی. که چيرې مونږ د ۷۹۳فرعي کليو شمير د کليو له مجموعي شمير څخه منفي کړو؛ نو د هغو کليو شمير چې په ۲۰۰۵-۲۰۰۳ کې يې اوسيدونکي لرل، ترلاسه کوو؛ چې دا شميره ۳۶۳۷۷ کليو ته رسيږي.

سره له دې چې دغه شميرې او ارقام ثابت نه دي او د ځينو لاملونو لکه کليو ته د خلکو بيرته راستنيدنه او ميشتيدنه او د ورانو او کنډواله کليو بيرته رغيدنه دغه شميره زياتولای شي. په دې اړه به معلومات په ۲۰۱۰ کال کې د سرشميرنې د پايلو تر اعلان وروسته، وړاندې شي.

## ۱۲. د نويو اداري واحدونو د جوړولو پاليسي

**زون او سيمې:**

د افغانستان په اساسي قانون کې د ولايت ترکچې لوړې دولتي ادارې لکه زون او سيمې نه دي په رسميت نه پيژني. وزارتونه په ځينو ځانګړو حالاتو کې د خپلو پلانونو او پروګرامونو د ښه پلي کولو په موخه اړ دي ځيني لوی اداري واحدونه وکاروي. د کرهنې او اوبو لګولو وزارت په پام کې لري چې يو لړ ځانګړې ستراتيژي ګانې د هيواد د بيلابيلو سيمو لپاره، چې بيلابيل اقليمي او د خاورې ځانګړتياوې لري، جوړې کړي. دولت ددغو سيمه ايزو ادارو د جوړولو پر اهميت پوهيږي، له همدې کبله بې د پرمختيايي، امنيتي، او دفاعي موخو لپاره دغه سيستم منلی؛ مګر هغه د هيواد د رسمي سياسي او اداري واحدونو په توګه نه پيژني.

### د ولايتونو د جوړولو په اړه پاليسي

ولايتونه زمونږ د تاريخ او سياست محصول او لاسته راوړني دي. نو له دې کبله د ولايت لپاره د کوم ډول تخنيکي تعريف او پيژندني کارول پرځای ندي. افغانستان تر نن مهاله ۳۴ ولايتونه لري. په بيلابيلو وختونو کې د نويو اداري واحدونو لکه ولايت، ولسوالی او ښاروالی جوړولو ته اړتيا ليدل شوې ده؛ خو د نوي ولايت ترجوړولو دمخه به دولت پرملي امنيت، ملي يوالي او ځمکني بشپړتيا باندې ددغې پريکړې د سياسي پايلو جاج اخلي.

### د ولسوالی د جوړولو په اړه پاليسي

د افغانستان ۳۴ ولايتونه په ۳۶۴ ولسواليو او ۳۴ ولايتي مرکزونو ويشل شوي دي. ځيني ولايتونه غير رسمي ولسوالی لري، چې د والي لخوا د قبيلوي سياست د ښه تنظيم او ډيرى وخت د خلکو د غوښتنو پراساس جوړې شوې دي. دغه ولسوالی د ولايت په کچه د پيژندلو وړ دي؛ نه د مرکز په کچه. د دا ډول ولسواليو د قانوني دريځ او اوسني شتوالي په اړه به وروسته پريکړه وشي. نوې ولسوالی له مالي پلوه هم د هيواد پرخزانه يو اضافي بوج دی. دولت بايد ددغو اضافي ولسواليو د موجوديت له امله د اوښتي لګښت او خدمتونو ته د خلکو اسانه لاس رسي او امنيتي حالاتو د ښه والي ترمينځ انډول وساتي. د نويو ښارواليو په اړه پاليسي په راتلونکو برخو کې د ښاروالی د ادارو ترعنوان لاندې په تفصيل سره راغلې ده.

### ۱۳. د ولايتي بيا رغونې ډلې (PRT)

جلالتمأب ولسمشر د ۲۰۰۸ کال د جولای د ۱۷ نيټې د حکم په خپرولو سره يو کميسيون رامنځته کړ چې د دې کميسيون په ترکيب کې د سيمه ايېزو اورګانونو د خپلواکې ادارې لوی رئيس د کميسيون د مشر، او د بهرنيو چارو وزارت د سياسي چارو معين، د فوايد عامې، د کليو د بيا رغونې او پراختيا، او د ښاري پرمختيا د وزارتونو معينان د غړو په توګه شامل دي. دغه کميسيون دنده لري؛ ترڅو د ولايتي بيا رغونې د ډلو، د ائتلاف د نړيوالو ځواکونو او نورو دولتي ادارو ترمنځ همغږي رامنځته کړي او د ولايتي بيارغونې د ټيم PRT له پروژو او پروګرامونو له پلي کولوڅخه د څارنې يو مکانيزم رامينځ ته کړي. ددې خبرې په پام کې نيولو سره، د پاليسی په اوسني بهير کې، د ولايتي بيا رغونې د ټيمونو په اړه بحث نه دی شوی؛ ځکه چې د ولسمشر لخوا جوړ شوی کميسيون له پخوا څخه په دې اړه کار کوي.

## III د ښاروالۍ اداره

**عموميات**

**د ښاروالیو د پاليسی په باب عمومي بيان**

- د ښاروالیو نوی قانون به منظور او نور اړين مقررات به ددغه قانون له منظوريدلو وروسته د ۶ مياشتو په موده کې صادر شي؛ تر څو ددغه قانون د موادو د پلي کولو لپاره د لارښود په توګه وکارول شي.
- **د ښاروالیو نوی قانون به په لاندې برخو کې لارښونې کوي:**
  - د ښاروالیو تعريف او پيژندنه
  - د ښاروالیو د رامنځته کولو، ادغام او له مينځه وړلو لپاره معيارونه
  - د ښاروالۍ مأموريت او اساسي دندې
  - د مرکزي ادارې لکه سيمه ايېزو اورګانونو خپلواکې ادارې او ولايت د مقام د واک د تعريف او خوندي والي په موخه د ښاروالیو سياسي او اداري څارنه
  - هڅول او د قانون له مقرراتو خلاف کړنو په وړاندې مجازات ورکول

### د نښاني شويو قوانينو او مقرراتو پلي کول

د نوي قانون د حکمونو د پلي کولو لپاره دغه قانون بايد د نورو ترڅنګ لاندې بنسټيز موضوعات ولري:

- د ښاروالیو ډلبندي (صنف بندي کول) او د هر صنف تعریف او پیژندنه
- د ښاروالیو د رامنځته کولو، ادغام او له مینځه وړلو لپاره بهیر

د ښاروالۍ ددغه وړاندېز شوي قانون نور مقررات په راتلونکو برخو کې تر بحث لاندې نیول شوي دي.

**د ښاروالیو تعریف، رامنځته کول، ادغام او له مینځه وړل**

**په دې اړه د پالیسۍ بیان**

- د ښاروالۍ تعریف په لاندې ډول دی:

" ښاروالي یو ځانګړی قانوني، سیاسي او اداري واحد دی، چې پیژندل شوې او ټاکل شوې جغرافیایي یا ځمکنۍ پولې لري، او د خلکو د عامې ښیګړې په موخه منځته راځي."

- د اداري او حکومتي مراتبو د لړۍ له پلوه "ښاروالي" یو داسې اداري واحد دی چې له ولایت وروسته په دویمه درجه کې راځي
- ښاري ولسوالۍ له ښاروالیو څخه جوړي دي او کلیواله ولسولي له کلیو څخه. ټول دغه راز اداري واحدونه ټاکل شوې جغرافیایي پولې او سیاسي او اداري حدود لري
- ښارولي شرکت ته ورته حالت لري. ښاروالي کولای شي شرکت ته ورته ځیني فعالیتونه ترسره کړي لکه د جایداد پیرودل او پلورل، قرارداد کول، د بل چا پرضد د دعوی اقامه کول او یا یې پرضد اقامه د دعوی کیدل، د قانوني نومونو کارول، او د عامه اقتصادي شرکتونو تنظیمول
- ښاروالي د یو شمیر معیارونو د ټاکلو په وخت کې رامنځته کیدای شي
- ښاروالي کیدای شي د قانوني پړاونو د بشپړولو په وخت کې رامنځته، مدغم او له مینځه لاړه شي
- ښاروالۍ کیدای شي د ځینو ځانګړو شرایطو په وخت کې مدغم شي
- ښاروالۍ کیدای شي د ځینو ځانګړو شرایطو په وخت کې له مینځه لاړې شي

**د په نښه شویو قوانینو او مقرراتو پلي کول**

د ښاروالیو د رامنځته کولو لپاره معیارونه په لاندې ډول دي:

- ښه پیژندل شوي یا ټاکل شوي جغرافیایي حدود ولري، چې د افغانستان د جیودوزي او کارتوګرافی د لویې ادارې د معیار له مخې لږ تر لږه ۵۰ مربع کیلومتره پراخوالی ولري
- د احصایې د مرکزي ادارې د معیار له مخې لږ تر لږه ۲۰،۰۰۰ تنه نفوس ولري
- له مالي پلوه پر ځان ډډه ولګوي؛ تر څو وکولای شي خلکو ته لومړني خدمتونه او اسانتیاوې برابرې کړي

**د ښاروالیو د رامنځته کولو، یوځای کولو، او له منځه وړلو ځیني پړاوونه په لاندې ډول دي:**

- خلک د خپل کلي د شورا له لارې لومړی په خپلو کې مشوره کوي او بیا خپل وړاندیز وړاندې کوي.
- خلک خپل وړاندیز د خپل کلي د شورا د پریکړه لیک په ډول د ښاروالۍ شورا ته سپاري، چې دا شورا د ټاکل شوو معیارونو له مخې وړاندیز ترغور او څیړنې لاندې نیسي.
- د ښاروالۍ شورا د مشورې له ترسره کولو وروسته، وړاندیز د پریکړه لیک په ډول د ولایتي اداري مجلس له لارې د تایید په موخه ولایتي شورا ته سپاري
- ولایتي شورا وړاندیز د یوه پریکړه لیک په ډول له تایید وروسته د منظورۍ لپاره د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکه ادارې ته سپاري
- د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکه اداره د وړاندیز څیړنه کوي او ډاډ تر لاسه کوي چې وړاندیز د نوې ښاروالۍ د مینځه راتلو په برخه کې له حقوقي او قانوني معیارونو سره سمون لري. وروسته بیا دغه وړاندیز ولسي جرګې ته سپارل کیږي
- ولسي جرګه د نظرونو له اوریدلو او راټولولو وروسته د وړاندیز په اړه پریکړه کوي

**د ښاروالیو د ادغام لپاره شرایط په لاندې ډول دي:**

- هغه ښاروالۍ چې د قانوني بهیر له بشپړولو او د مرکزي دولت له منظورۍ پرته منځته راغلې وي
- هغه ښاروالۍ چې  پایښت یې تر پوښتنې لاندې وي، یعني هغه ښاروالۍ چې د ښاروالیو اړین معیارونه پوره نشي کړای
- هغه ښاروالۍ چې پایښت یې تر پوښتنې لاندې وي، کیدای شي له یوې داسې ګاونډۍ ښاروالۍ سره یو ځای شي؛ چې د پایښت قابلیت ولري. دغه راز دا ډول ښاروالي

کولای شي له هغو پاينښت موندونکو ښاروالیو سره یوځای شي؛ چې په ګاونډ کې یې دي

- د پاتې کېدو وړ لویه ښاروالي کولای شي یوه داسې ښاروالي چې د پاتې کیدو وړ نده، له شتمنۍ او مالي سرچینو سره په ځان کې مدغم کړي

**د ښاروالیو د له منځه وړلو لپاره شرایط په لاندې ډول دي:**

- هغه ښاروالۍ چې د قانوني بهیر له بشپړولو او د مرکزي دولت له منظورۍ پرته منځته راغلې دي
- هغه ښاروالۍ چې ښایي د پاتې کیدو وړ نه وي او د ښاروالیو اړین معیارونه ونه لري.
- لغوه شوې ښاروالۍ کولای شي له ګاونډۍ ښاروالۍ سره چې یا تر نن پورې د پاتې کیدو وړ وي او یا له لغوه شوې ګاونډۍ ښاروالۍ سره له یوځای کیدو وروسته په یوه د پاتې کیدلو وړ ښاروالۍ واوړي
- هغه ښاروالي چې ټول قانوني، سیاسي، سازماني او اداري ماهیت یې له لاسه ورکړی وي
- د پاتې کیدو وړ او لویه ښاروالي کولای شي، یوه داسې ښاروالي چې د پاتې کیدو وړ نه ده په خپل تشکیل کې له شتمنۍ او مالي سرچینو سره مدغم کړي

**د ښاروالیو ډلبندي**

**پالیسي**

- ښاروالۍ باید د بیلابیلو فکتورونو له مخې ډلبندي شي
- د ښاروالۍ د ډلبندۍ لپاره باید یو معیاري نومښود وکارول شي
- د ښاروالیو ډلبندي باید په منظمه توګه د مرکزي دولت لخوا د ښاروالیو په ټولنیز-اقتصادي، سیاسي او اداري شرایطو کې د اړینو بدلونونو د راوستلو په موخه ترغور او کتنې لاندې ونیول شي

**د نړیوالو تجربو، قوانینو او مقرراتو پلي کول** 

د ښاروالیو د ډلبندۍ لپاره لاندې فکتورونه په نظر کې نیول کیږي:

- عواید، چې د مالیې وزارت لخوا منل کیږي
- نفوس یا د وګړو شمیر، چې د احصایې د مرکزي ادارې لخوا تصدیق کیږي
- پراخوالی، چې د جیودوزي او کارتوګرافي د لویې ادارې لخوا تصدیق کیږي

د نوم ایښودلولپاره له لاندېو معیارونو څخه هر یو یې کیدای شي وکارول شي:

- د عوایدو پربنسټ
- د ښاري کیدو د کچې پر بنسټ
- د بیلابیلو فکټورونو د یو ځای کیدلو پر بنسټ

**د ښاروالیو دندې**

**د پالیسي حکمونه**

- قانون به په ښکاره توګه د ښاروالیو حتمي او اختیاري دندې په ګوته کړي
- د ښاروالیو حتمي یا جبري دندې هغه اساسي دندې دي، چې ښاروالي د هغو د ترسره کولو لپاره ګمارل شوې ده او اختیاري هغه دندې دي چې ښاروالي یې له خپلو حتمي دندو پرته، له خپل کاري ظرفیت سره سم ترسره کوي.

**د نبښاني شویو قوانینو او مقرراتو پلي کول**

د ښاروالۍ اساسي یا حتمي دندې په لاندې ډول دي:

- حاکمیت او د پرمختیایي چارو اداره
    - د یوې اغیزمنې، مسؤلیت لرونکي، او شفافې ادارې د رامنځته کولو لپاره د یو ښه اداري تشکیل جوړول
    - د مرکزي دولت له پرمختیایي لاربښود سره سم د ښاروالیو لپاره د اوږد مهاله ټولنیزو او اقتصادي پرمختیایي پلانونو جوړول، څارل او څیړل، او د ټولني د ځانګړو ډلو لکه ځوانانو، ښځو، بوډاګانو، او کوچیانو ځانګړو غوښتنو ته ځواب ورکول
    - د ښاروالۍ له ټولنیزو او اقتصادي پرمختیایي پلانونو سره سم د ښاروالۍ په واک کې موجودو ځمکو څخه د ګټې اخیستنې د څرنګوالی ټاکل

- د مرکزي دولت له ادارو سره د زده کړې، روغتیا، کورجوړولو، د بیوزلۍ د کچې را ټیټولو، کرهنې، چاپیریال ساتنې، زیربنا جوړولو او داسې نورو پلانونو او پروګرامونو  په پلي کولو کې مرسته کول. په ځانګړې توګه په هغو برخو کې چې ښاروالي یې په یوازې توګه د کار پوره وړتیا ونه لري
- له مرکزي دولت سره د پرمختیایي پروژو په پلي کولو کې له خپلو ظرفیتونو سره سم مرسته کول
- هغو خصوصي شرکتونو ته چې غواړي د ښاروالۍ د اداري حدونو په دننه کې فعالیت وکړي، د کارکولو کولو د اجازې ورکړه
- له ملي او سیمه اییز قانون سره سم د مالیې، ټکس او فیس راټولول
- د ښار له ماسترپلان او د ورځني نرخ له مخې  د جایدادونو د حقیقي ارزښت ټاکل
- خلک دې ته هڅول چې د ښاروالۍ په چارو کې ګډون وکړي، لکه د پرمختیایي اړتیاوو لپاره د لومړیتوبونو په ګوته کول، د پلان او پروګرام جوړولو په کار کې برخه اخستل، او د پرمختیایي موخو سره سم د ښاروالۍ د کړنو او اجراأتو څارنه او ارزونه

- **د خدمتونو وړاندې کول**

- د مرکزي دولت د پروګرامونو او پروژو په پلي کولو کې مرسته کول
- د ښاري او ټولنیزو اساسي خدمتونو وړاندې کول لکه د څښاك د اوبو برابرول، د بریښنا ویش، د ناروغیو مخنیوی، د ناپاکیو او چټلیو ټولول او سمسورول، د ښاري سړکونو جوړول، د ترانسپورټي اسانتیاوو برابرول او داسې نور.

- **مقننه قوه**

- له ملي قوانینو او لومړیتوبونو لرونکو پرمختیایي پروګرامونو سره د مرستې په موخه د سیمه اییز قوانین او مقررات جوړول، همدا شان د ښاري اداري پیاوړي کول
- په ښاري چارو کې د خلکو د فعالي ونډې اخیستنې او د ښو عامه خدمتونو د وړاندې کولو لپاره د هڅونې یا تشویقي مقرراتو او کړنلارو جوړول
- له دولتي مقرراتو څخه د سرغړونې په پېښو کې د جریمو وضع کول
- د لګښتونو د پوره کولو لپاره د ښاري مالیو، فیس او نورو ټکسونو راټول

هغه اختياري دندې چې وړانديز يې شوی وي په لاندې ډول دي:

- **اداري او پرمختيايي دندې**
  - د اداري تشکيلاتو او ميکانيزمونو جوړول، چې کولای شي خلك په ښاري فعاليتونو او چارو کې برخې اخيستنې ته وهڅوي او له خصوصي سکټور سره د ښاري اقتصادي پرمختياوو په برخه کې مرسته وکړي
  - د دولت له مرکزي ادارو سره د پلانونو او پروژو د پلي کولو په برخه کې مرسته کول او له دې لارې د ښاروالی سکټوري لومړيتوبونو ته انعکاس ورکول
  - د پرمختيايي پروژو د پلي کولو په موخه له مرکزي دولت سره همغږي
  - د مقرراتو او هڅولو د يوه روښانه چوکاټ له لارې په ښاروالیو کې د خصوصي سکټور د پانګې اچولو نور هم هڅول
  - په عامه اقتصادي برخو کې د خدمتونو د ښه وړاندې کولو په موخه له خصوصي سکټور سره ګډون

- **د خدمتونو وړاندې کول**
  - له ملي پرمختيايي پلانونو سره سم او سيمه اييزو اړتياو ته د ځواب ويلو په موخه، ضروري او بنسټيز ټولنيز او اقتصادي خدمتونه وړاندې کول، دغه خدمتونه د ټولنيزو، اقتصادي، امنيتي، چاپيريال ساتنې او د نيستی د کمولو له پروګرامونو او پروژو څخه چې موخه يې د ټولنې او خلکو هوساينه ده، عبارت دي
  - د ټولنيزې او اقتصادي پرمختيا لپاره د ښاري زيربنايي پروژو تنظيم او پلي کول لکه اوبه رسول، بريښنا، روغتيا پالنه، لوړې او مسلکي زده کړې، د چاپيريال د روغتيا ساتلو آسانتياوې، ښاري سړکونه، تفريحي ځايونه او داسې نور.
  - د ښو خدمتونو د وړاندې کولو او مناسبې ګټې د ترلاسه کولو په موخه د ښاري اقتصادي شرکتونو جوړول

- **قانون**
  - په ښاري چارو کې د خصوصي سکټور د فعالې ونډې اخيستنې، په تيره بيا د ښو عامه خدمتونو د وړاندې کولو او سيمه ايیزو اقتصادي پرمختياو په وړاندې د هڅونې او تشويقي مقرراتو او کړنلارو جوړول

- د ښاروالۍ له واکونو او قانون سره د مرستې په موخه د ځانګړو مقرراتو جوړول لکه قرارداد کول، د شرکتونو جوړول او په اقتصادي معاملو کې ګډون کول

**د ښاروالیو لپاره اداري جوړښت او میکانیزمونه**

**د پالیسي حکمونه**

- له ښاروليو سره به د اداري جوړښت او ميکانيزمونو په جوړولو او چمتو کولو کې مرسته وشي
- ښاروالۍ به د اداري جوړښت په طرحه کولو کې د مرکزي دولت له لارښونو سره سم بشپړ واک ولري

**د نښاني شویو قوانینو او مقرراتو پلي کول**

- د ښاروالیو د ډلبندۍ لپاره تشکیلاتي موډلونه به د اداري جوړښتونو د طرحې او ډیزاین لپاره اصلاح شي
- د یوه واحد یا زیاتو موډلونو د جوړولو لپاره به لارښود چمتو شي؛ ترڅو ښاروالۍ وکولای شي له هغې ډلې څخه یو غوره موډل انتخاب کړي
- د بستونو او نومونو معیاري ډلبندي، د امتیازاتو طرحه، او د دندو لایحه به چمتو شي؛ ترڅو له ښاروالیو سره د اداري جوړښت، او بشري سرچینو د پرمختیا او سمون په برخه کې مرسته وکړي

**د کابل ښار**

**د کابل د ښاروالۍ لپاره د لاندې پالیسیو وړاندیز شوی:**

- د کابل ښار د یوې ښاروالۍ په توګه ډلبندي شوی، چې دا ښاروالي د یوه ځانګړي حالت په درلودلو سره او هغه دا چې د هیواد پلازمینه بلل کیږي، د یو لړ اضافي دندو، واکونو او مسؤلیتونو لرونکي ده

- د کابل ښاروالي باید د جمهوري ریاست مقام د اداري لخوا وڅارل شي، چې ددې اداري لومړی دنده د عامو وګړو لپاره د عمومي هوساینې برابرول دي
- دا اداره باید د هماغه قانون له مخې چې د نورو ښاروالیو لپاره وضع شوی اداره شي. سربیره پردې ځینې داسې قوانین او مقررات، چې په ځانګړې توګه د کابل ښار لپاره په پام کې نیول شوي، هم د یادې شوې اداري په سمون کې کارول کیږي

## د ښاروالیو اداري چوکاټ

### د مدیریت سیسټمونه

### د پالیسۍ موضوعګانې

په پالیسۍ پورې اړوند موضوعګانې په لاندې ډول دي:

- په ښاروالیو کې کاریدونکي سیسټمونه او کړنلارې زړې او د وخت له غوښتنو سره برابرې نه دي
- د یوې اغیزمنې اداري رامنځته کولو لپاره د مدیریت سیسټمونه وجود نلري
- د ښاروالیو په کاري فعالیتونو کې شفافیت په ټیټه کچه ترسترګو کیږي

### د پالیسۍ موخه

د پالیسۍ موخه په ښاروالیو کې د یوې سپماکوونکې، اغیزمنې، فعالې، شفافې او مسؤلیت لرونکې اداري د رامنځته کولو په موخه، د یو اغیزمن اداري جوړښت او میکانیزم رامنځته کول دي.

### د پالیسۍ په اړه سپارښتنې

### د پالیسۍ حکمونه

- حکومت باید د ښاروالی د مدیریت د سیسټم لپاره یو لړ معیارونه رامنځته کړي
- دغه سیسټمونه باید له ملي پالیسیو، قوانینو او مقرراتو او همداشان له نړیوالو معیارونو او تجربو سره سمون ولري
- ښاروالیو او د ښاروالیو کارکوونکو ته ددغو سیسټمونو په پلي کولو کې د پاتې راتلو په وخت کې، د مجازاتو او په همدې توګه د ښو دندو د ترسره کولو په وخت کې د مکافاتو د مقرراتو وضع کول

**د نښاني شویو قوانینو او مقرراتو پلي کول**

- د مقرراتو او کړنلارو رامنځته کول، د پرمختیایي او پانګې اچونې د پلانونو جوړول، بودجه جوړول، د لوجیستیکي تدارکاتي مدیریت رامنځته کول، او د ثابتو پانګو تنظیمول
- د پورته سیستمونو د پلي کولو لپاره د مرکزي دولت د مرستې راجلبول
- د دندو د څرنګوالي کنټرول لپاره د مرکزي دولت څارنيز مسؤلیت
- د نویو سیستمونو تر بشپړې رامنځته کیدو پورې د انتقالي دورې او فعالیتونو پلي کول.
- د سرغړونو د پیښو او د ښو دندو د ترسره کولو لپاره د مجازاتو او مکافاتو د مقرراتو او کړنلارو رامنځته کول

**د ښاروالیو پرمختیایي اداره**

**په پالیسۍ پورې اړوندې موضوعګانې**

په پالیسۍ پورې اړونده لوېې موضوع ګانې په لاندې ډول دي:

- د ښاروالیو پرمختیایي پلان جوړونه نشي کولای د ټولنې ښکاره غوښتنو ته ځواب ووایي.
- پرمختیایي زیرمې په عمومي توګه د لومړیتوب لرونکو پرمختیایي پروګرامونو د پلي کولو لپاره کافي نه دي، چې لوی دلیل یې د اداري فساد له کبله د سرچینو له لاسه وتل دي.
- څرنګه چې مرکزي ادارې په نیغه توګه سکتوري خدمتونه وړاندې کوي، نو له دې کبله ښاروالی د ټولنې په وړاندې د لږ مسؤلیت احساس کوي.

**د پالیسۍ موخې**

د پالیسۍ موخې په لاندې ډول دي:

- د ښاروالیو لپاره د پرمختللي اداري سیستم رامنځته کول؛ ترڅو وکولای شي سیمه اییزو غوښتنو او اړتیاوو ته ځواب ووايي
- په ښاروالیو کې د پرمختیایي بهیرونو رامنځته کول؛ ترڅو د خلکو په وړاندې د ښاروالیو مسؤلیت لرل د پام وړ وګرځوي

**د پالیسۍ سپارښتنې**

**د پالیسی حکمونه**

- د ښاروالیو پرمختیایي پلانونه له لاندې نه پورته تلونکي بهیر (bottom-up) چې د ټولنې لومړیتوب لرونکي پروګرامونه په ګوته کوي او له پورته نه لاندې تلونکي بهیر (top-down) چې د بودجوي پریکړو څرګندونه کوي، بهیرونو لرونکي دي
- ولایتي او ملي پلان او بودجه جوړونه د ښاروالیو د پلانونو او پروګرامونو بشپړونکې برخې دي، چې سیمه ایيزو غوښتنو ته انعکاس ورکوي

**د نېښاني شویو قوانینو او مقرراتو پلي کول**

- د ملي ټولنیزو او اقتصادي موخو او هغو موخو، چې د ملي غوښتنو ښکارندويي کوي پلي کول
- له لاندې نه پورته بهیر ته چې د ټولنې د لومړیتوب لرونکو پروګرامونو څرګندوی دي او له پورته نه لاندې لورته پروګرام جوړونې، چې د سرچینو د شتون د څرنګوالي ښکارندويي کوي، سیستمونو او کړنلارو پلي کول

**د ښاروالی خدمتونه**

**په پالیسي پورې اړونده موضوع ګانې**

ښاروالی د ډېرو اساسي خدمتونو پر کیفیت او څرنګوالي کنټرول نلري، لکه روغتیا، زده کړه، بریښنا، سړکونه او داسې نور. دغه راز خدمتونه د خپلواکه او ځانګړو وزارتونو د ولایتي واحدونو او ادارو لخوا وړاندې کیږي، او ښاروالی یوازې د دغو پروګرامونو د پلي کیدو له څرنګوالي نه کتنه کوي، د بیلګې په توګه ښاروالی ددا راز خدمتونو د ټیټ کیفیت او څرنګوالي په اړه کوم مسؤلیت نه مني.

له بله پلوه، د ښاروالی د خدمتونو وړاندې کول، لکه د اوبو او د یوې وړې ټولنې د اسانتیاوو برابرول، د ناکافي مالي سرچینو او کمځواکه کاري وړتیاوو له امله له ستونزو سره مخ دي. مرکزي حکومت د خپلو خدمتونو د وړاندې کولو لپاره هیڅ راز شاخص نه دی وړاندې کړی او همداشان د پروګرامونو د پلي کولو لپاره کمه مالي مرسته په پام کې نیسي. له بلې خوا ټولنه هم د خدمتونو د وړاندې کولو په پروګرام جوړونه، د اړتیاوو او لومړیتوب لرونکو پروګرامونو په ټاکلو، او پانګې اچونې په پروګرامونو کې لږ لاس لري.

په اصل کې د ښاروالیو اساسي دنده او مأموریت خلکو ته د عامه هوساینې د خدمتونو وړاندې کول دي. په داسې حال کې چې د خدمتونو پر کیفیت باندې د ښاروالۍ کمزوری کنټرول لرل، د دغه مأموریت خلاف بلل کیږي. ټول دغه لاملونه هغه څه دي چې په پای کې په ټولنه باندې اغیزه پرې باسي. پر پالیسۍ پورې اړونده ستړې موضوع ګانې په لاندې ډول دي:

- د ښاروالۍ خدمتونه ناکافي، نااغیزمن او د کیفیت او څرنګوالي له مخې کمزوري دي.
- د سکټوري خدمتونو پلان او بودجه جوړونه په ملي کچه ترسره شوې، چې دا د ټولنې د اساسي اړتیاوو او هغو خدمتونو ترمنځ، چې وړاندې کیږي، یو واټن رامنځ ته کړی.
- د خدمتونو د وړاندې کولو پلان جوړونه داسې ترسره شوې چې د ټولنې د حقیقي اړتیاوو او طرحه شوو پروګرامونو ترمنځ لږ نیږدېوالی لیدل کیږي.

**د پالیسۍ موخې**

د پالیسۍ موخې په لاندې ډول دي:

د ښاروالیو په کچه د عامه خدمتونو د کیفیت او څرنګوالي لوړول.
د ښاروالیو د ادارو پیاوړي کول؛ ترڅو د عامه خدمتونو د وړاندې کولو په لار کې ډېر مسؤلیتونه په غاړه واخلي.

**د پالیسي سپارښتنې**

**د پالیسۍ حکمونه**

- ښاروالۍ به د ښوو پلان شوو او په سیمه ایيزه کچه وړاندې شوو خدمتونو په اړه ډېر مسؤلیتونه په غاړه واخلي
- ښاروالۍ به د لومړیتوب لرونکو سیمه ایيزو اړتیاوو په ټاکلو کې له نورو دولتي او غیردولتي ادارو، خصوصي سکټورونو او ټولنې سره د بشپړ واك لرونکې وي

- ښاروالي به د مالي سرچینو د په کار اچولو، او خدمتونو د کیفیت د لوړولو په برخه کې له نورو دولتي ادارو، خصوصي سکټورونو او ټولنې سره د ګډون په لاره کې بشپړ واك ولري
- د مرکزي خدمتونو وړاندې کول به د ټاکل شوو مسؤلیتونو او معیارونو په چوکاټ کې ترسره کیږي
- مرکزي ادارې به په ټاکل شوې کچه مالي سرچینې د اړینو وړتیاوو د رامنځته کولو په ګډون د پرمختیایي پروګرامونو د پلي کولو لپاره ښاروالیو ته ولیږدوي
- د ښاروالیو د سکټوري خدمتونو په برخه کې د همغږۍ رامنځته کولو لپاره به یو لړ سیسټمونه او کړنلارې رامنځته شي؛ ترڅو په دندو کې د ستونزو او نیمګړتیاو له نه پیښیدو ډاډ رامنځته شي
- د خدمتونو د وړاندې کولو لپاره ترټولو ښه اصل د خدمتونو غوره والی او د کیفیت لوړوالی دی

**د نښاني شویو قوانینو او مقرراتو پلي کول**

- د لاندې اساسي خدمتونو د وړاندې کولو لپاره د رسمي خبرتیا خپرول:
  - لومړني روغتیایي پاملرنې لکه مور او ماشوم ته پاملرنه، د تغذی سیسټم اصلاح او سمون، د ناروغیو وقایه او داسې نور
  - د ښاري اسانتیاوو د سیستمونو جوړول او ساتنه لکه د اوبو رسولو سیسټم، بریښنا، ښاري سړکونه، پارکونه او داسې نور
  - د چاپیریال ساتنې له اوصولو سره سم د ککړو اوبو ویستل
  - د ښاروالیو په اداري پورې اړوند د طبیعي سرچینو ساتنه
  - د طبیعي پیښو او ناورینونو په وړاندې چمتووالی
- د اړینو وړتیاوو او ظرفیتونو د ترلاسه کولو په موخه د مرکزي دولت لخوا د اغیزمنو لارښودونو په واك کې ورکول
- د ښاروالیو په کچه د خدمتونو د وړاندې کولو لپاره د معیارونو او ملي لارښودونو چمتو کول
- د هغو خدمتونو لپاره، چې د ښاروالیو لخوا په قرارداد ورکړل شوي، د ملي لارښود چمتو کول

**د ښاروالیو اقتصادي تشبثات**

**په پالیسۍ پورې اړوند موضوعګانې**

ښاروالۍ تراوس مهاله په دې نه دي بریالي شوې چې خدمتونه د خپلو اقتصادي تشبثاتو لخوا وړاندې کړي. په دې اړه لوېې ستونزې په لاندې ډول دي:

- د ښاروالیو اوسني قانون او مقررات ښاروالیو ته په دې اړه بشپړ واك او صلاحیت نه دی ورکړی
- د ښاروالیو اوسنۍ هڅې د اقتصادي فعالیتونو د ترسره کولو لپاره په نیغه توګه له خصوصي سکټور سره رواني دي (د بیلګې په توګه هوټلونه او د ودونو تالارونه)
- دغه راز هڅې په لومړي ګام کې د ګټې د لاسته راوړلو او په دویم ګام کې د خدمتونو د وړاندې کولو لپاره ترسره کیږي

**د پالیسۍ موخې**

د پالیسۍ موخې په لاندې ډول دي:

- د ښاروالۍ په اداره کې د اغیزمني رهبرۍ رامنځته کول
- د اساسي عامه خدمتونو د وړاندې کولو لپاره د اقتصادي شرکتونو او ادارو پیاوړي کول
- د سیمه اییزو سرچینو د کارولو او سمبالولو لپاره د ښاروالیو د اقتصادي شرکتونو او ادارو پرانیستل

**د پالیسۍ سپارښتنې**

**د پالیسۍ حکمونه**

- ښاروالۍ بشپړ واک لري؛ ترڅو د اقتصادي شرکتونو له لارې د خدمتونو له وړاندې کولو ګټه پورته کړي
- ښاروالۍ به په لومړي ګام کې اقتصادي تشبثات د لومړنیو عامه خدمتونو د وړاندې کولو لپاره پرانیزي
- له اقتصادي تشبثاتو سره د ښاروالیو اړیکې باید د خصوصي سکټور سره اړیکې له ګواښ سره مخ نکړي

- د اقتصادي تشبثاتو لخوا د ټاکلو ښاري خدمتونو د وړاندې کولو په بدل کې به یوه ټاکلې اندازه حق الزحمه واخیستل شي
- د ښاروالۍ د اقتصادي شرکتونو لپاره د تعرفو د سیسټم رامنځته کول به د مالي شفافیت او اغیزمن فعالیت په برخه کې مرسته وکړي
- د بیو ټاکل به له خلکو سره چې د ټاکل شویو بیو ورکونکي دي، د درې اړخیزو سلا مشورو له لارې وخت مومي

**د نښاني شویو قوانینو او مقرراتو پلي کول**

- د ښاروالیو د اقتصادي شرکتونو پیاوړي کول
- بهرنیو مالي سرچینو ته د اقتصادي شرکتونو لاسرسی، لکه پور ترلاسه کول او د خصوصي سکټور پانګه اچونه
- د لګښتونو د اصلاح، د پانګې اچونې د ګټو د بیرته لاسته راوړلو او تعرفوي سیسټم په اړه د لارښودونو رامنځته کول
- په اقتصادي شرکتونو کې د محاسبې او پلټنې د قانون او مقرراتو رامنځته کول
- د ښاروالۍ د اقتصادي تشبثاتو د نیمګړتیاوو اصلاح او سمون

**د کړنو مدیریت**

**د پالیسۍ په اړه موضوعګانې**

په ملي او سیمه ایيزه کچه د معلوماتو او ارقامو د راټولو لپاره د ظرفیتونو، د اداري پړاونو د بشپړولو، تحلیل، او اغیزمن عمل یا تصمیم نیونې کچه ټیټه بریښي. له دې کبله اړینه بریښي؛ ترڅو د شواهد پر بنسټ پالیسي او د تصمیم نیولو یو اغیزمن میکانیزم جوړ او له بله پلوه د ټاکلو وړتیاوو او د څارنې، څیړنې او راپور ورکولو لپاره یوه ښه چاپیریال رامنځته شي

د پالیسۍ په اړه د پام وړ ټکي په لاندې ډول دي:

- د ښاروالیو د فعالیت او اجراأتو لپاره یو ښکاره قانون او پالیسي وجود نلري
- په ملي او سیمه ایيزه کچه اداري جوړښتونه او د فعالیتونو د سرته رسولو لپاره ټاکلي میکانیزمونه نشته

- په ملي او هم سیمه ایيزه دواړو کچو د دندو او اجراأتو د تنظیم په برخه کې ظرفیتونه او وړتیاوې کمزورې دي

**د پالیسی موخې**

د افغانستان د دولت له هغې ستراتیژۍ سره سم چې غواړي د څارنې او ارزونې له لارې د پالیسی او پلان جوړولو او د بودجې ترمینځ اړیکه زیاته کړي، د پالیسی په اړه مهم ټکي په لاندې ډول دي:

- د خلکو په وړاندې د ښاروالۍ د ادارې د مسؤلیتونو او دندو روښانه کول
- د ښاروالۍ د کړنو او اجراأتو پیاوړي کول
- د پلان او بودجې جوړولو د بهیر پیاوړي کول
- د لاسته راوړنو او ښه فعالیت لپاره د ښاروالۍ د ادارې او کارکوونکو هڅونه

**د پالیسي سپارښتنې**

**د پالیسۍ حکمونه**

- په مرکزي او سیمه ایيزو کچو د ښاروالیو د دندو او فعالیتونو د اصلاح او سمون بهیر رسمي ښه غوره کړي
- د کړنو د مدیریت په سیستم کې به د مکافاتو او مجازاتو مقررات رامنځته شي
- د کړنو د مدیریت سیستم به د پلان جوړونې، پانګې اچونې، کلنۍ بودجې جوړولو، د خدمتونو وړاندې کولو او ظرفیتونو د لوړولو په برخه کې د پریکړو لارښوونه کوي

**د ښنباني شویو قوانینو او مقرراتو پلي کول**

- د ښاروالیو د کړنو د مدیریت په وړاندې د اداري او فردي مسؤلیتونو ټاکل
- د پرمختیایي موخو او موخو لپاره د کړنلارو او د دندو د سرته رسولو لپاره د لارښودونو جوړول
- د دندو او اجراأتو د ارزونې او راپور ورکولو لپاره د بهیر او مهال ویش جوړول
- د مکافاتو او مجازاتو میکانیزمونه

**د ظرفیتونو لوړول**

**په پالیسۍ پورې اړوند موضوعګانې**

د اړینو خدمتونو د وړاندې کولو په لار کې د ښاروالیو اوسني ظرفیتونه او وړتیاوې کمزورې برېښي. اوسني پلانونه او پروګرامونه د ټولنې له حقیقي غوښتنو او اړتیاو سره سمون نلري. د ښاروالیو ظرفیتونه د عوایدو د راټولو په برخه کې، چې کولای شي لومړني لګښتونه پوره کړي، د یو اغیزمن ډیټابیزیا اساس، اداري وړتیاوو د کمزورۍ او له مالیه ورکوونکو سره د همغږۍ د نشتوالي له کبله د قناعت وړ نه دي. عادي او پرمختیایي بودجې غیرواقعي او ناکافي دي، چې معمولاً د لومړیتوب لرونکو پروګرامونو لپاره په پام کې نه دي نیول شوي. سیستمونه او کړنلارې د اداري ظرفیتونو د لوړولو په برخه کې ډیر اغیزمن نه شمیرل کیږي.

د ښاروالیو د ډیر شمیر کارکوونکو د پوهې، مهارتونو کچه د ښو او عالي خدمتونو د وړاندې کولو لپاره ټیټه ده. د بهرنیو مرستندویه ټولنو له مرستو پرته ډیرو سیمه ایزو ادارو او کارکوونکو ته فرصت نه دی برابر شوی؛ ترڅو وکولای شي خپل مهارتونه او کاري ظرفیتونه پیاوړي کړي.

- هیڅ ډول کره ډیټابیز یا اساس نشي کولای د ښاروالیو د کارکوونکو د کاري ظرفیتونو د لوړولو لپاره یوه سیستماتیکه لاره پرانیزي.
- د ښاروالیو او د ښاروالیو د کارکوونکو د ظرفیتونو د لوړاوي لپاره هیڅ راز هوډمن او اغیزمن پروګرام نه دی په پام کې نیول شوی؛ ترڅو وکولای شي د ادارې لومړیتوب لرونکي پروګرامونه په ګوته او پلي شي.
- د ښاروالیو اوسني پروګرامونه د مرستندویه ټولنو لخوا پرمخ بیول کیږي، چې معمولاً لندمهاله پروګرامونه دي او ډیر یې د تخنیکي مرستو په برخه کې په پام کې نیول شوي
- د ښاروالیو کارکوونکي د ښوو کاري مهارتونو له زده کړې سره ډیره علاقه نه ښکاره کوي

**د پالیسۍ موخې**

د پالیسۍ موخې په لاندې ډول دي:

- ډاډ ترلاسه کول دا چې ښاروالۍ د خپلو دندو او مأموریت د سرته رسولو په لار کې کافي وړتیا لري

- د ښاروالۍ په اداره کې د وړتیا لرونکو او صادقو کارکوونکو ګمارل

**د پالیسی سپارښتنې**

**د پالیسۍ حکمونه**

- ښاروالیو ته به د ظرفیتونو د لوړاوي یو هوډمن او سیستماتیك پروګرام په پام کې ونیول شي
- د ظرفیتونو د لوړولو او اداري پیاوړتیا لپاره به د ښاروالیو په بودجه کې ځانګړې مالي سرچینې په پام کې ونیول شي
- د بشري سرچینو او اداري پرمختیا په برخو کې به د ښاروالیو په کچه عمومي اداري اصلاحات ترسره شي

**د نښاني شویو قوانینو او مقرراتو پلي کول**

- د ښاروالیو په کچه د ظرفیتونو د لوړولو په برخه کې د اداري او انفرادي مسؤلیتونو ټاکل
- د ظرفیتونو د لوړولو لپاره د بودجې د ټاکلو لپاره د یو اغیزمن لارښود رامنځته کول
- د ښارولیو په کچه د اداري اصلاحاتو لپاره د فردي مسؤلیتونو، لارښود او کړنلارو چمتو کول

**حکومتوالۍ، اداري جوړښت او فعالیتونه**

د ښاروالیو اوسنۍ اداره د قانوني مقرراتو پر بنسټ ولاړه ده؛ مګر دا اداره تراوسه نه ده بریالۍ شوې؛ ترڅو ددغو مقرراتو له شتون سره سره ګټور خدمتونه خلکو ته وړاندې کړي. د ښاروالۍ اداره د اغیزمنتیا، عمومي هوساینې رامنځته کولو او مسؤلیت پیژندنې په برخه کې له یو لړ جدي ستونزو سره مخ ده.

هماغسې چې ددغې اداري دندې او مسؤلیتونه په غوڅه توګه نه دي جوتې همدارنګه د داسې میکانیزمونو په پلي کولو لګیا ده، چې د پالیسۍ له حقوقي چوکاټ سره په سمون کې نه دي،

سربيره پردې چارواکي خپل واک په اساسي قانون کې له ورکړل شويو مکلفيتونو سره سم نه کاروي.

**د ښاروالۍ ټوله اداره**

**په پاليسۍ پورې اړونده موضوعګانې**

قانون د ښاروالیو لپاره يو لړ محدود فعاليتونه په ګوته کړي دي چې ددغې ادارې د اغيزمنتيا په برخه کې يو لوی خنډ رامنځته کوي. قانوني حکمونه د اغيزمنو لارښودنو د وړاندې کولو، د ښاروالۍ لپاره د يو ښه جوړښت په جوړولو او د نيمګړتياوو د له مينځه وړلو په برخه کې پاتې راغلي. د ښاروالۍ اوسنی قانون محدود شمير لارښووني د ښاروالۍ د دندو، مسؤليتونو او واکونو په هکله د ښاروالۍ د شورا په ځير د ښاروالۍ ادارو ته لړ لارښوونه وړاندې کوي

سربيره پردې، دغه قانون نشي کولای د ښاروالۍ چارواکي، ښاروال، او د ښاروالۍ مرستيال ته د هغوی د دندو په اړه سمه لارښوونه ورکړي. د ښاروالۍ کارکوونکي له خپلو دندو او مسؤليتونو سره بشپړه بلدتيا نلري، چې د ښو او اغيزمنو خدمتونو په وړاندې کولو کې د دوی مهارت او وړتيا کمځواکه او تته بريښي.

د ښاروالۍ تشکيلاتي جوړښتونه د پرمختيايي موخو د لاسته راوړلو او عامه خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې ناکاره او نيګړي دي. اداري سيستمونه او کړنلارې نشي کولای په سمه توګه د عامه خدمتونو د وړاندې کولو چارې برابرې کړي.

په پاليسۍ پورې اړونده يو لړ موضوعګانې په لاندې ډول دي:

- د ښاروالۍ اوسنی قانون نشي کولای ښاروالۍ ته د هغې د مأموريت د بشپړولو په لار کې سمه لارښوونه وکړي
- د کابل ښار اوسني وضعيت ته په کتلو سره، د ښاروالیو قانون په دې کې پاتې راغلی دی چې ښاروالۍ داسې ځواکمني کړي چې خپل ماموريت په پوره توګه سرته ورسوي. همدا راز دا قانون ښاروالیو ته ددې لارښوونه نشي کولای چې خلکو ته په ښه توګه خدمتونه وړاندې کړي، چې ددې حالت غوره بيلګه د کابل ښاروالي ده
- د ښاروالیو د اساسي ادارو او چارواکو دندې او مسؤليتونه په ځرګنده توګه نه دي ټاکل شوي
- د ښاروالیو د کارکوونکو لپاره اجرايي معيارونه نه دي رامنځته شوي

**د پالیسی موخې**

د پالیسۍ موخې د یوې سالمې ادارې رامنځته کول دي:

- د ښاروالۍ په اداره کې د یوې اغیزمنې مسلک سالارۍ او مسلکپالنې تشویق او هڅونه.
- د مسلکي او متعهدو کارکوونکو ګمارل

**د پالیسی سپارښتنې**

**د پالیسی حکمونه**

- د قانوني او له پالیسۍ سره سمو اصولو شتون به په ښاروالیو کې د اغیزمنې ادارې او سیستمونو په رامنځته کولو کې بشپړه مرسته وکړي:
  - د اغیزمن اداري جوړښت رامنځته کول چې موخه یې د ښوو خدمتونو وړاندې کول او د ښاروالیو ترمنځ د اغیزمنو اړیکو ټینګول دي
  - د ښاروالیو او د هغو اړونده ادارو او چارواکو لپاره د ښکاره دندو ټاکل
  - د اداري او انفرادي اجرایي سیستمونو او معیارونو رامنځته کول
- ښاروالۍ به د خپلو ټاکل شوو دندو او فعالیتونو په ترسره کولو کې د بشپړ واك او صلاحیت لرونکې وي
- له مناسبو تشکیلاتي معیارونو سره جوخت به د اداري تشکیلاتو او جوړښتونو مناسب موډلونه هرې ښاروالۍ ته په واك کې ورکړل شي؛ ترڅو وکولای شي د هغې له مخې خپل اداري جوړښت په سمه توګه سمبال کړي
- د یوه واحد یا زیاتو موډلونو د پلي کولو لپاره به یو لارښود چمتو شي

**د نښاني شویو قوانینو او مقرراتو پلي کول**

- د یو اداري جوړښت نه بل ته د بدلون معیارونه او پړاوونه
- د سیمه ایزو اورګانونو خپلواکي اداري له منظورۍ وروسته د تر ټولو غوره تشکیلاتي موډل د خوښولو لپاره د معیارونو ټاکل

## ښاروال

### په پالیسۍ پورې اړوندې موضوع ګانې

ښاروال د ښاروالۍ د ادارې مشري پرغاړه لري. د ښاروالیو په قانون کې د ښاروال د ټاکنې مقررات څرګند دي، په داسې حال کې چې ښاروال اوس مهال د مرکزي دولت لخوا ټاکل کیږي. دا راز کړنه د دولت په صلاحیتونو او واك کې د توازن د له منځته تلو، ناوړه سیاست، خپلوالۍ، فساد او بې کفایتۍ لامل ګرځي. د ښاروالۍ ځینې نوماند کسان د بشپړې وړتیا لرونکې نه دي؛ ترڅو وکولای شي په ښاروالۍ کې اغیزمنه مشري وکړي.

د پالیسي اړونده موضوع ګانې په لاندې ډول دي:

- د اساسي قانون له مخې ښاروالان باید د ټاکنو له لارې غوره شي
- خو تر اوسه د ښاروالانو ټاکل په انتصابي ډول ترسره شوي
- د هغو ښاروالانو لپاره ، چې د ټاکنو له لارې ګمارل کیږي، د غوره کړنو لپاره د هڅونې او تشویق کړنلاره نشته او په ورته توګه د سرغړونکو لپاره د مجازاتو کړنلاره هم وجود نلري

### د پالیسۍ موخې

د پورته موضوعګانو په پام کې نیولو سره د پالیسۍ موخې په لاندې ډول دي:

- د ښاروالۍ د مشرتابه د کیفیت سمون او اصلاح
- د ښاروالۍ په اداره کې د قانونیت او مشروعیت رامنځته کول

### د پالیسۍ سپارښتنې

### د پالیسۍ حکمونه

- له اساسي قانون سره سم د ښاروالیو د کارکوونکو د ګمارلو لپاره به منظمې ټولټاکنې ترسره شي
- په ښاروالۍ کې د اغیزمنې ادارې او مشرتابه د رامنځته کولو لپاره به د وړتیاوو او زده کړو معیارونه وړاندې شي

- د ښاروالیو د مشرتابه او مدیریت د کیفیت د لوړولو په موخه به د اداري او مدیریت په برخو کې د ظرفیتونو د لوړولو پروګرامونه، د ښاروالیو د ټاکل شوو کارکوونکو لپاره ترلاس لاندې ونیول شي

**د نښاني شویو قوانینو او مقرراتو پلي کول**

- د ښاروالیو د ټاکنو لپاره د ټولټاکنو د قانون، مقرراتو او کړنلارو چمتو کول
- د ښاروالیو د کارکوونکو د ګمارلو، لرې کولو او بیا ټاکلو لپاره د لارښود چمتو او وړاندې کول
- د ښاروالانو لپاره د وړتیاوو د کچې ټاکل
  - لږ ترلږه ۳۰ کاله عمر ولري
  - افغاني تابعیت لري
  - د ښاروالیو په چارو کې به لږ ترلږه درې کاله کاري تجربه لري
  - د ښه کرکتر خاوند به وي
  - لږترلږه ترثانوي کچې زده کړه او ورسره کافي تجربه لري
  - کوم جرم یې نه وي تر سره کړی
- د ښاروال ممکنه دندې
  - د خدمتونو وړاندې کول
    - د اساسي خدمتونو له وړاندې کولو نه ډاډ ترلاسه کول او له مرکزي دولت سره په همغږۍ د کافي اسانتیاوو رامنځته کول
    - د ښاروالۍ د عمومي ښیګڼې لپاره د پلانونو او پروګرامونه پلي کول
    - د ښاروالیو له سیمه اییزو کارکوونکو او خلکو سره د حقیقي او لومړیتوب لرونکو اړتیاوو د پیژندلو او د پرمختیایي فعالیتونو لپاره د ممکنه لارو د موندلو لپاره د منظمو مشورو ترسره کول
  - قانوني کړنې
    - د ښاروالۍ د اجرایي مشر ټاکنه
    - د ښاروالیو د اداري قانون او مقرراتو رعایت او د ښاروالیو د قانوني صلاحیتونو کارول
    - د ښاروالۍ د قانون د رعایت او پلي کولو په موخه د اړینو اجرایي حکمونو او لارښوونو خپرول

- د ښاروالۍ د ماليو او نورو عوايدو له راټولو او د مالي سرچينو له پرځای لګولو څخه ډاډ ترلاسه کول
- د قانوني جوازونو صادرول، او د سرغړونو په وخت کې د ورکړل شوو جوازونو ناچله کول
- ډاډ ترلاسه کول دا چې د هرې ودانۍ له جوړولو مخکې اجازه ترلاسه شوې، او د ناقانونه ودانیو په بدل کې د جريمو وضع کول، او همداشان د هغو ودانيو تخريب او ورانول، چې د ښاروالۍ له لارښوونو او نقشې سره سم نه دي آبادې شوې
- د ښاروالیو د ځمکو او نورو طبيعي سرچينو د ساتلو لپاره د اغيزمنو ګامونو پورته کول
- د هوسا کاري ماحول او شرايطو رامنځته کول، د بيلګې په توګه د پانګې اچونې لپاره د ډاډمنو شرايطو برابرول د خصوصي سکټور د اقتصادي فعاليتونو لپاره د اجازې ورکړه او هڅونه

■ اداره او مديريت

- د ښاروالۍ د ټولو پروګرامونو، پروژو، خدمتونو او فعاليتونو څارنه او کنټرول
- د ښاروالیو د ادارې او فعاليتونو لپاره د پاليسيو او لارښوونو چمتو کول او د ښاري شورا، ولايت، او مرکزي دولت په وړاندې د پرمختيايي پروګرامونو د پلي کولو په لار کې مسؤليت لرل
- ډاډ ترلاسه کول دا چې د ښاروالۍ ټول کارکوونکي خپلې دندې په سمه توګه ترسره کوي او د خپل قانوني واك او صلاحيت په دننه کې خپل مسؤليتونه ادا کوي
- د هغو کارکوونکو لپاره، چې د خپلو دندو په ترسره کولو کې بې سرغړونه کړې د مجازاتو د اصولو او کړنلارو رامنځته کول
- له ښاروالۍ شورا سره په مشورې د ښاروالۍ د ټولنيز-اقتصادي پرمختيايي پلان چمتو کول
- ښاروالۍ شورا ته د قانوني کړنو وړاندې کول او له منل شوو قانوني شرايطو سره سم د کړنو ترسره کول
- د ټولو هغو کارکوونکو پيژندنه، چې د هغوی ټوله او لويه برخه تنخوا د ښاروالۍ له بودجې بهر ورکول کيږي، پرته له هغې ډلې کارکوونکو، چې د لوړپوړو چارواکو او يا مرکزي ادارو لخوا ګمارل کيږي

- د عوایدو د کچې لوړول او په پرمختیایي پلانونو او پروګرامونو کې د هغو لګول
- په ټولو سوداګریزو او کاري معاملاتو کې د ښاروالی په استازیتوب ګډون کول او د ښاروالی د قانوني سندونو، قراردادونو لاسلیکول
- د ښاروالی په ټولو داخلي او بهرنیو معاملاتو کې د شفافیت او روڼتیا رامنځته کول

- له مرکزي دولت او ټولنې سره همغږي
  - د ښاروالی د اداري، دندو او پرمختیاوو په اړه والي او مرکزي ادارې ته راپور وړاندې کول، او همداشان د ښاروالی د سیاسي، ټولنیزو او اقتصادي شرایطو په اړه پورته یادو شوو ادارو ته د اړینو معلوماتو وړاندې کول
  - د سکټوري او تخنیکي خدمتونو، چې په نیغه توګه د مرکزي ادارو لخوا په ښاروالیو کې وړاندې کیږي، همغږه کول
  - ډاډ ترلاسه کول دا چې د ښاروالي ماسترپلان او ټولنیز-اقتصادي پرمختیایي پلانونه په سمه توګه پلي شوي
  - مرکزي دولت او د هغه ټولو اړونده ادارو ته د کاري پلانونو، پروګرامونو، مالي سرچینو، او بودجوي چارو په اړه استازیتوب کول
  - د ښاروالی په چارو کې خلکو او ټولنې ته د ګډون کولو واك ورکول، لکه د ښاروالی د لومړیتوب لرونکو پروګرامونو ټاکل، د ښاروالیو د پلانونو او پروګرامونو پلي کول او د ښاروالی د کړنو څارنه او څیړل
  - د سیمه اییزو اقتصادي پرمختګونو لپاره د خصوصي سکټور د فعالیت تشویق او هڅونه

**د ښاروالی مرستیال**

**په پالیسی پورې اړوندې موضوع ګانې**

د ښاروالیو د قانون له مخې پرته له هغو دندو، چې " د ښاروال لخوا تفویض شوي وي" د ښاروال د مرستیال لپاره بله کومه معلومه دنده او مسؤلیت نه دی څرګند شوی.

د ښاروال مرستیال د ځینو مسئلو له مخې نشي کولای په بشپړه او اغیزمنه توګه د ښاروالیو په چارو کې لاس ولري:

- د ښاروال د مرستیال دندې او مسؤلیتونه د ښاروال او د ښاروالۍ د نورو چارواکو د دندو په پرتله او  پام کې نیولو سره روښانه نه دي
- د ښاروال د مرستیال موقف په اداري مراتبو کې په غوڅه توګه ښکاره او ټاکلی نه دی
- د ښاروالۍ په مشرتابه کې وړتیاوې په عمومي توګه ټیټې دي

**د پالیسی موخې**

- د ښاروالیو په اداره کې د اداري مراتبو له رعایتولو څخه ډاډ ترلاسه کول
- د ښاروالیو د مشرتابه د کیفیت لوړول.

## د پالیسۍ سپارښتنې

**د پالیسی حکمونه**

- د ښاروالۍ په اداره کې د واکونو د کچو د مراعات او د دندو او مسؤلیتونو د ښه پیژندلو لپاره به د ښاروال د مرستیال دندې او مسؤلیتونه په ښکاره توګه معرفي او وټاکل شي
- د ښاروالۍ د مشرتابه د کیفیت د سمون او پیاوړتیا په موخه به د ښاروالۍ په اداري چارو کې د کارکوونکو د وړتیاوو د لوړولو پروګرامونه په پام کې ونیول شي

**د نبناني شویو قوانینو او مقرراتو پلي کول**

د ښاروال د مرستیال ممکنه دندې:

- د ښاروالۍ د اداري او ښاروالۍ شورا ترمنځ د رابط یا منځګړي په توګه دنده ترسره کول؛ تر څو ډاډ ترلاسه شي چې د ښاروالۍ د یوې اغیزمنې ادارې د رامنځته کیدو لپاره اړین قوانین او مقررات پلي شوي دي
- له قانون او اداري مقرراتو سره سم د ښاروال په نشتولي کې د ښاروالۍ د دویم واکمن په توګه د دولتي چارو په ترسره کولو کې استازیتوب کول
- له قانون سره سم د ځینو نورو دندو ترسره کول، چې د ښاروال لخوا ورته واك ورکول کیږي

**د ښاروالۍ ګمارل شوي چارواکي او کارکوونکي**

**په پالیسی پورې اړونده موضوع ګانې**

د ښاروالۍ د ډیرو چارواکو او کارکوونکو ځای د ښاروالۍ د مأموریت او دندو په پام کې نیولو سره، ناڅرګند دی. دندې په زیاته کچه د ټاکل شوو مسؤلیتونو پرځای، تر ډیره بریده د تصادف او پیښیدو له مخې ترسره کیږي. د دندو لایحه نشي کولای د ښاروالۍ چارواکي د هغوی د ټاکل شوو دندو ترسره کولو ته اړ باسي.

زیات شمیر عامه کارکوونکي د پوره وړتیاوو او مهارتونو لرونکي نه دي. د تنخواګانو کچه نشي کولای کارکوونکي د دندو ښه سرته رسولو ته وهڅوي. د ښاروالۍ اوسنی تشکیلاتي او اداري جوړښت یو معیاري جوړښت نه بلل کیږي، لکه د ښاروالۍ د ادارو نومښود، د بستونو ډلبندي او ویش، د تنخواګانو میکانیزم او داسې نور.

د ښاروالۍ د خدمتونو او دندو د کیفیت او څرنګوالي ټیټوالی د دغې ادارې د خدمتونو د وړاندې کولو په لار کې یو لوی خنډ بلل کیږي. په دې اړه ډیري موضوعګانې په لاندې ډول دي:

- د اداري تشکیل یا جوړښت یوه ښه او معیاري طرحه او د بشري سرچینو د تنظیم اغیزمن سیستم نشتوالی
- ټاکنه او ارتقأ د وړتیا له مخې نه ترسره کیږي
- د مکافاتو او مجازاتو لپاره کړنلاره نشته
- د صداقت او وفادارۍ روحیه کمزورې او فساد او درغلي برلاسي دي

**د پالیسی موخې**

- د ښاروالۍ د کارکوونکو د وړتیاوو پیاوړي کول.
- د ښوو او عالي خدمتونو وړاندې کولو ته د وفادارو مسلکي کارکوونکو رامنځته کول.

**د پالیسی سپارښتنې**

**د پالیسی حکمونه**

د ښاروالۍ د بشري سرچینو سمون او پیاوړتیا به لاندې پایلې ولري:

- د يوې داسې ادارې په رامنځته کولو کې چې چې د وړتياوو پربنسټ جوړه شوې وي، مرسته کوي
- د ښاروالي د کارکوونکو لپاره د کړندود رامنځته کول
- د مکافاتو او مجازاتو د کړنلارو رامنځته کول
- د سيستمونو د پلي کولو په لار کې د ټولنې او خلکو ګډون ته لارپرانيستل

## د نښاني شويو قوانينو او مقرراتو پلي کول

- د وړتياوو پر بنسټ د ټاکنو او ګمارلو د لارښود رامنځته کول
- د کړنو پر بنسټ د بشري سرچينو د تنظيم سيستمونه، د مکافاتو او مجازاتو د کړنلارو رامنځته کول
- د بستونو د ډلبندي او نومښود معياري کول
- د وړتياوو د لوړولو پروګرام

**د ښاروالۍ شورا**

**په پاليسی پورې اړوندې موضوع ګانې**

سره له دې چې د اساسي قانون له مخې د ښاروالیو د شورا ګانو دنده " د ښاروالیو د هغو چارو چې له خلکو سره په اړيکو کې دي، تنظيمول او خلکو او ټولنې ته په دغه راز چارو کې د رغنده برخې اخيستنې واك ورکول" ښوول شوې ده، مګر سره له دې دغې ادارې په فعاله توګه نوموړې شورا ګانې نه دي رامنځته کړي.
ددغو شورا ګانو د غړو د دندو موده د دريو کالو لپاره ده.

د ښاروالیو د شورا ګانو د رسمي جوړولو، هغوی ته د ټاکل شوو واکونو او مسؤليتونو د ورکړې، او مالي بودجې د ټاکلو قانون به د۱۳۸۹ ل.ل کال تر پای (د ۲۰۱۰ کال د مارچ تر ۲۰ پورې) منظور شي او د نوموړې شورا د غړو ټولټاکنې به په همدې کال ترسره شي.

د ښاروالیو قانون د ښاروالیو هغه فعاليتونه، چې د ښاروالیو له شورا ګانو سره په تړاو کې دي، په لاندې توګه څرګندې کړې دي:

(۱) د ښاروالۍ د اداري جوړښت د چارټ او بودجې تاييدول،

(۲) په ښاروالیو کې د بیړنیزو حالتونو لپاره سپما، او
(۳) دولت او د مالې وزارت ته د بودجې د لوړولو وړاندیز کول. پورته یادې شوې دندې د یوې شورا لپاره ناکافي بلل کیږي.

د یوې مهمې مسئلې په توګه د یادولو وړ ده چې د دا راز شورا ګانو د جوړولو، دندو او اړیکو ټینګولو لپاره کوم راز قانوني بنسټ وجود نلري.

**د پالیسۍ موخه**

د پالیسۍ موخه د ښاروالۍ د شورا ګانو د جوړولو او فعاله کولو لپاره د قانوني بنسټ رامنځته کول دي.

**په پالیسۍ پورې اړوندې موضوع ګانې**

- د ښاروالۍ د شورا ګانو د قانوني کولو لپاره قانون به په ۱۳۸۹ لمریز کال کې منظور شي او د نوموړو شورا ګانو د غړو ټولټاکنې به هم په همدې کال ترسره شي
- دغه قانون او له هغه سره مل مقررات به د ښاروالیو د شورا ګانو دندې او مسؤلیتونه څرګند کړي
- د ښاروالیو د شورا ګانو د دندو د ښو ترسره کولو لپاره به د هغوی د وړتیاوو د پیاوړي کولو لپاره مرسته وشي

**د نبناني شویو قوانینو او مقرراتو پلي کول**

د ښاروالۍ د شورا ګانو وړاندیز شوې دندې

- د ښاروالیو د قانوني چارچوکاټ جوړول لکه د قانون او نورو اړینو مقرراتو منظورول
- د ښاروالۍ د مالیو، فیس او نورو ټکسونو په ګډون د ښاروالۍ د کلنۍ بودجې د قانون جوړول
- له ټولنې او ښاروالۍ سره د اړیکو له لارې د خلکو د اړتیاوو او غوښتنو څرګندول
- د ښاروالۍ د اداري څارنه او څېړنه، او د بودجې د لګښت په وړاندې د ښاروالۍ له مسؤلیت لرلو څخه ډاډ ترلاسه کول

- د پرمختیایي موخو او لومړیتوب لرونکو پرمختیایي پروګرامونو د تعریف او ټاکلو او همداشان د ښاروالۍ د خدمتونو د کیفیت د لوړولو او اغیزمنیتا په برخه کې مرسته کول
- د ښاروالۍ د پلانونو او پروګرامونو د پلي کولو څارنه او د پرمختیایي موخو معرفي کول
- له خلکو، ټولنې او چاپېریال سره د منظمو مشورو ترسره کول
- په اداره کې د شفافیت د رامنځته کولو لپاره د خلکو د رایو او نظرونو د وړاندې کولو لپاره فرصت برابرول

**د ښاروالۍ اداري مجلس**

**په پالیسۍ پورې اړونده موضوعګانې**

د ښاروالیو اداري مجلس له ښاروال، د ښاروال مرستیال، او د بیلابیلو ادارو له آمرینو څخه جوړه شوې ده. د ښاورالۍ قانون د ښاروالۍ د اداري مجلس لپاره کم شمیر مسؤلیتونه وړاندې کړي دي چې په لاندې ډول دي:

- مالي وزارت ته له سپارلو مخکې د ښاروالۍ د اداري تشکیل د چارت او بودجې تایید
- د ښاروالۍ د سپما میکانیزم تصویبول
- له مرکزي دولت څخه د بودجې د لوړولو لپاره د وړاندېز تاییدول

قانوني چوکاټ د مجلس د فعالیت او دندو په اړه لږ شمیر لارښوونې څرګندې کړې دي. دغه مجلس په زیاته کچه یوه شرکت او یا یوې اجرایي کمیټې ته ورته دندې ترسره کوي.

**د پالیسۍ په اړه یو لړ موضوعګانې په لاندې ډول دي:**

- د ښاروالۍ د اداري مجلس دندې او مسؤلیتونه په بشپړه توګه نه دي څرګندې شوې
- په ډیرو پیښو کې مجلس ددې وس نلري چې د ښاروالۍ د ټولنیزو او اقتصادي چارو په برخه کې د پام وړ لاسته راوړنې ولري او یا وکولای شي باکیفیته خدمتونه وړاندې کړي. د مجلس پریکړې ډیري وخت د اداري ستونزو په اړه نیول کیږي
- د ښاروالۍ پریکړې له سیاسي لاس وهنو خالي نه دي

**د پالیسۍ موخه**

د پالیسۍ موخه د یوې اغیزمنې پالیسي جوړونکې اداري د سیستم جوړول دي، چې کولای شي اوږد مهاله پرمختیایي لاربښوونې وکړي.

**د پالیسۍ سپارښتنې**

**د پالیسۍ حکمونه**

- د ښاروالۍ اداري مجلس به د ښاروالۍ شورا ته ځواب ویونکې وي
- د ښاروالۍ د اداري مجلس دندې به په ښکاره توګه معرفي او د ښاروالۍ د نورو څانګو له دندو څخه جلا شي
- د ښاروالۍ اداري مجلس ته به پوره واك او صلاحیت ورکړل شي؛ ترڅو د ښاروالۍ د پرمختیا لپاره یوه ښه طرحه وړاندې کړي

**د نړیوالو شویو قوانینو او مقرراتو پلي کول**

د ښاروالۍ د اداري مجلس دندې به په لاندې ډول وي:

- د ښاروالۍ د پلانونو او پروګرامونو څیړنه؛ ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې په نوموړو پروګرامونو کې لومړیتوبونه او له حقیقي اړتیاوو سره تړاو په پام کې نیول شوی
- د ښاروالۍ د ټولنیزو او اقتصادي پرمختیایي پلانونو او پروګرامونو، د پانګې اچونې د پلانونو، او د ښاروالۍ د کلنۍ بودجې منظورول
- د ښاروالیو د پلانونو او پروګرامونو څارنه
- د ښاروالۍ له مقرراتو سره سم د کړنو او اجراأتو تاییدول لکه د کارکوونکو ګمارل، ارتقأ ورکول، مکافات، مجازات، روزنه، تدارکات، د ښاروالۍ په واك کې دننه مالي معاملې، د سیستمونو او کړنلارو پلي کول او داسې نورې اداري کړنې
- د ښاروالۍ د لاربښودو پالیسیو، قوانینو او مقرراتو منظورول

**د ښاروالۍ ناحیې**

**په پالیسۍ پورې اړونده موضوعګانې**

ناحیې یا د ښاروالۍ فرعي اداري له ښاروالیو څخه وروسته دویمه کچه اداري بلل کیږي؛ چې خلکو ته د پرمختیاو په رامنځته کولو او د خلکو او دولت په نیږدې کولو کې مهمه دنده ترسره کوي. د ښاروالیو قانون د ښاروالیو په شان د ناحیو لپاره یو شان دندې ټاکلې دي.

د پرمختللو ښاروالیو اړونده ناحیې د ځانګړو دفترونو او کارکوونکو لرونکې دي، په داسې حال کې چې یو شمیر ښاروالۍ دغه راز فرعي اداري نلري. ځینې ناحیې د ځانګړې بودجې لرونکې دي چې دا بودجه حتی د هغوې د لومړنیو لګښتونو لپاره پوره نه ده، په داسې حال کې چې یو شمیرنورې ناحیې هیڅ ډول بودجه په واک کې نلري. د ښاروالیو له ځینو ناحیو سره د خصوصي سکټور لخوا مرسته کیږي. ډیری وخت، ددغو ادارو د دفتر کاریدونکې توکې لکه قرطاسیه او داسې نور د ښاروالیو لخوا ورکول کیږي.

ناحیې په عمومي ډول د ښاروالیو د څارونکو ادارو په توګه دنده ترسره کوي، لکه د غیرقانوني ودانیو د آبادولو مخنیوی، د ناپاکیو یا ډیرانونو راټولول، د بیو کنټرول، او امنیتي دندې. دوی د خلکو شکایتونه او غوښتنې اوري، او د خلکو د استازو په توګه د هغوی غوښتنې ښاروالۍ ته وړاندې کوي. ځینې وخت، دوی د عوایدو د راټولو مسؤلیت لري او د صفایۍ مالیه هم له کورونو راټولوي. سره له دې چې دغه عواید د ناحیو د عوایدو په توګه نه حسابیږي، په دې معنا چې ناحیه په دې پیسو کې کومه برخه نلري.

**د ناحیو په اړه د پالیسۍ ځینې موضوعګانې په لاندې ډول دي:**

- د ښاروالۍ او ناحیو د دندو ترمنځ کوم ډول توپیر نه ترسترګو کیږي، ناحیې د ښاروالیو دندې مخته وړي
- ناحیې له بودجوي او نورو مالي امکاناتو پرته په سیمه ابیزه کچه د ښاري خدمتونو په وړاندې کولو لګیا دي
- ښاروالیو ته د ناحیو مسؤلیتونه نه دي په ډاګه شوي
- د ناحیو د کارکوونکو لپاره د وړتیاوو او مهارتونو د پیاوړي کولو هیڅ راز پروګرام نه دی په پام کې نیول شوی

**د پالیسۍ موخې**

- د ټولنې په کچه د ښاروالۍ لپاره د یو اغیزمن، مسؤلیت لرونکي او فعال تشکیلاتي جوړښت یا طرحې چمتو کول
- د ښاروالۍ او ټولنې ترمنځ د اړیکو ټینګول

**د پالیسۍ سپارښتنې**

**د پالیسۍ حکمونه**

- ناحیې د ځانګړو دولتي ادارو په توګه پیژندل کیږي
- دندې به یې د ښاروالیو له دندو څخه توپیر ولري
- دا اداري به د دندو د ترسره کولو لپاره د ځانګړې بودجې لرونکې شي

**د ښاروالي شویو قوانینو او مقرراتو پلي کول**

د ناحیو لپاره وړاندیز شوې دندې په لاندې ډول دي:

- د ښاروالیو له اداري سره د ښاروالیو د عامه تأسیساتو لکه د اوبو رسولو سیستم، سړکونو، کانالیزاسیون، عامه تشنابونو، رستورانتونو او شنو سیمو په ساتلو او جوړولو کې مرسته کول
- د ښاروالۍ له اداري سره د ټولنیزو او اقتصادي خدمتونو د وړاندې کولو په لار کې لکه د معیشت، نظافت، چاپیریال ساتنې، امنیت، ناروغیو مخنیوی او د مور او ماشوم پالنې په څیرروغتیایي خدمتونو ، او سواد زده کولو د خدمتونو په برخو کې مرسته کول
- له ښاروالۍ سره د لومړنیو توکو د بیو د کنټرول او څارنې او د توکو د ناقانونه ذخیره کولو او احتکارڅخه د مخنیوي، د ناقانونه او غیر معیاري ودانیو د مخنیوي او ورانولو، او د سوداګریزو فعالیتونو د جواز ورکولو په څیر قانوني چارو په برخه مرسته کول
- له ښاروالیو سره د احصایوي معلوماتو، سرشمیرنې او نفوسو ثبت په چارو کې مرسته کول
- د خبرو اترو او سلا مشورو له لارې له خصوصي سکټور سره د همکارۍ او برخې اخیستلو لپاره د ټولنې تشویق او هڅونه
- د ټولنې د غوښتنو او اړتیاوو لیرې کول او د شخړو هواری

**د مالي چارو چوکاټ**

**ښاروالیو ته د عوایدو را پیداکول**

**په پالیسی پورې اړونده موضوعګانې**

یو ټکی چې ښاروالۍ له نورو دولتي ادارو څخه بیلوي دادی، چې ښاروالی د خپلو عوایدو د لوړولو واك او صلاحیت لري. له دې سره جوخت د دا ډول واك کچه لاتراوسه په روښانه ډول نه ده څرګنده. د عوایدو حقیقي کچه چې ښاروالیو ته بې د راټولولو واك ورکړل شوی، د مالې وزارت لخوا د سیمه اییزو شرایطو او د خلکو د وس له په پام کې نیولو پرته، ټاکل کیږي. همدارنګه له عوایدو څخه د ګټې اخیستلو یو ځانګړی لارښود نشته. په همدې توګه د مالیو، فیس، او نورو ټکسونو د راټولولو په اړه د وړاندیزونو د منظورولو واك او صلاحیت هم لاتر اوسه نه دی څرګند؛ دا ځکه چې ځینې وختونه د والي حکم او د ولایت د اداري مجلس رایه هم په دې برخه کې اړینه بلل کیږي. د ښاروالیو د عوایدو کچه اوس مهال د اړینو معلوماتو، د عوایدو په راټولولو کې د لیوالتیا او ظرفیتونو د ټیټوالي له امله ډیره ټیټه ده. په لنډه توګه هغه لاملونه چې د ښاروالیو د عوایدو کچه زیانمنوي په لاندې ډول دي:

- ښاروالۍ د عوایدو په سیمه اییزو سرچینو بشپړ قانوني واك نلري
- اوس مهال ډیر شمیر ښاروالی د خپلو لګښتونو د بشپړولو لپاره د ځمکو او د ښاروالیو د نورو شتمنیو پلورلو په څیر د عوایدو په بې پایښته سرچینو ډډه لګولې
- لکه څنګه چې پورته یادونه وشوه، ښاروالیو تر اوسه ددې وس نه دی موندلی؛ ترڅو له سیمه اییزو اقتصادي شرکتونو څخه د عوایدو د سرچینو په توګه ګټه پورته کړي
- د شتمنیو حقیقي مالیه او د عوایدو دوامداره سرچینې تر اوسه په قانوني توګه نه دي پیژندل شوې، او که چیرې پیژندل شوي هم وي، له یو لړ لانجمنو ستونزو سره، لکه د جایدادونو ناڅرګند حدود او مالکین، د څیړنې د کمزورو میتودونو، او د جایدادونو د تجربه نلرونکو څیړونکو، مخ دي
- په عمومي توګه د عوایدو د سرچینو د ټاکلو او راجسترکولو لپاره اغیزمن ظرفیتونه نشته
- یوشمیر داسې مالې هم شته چې په لړ پیمانه راټولیږي او حتی د مالې د راټولو لګښت هم نشي پوره کولای

## د پالیسی موخې

د پالیسی موخې په لاندې ډول دي:

- د ښاروالیو لپاره د دوامداره مالي سرچینو برابرول؛ ترڅو وکولای شي خپل لګښتونه بشپړ کړي، د کارکوونکو د هوساینې ډاډمنول، او د عامه خدمتونو د څرنګوالي سمون او اصلاح هم شامل وي
- د غیرقانوني عوایدو له مینځه وړل
- په رڼه او شفاف ډول د عوایدو د راټولولو ډاډمنول

## د پالیسی سپارښتني

## د پالیسی حکمونه

- د حقیقي جایدادونو مالیه به تثبیت او پلې شي او د صفایۍ په نامه د ښاروالۍ د اوسني مالي ځای ناستې به وپیژندل شي
- ښاروالیو ته به له قانون سره سم او د سیمه اییز اقتصادي حالت او د خلکو د وس په پام کې نیولو سره د مالي، فیس او نورو ټکسونو د کچې د ټاکلو واک ورکړل شي
- په ښاروالۍ پورې اړونده مالیه، فیس او نور ټکسونه به د یو پرمختللي سیسټم له مخې راټول شي، چې پکې یو زیات شمیر ټولنیز او اقتصادي بنسټونه ګډون لري
- ښاروالۍ به له قانون او مقرراتو سره د خپلو عوایدو له سرچینو څخه د ګټې اخیستلو په برخه کې بشپړ واك ولري
- د ښاروالیو لخوا رامنځته شوي سیمه اییز اقتصادي تشبثات به د ښاروالیو د عوایدو د قانوني سرچینو په توګه وپیژندل شي
- د عوایدو له نویو سرچینو څخه ګټه اخیستل او د مالیو د کچې ټاکنه به له مالیه ورکوونکو سره تر سلا مشورې وروسته ترسره کیږي
- ښاروالۍ به د مالیو د تنظیم او راپور ورکولو یو داسې سیسټم چې وکولای شي د خلکو او لوړپوړو چارواکو غوښتنو ته ځواب ورکونکی وي، رامنځته کړي
- د ناقانونه مالیو او د مالیو په تنظیم او راپور ورکولو کې د سرغړونو په وړاندې به جزاګانې وټاکل شي

**د ښاروالۍ شويو قوانينو او مقرراتو پلي کول**

- د حقيقي جايدادونو د ماليو د قانون پلي کولو لپاره، لکه د جايدادونو د بيې اټکلولو او د ماليو د کچې د ټاکلو په خاطر د لارښود چمتو کول
- د ښاروالۍ، ولايت او په ملي کچه د حقيقي جايدادونو د ماليو د قانون د پلي کيدو په اړه د اداري او انفرادي مسؤليتونو ټاکنه
- د ښاروالۍ د جايدادونو د څيړونکو لپاره د علمي معيارونو ټاکل
- د عوايدو د سرچينو د ټاکلو او ګټې اخيستلو لپاره د لارښود چمتو کول
- د ښاروالۍ د ماليو د تنظيم او راپور ورکولو لپاره د سيستم رامنځته کول
- د ناقانونه ماليو د راټولو او د ښاروالۍ د عوايدو له مقرراتو څخه د سرغړونې په خاطر، د جزاګانو د کړنلارې رامنځته کول

**د ښاروالۍ د بودجې جوړولو او پانګې اچونې پلان جوړونه**

**په پاليسۍ پورې اړونده موضوعګانې**

يوه بله ستونزه، چې ښاروالۍ له خپلو واکونو لرې ساتي، د بودجې د جوړولو په برخه کې د هغوی واك نلرل دي. د دغه راز واک په لرلو سره ښاروالۍ کولای شي، بيلابيلې سيمه اييزې اړتياوې بشپړې کړي. ددغه راز واک په وړاندې د لاندې لاملونو له کبله بيلابيل خنډونه ليدل کيږي:

- د ښاروالۍ د بودجې جوړولو بهير په بيلابيلو ادارو کې ترکتنې او غور لاندې نيول کيږي لکه ناحيې، ولايتي ښاروالۍ، ولايتي مقامات، د سيمه ايزو اورګانونو خپلواکه اداره او د ماليې وزارت
- د پانګې اچونې بودجه هم په لوړه کچه په هغو ښاروالیو کې چې يو شمير پروژې پلې کوي، کنټروليږي، چې کيدای شي د مرکزي وزارتونو لخوا او يا د ماليې وزارت لخوا منظور او يا رد شي
- د معياري بودجې جوړښت يا فارمټ د انفرادي اقلامو وړانديزونو ته اجازه نه ورکوي، له دې کبله ددا راز وړانديزونو منظوريدل او يا رديدل د مقام په خوښې پورې تړلي دي، چې ترډيره بريده د کتونکو په قضاوت او د تيرکال په بودجوي ارقامو پورې تړاو لري.

- د بودجې جوړولو بهیر یوه انعطاف نه منونکې بهیر ښکاري، او همداشان د ښاروالۍ نظر د هغوی د لومړیتوب لرونکو اړتیاوو او غوښتنو په اړه نه اوریدل کیږي؛ ترڅو په کلنی بودجه کې د منظوریدو لپاره په پام کې ونیول شي
- د راتلونکي کال د پانګې اچونې لپاره میکانیزم نشته، چې له دې کبله ښاروالۍ نشي کولای د څو کلني پانګې اچونې لپاره یوه ښکاره طرحه وړاندې کړي، لکه په ښارونو کې د سړك جوړولو، اوبو رسولو، ککړو اوبو ویستلو او چاپیریال ساتنې د خدمتونو وړاندې کول

**د پالیسی موخې**

د پالیسی موخې په لاندې ډول دي:

- د ښاروالۍ د پلانونو او بودجې ترمنځ د اړیکو ټینګول
- په ښاروالیو کې د اداري اصلاحاتو په موخه د ښاروالۍ د بودجې لګول، ترڅو دا اداره وکولای شي د یوې اغیزمنې ادارې په توګه د خپلو غوښتنو او اړتیاوو ځواب ووایي
- د سیمه اییزو غوښتنو د ځوابولو او اغیزمنو خدمتونو د وړاندې کولو لپاره د ښاروالۍ د وړتیاوو لوړول

**د پالیسی سپارښتنې**

**د پالیسی حکمونه**

- د ښاروالیو بودجه جوړونه باید د داسې پړاوونو له لارې ترسره شي؛ ترڅو د هغې په ټاکنه، کتنه او منظورۍ کې له غیرضروري لاسوهنو څخه مخنیوی وشي
- د راتلونکو موخو لپاره د ښاروالیو د بودجې جوړولو لپاره د یو پرمختللي سیستم رامنځته کول او د مرکزي دولت لخوا د هغه منظوریدل
- د بودجې جوړولو په سیستم کې باید سیمه اییزې اړتیاوې او سلا مشورې په پام کې ونیول شي
- د ښاروالۍ بودجه باید د اوږدمهاله پلانونو، لکه اوسني ماسټرپلان او منځ مهاله پانګې اچونې پروګرام پربنسټ په پام کې ونیول شي
- د ښاروالیو بودجې باید انعطاف منونکې بڼه ولري؛ ترڅو ښاروالۍ وکولای شي بیړنیزو اړتیاوو ته ځواب ووایي

- د ښاروالیو د پانګې اچونې پروګرامونه او پروژې باید د یوې هراړخیزې مطالعې او کتنې پر بنسټ، لکه د مالي، تخنیکي، او اداري امکاناتو له څېړنې وروسته ترسره شي
- ښاروالۍ باید د خپلې بودجې د لګولو لپاره د راپور ورکولو یو اغیزمن سیسټم وکاروي

**د نېښاني شویو قوانینو او مقرراتو پلي کول**

- د ښاروالیو د اصلاح شوي بودجې جوړولو سیسټم، کړنلارې او جوړښت پلي کول او همداشان د بودجې جوړولو، بیا کتنې او منظورولو په برخه کې د انفرادي او اداري مسؤلیتونو ټاکل
- د بودجې د لګښت د څارنې، څېړنې، او راپور ورکولو لپاره د ټاکلو پړاونو، کړنلارو، انفرادي او اداري مسؤلیتونه معرفي کول
- د بودجې د جوړولو لپاره له بیلابیلو اداري کچو سره د مشورې په موخه د ټاکلو پړاونو او کړنلارو جوړول
- د ښاروالیو د بودجې جوړولو نوي سیسټم ته د ننوتلو په موخه د فعالیتونو، مودې، انفرادي او اداري مسؤلیتونو ټاکل
- د ښاروالیو د پانګې اچونې د وړاندیزونو د مطالعې او غور لپاره د لارښودونو چمتو کول
- د بودجې جوړولو له معیارونو او کړنلارو سره د مخالفو کړنو په وړاندې د مجازاتو د کړنلارې رامنځته کول

**له دولتي ادارو سره مالي اړیکې او بهرنیو مالي سرچینو ته د ښاروالیو لاسرسی په پالیسۍ پورې اړونده موضوعګانې**

د اوسني مالي سیسټم په پام کې نیولو سره، ښاروالۍ یوازې د هغه څه د لګښت واک لري، چې ترلاسه کوي يې. ښاروالۍ نن مهال د هیواد د ټول نفوس نیږدې د څلورمې برخې خلکو په وړاندې د هوساینې او ټولنیزو خدمتونو د وړاندې کولو مسؤلیت پرغاړه لري. دغه راز مالي محدودیت له شکه پرته د ښاروالیو لخوا د ټولنیزو خدمتونو د وړاندې کولو په لار کې د پام وړ ستونزې را ولاړې کړې دي.

په همدې توګه ښاروالۍ يو ځانګړی لاربنود په لاس کې نلري، چې څنګه کولای شي بهرنيو مالي سرچينو ته لاسرسی ومومي؛ ترڅو د خلکو او ټولنې اړتياوې بشپړې کړي. د داسې يو ښکاره لاربنود د نشتوالي په وخت کې، ډيرې ښاروالۍ د لګښتونو له سخت کسر سره مخ دي او حتی له خصوصي سکټورونو څخه د پور اخيستلو ته اړې شوې دي. ټولې دغه راز ستونزې د مالي بودجې د غيرعادلانه ويش او د مالي سرچينو د تنظيم په برخه کې د پام وړ ستونزو د رامنځته کيدو لامل ګرځيدلې دي. له بهرنيو مالي سرچينو څخه د ګټې اخيستلو په اړه لاندې مسئلې په ګوته شوې دي:

- سره له دې چې د مالي تنظيم قانون څرګنده کړې " ښاروالۍ کولای شي د حقيقي اړتياوو د شته والي په وخت کې د مرکزي دولت له بودجې څخه مرسته ترلاسه کړي" مګر له کابل پرته له هيڅ يوې ښاروالۍ سره مالي مرسته نه دي شوي
- همداشان د هيڅ يوې ښاروالۍ پور، سره له دې چې په قانون کې څرګند دی، نه دی منظور شوی
- د مالي عامه اړتياو د پوره کولو لپاره د خصوصي شتمنۍ د په کاراچولو په اړه کوم ښکاره لاربنود وجود نلري
- د يو ښکاره لاربنود په نشتوالي کې، ښاروالیو بهرنيو مالي سرچينو ته د لاسرسي لپاره، چې کيدای شي په بشپړه توګه قانوني لارې نه وي، لاس اچولی

## د پالیسۍ موخې

د پالیسۍ موخې په لاندې ډول دي:

- ښاروالیو ته په مالي برخه کې د عامه اړتياوو او د خلکو غوښتنو ته د ځواب ورکولو په موخه د يو څه واك ورکول
- بهرنيو مالي سرچينو ته د ښاروالیو د لاسرسي لپاره لار پرانيستل
- د ښاروالیو په اداره کې د مالي مديريت سمون او اصلاح

**د پالیسۍ سپارښتنې**

**د پالیسۍ حکمونه**

- دولت د ښاروالیو په وړاندې خپل مالي مسؤليتونه څرګندوي

- ښاروالیو ته باید اجازه ورکړل شي؛ ترڅو له قانون سره سم خپله ټانګه د عامه خدمتونو د وړاندې کولو لپاره وکاروي
- ښاروالۍ کولای شي د دولت د ټاکل شوو مقرراتو په پلي کولو او د بیړنیزو لګښتونو د پوره کولو په برخه کې، دوی ته د ورکړل شوي واك په کارولو سره، د بیړنیزو لګښتونو د مالي کسر ستونزه له مینځه یوسي
- ښاروالۍ کولای شي د دولت د ټاکل شوو مقرراتو په پلي کولو او د پور د بیا ورکړې له منل شوو ظرفیتونو څخه په ګټې اخیستلو سره، د پور اړونده ستونزې حل کړي
- ښاروالۍ کولای شي د مالي وزارت له لارې له بهرنیو سرچینو څخه پور ترلاسه کړي

## د نښاني شویو قوانینو او مقرراتو پلي کول

- له دولت نه د ښاروالیو کچې ته د مالي بودجې د لیږد معیارونه، لارښودونه او کړنلارې
- د ښاروالیو لخوا د عامه ټولنیزو خدمتونو د وړاندې کولو لپاره لارښود او کړنلارې
- د ښارولیو د بودجوي کسر د لیرې کولو معیارونه، کړنلارې او لارښود
- د ښاروالیو د کورنیو او بهرنیو پورونو په اړه معیارونه، کړنلارې او لارښود

**مالي مدیریت او راپور ورکول**

**په پالیسۍ پورې اړونده موضوګانې**

د ښاروالیو اوسنی مالي سیستم داسې یو سیستم بلل کیږي، چې له څو ځله کتنې سره سره اغیزمن کنټرول پکې نه ترسترګو کیږي. د بیلګې په توګه د بودجې د لګښت راپور باید له هرو شپږو میاشتو وروسته وړاندې شي؛ خو په عمل کې ډیرې ښاروالۍ اته میاشتې وروسته خپل راپور د مالي وزارت ته لیږي.

د پالیسۍ په اړه ځینې موضوعګانې په لاندې ډول دي:

- لکه څنګه چې یادونه وشوه د ښاروالۍ بودجه/تشکیل ترډیرو کتنو لاندې نیول کیږي؛ مګر اغیزمن کنټرول پکې کمځواکه بریښي
- د بودجې د لګښت راپورونه په ټاکلي وخت او د ټاکل شوو مقرراتو له مخې نه سپارل کیږي

- ډیرې ښاروالۍ د خپلو مالي حساب ورکولو اړیکوته د سیمه اییزو اورګانونو خپلواکې اداري او مالي وزارت په څیر حکومتي ادارو پر ځای د ولایت له مقام سره ډیر تړاو ورکوي
- په مالي معاملاتو کې د ثبت د واحد سیستم نشتوالی ددې سبب شوی چې مالي معاملات د نامنظمو بهیرونو له لارې ترسره شي
- د ښاروالیو اوسنی حسابي چارت د ټولو مالي معاملاتو د ثبتولو لپاره بشپړ نه بریښي
- د کنټرول کمځواکي، د ناسمو ارقامو د ثبت، د لګښتونو د نادقیقې ډلبندۍ او د معاملو په برخه کې د راپور نه ورکولو لامل ګرځیدلي دي
- د ښاروالیو په مالي معاملو کې تفتیش او پلټنه کمزورې او یا هیڅ نشته

## د پالیسۍ موخې

د پالیسۍ موخې په لاندې ډول دي:

- ډاډ ترلاسه کول، چې ښاروالۍ خپل مسؤلیتونه د دولت په وړاندې په سمه توګه ادا کړي دي
- ډاډ ترلاسه کول، چې ښاروالۍ خپلې د داخلي مالي حساب ورکولو چارې، د خلکو او د ښاروالۍ د اړوند ادارو په وړاندې، په سمه توګه سرته رسولي دي
- د ښارولیو په کچه د یو شفاف او اغیزمن مالي مدیریتي سیستم رامنځته کول

## د پالیسۍ سپارښتنې

### د پالیسۍ حکمونه

- د ښاروالیو مالي مسؤلیتونه به د قانون له مخې وټاکل شي
- په عمومي توګه، دغه مسؤلیتونه به هم د دولت د ادارو په وړاندې او هم د خلکو او ټولنې په وړاندې وټاکل شي
- د محاسبو معیاري چارت، مالي مقررات او د راپور ورکولو طرحه یا فارمټ به د ښاروالیو په واک کې ورکړل شي
- د ښاروالیو لپاره به د مالي مدیریت نور سیستمونه هم رامنځته شي
- د ښاروالیو مالي چارې به په دوامداره توګه پلټل کیږي
- د ښاروالیو له قانون او مقرراتو څخه د سرغړونو لپاره باید مجازات وټاکل شي

**د نښاني شویو قوانینو او مقرراتو پلي کول**

- د ښاروالی د مالي مدیریت د سیسټم د پرمختیا، پلي کولو او څېړولو په برخه کې انفرادي او اداري مسؤلیتونه
- د ښاروالیو لپاره د مالي راپور ورکولو سیسټم او کړنلاره
- د محاسبو اصلاح شوی چارت
- د ښاروالیو د محاسبي مضاعف سیسټم
- مالي مقررات، د راپور ورکولو طرحه او فارمټ او جدولونه
- د ښاروالیو د داخلي کنټرول سیسټم
- د داخلي او بهرني پلټني کړنلارې
- د ناقانونه کړنو او نادقیق راپور ورکولو په وړاندې جزاګانې

**د حکومتي ادارو خپل مینځي اړیکې**

ښاروالي د دولت یوه خپلواکه اداره ده. د ښاروالی رسمي اړیکې له دولتي او د ښاروالی دننه ادارو سره تر نن مهاله نه دي څرګندې شوې، چې دې حالت په خپل وار سره په چارو کې یو ډول بې نظمي رامنځته کړې ده. ځینې اړیکې په اختیاري او د خوښې له مخې له ځینو ادارو سره نیول کیږي، چې په دوديز ډول له پخوا نه هم دا راز اړیکې نیول کیدې، خو دا چلند د قانوني مقرراتو او لارښود د نشتوالي له امله کم څواکه بریښي.

د ښاروالیو مخامخ څارنه د سیمه ایيزواورګانونو د خپلواکې ادارې له لومړنیو دندو څخه یوه ده. ډیری ولایتي ښاروالی او یا ناحیې په مستقیمه توګه د والي او یا د ولایت د اداري مجلس لخوا څارل کیږي. د کابل ښاروالي مخامخ مرکزي دولت ته راپور وړاندې کوي او د مرکزي دولت له ادارو سره مستقیې اړیکې لري.

ښاروالی پرته له دې چې د ولسوالیو ښاروالی یا ناحیې خپل راپور ولایتي ښاروالیو ته وړاندې کوي؛ په عمومي توګه یوله بل سره همغږي او همکاري نلري. د ولسوالیو له ښاروالیو یا ناحیو

سره هم اداري اړيکې يا هيڅ نشته او يا هم ډېرې کمزورې دي. ډېرې ښاروالۍ په تيره بيا وړې ښاروالۍ د ناحيو چارې په مستقيمه توګه څارې.

د ښاروالۍ په چارو کې د ټولنې د برخې اخيستنې کچه په هغو ښاروالیو کې چې د مرستندويه ټولنو لخوا مرسته ورسره کيږي، ټيټه ده. له خصوصي او سوداګريزو سکټورونو سره ګډون په لږه پيمانه ترسترګو کيږي؛ ځکه په ادارو کې غيرصادقانه کاري اړيکې او اداري فساد او درغلي د دا راز ګډون په جوړولو کې لوی خنډ رامنځته کړی دی.

**د دولت له مرکزي ادارو سره اړيکې**
**په پاليسۍ پورې اړونده موضوعګانې**
د ښاروالیو اړيکې له مرکزي ادارو سره د ولايتي سکټوري ادارو له لارې ټينګښت مومي، پرته د کابل له ښاروالۍ څخه چې له مرکزي ادارو سره مستقيمې اړيکې لري، نورې ښاروالۍ په مستقيمه توګه له مرکزي ادارو څخه سکټوري خدمتونه ترلاسه کوي. دا خدمتونه عبارت دي له کرهنيزو فعاليتونو، د معلوماتي ټکنالوجۍ خدمتونه، ټول ګټې خدمتونه، سوداګري او داسې نور.

**په پاليسۍ پورې اړونده موضوعګانې په لاندې توګه دي:**

- سره له دې چې ښاروالیو ته مالي خپلواکي ورکړل شوې؛ مګر د هغوی بودجه بيا هم د مرکزي ادارې لخوا تاييد او منظوريږي
- د مرکزي ادارو او ښاروالیو ترمنځ اړيکې د ګډو منل شوو پاليسيو، اجرايه وي لارښود، موخو او معيارونو له مخې نه دي رامنځته شوي
- اوسنی اړيکې په عمومي توګه د ښاروالۍ له مأموريت سره چې د هوساينې د عامه خدمتونو وړاندې کول دي، په تضاد کې دي. ښاروالۍ د مرکزي ادارو د ډېرو خدمتونو د وړاندې کولو په چارو کې کاري ګډون او لاس نلري
- له ښاروالیو نه تمه کيږي؛ ترڅو سکټوري خدمتونه وړاندې کړي؛ مګرله دې اداري سره له مالي پلوه سمه مرسته نه ترسره کيږي، چې له همدې امله دا اداره نه ده بريالۍ شوې اغيزمن عامه خدمتونه وړاندې کړي

- سربيره پردې، د سيمه ايیزو راټولو شوو عوايدو لګښت د مرکزي اداري په منظورۍ پورې تړلی دی، چې د بودجوي کسر او لومړنيو لګښتونو د پوره کولو په برخه کې د پام وړ مرسته نشي کولای

## د پالیسۍ موخې

**د پالیسۍ موخې په لاندې ډول دي:**

- له مرکزي دولت سره د ښاروالیو د اړیکو پیاوړي کول
- د ښاروالیو د لومړیتوب له پروګرامونو سره سم د لاغیزمنو سکتوري خدمتونو وړاندې کول

## د پالیسۍ سپارښتنې

### د پالیسۍ حکمونه

- د سکتوري خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې د ښاروالیو د دندو لايحه به چمتو او معرفي شي
- د مرکزي ادارو خدمتونه به د ښاروالیو د ښکاره اړتیاوو له مخې وړاندې شي
- ښاروالۍ د اساسي سکتوري خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې مسؤلیت لري، چې په دې اړه به له ښاروالیو سره پوره مالي مرستې کیږي
- مرکزي دولت به د ښاروالیو د لارښوونې لپاره د خدمتونو شاخصونه او معیارونه وړاندې کړي

## د نښاني شویو قوانینو او مقرراتو پلي کول

- ښاروالیو ته د مرکزي ادارو د سکتوري خدمتونو د تفويض لارښود
- د مرکزي ادارو او ښاروالیو ترمنځ د دندو او مسؤلیتونو ټاکل

## پاليسي جوړښت:

- مرکزي حکومت د ملي پاليسۍ چوکاټ طرحه کوي
  - د ښاروالۍ او په ملي کچه د سکټوري موخو وړاندې کول، په ځانګړې توګه د ملي موخو په تر لاسه کولو کې د ښاروالیو ونډه
  - د ښاروالیو د سکټوري خدمتونو د پلان جوړونې او پلي کولو لپاره لارښود
  - اړین مسؤلیتونه او واکونه باید ښاروالیو ته ولیږدول شي
  - د بهیرونو او کاري کیفیت معیارونه
- ښاروالي د ښاروالیو د پالیسۍ د جوړولو دنده لري:
  - د ښاروالۍ په کچه د پروژو او پروګرامونو موخې
  - اجراي پالیسي
  - د سکټوري واکونو د تفویض په برخه کې فرمانونه
  - اجراي او اداري فرمانونه او حکمونه

څارنه(څارنه او ارزونه):

- په لاندې ټکو کې د مرکزي دولت له چوکاټ سره د کار له سمون څخه د ډاډ په غرض، د ښاروالیو د کار څارنه او ارزونه:
  - سکټوري پالیسۍ
  - د ټاکل شوو لاسته راوړنو، موخو، او مهال ویش په ګډون ملي سکټوري ، پرمختیایي پلانونه
- ښاروالي له اړوندو چارو څخه څارنه کوي
  - د پلي کولو د بهیر په پام کې نیولو سره د ښاروالیو د سکټوري پلانونو څارنه
  - د ښاروالیو له سکټوري بودجې او د هغې له لګښت څخه څارنه

## پلي کول:

- مرکزي دولت د ټولو سکټوري پروګرامونو او پروژو مالي سرچینې منظوروي:
  - د ښاروالیو د سکټوري خدمتونو او پروژو بودجه تایید او منظوروي
  - د ښاروالۍ بودجه زیاتوي او د پروګرام ټوله بودجه او یا یوه برخه چمتو کوي

- **ښاروالي:**
  - سکټوري پلانونه او پرواګرامونه پلي کوي
  - اړينې مالي سرچينې برابروي

**د اغيزو ارزونه:**

- د مرکزي دولت کړنې او اقدامات د ملي موخو او موخو په پلي کولو باندې ټينګار کوي
- د ښاروالیو کړنې او اقدامات له پلان سره سم د ټاکل شوو موخو په پلي کولو باندې ټينګار کوي

- د سکټوري خدمتونو پلي کول به ښاروالیو ته تفويض او ورکړل شي، سره له دې کافي اندازه مالي مرستې به د ښاروالیو حساب ته وليږدول شي
  - لومړنی روغتيايي پاملرنې لکه د مور او ماشوم پالنه، تغذي، د ناروغيو مخنيوی، وقايه او کنټرول او داسې نور
  - د ښاري ټولګټو تاسيساتو جوړول او ساتنه، لکه د اوبو رسولو سيستم، د بريښنا سيستم، ښاري سړکونه، پارکونه، فرهنګي او تاريخي ځايونه
  - چاپيريال ساتنه
  - د ښاروالیو د واك دننه د طبيعي سرچينو ساتنه او تنظيم
  - د ناورين او طبيعي پيښو په وړاندې مبارزه
  - د سولې او نظم ساتنه

**له ولايتي ادارو سره اړيکي**

ښاروالۍ د واليانو ترڅار لاندې دي. واليان په سيمه ايیزه کچه د سيمه ايیزو اورګانونو خپلواکې اداري استازي بلل کيږي. په همدې توګه نورې ښاروالۍ هم د ولايتي اداري مجلس تر څارنې لاندې دي، چې د ولايت اړونده اداري بلل کيږي او يوازې د ولايت د کورنيو (نه بهرنيو) چارو د سرته رسولو مسؤليت پرغاړه لري.

کاري راپور هم په هغه توګه څنګه چې پورته څرګنده شوې وړاندې کيږي. په همدې توګه هغه اداري پريکړې، چې د ولايت لخوا نه تعقيبيږي په ښاروالیو باندې په مستقيمه توګه د تعميل وړ نه

دي. ولايتي اداري بايد د ښاروالیو په بودجې باندې کنټرول ونه لري. ځيني واليان د ښاروالیو د کارکوونکو په ګمارلو او ټاکلو کې غیرقانوني لاسوهنه کوي، څرنګه چې د قانون له مخې ولايت ددې واك نلري؛ ترڅو دا راز کړنې ترسره کړي.

ولایت د ښاروالیو او ناحیو د پرمختیایي پروګرامونو د همغږي کولو په موخه د پلان جوړوني، پروګرام جوړوني او پلي کولو په برخو کې اداري ځارنه نه ترسره کوي، چې له همدې امله د دوی ترمنځ پلانونه او پروګرامونه نا همغږي دي.

**په پالیسۍ پورې اړونده موضوعګانې**

په پالیسۍ پورې اړونده موضوعګانې په لاندې ډول دي:

- د ولایتي ادارې او ښاروالیو ترمنځ اړیکې نا څرګندې دي
- د مرکزي ادارې لخوا د ښاروالیو او ناحیو د چارو په ځارنه کې زیاتې ستونزې ترسترګو کیږي
- ولایتي اداره په غیرضروري توګه د ښاروالیو په چارو او ادارې پریکړو کې لاس وهنه کوي

**د پالیسۍ موخې**

- له مرکزي ادارې سره د ښاروالیو د اړیکو پیاوړي کول
- د ښاروالیو له لومړیتوب لرونکو پروګرامونو سره سم د اغیزمنو سکټوري خدمتونو وړاندې کول

**د پالیسۍ سپارښتنې**

**د پالیسۍ حکمونه**

- د ښاروالیو له قانون سره سم د ولایتي ادارو او ښاروالیو ترمنځ اړیکې او کاري مسؤلیتونه باید وټاکل شي.
- د ښو او اغیزمنو خدمتونو د وړاندې کولو په موخه د ولایت په کچه د ښاروالیو د ټولنیزو او اقتصادي پرمختیایي پروګرامونه همغږي شي.

**د ښاغلي شویو قوانینو او مقرراتو پلي کول**

- د ولایتي او ښاروالیو د ادارو ترمنځ د دندو بیلتون
- د ولایتي اداري په وړاندي د ښاروالیو د دندو او راپور ورکولو د مسؤلیتونو ټاکنه
- د ولایتي پرمختیایي پلانونو او پروګرامونو سره سم د ښاروالیو د لومړیتوب لرونکو پروګرامونو همغږي کول

**له نورو ښاروالیو او ولسوالیو سره اړیکی**

**په پالیسی پوري اړونده موضوعګانی**

د ښاروالیو ترمنځ کوم راز رسمي اړیکې نه ترسترګو کیږي. همداشان د ښارولیو ترمنځ د ګډو پرمختیایي موخو د لاسته راوړلو او ګډو مالي سرچینو د ګډ لګښت لپاره د مرستې او همغږی کومه رسمي کړنلاره نشته. په ځینو ځانګړو وختونو کې، لکه د تمویلونکو ټولنو د مرستو په وخت کې د یو لړ غیررسمي اداري مرستې ترسترګو کیږي.

له بله پلوه رسمي اداري اړیکې د ولایتي ښاروالیو او د ناحیو یا د ولسوالیو د ښاروالیو ترمنځ لیدل کیږي. دغه راز اړیکې د پخوانیو دودیزو اړیکو پر بنسټ او یا د ناسمو اداري کړنلارو له مخې ټینګیږي.

**په پالیسی پوري اړونده ځینې موضوعګانی په لاندې ډول دي:**

- د دولتي ادارو ترمنځ ناڅرګنده اړیکې د غیررسمي اداري اړیکو او په پایله کې د واکونو د کچو د نه مراعات او مسؤلیتونو د ناڅرګندتیا لامل ګرځي
- د ښاروالیو ترمنځ د یووالي نشتوالی د دې لامل ګرځیدلی؛ تر څو د ښاروالیو په ادارو کې قانوني، مالي، او اداري چارې له کمزورتیا سره مخ شي

## د پالیسی موخې

د پالیسی موخې په لاندې ډول دي:

- د ښاروالیو د پرمختیایي چارو د لا ښه سمون په موخه، د ښاروالیو ترمنځ د خپل منځي اړیکو پیاوړي کول

- د ښاروالیو ترمنځ د یوې داسي شبکې رامنځته کول؛ ترڅو په دغو ادارو کې د اداري سمون، پالیسي جوړولو، د ظرفیتونو د لوړولو او قانوني اصلاحاتو په برخه کې لیوالتیا رامنځته کړي

**د پالیسۍ سپارښتنې**

**د پالیسۍ حکمونه**

- ښاروالۍ به د یوه پرمختللي اداري سیستم د رامنځته کولو په موخه، په رسمي توګه ځانونه د ښاروالیو په اتحادیه کې منظم کړي
- مرکزي دولت به د ښاروالیو له دغې اتحادیې سره د ښاروالیو د یو همکاره او مرستندویه لوري په توګه بشپړه مرسته کوي

## د نښاني شویو قوانینو او مقرراتو پلي کول

- د ولایتي ادارو لخوا د ښاروالیو او ناحیو د اداري څارنې لپاره لارښود
- د ښاروالیو د اتحادیې تګلاره

**د ښاروالیو په حکومتوالۍ کې عامه برخه اخیستنه**

په فرهنګي، سیاسي او اداري چارو کې د ټولنې برخه اخیستنه، د افغانانو یوه لویه ځانګړتیا په ګوته کوي. په اداره کې عامه ګډون او برخه اخیستنه یو له هغو مهمو ټکو څخه دی چې په اساسي قانون کې ډیر ټینګار پرې شوی دی. د پالیسۍ او قانون اوسنۍ جوړښت د ښاروالیو په ادارو کې د ټولنې د برخې اخیستنې لپاره ښه لار پرانیزي.

لکه څنګه چې خلك او ټولنه د ولایت او ولسوالۍ په کچه د پریکړه کولو په برخه کې رغنده برخه لري؛ خو په ښاروالیو کې تراوسه دغه ګام نه دی پورته شوی. د ښاروالیو په پرمختیایي بهیر کې کوم رسمي یا سیستماتیك بهیر نشته؛ ترڅو د هغو له مخې خلك په پریکړو کې برخه ولري او یا خپل نظرونه وړاندې کړي. په عمومي توګه د خلکو او ټولنې برخه اخیستنه په دودیز ډول او د غیررسمي چینلونو له لارې، لکه د ګوزر د وکیلانو له لارې په یوه ټیټه پیمانه ترسره کیږي.

له خلکو او ښاریانو سره سلا مشوره او د هغوی برخه اخیستنه او ګډون په یو لړ ښاري فعالیتونو کې، لکه د سرو او چټلیو لیرې کول او یا د ملکیتونو استملاک کیدای شي د ښاروالۍ د ادارې لپاره ډیرې ګټې له ځان سره ولري.

**د مدني ټولنې، ځوانانو، ښځو او مذهبي ډلو ګډون او برخه اخیستنه**

**په پالیسۍ پورې اړونده موضوعګانې**

اساسي قانون او نورو اړینو قوانینو او پالیسیو د ټولنې بیلابیلو ډلو لکه ځوانانو، ښځو، او مذهبي ډلو ته په ټولنیز سکټور کې د ګډون ځانګړی حق ورکړی. له همدې امله د لویو او مهمو ادارو په پالیسیو او ستراتیژیګانو کې هڅه شوې؛ ترڅو د ښځو(چې د افغانستان د نفوس نیمه برخه جوړوي)، ځوانانو(چې د نفوس دوه پردریمه برخه جوړوي)، مذهبي ډلو، ټولنیزو سازمانونو، او نورو غیردولتي سازمانونو ونډه په سیمه اییزه ادارو کې زیاته کړي.

**په پالیسۍ پورې اړونده موضوعګانې په لاندې ډول دي:**

- د ټولنیزې برخې اخیستنې او ګډون لپاره ځانګړی جوړښت او میکانیزم نشته
- د ټولنیزې برخې اخیستنې او ګډون لپاره د ادارو ظرفیتونه او وړتیاوې پیاوړتیا ته اړتیا لري

**د پالیسۍ موخې**

- په سیمه اییزه کچه د ولسواک نظام او ادارې رامنځته کول
- د ټولنې د ګډون او برخې اخیستنې له لارې د ښاروالیو د فعالیتونو او اجراأتو پیاوړې کول
- د ملي پرمختیاوو لپاره د ټولنې هڅونه او تشویق

**د پالیسۍ سپارښتنې**

**د پالیسۍ حکمونه**

- له دولت سره د مرستې په موخه، عامه معلوماتو ته د ټولنې او خلکو لاسرسی د مهمو پریکړو په ترسره کولو کې د خلکو وړتیاوې او ظرفیتونه پیاوړې کوي

- د ښاروالۍ اداره باید عامه معلوماتو ته د ټولنې د لاسرسي حق، د اساسي قانون له حکمونو سره سم وپېژني. دا اداره باید معلومات د ټاکل شوو معیارونو له مخې د عامه او پټو معلوماتو له مخې ډلبندي کړي
- مسؤلیتونه باید د دواړو غاړو لخوا مراعات شي، دا ځکه چې عامه ګډون او برخه اخیستنه هم د ټولنې حق دی او هم یې مکلفیت
- د ښاروالۍ اداره باید د ښاروالۍ په چارو کې د ټولنې د ګډون او برخې اخیستنې لپاره ځینې میکانیزمونه رامنځته کړي
- د ښاروالۍ په چارو کې د خلکو د ګډون لپاره باید ټولنې خپل استازي وټاکي؛ ترڅو له مقرراتو سره سم خپل مسؤلیتونه ادا کړي

## د نښاني شویو قوانینو او مقرراتو پلي کول

له لوړو قوانینو او مقرراتو سره سم د ښاروالۍ په اداره کې د عامه ګډون د مشروعیت لپاره د ښاروالیو حقوقي چوکاټ/فرمان

- د ښاروالۍ په اداره کې د عامه ګډون لپاره تشکیلاتي او اجراییه وي چوکاټ پلي کول:
  - د خلکو د غوره استازو معرفي کول؛ ترڅو وکولای شي له ټولنې څخه د ښه استازیتوب څرګندونه وکړي
  - متقابله خپل منځي حساب ورکونه، رول، مسؤلیتونه، او د دواړو غاړو لاسته راوړنې
  - د عامه ګډون په موخه د اداري چارو او پریکړو په برخه کې میکانیزمونه(حتا کیدای شي چې په ځینو پریکړو کې عامه ګډون جبري وګڼل شي)

- **د عامه ګډون لپاره فعالیتونه:**
  - پرمختیایي پلانونه او پروګرامونه
  - د پالیسی په اړه بحثونه
  - د عوایدو راټولول او د هغو لګول
  - د خدمتونو وړاندې کول
  - څارنه او ارزونه
  - د اغیزو ارزونه

- **د عامه ګډون لپاره سکتورونه:**

- اساسي ټولنيز خدمتونه لکه روغتيا، زده کړه، اوبه رسول، د ککړو اوبو ويستل، روغتيا ساتنه، او داسې نور
- خونديتوب او امنيت
- چاپيريال ساتنه لکه د چټليو ليرې کول، د ځنګلونو بيارغول او زرغونول

- د دوارو غاړو هم د ښاروالۍ او هم ټولنې لپاره، د ځانګړو ظرفيتونو او وړتياوو پياوړي کول، لکه د عامه سلا مشورو، پريکړې کونې، د شخړو حل او داسې نورو برخو کې.
- د عامه ګډون لپاره د شاخصونو ټاکل لکه:
  - عامه معلوماتو ته پرانستې لاسرسی
  - معلوماتو ته د دوارو غاړو د لاسرسي او کارولو بهيرونه او ټکنالوژي
  - عدالت او برابري

- **د عامه ګډون لپاره مقدماتي کړنې:**
  - هويت او پيژندګلوي، غونډه او د لومړيتوب لرونکو اړتياو ټاکل
  - د ټاکل شوو موخو د ترلاسه کولو لپاره د پرمختيايي پلانونو جوړول
  - د پروګرام او پروژو طرحه کول
- د عامه ګډون بهيرونه بايد د لاندې موخو لپاره په پام کې ونيول شي:
  - د ټولنې د عمومي هوساينې ډاډمنول
  - د دولت د اجراأتو پياوړي کول
  - د عامه پانګې اچونې لپاره پلان جوړونه او پروګرام جوړونه
  - د پروژو پلي کول، په تيره بيا هغه چې د قانون لخوا مکلفيت ورکړل شوی وي لکه:
    - د ټولنيزو اساسي خدمتونو وړاندې کول
    - ښاري زيربنايي تأسيسات لکه سړکونه، پلونه، او د اوبو رسولو سيسټمونه
    - بريښنا، انرژي او معلوماتي ټکنالوژي
  - په عامه خدمتونو باندې ماليه لګول؛ ترڅو سطحه اوکيفيت يې اوچت وساتل شي.
  - د موخو او بودجې په پام کې نيولو سره د ښاروليو د کړنو څارنه او ارزونه
- **عامه معلوماتو ته د لاسرسي ميکانيزم:**
  - د ښاروالۍ په چارو او کړنو کې رونوالی
  - د عامه معلوماتو د خپرولو او د هغو په اړه د نظرڅرګندولو کړنلاره او معلومات

- د ښاروالیو د اداري مجلس، د ښاروالۍ او ولسوالیو د شورا ګانو، کلیوالو شورا ګانو، او د مدني ټولنې نورو ټولنیزو ډلګیو ترمنځ معلوماتي اړیکې
- د عامه معلوماتو میکانیزمونه لکه خبرلیک، د اعلانونو تخته، او له ښاروالیو سره د کلیو منظمې خبرې اترې
- له دولتي ادارو سره د ښې مرستې او همکارۍ په موخه د اړینو معلوماتو څرنګوالی:
  - د ښاروالیو اداري معلومات لکه تشکیل او د کارکوونکو شمیر
  - ټولنیز– اقتصادي پرمختیایي پلانونه او پروګرامونه
  - د پیرودلو او تدارکاتو پړاوونه او معلومات
  - مالي معاملې، لکه بودجه او لګښتونه
  - د ښاروالۍ او مرکزي دولت مقررات/لارښوونې
- د ښاروالۍ د اداري مجلسونو او عمومي شورا پریکړې لکه مسودې او نور منل شوي مقررات

**د ښاروالیو په اقتصادي وده کې د خصوصي سکټور رول او دنده**

**په پالیسی پورې اړونده موضوعګانې**

په افغانستان کې د خصوصي سکټور دنده او رول "د خصوصي سکټور د آزاد بازار د اقتصاد له لارې د دوامداره اقتصادي پرمختیا او وده " په ملي کچه ښه څرګندوالی لري. دغه موخه څنګه چې په اساسي قانون کې څرګنده ده، لاتراوسه په سیمه اییزه کچه نه ده ترلاسه شوې. ترنن مهاله د خصوصي سکټور پانګه اچونه د انرژۍ او مخابراتي برخو کې روانه ده. سربیره پردې دولت د لاندې صنعتي فعالیتونو په برخه کې د پانګې اچونې لپاره د خصوصي سکټور د ګډون او مرستې په لټه کې دی:

- عامه تأسیسات لکه سړکونه، پلونه، د اوبولګولو سیستمونه، برېښنا او معلوماتي ټکنالوژي
- منځنۍ او لوړ کچې کرهنیز بهیرونه او سوداګریزه کرهڼه
- بهر ته د افغاني محصولاتو د صادرولو لپاره بازارموندنه
- د ښاروالۍ د لومړنیو خدمتونو وړاندې کول

د سیمه اییزې اقتصادي پرمختیا په برخه کې د خصوصي سکټور د رول په پام کې نیول سره لاندې ټکي موندل شوي:

- د ښاروالیو د اقتصادي ودې په برخه کې د خصوصي سکټور رول او دنده نه ده څرګنده.
- هماغسې چې په پام کې ده، چې اقتصاد په زیاته کچه د خصوصي سکټور له لخوا پرمخ یوړل شي، تراوسه لا په دې اړه کوم اداري او حقوقي میکانیزم نه دي رامنځته شوي
- اوسنی اداره نشي کولای خصوصي سکټور د ښاروالی د اقتصادي پرمختیا لپاره وهڅوي
- د عامه ګډون او برخې اخیستنې لپاره ټاکلي میکانیزمونه نشته

**د پالیسی موخې**

- د اقتصادي ودې چټکول په تیره بیا په ښاروالیو کې
- په سیمه اییزو ادارو کې د کاري شفافیت او مسؤلیت پیژندنې رامنځته کول
- د عامه خدمتونو د کیفیت او څرنګوالي لوړول
- د خصوصي سکټور د تجربو په کارولو سره د ښارولیو د فعالیتونو او کړنو د اغیزمنتیا زیاتول
- د عامه یا دولتي سکټور له لړو مالي سرچینو څخه د ډیرې ګټې پورته کول

## د پالیسی سپارښتنې

**د پالیسی حکمونه**

- د ښاروالیو د اقتصادي پرمختیا په برخه کې د خصوصي سکټور رول او دندې باید په ښکاره توګه وټاکل شي
- د خصوصي سکټور د هڅونې او تشویق لپاره قانوني مقررات باید رامنځته شي
- د ښاروالیو په اداره کې د خصوصي سکټور د جلب او هڅونې او د اجراأتو د لګښتونو د راټیټولو لپاره اداري ظرفیتونه باید پیاوړي شي
- هره ښاروالي به وهڅول شي؛ ترڅو د ښاروالیو د پانګې اچونې لپاره هغه پلانونه، چې د ښاروالیو د پرمختیایي ودې لپاره لومړیتوب لرونکي فعالیتونه په ګوته کوي، چمتو کړي
- د ښاروالیو د پانګې اچونې هڅې باید د وړو او منځنیو صنایعو د جلبولو په برخه کې، چې کولای شي اوسني سوداګریز فعالیتونه ترسره او نوي اقتصادي فرصتونه پرانیزي، ترسره شي
- ښاروالی به وهڅول شي؛ ترڅو د لویو بهرنیو او داخلي سوداګریزو ټولنو او سیمه اییزو شرکتونو ترمنځ اړیکې پیاوړې کړي

- ښاروالۍ باید له خصوصي سکټور سره د عامه ولس د مرستې او ګډون په موخه یو اداري میکانیزم رامنځته کړي

## د نښاني شویو قوانینو او مقرراتو پلي کول

- د ښاروالیو د اقتصادي پرمختیا په برخه کې د خصوصي سکټور رول او دندې په لاندې ډول دي:
  - د سیمه ابیز اقتصاد د پیاوړتیا لپاره د ښاروالیو پلان او پالیسي جوړونه، او د مقرراتو چمتو کول
  - د اساسي عامه خدمتونو وړاندې کول، لکه روغتیا، زده کړه، کورجوړونه، د چټلیو لرې کول، حرفوي زده کړې او داسې نور.

- **په قانوني او تشویقي چوکاټ کې کیدای شي لاندې ټکي ځای ولري:**
  - ددې تضمین کول چې ښاروالي له خصوصي سکټور سره نامناسبه سیالي نه کوي
  - له ټولو خصوصي پانګه اچونکو سره یو شان معامله کول
  - هغو پروژو ته لومړیتوب ورکوي چې کولای شي سیمه ابیز اقتصاد پیاوړی کړي
  - د پانګې اچونې لپاره تشویقي کړنلارو جوړول، په تیره بیا د وړو او متوسطو شرکتونو لپاره.
- د خصوصي سکټور د جلبولو او د فعالیتونو د لګښت د ټیټوالي لپاره د ښاروالۍ د اداري ظرفیت ځرنګوالی:
- د سوداګرۍ د جواز ورکړه
- پانګه اچونکو ته د تسهیلاتي خدمتونو وړاندې کول
- د ناقانونه مالیو لیرې کول
- له خصوصي پانګه اچونکو سره د بحث او خبرو اترو ظرفیت

### د ښاروالۍ د ادارې په چارو کې پرمختګ

د پالیسۍ ددغو وړاندیزونو د پلي کیدو لپاره یو لړ ستراتیژیکو کړنو ته اړتیا لیدل کیږي. ډیرو کړنو ته د قانوني حالت د ورکولو لپاره اړتیا ده؛ ترڅو نوي قانوني مقررات رامنځته شي. اداري

میکانیزمونه او جوړښتونه باید هم د دولت او هم ټولنې او همداشان د ښاروالیو او له ښاروالیو څخه په لوړه کچه رامنځته شي.

## د اړتیا وړ قوانین

د شته ستونزو او نیمګړتیاو د له مینځه وړلو، په اداري کړنلارو کې د تکرار د مخنیوي، او د قوانینو د موخو د څرګندولو لپاره اړین قوانین وړاندې شوي دي.

### د ښاروالیو قانون

د ښاروالیو د ادارې اساسي لارښود د ښاروالیو له قانون څخه سرچینه اخیستې، چې د اساسي قانون له مخې دا لارښود زوړ بلل شوی. له دې کبله دغه قانون باید ژر تر ژره په نوي قانون بدل شي. دغه نوی قانون باید ټول اړین حکمونه ولري. مهم ټکي چې باید په دې قانون کې ځای شي په لاندې ډول دي:

- د ښاروالیو تعریف، جوړښت او ډلبندي
- واکونه، دندې، مسؤلیتونه، حساب ورکونه، محدودیتونه، او د ښاروالیو تشکیل او لوی چارواکي
  - د ښاروالۍ اداره، د ښاروالۍ اداري مجلس، د ښاروالۍ عمومي شورا ګانې
  - ښاروال، د ښاروال مرستیال، او د څانګو مشران
- د ښاروالۍ د مرستندویه ادارو دندې، مسؤلیتونه، او د واك محدودیتونه
  - مرکزي دولت، مرکزي دولتي ادارې، د سیمه ایزو اورګانونو خپلواکه اداره
  - نورې سیمه ایزې ټولنې، ولایتونه، ولسوالۍ، ناحیې
  - ګوزرونه، شورا ګانې، خصوصي سکټور، او نور سکټورونه
- حکومتوالي اداره او اجرایي اصول
  - پرمختیایي پلان او بودجه جوړونه
  - مالي خپلواکي
  - عامه ګډون او شراکت
  - شفافیت، ځواب وینه او له فساد او درغلۍ سره مبارزه
  - له دولتي ادارو سره، په ښاروالۍ کې دننه او د ښاروالیو ترمنځ اړیکې
  - تشکیل، اداري میکانیزمونه او د ښاروالیو مالي سرچینې

- د خدمتونو وړاندې کول او مالي اداره
- قانوني او اداري واك او صلاحيت

همدارنګه نور اړین قوانین او مقررات باید رامنځته او پلي شي؛ ترڅو د قانون د حکمونو اغیزمن تنفیذ او پلي کولو ته یو ښه لارښود جوړ شي.

## د ښاروالیو د شورا قانون

دغه قانون د څرنګوالي او موخو له مخې د ولایتي شورا قانون ته ورته دی، چې د ښاروالیو له قانون سره باید یو ځای پلی شي؛ ترڅو د ټاکل شوو موخو په ترلاسه کولو کې آسانتیا رامنځته شي. همدارنګه دا قانون له نورو اړینو مقرراتو سره باید مل وي. ددغه قانون لوې برخې په لاندې ډول دي:

- د ښاروالیو تعریف، جوړښت، او تشکیل
- واکونه، دندې، مسؤلیتونه، محدودیتونه، او د ښاروالیو تشکیل او لوی چارواکي.
  - د شورا ترکیب، جوړښت او کمیټې
  - د شورا رئیس، د رئیس مرستیال، د کمیټو مشران، او سکرتریت.
- د ښاروالۍ له ادارې سره خپل منځي اړیکې:
  - د ښاروالیو اداري مجلس
  - ښاروال، د ښاروال مرستیال، د څانګو مشران او نور چارواکي
  - ټولنه
- حکومتوالي، اداره، اجرایه وي اوصول او مقررات

### د ټاکنو قانون

د دې قانون مسوده اوس مهال ولسي جرګې ته د تصویب لپاره استول شوې چې له تصویب وروسته به د ښاروال او د ښاروالۍ د شورا د غړو لپاره به پلی شي.

**ستراتیژیکي موضوعګانې**

**عمومي ستراتیژیکې لارښوونې**

د دولت د ادارو د بیلابیلو کچو د ستراتیژیکو لاربښونو تعقیب او پلي کولو ته اړتیا لیدل کیږي چې په لاندې ډول دي:

- **د مرکزي دولت اقدامات**
  - د قانون د بیا کتلو کمیټه چې د ښاروالۍ قانون او نورو قوانینو مسوده به چمتو او ولسي جرګې ته د تصویب لپاره وړاندې کوي
  - د پالیسۍ د څارنې کمیټه، چې د دولت د پالیسۍ د لاښه پلي کولو لپاره به د ښاروالۍ ادارې د پالیسۍ د چوکاټ د ملاتړ په موخه، د یو لړ ستراتیژیکو کړنو څارنه کوي
  - د ښاروالۍ د ادارې د معیاري اجراأتو او کړنو لپاره د سیستمونو، کړنلارو او لاربښودونو او د سپما، شفافیت رامنځته کولو، مسؤلیت پیژندنې او د فساد پر وړاندې د مبارزې د چارو کلك کنټرول
  - د ښاروالیو د انتخابي او انتصابي چارواکو او کارکوونکو د ظرفیتونو لوړول؛ ترڅو وکولای شي خپلې دندې په یو نوي کاري چاپیریال کې، په سمه توګه ترسره کړي
  - د نویو پالیسیو د پلي کولو لپاره د لاربښودونو او اداري موډلونو او میکانیزمونو پلي کول
  - دغو تقنیني چارو ته د لومړیتوب ورکولو لپاره د پارلمان ترغیبول
- د پارلماني او خپلواکو ادارو نوښتونه:
  - تر ټولو نیږدې ممکنه موده کې د ښاروالۍ د ادارې لپاره د قانون او مقرراتو رامنځته کول
    - د ښاروالۍ، د ښاروالۍ د شورا ګانو د قانون چمتو کول. دغه قوانین به د ښاروالیو لپاره یو شمیرهغه لاربښودونه، چې په نورو قوانینو کې نه دي راغلي، وړاندې کړي
    - له نوي قانون سره د تناقضاتو د لیرې کولو په موخه د نورو قوانینو بیا کتنه، چې په مستقیمه یا غیرمستقیمه توګه له ښاروالیو سره تړاو لري
  - د ښاروالیو د شورا د غړو او ښاروالانو لپاره د ټولټاکنو ترسره کول

## د سیمه ایيزو اورګانونو د خپلواکې ادارې لپاره وړاندیز شوی کاري پلان

سیمه اییزو اوګانونو خپلواکه اداره به د پالیسی د څارنې او پلي کولو په نوښتونو کې د ټولو ادارو په سر کې وي؛ نو له دې کبله دا اداره د پالیسی د اغیزمنې پلي کیدو په برخه کې ستراتیژیکه دنده لري.

**سمدستي ګامونه (د یو کال په موده کې)**

- له ولسمشر، پارلمان او نورو اړونده وزارتونو څخه د پالیسی په اړه د وړاندیزونو د منظوری ترلاسه کول
- د ښاروالۍ د قانون د ځینو ځانګړو موادو په اړه مشوره کول
- له مرکزي ادارو سره همغږي اغیزمن سیستم رامنځته کول:
  - د سکتوري خدمتونو تفویض او ویش
  - د اړینو لارښودونو، کړنلارو، او د ځانګړو پرمختیایي او اداري بهیرونو، لکه اقتصادي پلان جوړونې، بودجه جوړنې او اداري مدیریت لپاره د معیارونو رامنځته کول
  - اداري یا سازماني موډلونه چې شفافیت، مسؤلیت پیژندنه، او د بشري سرچینو سیستمونه په سمه توګه پکې په پام کې نیول شوي وي

- **د ښاروالۍ لپاره د اغیزمنو اداري سیستمونو رامنځته کول:**
  - د ښاروالۍ د کړنو یا اجراأتو او بشري سرچینو د تنظیم او پیاوړتیا سیستمونه
  - پلان جوړونه، بودجه جوړونه، او د عامه پانګې اچونې پلان جوړونه
  - داخلي تفتیش او پلټنه
  - د ظرفیتونو د لوړولو پروګرامونه

**لنډمهاله (له ۲ څخه تر ۳ کلونو پورې)**

- د ښاروالیو د ظرفیتونو او مهارتونو لوړول
- له ښاروالیو سره مرسته:
  - د نویو اداري سیستمونو رامنځته کول
  - د ښاروالیو د یوې شبکې یا ټولنې جوړول

- د ښاروالیو د اقتصادي شرکتونو جوړول
- د ټولنې د شریکانو ثبت او راجستر کول

**منځ مهاله او اوږد مهاله(۴ کاله او یا ترهغې ها خوا)**

- د اغیزمنو سیستمونو پلي کول
- د نویو کړنو د اغیزې ارزول
- د ښاروالۍ د اداري سیستم منظمه څارنه
- د ښاروالۍ د کړنو څېړل
- د ښاروالۍ د اغیزمنو پروګرامونو ترغیب او ملاتړ

**د ښاروالیو لپاره وړاندیز شوی کاري پلان**

**سمدستي کړنې (د یو کال موده کې)**

- د اداري تشکیل او جوړښت اصلاح او سمون
- د ټولنې تنظیم او هڅونه

**لنډمهاله (له ۲ څخه تر ۳ کلونو)**

- د لیاقت پربنسټ د اداري کړنلارې رامنځته کول
- د ښاروالۍ لپاره د اغیزمن ډیټابیز(اساس) رامنځته کول
- د ښاروالیو د کارکوونکو لپاره د وړتیاوو د لوړول یو هوډمن پروګرام پلي کول
- د ښاروالۍ د اداري جوړښت، میکانیزمونو، سیستمونو او کړنلارو اصلاح او سمون

**منځ مهاله (له ۴ څخه تر ۵ کلونو)**

- د داسې عامه اقتصادي شرکتونو رامنځته کول، چې وکولای شي ګټور او باکیفیته خدمتونه وړاندې کړي
- له خصوصي سکټور سره ګډون
- د ښاروالیو په پرمختیایي بهیر کې عامه ګډون او مشارکت ته قانوني بڼه ورکول

- د ښاروالۍ د کارکوونکو لپاره د اغېزمنو پروګرامونو پلي کول:
  - د ظرفیتونو د لوړولو پروګرامونه
  - د کړنو او اجراأتو مدیریت
- په ښاروالیو کې د تشکیلاتي جوړښتونو، میکانیزمونو، سیستمونو او کړنلارو اصلاح او رامنځته کول
- د سوداګریزو جوازونو او نورو قانوني سیستمونو رامنځته کول
- د اغېزمن قانون رامنځته کول:
  - د ښاروالۍ اداري واك او صلاحیتونه
  - د فیس او نورو مالیو د سلنې یافیصدی ټاکل
  - ټولنې ته اعتبار ورکول
  - د پانګې اچونې لپاره مالي او غیرمالي تشویق او هڅونه

**د ټولنې ګډون او پیاوړتیا**

ټولنې او خصوصي سکټور د واك ورکولو لپاره باید لاندې ستراتیژیکې کړنې پلې شي؛ ترڅو د ښاروالیو په پرمختیا کې د پام وړ اغیزه رامنځته کړي.

- د ملکي ټولنو یا سازمانونو ثبت او راجستر کول
- په ټولو پرمختیایي چارو کې د ټولنې د ګډون او برخې اخیستنې لپاره د میکانیزمونو رامنځته کول
- د ټولنې د پیاوړي کولو د پروګرامونو پلي کول
- له خصوصي سکټور سره د یو اغیزمن سوداګریز چاپیریال د رامنځته کولو په برخه کې همغږه کیدل

**د ښاروالۍ د پالیسۍ بنسټیزه کول**

د ښاروالۍ اداره اړ ده؛ ترڅو د پالیسۍ ددغه چوکاټ د بنسټیزه کولو لپاره لاندې کړنې عملي کړي:

- د ښاروالۍ شورا باید د ښاروالۍ د تشکیلاتو، میکانیزمونو، او سیستمونو لپاره قانوني بنسټ رامنځته کړي

- د ښاروالۍ اداره باید ښاروالۍ د فعالیتونو لپاره اړین حکمونه او لارښوونې خپرې کړي
- د ښاروالۍ اداري شورا باید په منظمه توګه د ښاروالۍ د کړنو کره څېړنه ترسره کړي
- د ښاروالۍ کارکوونکي باید خپل مهارتونه او ظرفیتونه په اداري برخو کې پیاوړي کړي
- د ټولنې ګډون او برخه اخیستنه باید بنسټیزه شي

**د پالیسۍ د پلي کیدو د چارو څارنه او ارزونه**

د پالیسۍ د پلي کیدو په برخه کې څارنه او څېړنه یو مهم ګام بلل کیږي؛ ترڅو د فعالیتونو له دوام څخه ډاډ ترلاسه شي، د لاسته راوړنو په اړه راپور ورکړل شي، اړین بدلونونه په ګوته شي او د اصلاحاتو د ستراتیژۍ اغیزمنتیا وارزول شي.

**د ښاروالۍ د څارنې او ارزونې سیستم:**

د معلوماتونو راټولول، تحلیل، له تخنیکي پلوه د راپور را ټولول او همدارنګه د پالیسۍ په کار اچول به په بنسټیزه توګه د څارنې او ارزونې سیستم اجرا کول پلي کوي، چې د څلورو ځانګړو اړخونو درلودونکي دي:

1. د مدیریت هغه معلوماتي سیستم چې د په ښه شویو شاخصونو پر بنسټ وي، او په دواړو یعنې متن او د بهیر پر اړخونو باندې تمرکز ولري. د ښو، توقع شویو مرحلو، غوښتل شویو لاسته راوړنو او پایلو، مهال ویشونو او نورو اړخونو یو ترکیب باید جوړ او رامینځ ته شي
2. اړوند کارکوونکي به د مبسرینو په توګه د ګټونکو او بایلونکو ځوابونو ته په غوړ نیولو سره د پالیسۍ د ریفورم د تدبیرنو لپاره کار وکړي
3. تشخیصي څیړنې؛ تر څو د پالیسۍ د تخنیکي سموالي بیالیدنه وکړي او د ستونزو د حل لپاره د حل عملي لارې وڅاري
4. ارزونه باید په جدي توګه پلي شي؛ ترڅو د وخت په تیریدو سره د زده کړې کچه پراختیا ومومي

**د څارنې طریقه**

کمي (لکه نظر پوښتنه) او کیفي (لکه په چابکۍ سره د ځانګو ارزونه) د ښاروالۍ د پالیسۍ د اجرا کولو د څارنې لپاره په کار اچول کیږي. د پالیسۍ د پلي کولو شاخصونو د کمیت معلوموملو بهیر

هغه وخت بریا مومي کله چې د پالیسی د اجرا کولو بهیر د درې میاشتو او یا هم پرکلنیو پړاونو باندې پلې شي. په هر حال، دغه ډول بهیر به هغه وخت ډیر بریالی وي چې له کیفي میتودونو، لکه د معلوماتونو راټولولو او تحلیل سره یو ځای شي، چې د ارزونې او تحلیل د اصلیت او ژوروالي څرګندوی دي او د پالیسی پلې کولو بنسټ هم د هغه پر اساس دی.

په ملي کچه، د څارنې او ارزونې د پالیسی د کمیټې یوه فرعي کمیټه چې د اصلي اړوندو کارکوونکو، لکه اجرائیه کارکوونکو او د پالیسی تصمیم نیوونکو څخه جوړه ده، د څارنې او ارزونې د بهیر لپاره ټاکل کیږي او د هغه تر څنګ ددې تضمین هم کولای شي چې ټولې پایلې به د پالیسی د پراختیا لپاره په کار واچول شي.

## V. د پالیسی په هکله هراړخیزې موضوعګانې

**جنډر(جنسیت)**

دولت باید د جنډر اړوند موضوعګانې د اړتیاوو پر اساس، لکه څنګه چې په اساسي قانون، نړیوالو کنوانسیونونو او د ښځو پر وړاندې د تبعیض له مینځه وړلو کنوانسیون(CEDAW)د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتیژی(ANDS) د افغانستان د ښځو لپاره ملي عملیاتي پلان (NAPWA) او همدارنګه د افغانستان د ترون او د افغانستان زریزي پرمختیایي موخو (MDGs) په ګډون سندونو کې چې په ګوته شوي، پلې کړي.

د دولت یوازینۍ موخه د جنډر یا جنسیت برابري او د داسې شرایطو رامینځ ته کول دي چې نر او ښځه دواړه خپل حقونه ترلاسه، او په مساوي توګه د پرمختیا له ګټو نه برخمن شي، د هغوی له غوښتنو څخه مخنیوي ونه شي او دا ډیره اړینه ګڼل کیږي، چې داډمن ژوند ترلاسه کړي. ددې لپاره چې د جنډر د تساوي بهیر بریا ومومي، د دولت ټول اورګانونه باید د جنډر د تساوي په هکله خپلو هڅو ته د جنډر د حساسو پالیسیو، ستراتیژیو، بودجو او پروګرامونو په ګډون ادامه ورکړي. د جنډر د موخو پلې کول د دولت، د ټولو ملي او سیمه ایزو اورګانونو ګډه دنده ده.. څرنګه چې د افغانستان په ملي پرمختیایي استراتیژی کې دا موضوع تر بحث لاندې راغلې؛ ترڅو ټول دولتي اورګانونه: (i) داسې یو کاري چاپیریال رامنځته کړي چې د نرانو او ښځو ترمنځ د یووالي اړیکې تضمین کړای شي. (ii) د جنډر د یووالي د یو داخلي میکانیزم بنسټ کیږدي (iii) د ښځو د شوراګانو ملاتړ وکړي.

ټول دولتي اورګانونه باید ددې تضمین وکړاي شي چې د جنډر موضوع د دوي په چارو کې اساسي ګڼل کیږي. د سیمه ایزو اورګانونو خپلواکه اداره باید دا ډاډ تر لاسه کړي چې والیان په

ولايتی پرمختيايي کميټو د رييسانو او د ولايت اجرائيه مشرانو په توګه د جنډر موضوع ته په ولايتي پرمختيايي پلانونو او همدارنګه د ولايتونو، ولسواليو او کليو په کچه په مجموعي کارونو کې پاملرنه کوي. ولايتي شورا دنده لري چې په خپلو اړوند ولايت کې ددې څارنه وکړي چې دولت په خپلو کارونو کې د جنډر موضوع ته څومره پام کوي. ددغو معلوماتو راپور د سيمه ايېزو اورګانونو خپلواکې ادارې، د احصاييې مرکزي ادارې او سکټوري وزارتونو ته ليږدول کيږي ، نو په دې اساس اړوند اورګانونه به د جنډر د موخو سرته رسيدو څخه با خبره وي.

ددې لپاره چې د جنډر د اساساتو او مساوي پرمختګ  په ولايتونو کې برابر شوي وي، ولايتي رياستونه او د احصاييې مرکزي ادارې څخه دا غوښتنه کيږي چې د جنسيت معلومات راټول کړي او وزارتونه بايد دغه معلومات د خپلو پرمختيايي پلانونو لپاره وکاروي.

د سيمه ايېزې ادارې دغه پاليسي په پوره توګه د پورتنيو ستراتيژيو په کچه د موخو د لاسته راوړولو ملاتړ کوي.

د افغانستان لپاره د زريزې له پرمختيايي موخو سره سم حکومت هڅه کوي چې:

- **دويم هدف:**

**ابتدايي عمومی روزنې پلي کړي**: بايد دا تضمين شي چې تر ۲۰۲۰ زيږديز کال پورې هلکان او نجوني په مساوي ډول لومړنۍ زده کړې پرمخ وړي.

- **دريم هدف:**

**د جنډر تساوي ته پراختيا ورکول او د ښځو ځواکمنول:**

– تر ۲۰۲۰ زيږديز کال  پورې د زده کړې په ټولو کچو کې د جنډر نابرابري له مينځه يوړل شي
– تر ۲۰۲۰ زيږديز کال  پورې په اقتصادي چارو کې د جنډر په اختلافونو کې بايد کمښت راشي.
– تر ۲۰۲۰ زيږديز کال پورې په ټولو دولتي اورګانونو کې ديرش په سلو کې د ښځو ګډون په ټولټاکنو کې تضمين شي

– تر ۲۰۱۵ زیږدیز کال پورې په قضایي چارو کې د جنډر په نابرابرئ کې باید پنځوس په سلو کې کمښت راشي او تر ۲۰۲۰ زیږدیز کال پورې په پوره ډول سره د جنډر اختلاف پاي ته ورسیږي

- **پنځم هدف:**

**د ۲۰۰۲ او ۲۰۱۵ زیږدیز کلونو ترمنځ باید پنځوس په سلو کې د میندو د مړیني کچه راکښته شي. او تر ۲۰۲۰ زیږدیز کال پورې دغه سلنه نوره هم پنځویشت په سلو کې راکښته شي.**

څرنګه چې د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتیژئ کې راغلي:

- د ۱۳۸۹ لمریز کال د مرغومي د میاشتې (د ۲۰۱۰ زیږدیز کال تر پایه) د افغانستان لپاره د زریزئ پرمختیایي موخو سره سم په ټولو انتخابي او انتصابي دولتي ادارو او ملکي خدمتونو کې د ښځو ګډون پیاوړئ شي. ددې کار لپاره باید د ښځو په وړاندې د تبعیض نه کولو د قانون له مخې په ادارو کې د ښځو لپاره د څوکیو یوه ځانګړې سلنه بیله شي.

څرنګه چې د افغانستان په تړون(لندن پریکړه لیک) کې راغلي دي:

- د ۲۰۱۰ زیږدیز کال تر پایه د افغانستان د ښځو لپاره د عمل ملي پلان په بشپړه توګه پلی شي. د افغانستان لپاره د زریزې له پرمختیایي موخو سره سم په ټولو دولتي انتخابي او انتصابي ادارو او ملکي خدمتونو کې د ښځینه وو ګډون پیاوړئ شي

- د ۲۰۱۰ زیږدیز کال تر پایه د افغانستان لپاره د زریزې له پرمختیایي موخو سره سم لومړنیو ښوونځیو ته د ټولو نجونو شپیته سلنه ورځي او د ټولو هلکانو پنځه اویا سلنه به ښوونځیو ته ځي. یو نوي تعلیمي نصاب باید په ټولو منځنیو ښونځیو کې پلي شي، ښځینه ښوونکې باید پنځوس په سلو کې زیاتې شي، د افغانستان اویا په سلو کې ښوونکې باید وړتیایي ازمونیه ورکړي او همدارنګه د زده کړې د ارزونې یوه تګلاره، لکه د ملي ازموینې یو سیسټم د زده کوونکو لپاره په کار واچول شي.

- د ۲۰۱۰ زیږدیز کال تر پایه په پوهنتونونو کې د محصلینونو د شمیر کچه باید ۱۰۰،۰۰۰ ته چې کم ترکمه پنځ دیرش په سلو کې باید ښځینه وي، ورسیږي او د افغانستان په پوهنتونونو کې تعلیمي نصاب ته بیاکتنه وشي؛ تر څو د هیواد پرمختیایي اړتیاوو او خصوصي سکټورونو ته د ودې ورکولو له چارې سره همغاړې شي.

- د بشري سرچینو زده کړې باید تر ۲۰۰۶ زیږدیز کال پورې پای ته ورسیږي. او د ۲۰۱۰ زیږدیز کال تر پایه پورې۱۵۰۰۰۰ نر او ښځې به د ورځې له اړتیاوو سره سم مهارتونو په برخو کې د عامه او خصوصي سکتوورنو لپاره وروزل شي

- د ۲۰۱۰ زیږدیز کال تر پایه د افغانستان لپاره د زریزې له پرمختیایي موخو سره سم روغتیایي خدمتونه باید پراختیا ومومي؛ تر څو ۹۰ په سلو کې د افغانستان نفوس تر پوښښ لاندې راولي. د میندو د مړینو کچه باید ۱۵ په سلو کې راکښته شي. او د واکسین د ملي کمپاینونو له لارې له پنځو کلونو کښته ماشومانو ته پوره مصوونیت ورپه برخه شي او د مړینو کچه په سلو کې شل را ټیټه شي

- د وزارت ستراتیژي او پلانونه، په ځانګړې توګه دهغوی د واک سپارلو پالیسی به د پورتنیو موخو د لاسته راوړلو لپاره په کار واچول شي

د ښځو پرضد د تبعیض نه کولو قانون د دولت د پالیسیو او ستراتیژیو مرکزي برخه ګڼل کیږي. د دولت سیمه ایزې پالیسی په بشپړه توګه ددغه قانون د پلي کولو ملاتړ کوي.

څرنګه چې د افغانستان د ملي پرمختیایي ستراتیژي لخوا ژمنه شوې، دولت باید د ښځو په وړاندې د مثبت تبعیض قانون مینځ ته راوړي، او هغوی ته په ټولو انتخابي او انتصابي دولتي ادارو او ملکي خدمتونو کې د څوکیو ځانګړې سلنه بیله کړي.
همدارنګه اړوند سیمه ایز اورګانونه باید په سیمه ایزو کچو د مثبت تبعیض دغه پالیسي پلي کړي. د ښځو لپاره د مثبت تبعیض پالیسي چې په سیمه ایزه کچه له ملکي خدمتونو سره اړه لري، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسیون لخوا خپله او په ټولو سیمه ایزو ادارو کې پلې شي. د ښځو لپاره د مثبت تبعیض پالیسي به د خلکو استازې ادارې هم په برکې نیسي، یعني ټاکل شوې سیمه ایزې شوراګانې. په سیمه ایزو انتخاب شویو شوراګانو کې به د ښځو لپاره څوکۍ په لاندې ډول ټاکل کیږي:

| ټاکل شوې شورا | د ښځو لپاره د بیلو شویو څوکیو سلنه/فیصدي |
|---|---|
| ولایتي شورا | ۲۵٪ |
| ولسوالي شورا | ۲۵٪ ( که چیرې د ښځو پوره شمیر په سیالیو کې ولاړې نه وي؛ نو دا سلنه اعتبار نه لري) |
| کلي شورا | هیڅ |
| ښاروالی شورا | کم تر کمه ۲۵٪ |

کله چې په ۲۰۱۳ زیدیز کال کې د لومړي ځل لپاره د پالیسۍ د پلي کولو بیا کتنه کیږي؛ نو کلي په شورا کې د ښځو لپاره د څوکیو د یوې برخې بیلول به هم په نظر کې ونیول شي.

## د ښځو لپاره د پراخي رهبري او ظرفیت جوړولو د ستراتیژۍ په کار اچول

دولت، د ښځو د چارو وزارت او د مدني خدمتونو کمیسیون تر رهبري لاندې د ښځو لپاره یوه پراخه د رهبري او د ظرفیت جوړولو ستراتیژي په کار اچوي چې دا به داسې ځانګړي تدبیرونه ولري چې د ښځو ظرفیتونو ته د رهبري لپاره وده ورکړي او هغوی په عامه ژوندانه کې د ګډون لپاره وهڅوي. دغه ستراتیژي به د لاندې برخو درلودونکې وي:

**الف. د داسي یو اورګان بنسټ ایښودل چې د ښځو د رهبرۍ مسوولیت په غاړه ولري:**

د کابینې او جمهوري ریاست د مقام تر واك لاندې له څو سکټورونو او څانګو څخه د یوه لوړ پوړي اجرائیوي ځواك جوړول، دغه ډله به د ښځو له رهبري څخه دفاع وکړي، د هغوی د ځوابوینې واك به پیاوړي کړي. د ښځو په وړاندې د توپیر د له مینځه وړلو د قانون د پلې کولو، د ښځو د رهبري د پراختیا د تدبیرونو او همدارنګه په مرکزي او ولایتي کچه په دولت کې د هغوی د ګډون څارنه وکړي. دغه اورګان به د ښځو په وړاندې شکایتونه وڅیړي، چې یا په عامه ادارو کې کار کوي او یا هم هلته ځان ته دنده مومي.

**ب. د ښځو لپاره د مثبت تبعیض قانون:**

په ولایتي، ولسوالیو، کلیو او ښاروالیو په کچه د ښځو لنډ مهاله او اوږد مهاله ګډون تضمین شي. د ښځو لپاره د مثبت تبعیض قانون پلي کول؛ تر څو د څوکیو ځانګړی شمیرد ښځو لپاره جلا

شي؛ چې دغه ټاکلي اندازه به د ښځو لپاره حد اقل وي؛ نه حد اکثر. د ښځو لپاره د مثبت تبعیض قانون د ښځو له تعلیمي ریفورم سره تړاو لري چې په ټول هیواد کې پلي کیږي.

**ج. د دندې پلان او د ظرفیت جوړولو پروګرام:**

د ښځو د دندو او ظرفیت جوړولو ولایتي پروګرامونه په کار اچول کیږي، چې هغوی به د ځواب ورکولو او اغیزمني رهبرۍ د میتودونو، تصمیم نیولو، خبرو اترو، اداري، نظارت ، اړیکو، د بیان د آزادۍ، تحلیل، د نقد او ستراتیژیکي فکر کولو باندې تینګار وکړي. هغه ښځې چې په ولایتي پراختیایي کمیټو کې کار کوي، هغوی ته هم د ظرفیت جوړولو پروګرامونه په پام کې نیول شوي. او همدارنګه په دې اړه نورو نظریوته اړتیا شته چې ددغه نوښت لپاره یو اساسي مرکز وټاکل شي، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون او د ښځو د چارو وزارت به ددغه پروګرام لپاره یو پلان په پام کې ونیسي.

**د. د یووالي او پیوستون منځته راوړل:**

د ښځود مسلکي ښووني روزني له ادارو څخه به ملاتړ وشي. اوهمدارنګه د داخلي نوښت نه هم چې موخه یې د ښځو ترمنځ د پیوستون راوستل او د نارینه و سره د با مفهومو اړیکو ټینګول دي، ملاتړ کیږي. له هغو کسانو څخه چې ددغو ادارو چارې تنظیموي، ملاتړ کیږي. له هغو ښځو ترمینځ چې په کلیوالې سیمو، پارلمان، دولتي ادارو کې کار کوي د پیوستون منځته لپاره به پوره پام وشي. داسې ځایونه جوړ شي چې یوازې ښځو ته د ګډون اجازه وي؛ تر څو د خبرو اترو او د نظریو د شریکولو وس پیدا کړي او پر مهمو موضوع ګانو بحث وکړي. د ښځو چارو وزارت او ولایتي ریاستونه به یې د ولایتي او ولسوالیو شوراګانو او همدارنګه په ملکي خدمتونو کې د کارکونکو ښځو، ټولنې جوړې کړي.

**ه. د جنډر(جنسیت) په هکله پوهاوی:**

باید په حتمي توګه د جنډر د پوهاوي کورسونه د تصمیم نیونکو، پالیسي او قانون جوړونکو، پلان جوړونکو، مدیرانو، د احصایي متخصصیونو او په ملي او ولایتي کچه دولتي چارواکو او همدارنګه قضایي او د قانون د پلي کولو کار کوونکو لپاره جوړ شي. د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون د دي تضمین کوي چې دا کورسونه د دولتي ملکي کار کوونکو لپاره په ټول هیواد کې دایر شوي دي. د سیمه ایزو اورګانونو خپلواکه اداره ددې تضمین کوي چې چارواکي، والیان، ولسوالان او ټاکل شوې شورا ګانې د هغوی د نظارت لاندې دا روزنه او پوهاوی تر لاسه کوي.

**و. کورنیو ته د پاملرنې سیستمونه:**

کورنیو ته د پاملرنې سیستمونه چې د ښځینه او نارینه کارګرانو لپاره په نظر کې نیول شوي دي او وړکتونونه او د ماشومانو د ورځنی ساتنې مرکزونه پکې شاملېږي؛ په هغو کې د ښوونځي د دوري نه مخکې ماشومانو، د ښوونځي نه وروسته پروګرامونه، د ترانسپورت په اړه مرستې، د تغیروړ وخت او کار په اړه ترتیبات د متعادل ژوند او کار په اړه د سلا مشوري ورکول به پکې شامل وي. دغه ټول به د دولت د پلانونو سره یوځاي په نظر کې ونیولي شي ترڅو د هغه په ترڅ کې په مرکز کې واقع شوي یوه دولتي وداني جوړه شي او د هغه په پایله کې د خلکو د لاسرسي په خاطر ټول دولتي دفترونه په یوه مشترك یا عمومي ځای کې سره را غونډ شي.

**ز. حساب ورکونه:**

په حساب ورکونه کې، د جریمو او بخششیو سیستمونه د موسسو او بنسټونو لپاره د دې سکټور له موخو سره سم پلي کیږي. ټول سکټوري وزارتونه به له خپلو دفترونو سره په ولایتي کچه د جنډر د برابري لپاره د اقداماتو مسئولیت په غاړه ولري. د اجراتو د څارنې سیستم چې د ولایتي شوراګانو لخوا په لاره اچول کیږي به دا ډاډ ورکړي چې اړونده څانګې به د جنډر د برابري په خاطر یولړ اقدامات په نظر کې نیسي او هغه به په عمل کې پلي کوي.

**ح. څارنه:**

د ښځو لپاره د مسلک او دندې موندل او یو ډیټابیس(اساس) جوړول چې د هغه په اساس د ظرفیت جوړوونکو فرصتونو او خدمتونو او ترفیعګانو ته د جنډر د برابروالي په اساس لاسرسی موجود وي، همدارنګه د ښځو د مخکښ توب د حالت او د ژوند په ټولو برخو کې د هغوی د ګډون په اړه کلني راپورونه به په پام کې نیول شوي وي. د اړتیا په وخت کې به دولت د هغو اقداماتو په اړه راپور ورکوي چې کنوانسیونونو د حکمونود عملي کیدو په اړه په تیره بیا د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له مینځه وړلو نړیوال کنوانسیون په اړه په نظرکې نیولي وي. د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونوخپلواك کمیسیون د ښځو د چارو وزارت او ولایتی ریاستونو سره په همکاری دغه نوښت ترسره کوي.

**ت. مدني زده کړې:**

د مدني زده کړي کورسونه چې موخه یې ښځې او نجونې دي به په ټول هیواد کې جوړ شي. د ښځو لپاره به فرصت برابر شي؛ ترڅو د ټولنیز مشارکت او مخکښ توب په اړه د خپلو وړتیاوو(مهارتونو) د لوړیدو لپاره په روزنیزو کورسونو او سیمینارونو کې برخه واخلي. همدارنګه د مدني زده کړي کوروسونه به د ښوونځیو او پوهنتونونو په درسي نصاب کې هم

ورشامل شي. د پوهنې وزارت، د لوړو زده کړو د چارو وزارت، د ښځو د چارو وزارت او د ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون به ددې ډاډ ترلاسه کوي چې دغه راز مدني زده کړي ترسره کیږي.

**ی. په ټولنه کې د ښځو د ګډون لپاره د فرصتونو او میکانیزمونو زیاتول:**
د ښځینه ښوونکو او طبي کارکوونکو په کار ګمارلو موخه به د پیل یو ټکي وي او هغو سکټورونو ته به وغزیږي چې په عادي توګه خلك په ساحه کې په کارکولو ګماري لکه کرنه، فزیکي کارونه او ټولنیزې چارې.

**۲. د ځوانانو ونډه اخیستنه**
څرنګه چې د افغانستان په ملي پرمختیایي ستراتیژۍ کې یادونه شوې د ۱۳۸۹ لمریز کال تر پایه ( د ۲۰۱۱ زیږدیز کال د مارچ د میاشتي ۲۰) پورې به د ځوانانو لپاره یو جامع او هراړخیز میکانیزم جوړ شي ترڅو په سیمه ییزه، ولایتي او ملي اداره کې ونډه واخلي.

دغه تګلاره ( پالیسي) یو لړ فعالیتونه په نظر کې نیسي چې هغه به په سیمه ییزو او د ښاروالۍ ادارو کې د ځوانانو له ګډون نه د ډاډ په خاطر په لاره واچول شي.

د ځوانانو د ګډون د کچې د لوړیدو لپاره به په سیمه ییزو ادارو کې سني شرایط په دې ډول په نظر کې ونیول شي:

| مقام | حد اقل عمر |
|---|---|
| د ولایتي شورا غړي | ۲۲ کلن |
| د ولسوالۍ شورا غړي | ۲۲ کلن |
| د کلي د شورا غړي | ۲۲ کن |
| د ښاروالۍ د شورا غړي | ۲۲ کلن |

دغه کا ربه ځوانانو ته دا موقع په لاس ورکړي چې د ټاکل شویو چارواکو په توګه په سیمه ییزو اداراتو کې د کار په ذریعه، په فعاله توګه په واك کې برخه ولري. هغوی به د دولت د پریکړې کولو په بهیر کې په نیغه اومستقیمه توګه ګډون پیدا کړي.

دغه لاندې اقدامات به هم په سیمه ییزو ادارو کې د ځوانانو د برخې اخیستنې د ډاد په خاطر ترسره شي:

- ښوونځي، تعلیمي موسسې او پوهنتونونه به ځوانان په واك کې د برخې اخیستنې په خاطر چمتو کوي. ددوی په نصابونو کې به د هیواد د وګړو حقونو او دندو زده کړې هم ځای ولري

- د سیمه ایيزې حکومتوالۍ اداري به په ولایتونو، ولسوالیو، ښاروالیو او کلیو کې د ځوانانو شوراګانو او اتحادیو ته وده او پراختیا ورکوي؛ ترڅو په هغه ځای کې ځوانان وکولای شي د خپلې علاقې وړ مسایلو په اړه بحثونه ولري او په اړه یې پریکړه وکړي. سیمه ییزې، ښاري او کلیوالي اداري، به د خپلو ټولنو له ځوانو غړو سره د همدغو اتحادیو او شوراګانو له لارې منظمې او دوره یې خبرې اترې په لاره اچوي. ممکنه ده ځوانان د همدې شوراګانو له لارې د ځوانانو مرکزونه جوړ کړي چې هلته ښایي پخپله یولړ پروژې طرحه او پلې کړي

- سیمه ییزې اداري به له هغو پروژو سره مالي مرسته وکړي ترڅو د ځوانانو ګډون ته په سیمه ییزو او ښاري ادارو کې له دې لارې وده او پراختیا ورکړي

- ولایتونه، ولسوالی، کلي او ښاروالی به ځوانان او د هغوی شوراګانې او اتحادیې د سیمه ایيزو پرمختیایي پلانونو په جوړولو کې شاملوي
- ولایتونه، ولسوالی، کلي او ښاروالی به د ځوانانو او ملکي چارواکو ترمینځ د خبرو اترو لپاره د هرې هغې موضوع په اړه چې د هغوی د علاقې وړ وي لکه ښوونه او روزنه، کورجوړونه، چاپیریال، شغل د نیشه یي توکو پرضد مبارزه او روغتیا په هره کچه مرسته کوي. په ټیټ عمر کې د نجونو له ودولو څخه به مخنیوی کیږي
- ولایتونه، ولسوالی، کلي او ښاروالی به هلې ځلې کوي؛ ترڅو د ځوانانو لپاره د کار موقع برابره کړي. د مسلکي مهارتونو( وړتیاوو) وده او پراختیا یو له هغو ترټولو اغیزناکو وسیلو څخه شمیرل کیږي چې د ځوان نسل د بیکارۍ د کمولو لپاره به په کار واچول

شي. ولایتونه، ولسوالۍ، کلي او ښاروالۍ به ځوانان هڅوي؛ ترڅو په هغو روزنيزو کورسونو کې چې د کار د موندولو لپاره د هغوی مهارتونو او وړتياوو ته وده ورکوي، برخه واخلي

**۳. په سيمه ايزه حکومتوالۍ کې د مدني ټولنې او رسنيو برخه اخيستنه**

زمونږ د حکومت سيمه ايزې ادارې به د يوې ډموکراټيکي اداره پلوي کوي، د خلکو مباحثو ته چې د عامه ګټو په اړه وي، غوږ نيسي او هم به ورته پر چارواکو باندې د انتقاد اجازه ورکوي او د هغوی ور به د رسنيو او مدني ټولنې د ځيرنو اوڅارنو په مخ خلاص وي. د حکومت سيمه ايزې ادارې به د خپلو وګړو څرګندو وړتياوو ته پاملرنه کوي.

د حکومت سيمه ايزې ادارې به د مدني ټولنې د برخه اخيستنې لپاره عملي لارو ته په هراړخيزه توګه وده ورکوي. په ځانګړې توګه به د حکومت سيمه ايزې ادارې دغه چارو ته زمينه برابروي او هغوی ته به وده ورکوي دغه شان د حکومت سيمه ايزې ادارې به لاندو چارو ته وده ورکوي:

- د معلوماتو شريکول(د محلي حکومتونو دفترونه به خلکو ته د اړوند معلوماتو د رسيدلو لپاره بودجه او عامه خدمتونه په نظر کې نيسي)
- سلا او مشوره(د حکومت سيمه ايزې ادارې به د شوراګانو، جرګو، د مدني ټولنو او نادولتي سازمانونو سره د وګړو د ړومبي توبونو په اړه سلا مشوري کوي او مخکې له دې چې د هغوی په اړه مهمې پريکړي وشي، د وګړو ړومبي توبونو ته به پاملرنه کوي)
- په ګډه توګه د پريکړو کول(وګړي نه يوازې داچي د خپلو اړتياوو او ړومبي توبونو په هکله به معلومات ورکوي؛ بلکه د پريکړو د نيولو په وخت کې به هم فعال رول لوبوي)؛
- د اړونده لورو لخوا نوښت او کنټرول(وګړي به د پراختيايي بهير، د مالي سرچينو برابرولو، د پروژو عملي کول او تګلارې په اړه، لکه څنګه چې د کلي په پرمختيايي شورا\ په ملي پيوستون او نورو هغو پروژو کې چې د کليو په مرسته ترسره شوي دي، نيغ په نيغه کنټرول ولري)

**د مدني ټولنې د ګډون ميکانيزم:**

**۱.** زمونږ د حکومت سيمه ايزې ادارې به هغو پروګرامونو ته اجازه ورکړي چې په هغو کې د ټولنې په کچه جوړښتونه د پرمختيايي بودجې په هکله پوره واک ولري(لکه د کليو پرمختيايي شورا) او همدارنګه د مدني ټولنې په ګډون سره د ټولنې د ګټې په خاطر د خدماتي او پرمختيايي

پروژو د ودې لپاره کار وکړي. د حکومت سیمه ایيزې ادارې به مدني ټولنې د خپلو پروګرامونو د پلان جوړولو او د هغو د پلي کیدلو په بهیر کې هم ورګډې کړي

**۲.** زمونږ ولایتونه، ولسوالی، کلي او ښاروالی به مدني ټولنې د محلي حکومتونود اجراتو په څارنه کې ور ګډ کړي. ټاکل شوي ولایتي، ولسوالی، کلیوالي او ښاروالیو شوراګانې به د مدني ټولنې له سازمانونو سره په همدې مقصد اړیکي ټینکې کړي. دا قانون به د حکومت د سیمه ایيزو ادارو د کار په پلټنه کې( د وګړو لخوا پلټنه او ټولنیزه پلټنه) مرسته وکړي او دا چاره به باوري کړي

**۳.** په اوس حال کې زمونږ رسمي او غیررسمي دولتي ادارې ( بنسټونه) یو له بل سره اړیکې لري او زمونږ د حکومت سیمه ایيزې ادارې به په راتلونکې کې د دوامدارو سلا مشورو له لارې چې د غیررسمي دولتي ادارو سره تر سره کیږي دغه اړیکې نورې هم ټینکې وساتي

**۴.** دولت به په ولایتونو، ولسوالیو، ښاروالیو او کلیو کې پلان جوړول او د بودجې ټاکل په مشارکتي یا ګډه توګه ترسره کړي. دغه کار به وګړو ته دا موقع ورکړي؛ ترڅو د دولت د فعالیتونو په اړه وپوهیږي او د عامه سرچینو د ورکړې په اړه سلا مشوره او مباحثې په لاره واچوي او خپله اغیزه پر هغه ولري. دولت به د بودجې د ټاکلو بهیر په لاره واچوي او وګړو ته په دوستانه توګه اسناد وښیي. دغه دفترونه به نورو حساب ورکونکو اقداماتو ته چې د وګړو لخوا په لاره اچول شوي وي، لکه د دولتي لګښتونو معلومول، په ټولنیزه کچه د حسابونو تصفیه کول او د ولسي ارزونې کارتونو یا Community Scorecards ته لاره هواره کړي. د رڼوالي (شفافیت) او حساب ورکونې ډیریدل چې په مشارکتي یا ګډه توګه د بودجې د ټاکلو په لړ کې مینځ ته راځي، د حکومت له سیمه ایيزو ادارو سره به مرسته وکړي؛ ترڅو د نیمګړتیاوو او فساد مخه ونیسي. زمونږ د حکومت سیمه ایيزې ادارې به محرومو او ګوښه شویو ډلو ته د هغوی د غږ د اوریدو او د عامه پریکړو کې د ګډون موقع برابره وي.

**۵.** زموږ د حکومت سیمه ایيزې ادارې به د مسلکي اتحادیو له جوړښت سره مرسته کوي او د دغو مسلکي اتحادیو سره به د هغوی د علاقې وړ موضوعګانو په اړه سلا مشورې کوي.

**۶.** مونږ به د مدني ټولنې د سازمانونو ښکیلتیا په داسې حال زیاته کړو چې وکړي د هغوی د مالي ورکولو د مسئولیت په اړه خبر وي.

**۷.** له سیمه ایيزو ټولنو سره په سلا مشورې سره به دولت په هیواد کې خپله سیاسي او اداري نقشه اخیستنه چې په هغه کې کلي او ګوزرونه د اصلي واحدونو په توګه په نظر کې نیول شوي دي جوړې. دغه سیاسي او اداري نقشې به د ټولټاکنو، ټولنیزو او اقتصادي پلان جوړونو، او د سیمه ییزو واکمنیو د تګلارې د پلي کیدو په موخه په د اړوندو څانګو په اختیار کې ورکوي.

**۸.** د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتیژۍ اداره، د عامه اداري اصلاحاتو او د بشري حقونو سکټور ستراتیژي دا ژمنه کوي؛ ترڅو د ټولنې پر بنسټ ولاړ یو بهیر د څمکو د ثبتونې لپاره په

ټولو اداري واحدونو کې په لاره واچوي چې کوښښ يې دادی؛ ترڅو د ملکيتونو ثبتول د ۱۳۸۷ کال د مرغومي تر مياشتي پورې پيل کړي. دولت به له وګړو او شوراګانو سره په سلا مشوره څېړځايونه، ځنګلونه او شخصي کرنيزې ځمکې د کليو د پولو او د لويو کليو مينځ کې فرعي کلي او په ښاري سيمو کې ګوزرونه په نښه کړي.

**۹.** طبيعي سرچيني د يوې دوامدارې ودې او پراختيا او د نيستۍ (فقر) له کمولو سره په داسي ډول د پام وړ مرسته کولای شي، چې د ټولني پر بنسټ ولاړو ميکانيزمونو او مشروع سيمه ايېزو حکومتي ادارو په مرسته اداره شي. د طبيعي سرچينو د ادارې په اړه لاسوهنه به د هراړخيزو سلا مشورو پر بنسټ ولاړه وي، چې د سيمه ييزو ټولنو(چې په هغه کې محرومي ډلې لکه کوچيان او ځايي ډلې شاملې وي) سره به کيږي او د سيمه ييزو ارزښتونه ښکارندوی به وي. دغه کارونه به د بيوزلۍ په کمولو کې د يوه دايمي بهير اساسي او عمده برخه جوړه کړي، ځکه چې د توليداتو ښه کيدل به په مستقيمه توګه په کليوالي سيمو کې د معيشت سرچيني، د خواړو ساتنه او په بازار کې برخه اخيستنه زياته کړي. د چاپيريال نه به په داسې توګه ګټه پورته شي چې د چاپيريال ساتنه د دوام وړوي، د بيوزلو اړتياوو ته به ځواب ورکوونکې وي او د سيمه ييزو ارزښتونو او کلتور پر بنسټ به ولاړ وي. د حکومت سيمه ايېزې ادارې او مدني ټولنه ( مصرفوونکي ډلې، د توليدوونکو اتحاديې، او داسي نور) د پريکړو په کولو او د طبيعي او بيا نوي کيدونکو سرچينو په اداره او کنټرول کې ډير مهم رول لوبوي. د حکومت سيمه ايېزې ادارې به هغو طرزالعملونو او ميکانيزمونو ته وده ورکړي چې پکې به د ټولو اړوندو خواوو حقونو او ګټو ته احترام شوي وي، چې په هغه کې به د چاپيريال په اړه د پريکړو د کولو حق هم شامل وي.

**۱۰. د عامه شکايتونو د تنظيم ميکانيزم:** زموږ د حکومت سيمه ايېزې ادارې به خلکو ته ځواب ورکوونکې وي، هغوی به دغه کار په لاندې ډول ترسره کوي:

- ✓ منظمه او دوامداره سلا مشوره او د مصرفوونکو (استعمالوونکو) شاملول، چې په هغه کې د مصرفوونکو دايمي برخه اخيستنه هم شامله ده
- ✓ د منل شويو، او د کاروړ معيارونو او خدمتونو په نظر کې نيول
- ✓ د خدمتونو لاسته راوړونکو ته د کافي او سمو معلوماتو وړاندې کول، او
- ✓ د شکايتونو د اوريدو د زميني برابرول او هغو ته رسيدنه

هغوی به د اړوندې سيمه ايېزې انتخابي شورا تر نظر لاندې شکايتونو سره د مقابلې او تنظيم يو اغيزناکه پلان جوړ کړي چې دغه ځانګړتياوې پکې وي:

- ✓ د مصرفوونکو رضایت به د خدمتونو د وړاندې کولو په اړه زیاتوي او د اړوندې ادارې او استعمالوونکو تر مینځ اړیکې به ټینګوي
- ✓ د مصرفوونکو حق به په رسمیت پیژني، هغه ته وده او پراختیا ورکوي او ساتنه به یې کوي، چې په هغه کې د نظر ځرګندولو او شکایت حق هم موجود دي
- ✓ د مصرفوونکو د شکایتونو د حل لپاره یو اغیزناکه، عادلانه او د لاسرسي وړ میکانیزم به مینځ ته راوړي
- ✓ مصرفوونکو ته له شکایتونو سره د مقابلې د بهیر په اړه چې د خدمتونو له وړاندې کولو نه یې لري، هم معلومات برابروي، او
- ✓ د شکایتونو ځارنې ته اجازه ورکوي او هڅه کوي؛ ترڅو د خپلو وړاندې شوو خدمتونو کیفیت ښه کړي

د شکایتونو تنظیم او مقابله به د اړوندې ادارې د خدمتونو او د کیفیت څرنګوالي په اړه هغوی ته خپل نظر ورکړي. همدارنګه دغه کار به د اوریدلو( توجه کولو) یو دوامداره میکانیزم هغو ادارو ته په لاس ورکړي چې د داسې یو شي درلودونکي نه دي . زموږ د حکومت سیمه ایيزې ادارې له شکایتونو سره د مقابلې میکانیزم به ځرګند، د لاسرسي وړ او حساس وي. خلك به پوهیږي چې په کوم ځای او څرنګه شکایت وکړي. دا به نسبتا آسانه وي چې یو شکایت ثبت شي. د شکایت کولو طرزالعمل به آسانه وي. سیمه ییز حکومتي دفترونه به هڅه کوي؛ ترڅو خلك په دې قانع کړي چې د شکایت کول څخه نه یوازې داچې هرکلی کیږي؛ بلکه د هغه د حل په خاطر جدي چلند هم کیږي، یعني د سازمان په مینځ کې ځواب ورکول او حساسیت دواړه موجود دي. د مصرفوونکي نظر به د خدمتونو د دوامداره ښه کیدلو لپاره په کار وړل کیږي. د حکومت د سیمه ایيزو ادارو اجرائیوي مشران به له شکایتونو سره د مقابلې د بهیر په اړه ژمن وي او په شخصي توګه به د مامورینو د لارښووني او په دې اړه د تبلیغاتو مرسته او تصدیق کوي. د شکایتونو سره د مقابلې ټول مسئولیت به د ادارې د لوړو مقاماتو لخوا په غاړه اخیستل کیږي. دا میکانیزم به کافي سرچینې په اختیار کې لري. د شکایتونو سره د مقابلې بهیر به دا ظرفیت لري چې د علاج لاره او چاره په عمل کې پلي کړي. ولایتي، ولسوالي، ښاري او د کلي شوراګانې له شکایتونو سره د مقابلې د میکانیزم ځارنه کوي.

**۴. د فساد او درغلی پر ضد اقدامات**

په سیمه ییزه کچه د فساد په ضد باید دغه اقدامات وشي:

- دولت به معلوماتو ته د لاسرسي د حقونو قانون عملي کوي. د اساسي قانون ۵۰ ماده د افغانستان وګړو ته دا حق ورکوي چې د افغانستان د حکومتي ادارو معلوماتو ته د قانون د له حکمونو سره سم لاسرسي ولري او سربیره پردې وایي چې دا حقونه کوم حد نلري؛ مګر داچې د نورو په حقونو تیري وشي. دولت به د معلوماتو درلودلو د حق قانون نافذوي چې دا وګړو او مدني ټولنې ته یو قانوني میکانیزم برابروي ترڅو له دغه حق څخه چې اساسي قانون ورته ورکړی، ګټه واخلي. دولتي معلوماتو ته د لاسرسي حق یو اساسي او بنسټیز حق دی او د حساب ورکونې د ښهیر بنسټ جوړوي. وړاندېو شوی قانون به د خپلو حکمونوپر بنسټ وګړو ته د دولتي دفترونو معلوماتو ته د لاسرسي حق ورکړي. دولتي معلوماتو ته لاسرسی به د دولت د فعالیتونو په اړه د روڼتیا ( شفافیت) او حساب ورکونې زمینه برابره کړي. دغه قانون به د ښې اداري له جوړېدو سره مرسته وکړي. دغه قانون به یو طرزالعمل او د مراتبو سلسله له ځانه سره ولري چې د خلکو د هغو درخواستونو ته به چې د معلوماتو د لاسته راوړنې غوښتنه کوي، ځواب ورکوونکی وي. د دولت یو لړ مشخص چارواکي د احتیاط نه کاراخلي او کوښښ کوي چې خاص دولتي معلومات له ځانه سره وساتي او هغو ته د خلکو له لاسرسي څخه مخنیوی کوي
- قاضي القضات او د سترې محکمې د رییس عبدالسلام عظیمي تر مشرۍ لاندې ځانګړي کمیسیون له فساد سره د مبارزې او اداري اصلاحاتو په اړه د یوې ستراتیژي مسوده تیاره کړې ده. کابینې د ښاغلي عظیمي تر مشرۍ لاندې کمیسیون راپور ومانه او ملي شورا هم هغه قانون منظور کړ چې د اداري فساد په وړاندې د ستراتیژي د پلي کیدو څارنه کوي. دغه ستراتیژي او قانون به په سیمه ییزو ادارو کې د فساد سره د مقابلې په کار کې مرسته وکړي. دغې ستراتیژۍ هغه طریقه او طرزالعمل تدوین کړل چې د اداري فساد سره د مبارزي په خاطرپه لنډ مهاله، مینځ مهاله او اوږد مهاله توګه په ملي او سیمه ییزه کچه په کار لویږي. په ملي کچه وزارتونه او په سیمه ییزه کچه اداري هغه اصلاحات چې دغه ستراتیژي یې ورڅخه په وخت غواړي پلي کوي. وزارتونه، ولایتونه او ولسوالۍ به د اداري فساد په ضد د ستراتیژۍ د پلي کیدو د څارنې قانون د عمل په ډګر کې پلی کوي

- ولسوالان به د خپلو اجراتو څارنه د ټاکل شویو شوراګانو، مدني ټولنې او رسنیو له لارو هڅوي

- د حکومت سیمه ایيزې اداري به عامه او خصوصي سکټورونو، د مدني ټولنې دسازمانونو، رسنیو او خلکو ګډون هڅوي، دا کار به د اداري فساد او د فساد د عواقبو په هکله د هغوی د پوهاوي د کچې د لوړولو له لارې سرته رسوي. ددې ارزونه به هم کیږي چې سیمه ایيزې اداري له فساد تر کومې کچې زیانمنې کیدای شي او ددې کار مخه څنګه نیول کیدای شي

- دولت به د استازو ادارو د څارنې میکانیزمونه پیاوړي کړي. ددې کار لپاره به د ولایتي، ولسوالي، کلي او ښاروالیو د شوراګانو د فساد په ضد ظرفیت لوړاو له دې ادارو سره به له نیږدې کار کوي څو د هغوی اجرااات او بحثونه شفاف او خلکو ته پرانستي وي

- رسنۍ او مدني ټولنه به د فساد په اړه د عامه پوهاوي او روزنې په غرض په داسې ډول پیاوړې کیږي چې د معلوماتو بهیر په ټول هیواد کې د دولت او ملت ترمینځ موجود وي. دولت به داسې میکانیزمونو ته وده او پراختیا ورکوي چې د ټولنې پر بنسټ تشکیلاتو سره په همغږۍ کې به د فساد په ضد پوهه او خبرتیا مینځ ته راوړي. دولت به د پروګرامونو جوړول، د هغوی عملي کول او څارنه په شفافه، ګډه او حساب ورکوونکې توګه ترسره کوي

- مدني ټولنه به د عنعنوي جرګو او شوراګانو په شمول دې ته وهڅول شي چې د حکومت د سیمه ایيزو ادارو څخه د رونتیا او حساب ورکولو، او په فساد کې د کموالي غوښتنه وکړي

- د حکومت سیمه ایيزې اداري به د ټاکل شویو شوراګانو تر نظر لاندې د شکایتونو سره د مقابلې یو عمومي میکانیزم پلي کوي چې د هغه په ترڅ کې به د فساد په اړوند شکایتونه ورته وړاندې کیږي

- د حکومت سیمه ایيزې اداري به د فساد د کمولو او د کارونو د اغیزمن توب په خاطر په خپلو کارونو کې له یو لړ بریښنایي (الیکټرونیکي) میکانیزمونو څخه کار واخلي

- د حکومت سيمه ايیزې ادارې به د نيشه يي توکو د قاچاقبرانو او په فساد ککړ چارواکو د نيولو او د محاکمې ته د هغوی د را کشولو کچه لوړوي او د نشه يي توکو په تجارت کې د ښکيلو کسانو په اړه به نور هم زيات معلومات راغونډ وي

- حکومت سيمه ايیزې ادارې به د خپلو ټاکل شويو( انتخاب شوو) چارواکو لپاره د اخلاقو کړنلاره او د خپلو انتصابي چارواکو لپاره يو طرزالسلوک په نظر کې نيسي. لطفاً و لومړۍ او دويمې ضميمې ته مراجعه وکړئ

- دولت به پرهغودولتي چارواکو باندې چې لوړو څوکيو ته انتخاب يا انتصاب شوي وي، دا لازمه کړي چې له مقرريدلو څخه مخکې خپله شتمني په ګوته کړي. دولت به په منظمه توګه د دې څارنه کوي چې آيا د پيژندل شويو عايداتي سرچينو په تناسب ئي پانګه او شتمني زياته شوې او که څنګه

- دولت به مخکې له مخکې نه ځيني قانوني او اساسي ترتيبات په نظر کې نيولي وي؛ تر څو د هغو کسانو د حفاظت او ساتني لپاره اقدام وشي چې د چارواکو درغلي او نيمګړتياوې په ګوته کوي

- دولت به د عامه حساب ورکونې سيستم د حسابونو د تصفيي او د تفتيش د يوه سيمه ييز او پياوړي سيستم په وسيله ټينګوي، چې داخلي او بهرني تفتيش او د حساب تصفيه به پکې شامله وي. دولت به د داخلي تفتيش دنده د حکومت په سيمه ايیزو ادارو کې پياوړي کوي؛ ترڅو هم د مالي چارو او هم د اجراتو تفتيش په داسې توګه وشي چې د عامه حساب ورکونې تضمين پکې په ښه ډول شوی وي

- دولت به عامه مالي سيستمونه د حکومت په سيمه ايیزو ادارو کې د عامه سرچينو د اغيزمنې حساب ورکوونکي مديريت د اجرا په خاطر پياوړي کوي؛ ترڅو چارواکو ته دا موقع په لاس ورنه شي چې فساد په خپله اداره کې پټ کړي. د سيمه ايیزو لګښتونو د مديريت په اړه، دولت د مالي چارو د ادارې لپاره يو کمپيوټري سيستم ټولو ولايتونو ته ورغزوي. دولت د کليدي دولتي خدمتونو( لکه اوبو او بريښنا) د ساتني په خاطر يو ثابت قيمت، زماني چوکات او طرزالعمل پر خپل وقت په روښانه او په آسانه لاسرسي سره

وړاندې کړي. دولت به د مالي حسابونو د تفتيش اوتصفيې چارې د نړيوالو معيارونو سره سم ګړندۍ کړي

- دولت به د تهيه او تدارکاتو يو معياري او منسجم پلان چې د تهيه او تدارکاتو د قانون پر بنسټ ولاړ وي پلي کوي. همدارنګه دولت به په سيمه ايزه کچه د تهيه او تدارکاتو برخې د چارو د کارکوونکو ظرفيت هم جوړوي

- دولت د عدلي څيرنو لپاره چې د اداري فعاليتونو په خاطر کيږي په سيمه ييزه کچه زمينه برابره کړي

- د حکومت سيمه ايېزې ادارې په اړه د ټاکل کيدو يو روښانه سيسټم بايد موجود وي. مقرريو د دا ډول سيسټم اساسي توکي عبارت دي له روښانه طرزالعملونو او معيارونو لکه پر پرانستې سيالۍ ولاړې غير سياسي مقررۍ. دا مهمه ده ترڅو د رښتينتوب او حساب ورکونې د خونديتوب او ډاډ په خاطر سياسي او اداري چارې يو له بله بيلې کړو

دولت به د حکومت سيمه ايېزو ادارو په ګډون دغه چارې ترسره کوي:

- د فساد په وړاندې قانون به په سختۍ سره جاري کوي
- د فساد د موندولو او د واك نه د ناوړې ګټې اخيستنې د رابرسيره کولو، عدلي تعقيب او د هغه په اړه د تحقيقاتو په اړه به، ظرفيت لوړوي
- د اخلاقو، د مشرتوب د ارزښتونو، رول او مسئوليت په اړه به پوهه او خبرتيا ډيروي، کارکوونکي به هڅوي ترڅو د عمومي تحقيقاتو په وخت کې په څرګند ډول ځواب ورکړي
- مدني ټولنه به د دولتي ادارې په څارنه کې هڅوي، او
- د مدني ټولنې له هغو فعاليتونو نه به ملاتړ کوي چې فساد او د واك نه ناوړه ګټه اخيستنه را برسيره کوي

يو باخبره او ويښ وګړي او د دولت کارکوونکي چې د کاري اخلاقو درلودونکي وي کولای شي چې د فساد په وړاندې يوه ښه بيلګه واوسي. له جزا خلاصون فرهنګ به د فساد په وړاندې په ملي نه زغمنه بدل شي. د دولتي فساد د کنټرول په خاطر قانوني اقدامات په دا ډول دي:

- ځرنګه چې پورته هم يادونه وشوه، معلوماتو ته د لاسرسي د حق قانون پلي کول او تطبيقول،
- په ښکاره او بربنډه توګه د سيمه ييزو شوراګانو د استازو د فساد په وړاندې د استيضاح شاملول او د لوړ رتبه وو انتصاب شويو چارواکو له دندې ګوښه کول
- د انتصاب شويو او انتخاب شويو چارواکو په وسيله مخکې له دې چې په خپله دنده شروع وکړي د خپلې شتمنۍ په ډاګه کول چې دا کار بايد په منظمو وقفو سره د دندې د ترسره کيدو په وخت او هم کله چې دنده خوشي کوي، تر سره کړي
- په پوره روڼتيا او شفافيت سره د دولتي لګښتونو او عوايدو اعلانول چې دا کار بايد د يوه بيطرفه مفتيش په وسيله د حکومتوالۍ د سيمه ايیز دفتر د ټولو حسابونو په خبريدو او عامه معلوماتو ته آزادانه لاسرسي ترسره شي، چې فقط په محدوده توګه د قانون په وسيله ځينې استثنائات پکې موجود وي، او
- د هغو دولتي چارواکو او عادي وګړو لپاره چې فساد را ځرګندوي يا دهغه په ضد دريځ غوره کوي د مناسبه ساتني او حفاظت بندو بست

د عامه پوهی ډيريدل چې په هغه کې له قانون څخه ښه خبريدل، د فساد سره د مبارزې په لاره کې يو ترټولو مهم او اساسي عنصر جوړوي او په دې توګه به د خلکو باور د دولت په وړاندې نور هم غښتلی کړي. له دندو نه ښه کار اخيستل، د عامه خدمتونو د وړاندې کولو اندازه کول، خلکو ته په پراخه کچه د دغو معلوماتو ورکول او له خلکو سره د منظمو سلا مشورو کول، کولای شي چې دولتي او عامه خدمتونه تر ډيره د لاسرسي وړ وګرځوي او د سياسي پريکړو په کولو کې د وګړو پراخ ګډون شونی کړي. ترڅو ځايه به دولت او د حکومتوالی سيمه ايیزې اداري به دغه ګامونه اخلي:

- معلوماتو ته د لاسرسي د حق د قانون عملي کول او تطبيق
- د هغو قوانينو اصلاح چې د دولتي چارواکو او وګړو تر مينځ اړيکې سمبالوي، او همدارنګه هغه طرزالعملونه چې معلوماتو ته د لاسرسي سره اړه لري. قوانين او مقررات به هغه مشخص اقدامات ځرګند کړي، چې د شکايتونو د په وخت نه اوريدلو په وخت کې به اخستل کيږي، او
- د احتجاج د حق درولودلو په اړوند د وګړو د عامه پوهې د کچې لوړول، په دې اړه به داسې قوانين مينځ ته راځي چې ملکي کارکوونکي ته دا وښيي چې د وګړو غوښتنو او شکايتونو ته ځرنګه ځواب ووايي او بهير يې پرمخ بوځي

د فساد په ضد د مبارزې کار بریالیتوب، په دې پورې اړه لري چې مدني ټولنې څنګه له دغې چارې څخه څارنه کوي. د مدني ټولنې د څارنې لپاره ځینې وړاندني شرطونه وجود لري، یعني د مدني ټولنې د استازو له خوا د یوه ظرفیت په اساس د فساد د څارلو د ډلې جوړېدل، د څارونکو مسلکي وړتیا او شخصي ربښتینولی، د شاخصونو یوه پرمختللې بڼه چې د سمې ارزونې لپاره لازمه وي، او د روزنې خاص پروګرامونه چې د څارونکي ډلې د استازو له خوا پلان او په لاره اچول کیږي.
په اوسني حال کې د ظرفیت کمزورتیا په تیره بیا په ولایتي کچه د ټګلارو په پلې کولو کې د دولتي مامورینو په وړتیاوو باندې منفي اغیزه شیندي. په مرکزي کچه دغه کمزورتیاوې ددې سبب ګرځي؛ ترڅو د کیفیت د کنټرول او د مقرراتو په څارلو، د لاربښود برابرولو، د پلي کولو میکانیزمونو په جوړولو، د اسانتیاوو د رامینځ ته کولو او د هغوی د کنټرول او په پای کې د دغو مقرراتو د اغیزو د شننې په اړه، ناخوالې رامینځ ته شي. همدا ډول د روزل شویو بشري سرچینو نشتون کولای شي په دې مانا وي چې د پریکړې کولو بهیر تر ډیره برېده شخصي بڼه ځانته غوره کړې، او په دې توګه یې زمینه فساد او داسې نورو ناوړه ګټه اخستلو ته برابره کړې ده. دې پوښتنې ته به په دولت کې د روزنې او د ظرفیت د جوړېدو او دا چې د مامورینو کارونه په سیمه ییزه کچه باید څرنګه د فساد نه څارنه او دهغه مخنیوي وکړي، له لارې پاملرنه وشي. مناسب ظرفیت هم کولای شي د خدمتونو په وړاندې کولو کې په دولت باندې باور زیات کړي.

مدني ټولنه د بیلابیلو استعدادونو یوه خوځنده شبکه ده چې که په ښه توګه توجه ورته وشي کولای شي د اخلاقي قوانینو، حساب ورکونې، روڼتیا او ځواب ورکونې په اړه د ډاډ په خاطر د دولتي اجراتو نه د یوه څارونکي ډیر ښه رول ولوبوي. د مدني ټولنې مهم رول دادی چې د بشري حقونو د اصولو د کارولو له لارې د فساد پرضد مبارزې ته پاملرنه وکړي، د بشري حقونو دا اصل چې خلک باید معلوماتو ته لاسرسی ولري. هغوی په ولایتونو کې د دولتي لګښتونو د څارنې په اړه یو مهم رول لوبوي، چیرې چې خدمتونه په واقعي ډول وړاندې کیږي. د وګړو اغیزمنه ونډه اخیستنه تر تشې سلا مشورې ور اوړي. د فساد له مینځه وړل د کړو وړو د بدلون، د منفي عادتونو بدلولو او کړنو سره شوني وي. د فساد په وړاندې یو عام کلتور چې فساد د ژوندانه د یوې طریقې په توګه ونه مني، کولای شي د عامه حساسیت او پوهې زیاتیدولو ته پام ورواړوي.

د عامه پوهې او خبرتیا په زیاتولو کې هم مدني ټولنه او هم عامه رسنۍ به برخه واخلي. عامه رسنۍ کولای شي خلکو ته د دې مفکورې په پراخه توګه رسولو کې ډیر مهم رول ولوبوي. مدني ټولنه به وهڅول شي؛ ترڅو د فساد پر ضد به مبارزه کې د ځان نه د دفاع کولو په توګه هم برخه

واخلي. رسنيو ته به اجازه وي؛ ترڅو د فساد د بېلګو په اړه خلکو ته بې پرې او عادلانه معلومات برابر کړي. د فساد د پېښو او د رسنيو د آزادۍ ترمينځ يوه پياوړي اړيکه شتون لري. د دې لپاره چې رسنۍ اغيزمنې شي؛ نو بايد چې آزادي ولري. خپلواکه ژورناليزم کولای شي د خلکو د خبرولو او د هغو په مينځ کې د مباحثو د راپارولو له لارې په داسې يوه ډول چې سياسي او اقتصادي سيالي را وپاروي، په غيرمستقيمه توګه په فساد باندې خپل نظر وساتي.

**۵. په دولتي ادارو کې اصلاحات**

ښه اداره او د با کيفيته دولتي خدمتونو په اړه ښه او عادلانه حکمونه دا لازموي؛ ترڅو د دولتي ادارې جوړونه، اصلاحات او پياوړتيا په هره کچه وشي. د دولت مقصد د يوې اغيزمنې، حساب ورکوونکې ، د جنډر ته پاملرنه کوونکې او اغيزناکې دولتي ادارې په مرکز، ولايتونو، ښاروالیو او ولسواليو کې را مينځ ته کړي؛ ترڅو د امنيت، د اساسي ټولنيزو خدمتونو په برابره توګه وړاندې کولو او د اقتصادي ودې لپاره د يوه مناسب چاپيريال د رامينځ ته ورکولو وړتيا يکې وي.

حکومتي وزارتونو د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو له خپلواک کميسيون سره په سلا مشورې، په ملي کچه د دولتي ادارو د اصلاحاتو د پلي کېدو په اړه د پام وړ پرمختګ کړی دی. ملي شورا د ملکي کارکوونکو قانون منظور کړ. دولت د تنخواګانو او رتبو مقرره صادره کړه. د هيواد په کچه د تنخواګانو او رتبو په اړه مقرره پلي کيدل پيل شوي دي. د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کميسيون د تنخواګانو او رتبو په هکله معلوماتي رساله د برابرولو په حال کې ده. دغه مقررې به په ټول هيواد کې په راتلونکو څلورو کلونو کې پلي شي. پنځلسو وزارتونو د بسپنې له ورکوونکو سره ترون لاسليك کړی دی، چې د هغه په ترڅ کې به د اصلاحاتو د پلي کيدو او تنظيم اداره په کار شروع وکړي. يو ديرش ملي ادارو تراوسه دغه څانګه نه ده جوړه شوې. د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کميسيون د ملکي خدمتونو انستيتيوت پياوړی کوي ترڅو په عامه دندو په هکله روزنې ورکړي او هم په ولايتونو کې د روزنيزو چارو د ملاتړ په خاطرمرسته وکړي.

د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کميسيون په سيمه ييزه کچه د دغې ادارې د سيمه ايزو دفترونو او ولايتي ګمارنو کميټې، د ولايت څيړلو کميټې، د ظرفيت جوړونې ولايتي ډلې او د ولايتي ملګرتيا ډلو په جوړولو سره د دولتي اداري اصلاحاتو په پلي کيدو کې يو مهم ګام اوچت کړي ده. د ملکي خدمتونو د روزنې مرکزونه تراوسه پورې د ۳۴ ولايتونو له ډلې څخه

په ۲۰ کې په کار پیل کړی. ۲۶۲۰ ملکي کارکوونکي د کمپیوټرونو د استعمال، انګریزۍ ژبې او د مدیریت په چارو کې روزل شوي دي. اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسیون سیمه اییز دفترونه د ولایت او ولسوالیو په کچه د دولتي اداري اصلاحاتو له عملي کیدو څخه په فعاله توګه څارنه کوي. د سیمه اییزو اورګانونو خپلواکه اداره، د کرنې او مالدارۍ، عدلي، مالي، د اړیکتایي معلوماتو او مخابراتي تکنالوجۍ وزارتونو د ولسوالیو په کچه واحدونو کې د اداري اصلاحاتو پلي کول روان دي. هغه اصلاحات چې په سیمه ییزه توګه شوي دي نسبت ملي اصلاحاتو ته ډیر ننګوونکي دي؛ ځکه چې ټیټ ظرفیت، لږې سرچینې او په سیمو کې اوږده واټنونه د دې ننګونو لامل ګرځي.

دغه پالیسي به په سیمه اییزه کچه هغه ارزښتناکه کار ته ادامه ورکړي، چې د سیمه اییزو اورګانونو خپلواکې ادارې او د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسیون په تیره بیا د دغه کمیسیون د ولایتي چارو د څانګې لخوا پر مخ په لاره اچول شوی دی. د افغانستان د پرمختیا ملي ستراتیژۍ د ادارې، دولتي سکټور د اصلاحاتو او د بشري حقونو د سکټور له ستراتیژیو سره سم (۲۰۰۸- ۲۰۱۳)، دا پالیسي د لاندنیو موخو د لاسته راوړلو هڅه کوي:

- په ملي او سیمه ییزه کچه د ښو او غوره خدمتونو وړاندې کول
- دولتي اداري اصلاحات به په ټولو وزارتونو او دفترونو کې په ملي او سیمه ییزه کچه د ښاروالیو په ګډون تر کال ۲۰۱۳ پورې پلي شي
- تشکیلاتي بیا جوړونه به په بشپړه توګه ترسره شي؛ ترڅو تشکیلات د دندو سره یوشان شي
- د ملکي خدمتونو په دندو کې به اصلاحات وشي؛ ترڅو اصلي دندې او مسئولیتونه منعکس شي او د مدیریت بهیر به په آسانه او ساده توګه  ترسره شي
- څوکۍ او رتبې به له سره درجه بندي شي او د لیاقت په اساس به اړوند کدرونه وګمارل شي
- اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسیون  به عادي دندې او فعالیتونه په ټوله وزارتونو او دفترونو کې پیاوړې او غښتلي کړي
- اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسیون  له مخکې څخه یو هراړخیزه قانوني چوکاټ ته وده ورکړې چې په هغه کې د بشري سرچینو د مدیریت په اړه مقررات، د تنخواه ګانو او رتبو مقررات، د تقاعد او تنقیص په اړه مقررات، چې په ملکي برخه کې د پلي کولو وړ دي، ټکې شامل دي. دولت به د ملکي خدمتونو دغه حقوقي

چوکاټ د اړوندو وزارتونو له لارې په ټولو ادارو کې په ملي او سيمه ييزه کچه عملي او پلي کړي

- تر اوسه د ملکي خدمتونو د کميسيون کار په ښه توګه سرته رسيدلی دی، د لياقت او پوهې پر بنسټ ټاکني او د امتحان اخيستلو طرزالعملونه به د ملکي خدمتونو په اړه په ملي او سيمه ييزه کچه په نظر کې ونيول شي. د کلنيزو اجراتو پر بنسټ څيړني به د سيمه ييزو ملکي خدمتونو اداري په اړه هر کال تر سره شي
- دولت به د اساسي خدمتونو د اجرا لپاره د اداري تشکيلاتو د اصلاحاتو، د ساده او اغيزناکه اداري بهير او د ملکي مامورينو د مهارتونو او پوهې د ښې پراختيا له لارې بنسټيزې او اداري وړتياوې په ولايتونو، ولسواليو او د ښاروالیو په ادارو کې په لاره واچوي. ټول سيمه ييز دولتي واحدونه به د مشخصو موخو پر بنسټ نوي او بيا کتل شوي سيسټمونه، طرزالعملونه، لارښودونه او روزل شوي کدرونه په واک کې ولري

د دولتي اداري د اصلاحاتو پروګرام له لارې به دولت دا ډاډ ورکړي چې د مرکزي دولت د پريکړه کوونکو ادارو او سيمه ايزو دولتي چارواکو ترمنځ يوه همغږي موجوده ده. دولت به د وزارت په تشکيلاتو کې په مرکز او په سيمه ييزه کچه اصلاحات پلي کړي او اداري طرزالعملونه او د راکړې ورکړي(سوداګرۍ) طريقه ساده او آسانه کړي. د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کميسيون به له اړوندو وزارتونو سره د سيمه ييزو ادارو په اصلاحاتو کې مرسته وکړي. دولت به په سيمه ييزه او ملي کچه اغيزمن او په مالي لحاظ دوامداره ملکي خدمتونه رامينځ ته کړي او ورو ورو د معاشونو د ورکړې چاره له بسپني ورکوونکو سازمانونو څخه په خپله غاړه واخلي. دغه کميسيون به قوانين او طرزالعملونه د مسلکي اداره شويو ملکي خدمتونوپه خاطر سخت کړي، چې په هغه کې به د اخلاقي معيارونو لوړول او د فساد او غيراخلاقي عملونو په مقابل کې سزاورکوونکي اقدامات هم شامل وي. دولت به په لياقت ولاړ د ګمارلو سيستم، چې په هغه کې د جنډر برابروالي او توکميزې تنوع ته پام شوی وي، ته وده ورکړي. په پای کې حکومت به د مهارتونو د ودې لپاره يو منسجم، هراړخيزه پروګرام د موجودو او تازه ګمارلو ملکي مامورينو لپاره پلي کړي. حکومتي وزارتونه او اداري به په سيمه ييزه او ملي کچه په خپلو دفترونو کې د اصلاحاتو او ظرفيت جوړوني اساسي مسئوليت په غاړه ولري. د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواك کميسيون رول به د وس ورکوونکي، مدافع او لارښود په توګه وي.

دغه کميسيون به دا پايلې د دولت د نظام د بيا جوړښت له لارې لاسته راوړي. هغه ګامونه چې د دي پايلو د لاسته راوړلو لپاره بايد واخيستل شي په دا ډول دي:

- **موسساتی جوړښت:**

دا به د وزارت او اداري په لید، ماموریت، ستراتیژۍ او پروګرامونو باندې د هغې ادارې د اساسي دندو او مسوولیتونو پر بنسټ ولاړ وي

- **د کاري بهیرونو ساده کول:**

دا کار به د خدمتونو د ښه کیدو او د فساد په کمولو کې مرسته وکړي

- **د ملکي خدمتونو د تنخواګانو او رتبو په اړه پراخ اصلاحات:**

دا به په سیمه ییزه او ملي کچه پلي شي. د پخوانیو پخوانیو سیسټم به په یوه نوي شکل بدل شي

- **د کړنو ارزونه:**

داد بشري سرچینو د مدیریت یوه برخه ده. د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواك کمیسیون د کارکوونکو د اجراتو د ارزونې په خاطر یولړ فورمې،بیلګې او لارښودونو ته وده او انکشاف ورکړی دی. په وزارتونو کې باید ظرفیت ته وده ورکړل شي؛ ترڅو دغه بهیر بنسټیز شي

- **د بشري سرچینو مدیریت د څانګو پراختیا:**

په وزارتونو کې د بشري سرچینو د مدیریت څانګې به د اصلاحاتو بهیر په اغیزمنه توګه تنظیم او اداره کوي

- **د استخدام بهیر او طرزالعملونه:**

د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون به د لیاقت او وړوالي پر بنسټ د ټاکنو د یوه بورد له لارې د مامورینو د استخدام ډاډ ورکړي. که څه هم چې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون ددې بهیر او طرزالعملونو په اصلاح کې یوه اوږده لاره وهلې ده، بیاهم د استخدام په وخت کې د ټاکنو د بورد د غړیو د ظرفیت په لوړولو کې په کمي او کیفي توګه د ننګونو سره مخ ده. د ټاکنو بورد ټاکنو د کیفیت او کمیت د ښه کیدو په اړه یو عملیاتي پلان ته وده ورکړې او دغه عملیاتي پلان به عملي کړي

په ولایتونو کې به د دریمې او شپږمې رتبې ترمینځ د ملکي مامورینو ټولې ټاکنې د ولایتي انتصابي کمیټي لخوا هغوی د وړتیا په اساس د یوې پرانیستې سیالۍ په ترڅ کې تشخیص او ټاکل کیږي، چې د والي لخوا هم باید تایید شي.

په ولسوالیو کې به د اوومې او اتمې رتبې ترمینځ د ملکي مامورینو ټولې ټاکنې د ولسوالي انتصابي کمیټي لخوا هغوی د وړتیا په اساس د یوې پرانیستې سیالۍ په ترڅ کې تشخیص او ټاکل کیږي، چې د ولسوال لخوا هم باید تایید شي.

- **د اصلاحاتو د پلي کولو د تنظیم واحدونه به د** سیمه ایيزو اورګانونو په خپلواکه اداره **کې تاسیسیږي.** د اصلاحاتو د پلي کولو د تنظیم واحدونه به د سیمه ایيزو اورګانونو خپلواکه اداره کې د دې کار په عملي کیدو او د ظرفیت په وده کې مرسته کوي او د سیمه ایيزو اورګانونو خپلواکه اداره به اصلاحاتو ته چمتو کوي

- **د اصلاحاتو د پلي کولو د تنظیم واحدونه چې په وزارتونو کې مینځ ته راغلي د اداري اصلاحاتو پلي کیدلو سره به په ملي او سیمه ییزه کچه په وزراتونو کې مرسته کوي**

**۶. په سیمه ایيزه کچه د ظرفیتونو لوړول**

د ظرفیتونو وده په تیره بیا په سیمه ییزه کچه د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د کمیسیون او د افغانستان د دولت د ټولو ادارو د توجه یوه کلیدي او مهمه برخه جوړوي او.

- **د ظرفیتونو د جوړولو لپاره ستراتیژي د ظرفیت موندلو او د هغه جوړول په بر کې نیسي.** اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسیون د ظرفیت موندلو لپاره د ظرفیت د تنظیم پروګرام او چمتو کولو او مشورتي پروګرام په لاس کې لري. همدارنګه د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون په مدیریت(اداره)، انګریزي ژبې، کمپیوټر او جنډر کې د ظرفیت د ودې پروګرامونه په نظرکې لري. د عادي دندو د ظرفیت د ودې لپاره هم یوه چوکاټ جوړ شوي او د پلي کیدلو په حال کې دی

- **د مالیي وزارت به د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو له خپلواك کمیسیون سره په ګډه په ځانګړې توګه د مالي چارو او د تهیې او تدارکاتو په برخه کې د ظرفیت جوړونې پروګرام په لاره واچوي.**

**په سیمه اییزه کچه د ټاکل شویو(انتصاب شویو) چارواکو روزنه**

- **د سیمه اییزه سکټور د کاري قوي د روزنې په اړه تګلاره داده چې لږ ترلږه هر غړی باید په دوو کلونو کې یو ځل د خپل سازمان او دندې په اړوند او هم په عمومي توګه روزنه ترلاسه کړي.** د دي روزنیزي پالیسی له پلي کیدو څخه د ډاډ اخیستنې په خاطر په بنسټیزه توګه ترتیبات ترلاس لاندې ونیول شي. د ښځو برخه اخیستنه به د مناسبو څارونکو میکانیزمونو او هڅولو له لارې تضمین شي

- **ددې روزنې موخه او انکشافي تګلاره عبارت ده له:**

**د دندې په اړوند روزنه ورکول، ټریننګ او په سیمه ییزه کچه ټولو ملکي مامورینو ته د ودې او پرمختیا فرصتونه برابرول، ترڅو دوی په دې ډول خپلې دندې په ښه توګه او په خوشحالي سره سرته ورسوي. دا کار په ګوته کوي چې هرکله چې پلان جوړونه او د هغه پلي کیدل په ستراتیژیکه توګه ترسره شي؛ نو ټریننګ او وده د ملکي مامورینو د پوهې، وړتیاوو، مهارتونو، کړو وړو او ارزښتونو لپاره د هغوی په کاري اجراتو کې یو حیاتي رول لوبوي.**

- د وزارتونو او حکومت له نورو څانګو سره په سلا کولو د ملکي خدمتونو انستیټیوت به د ټولو ملکي اړوندانو لپاره د ملکي خدمتونو د کمیسیون له لارې، روزنه او پراختیایي لومړیتوبونه برابر کړي. تر ټولو مخکې به مخکښتوب او لوړپوړی مدیریت، کلیدي وزارتونو او نیمه سیمه اییزو دفترونو ته پاملرنه وشي. د ملکی خدمتونو انستیټیوت به د پراختیایي پروګرامونو او روزنو د وړاندې کولو په برخه کې لومړنی رول ولري. د ملکي خدمتونو انستیټیوت به ملکي خدمتونو ته د اړتیا پر بنسټ د اړینو روزنیزو پروګرامونو د وړاندې کولو پوره وړتیا ولري. د ملکي خدمتونو انستیټیوت به خپل ظرفیت نور هم لوړ کړي؛ ترڅو وکولای شي د ملکي اړوندانو هیلو ته ځواب ووایي؛ ترڅو دوی د جنډر او پرمختیا په برخو کې وروزل شي.

- **د ملکي خدمتونو انستیټیوت به له وزارتونو او نور حکومتي ادارو سره مرسته وکړي؛ ترڅو روزنې او پراختیایي اړتیاوې مشخصې کړي.** د ملکي خدمتونو انستیټیوت به هم له وزارتونو او هم نورو حکومتي ادارو سره مرسته وکړی؛ ترڅو هغه غوښتنې په داسې توګه پورته کړي چې لږ لګښت پرې وشي او هم له تکرار څخه ډډه وشي. ټول وزارتونه

او نورې حکومتي اداري(مرکزي او سیمه ایيزې) به د خپلو کارکوونکو د روزنې لپاره پلان جوړ کړي[16] او هغې ته به بودجه وټاکي، چې دغه روزنه او پراختیايي بودجه به د لیږدیدو وړ نه وي[17]. چیرته چې زده کړې او پراختیايي اړتیاوې په ټولو ملکی کارکوونکو کې عمومیت ولري، یا هغه په وزارتونو او یا ادارو کې حتمي وي، نو اړونده وزارتونو او یا ادارو ته باید یوه نه انتقالیدونکې بودجه ځانګړې شي. د ملکي خدمتونو روزنه او پراختیا به د ملکي کار کوونکو د ستونزو په له مینځه وړلو کې مرسته وکړي؛ ترڅو د ملکي کار کوونکو وړتیاوې، پوهه، مهارتونه او سلوک اصلاح شي. ددې موخې لپاره به وړتیا لوړولو داسې روزنیز پروګرامونه په کار واچول شي چې د اړتیا وړ کاري مهارتونو، پوهې او سلوک په لاسته راوړلو باندې راچورلي. د ملکي کارکوونکو رویه سلوک او چلند د هغوی د دندو په ترسره کولو کې افغانانو ته د خدمت د وړاندې کولو په وخت د دوی د ډاډ په تر لاسه کولو پورې اړه لري.د زده کړې دغه لارې داسې څرګندوي چې یو کارکوونکی کولای شي په کار کې خپل لیاقت په لاندې توګه وښیي:

**لومړی کچه-** تر یوه بیساري او فوق العاده زیات څار لاندې، له ټاکل شوي معیار سره سم اجراات وکړي ( نوی اړوند یا کارکونکی).

**دویمه کچه:** تر یوې مخامخ عادي څارنې لاندې، له ټاکل شوي معیار سره سم اجراات وکړي( یو څه تجربه لرونکی اړوند یا ملکي مامور).

**دریمه کچه:** له ټاکلي معیار سره سم په خپلواکه توګه اجرات وکړي او د کار د عملي کولو په اړه سلا ورکړي(باتجربه ملکي کارکوونکی له ځانګړو مهارتونو سره).

**څلورمه کچه:** له ټاکلي معیار سره سم په خپلواکه توګه اجرات وکړي، د کار د عملي کولو په اړه سلا مشوره ورکړي او د کار په چاپیریال کې د نورو څارنه وکړي( په کار کې ماهر، څارونکی، د ودې او اضافي زده کړې لپاره چمتو اړوند او کارکوونکی).

---

16 نږیواله تجربه ښیي چې د یوې موسسی د لګښتونو په سلو کې دریمه برخه که په روزنه او پرمختګ باندې ولګیږي نو دا به لاسته راتلونکي او مطلوب معیار وي.

17 نه لیږدیدونکې بودجه به د نورو موخو لپاره نه مصرفیږي یوازې د هغو موخو لپاره به مصرفیږی چې د هغو لپاره ځانګړې شوي وې. هغه بودجه چې مصرف نه شی باید بیرته له عوایدو سره یو ځای شی.

**د سیمه اییز ې اداري لپاره روزنه او پرمختیا:**

- **د ټاکلنو په پایله کې مینځ ته راغلي شورا لپاره به د زده کړې یوه پالیسی جوړیږي.** دغه پالیسي به د ولایتي شورا، د ولسواليو شورا، د کلیو شورا او د ښاروالی شورا د غړو لپاره یوه فقره ولري، چې په هغه کې به دا معلومات ځای وي چې شورا د خپلو تګلارو د پلي کولو او دا چې څرنګه خپل مکلفیت پلی کړي او خپل منځي خبری اتري یې څرنګه د خلکو په وړاندې رڼې او پرانیستي وي. د سیمه اییزو اورګانونو خپلواکه اداره به ورپورې اړوندو ټاکل شوښو شوراګانو ته د دې وړتیا ورکړي ترڅو خپل رولونه ادا او خپلو هیوادوالو په وړاندې خپل مسولیتونه ترسره کړي. د سیمه اییزو اورګانونو خپلواکه اداره به د دغو ټاکل شویو شوراګانو ظرفیت ته وده ورکړي، او شوراګانو ترمینځ د پوهو شریکولو له بهیر څخه به ملاتړ وکړي

- **د والیانو او ولسوالانو د روزنې لپاره به هم د روزنې یوې پالیسی ته وده ورکړل شي:** د غوره حکومت کولو او جنډر په اړه روزنه به د پالیسی د مرکزي توکو څخه وي

- **د سیمه اییزو اورګانونو خپلواکه اداره به ملکي خدمتونو له انستیتیوت سره یوځای د سیمه اییزو ادارو لپاره په یوې مناسبې روزنیزی ستراتیژی او پلان باندې کار وکړي**

- **ټولې روزنې او پراختیایي فعالیتونه به د اړتیاوو د څیړنه او د نصاب په طرح کولو باندې ولاړوي چې د ځانګړو ملکي خدمتونو ددندو اړتیاوې او غوښتنې به منعکسوي.** د سیمه اییزو اورګانونو خپلواکه اداره به له مدیرانو، څارونکو او د روزنې او پرمختیا له مامورینو سره په سیمه اییزو حکومتي اورګانونو کې مرسته وکړي ترڅو اړتیاوې په ګوته او پراختیایی پروګرامونه او ماډلونو سره سمې روزنې په کار یوسي

- **سیمه اییز چارواکي به ډاډه تر لاسه کړي چې په مناسب پلان او اغیزمن تطبیق سره کولای شي د روزنې او پرمختیا موخې تر لاسه او روزنه او پرمختیایي مسولیتونه د مدیرانو، څارونکو او اړوندانو تر منځ شریک شوي دي. مدیران او څارونکي د څارنې او روزنې، په عامه جنډر او د دندې د میتودونو په روزنه کې**

**وروزل شي؛** ترڅو چې وکولای شي د خپلو ترلاس لاندې کسانو ته په ورځنۍ توګه پرمختیا ورکړي او مرسته ورسره وکړي. په دې روزنه کې د جنډر په اړه تخنیکي ظرفیت او د ښځینه وو د انکشاف لپاره پانګونه په عمومي توګه له مهمو ټکو څخه ده. د سیمه ایيزو ادارو مشران به ډاډ تر لاسه کوي چې مدیران، څارونکي او کارکونکي د روزنې او پرمختیا مسولیتونه ومني او پلې کوي.

**الف.** د روزنې او پرمختیا له مدیریت سره د تړاو لرونکو مسوولیتونو او د څارنې د کاري لایحو یو ځای کول

**ب.** مدیران او څارونکي به د خپلو تر لاس لاندې کارکوونکو د روزنې، پرمختیا او کړنو په اړه حساب ورکوي

**ج.** ددې ډاډ تر لاسه کول چې جنډر په نظر کې نیول شوی او د روزنې طریقه او محتویات هم له معیار سره سم دي

**د.** په کاري چاپیریال کې تر لاسه شوې روزنه او پرمختیا د ملکي خدمتونو مجموعي روزنې او پرمختیایي زیربنا کې شاملول

د سیمه ییزحکومت اړوند مدیران او څارونکي باید ډاډ تر لاسه کړي چې ټریننګونه او پرمختیایي فرصتونه د ټولو ملکي کارکونکو لپاره پرته له هرډول توکمیز، کولتوري، مذهبي، عمر، جنس، معیوبې له توپیر او تبعیض څخه برابر دي؛ خو په دې شرط چې د یوه اړوند کس معیوبیت کاري چارې له خنډ سره مخ نه کړي. د سیمه ایيزو ادارواړوند مدیران او څارونکي به په پرله پسې توګه ټریننګونه او پرمختیایي پلانونه جوړوي او په دې به ډاډه وي چې نوموړې روزنې او پرمختیایي فعالیتونه د دوی د لاسته راوړنو د زیاتوالي سبب کیږي.

- **د سیمه ایيز ادارو مدیران، څارونکي او د روزنو او پرمختیایي پروګرام طرحه کوونکي د خپل فعالیتونه د بشري سرچینو له مدیریت او د عامه اداري اصلاحاتو له ستراتیژیو سره سمون ورکړي.** دوی باید ډاډه وي چې د روزنې او ودې پروګرامونه په عمومي توګه خلکو ته د کیفیت لرونکو اقتصادي خدمتونو د وړاندې کولو په لار کې د اړوندو ظرفیتونو له غوړیدلو او له سازماني پراختیایي ستراتیژۍ سره اړیکه او تړاو لري

- **د سیمه ایيز اړوند حکومتي ادارو مدیران او څارونکي او د روزنو او پراختیا اړوندان دې په ګډه د دې څارنه او ارزونه وکړي چې دغه فعالیتونه له منل**

**شویو معیارونو، د زده کړې له موخو د جنډر د حساسیت، او په کار کې د ښځو د ونډې د چارې په هکله سمون لرې**

**د ملکي کارکونکو او انتصابي چارواکو لپاره د روزني او پرمختګ ترتیبات**

لاندنی جدول د ملکي مامورینو او انتصابي چارواکو لپاره د روزنې او پرمختګ ترتیبات ښيي. دا شواهد د جنسیت له په نظر کې نیولو پرته ترتیب شوي.

د روزنیز واحد له مخې د ټریننګ د مسولیتونو تنظیم

| د موډل ډول | ګډون کونکي | د تمویل مسوولیت |
|---|---|---|
| د زده کړې موډلونه او د ملکي خدمتونو د اړوندانو عمومي پرمختګ | له دې زده کړې او ددې ودې له امکاناتو څخه ټول ګټه پورته کوي | د ملکي خدمتونو د اصلي ټریننګ بودجه، دا بودجه په وزارتونو ویشل کیدای شي. |
| د بل پرځای د مقرریدو او یا د ترفیع لپاره ټریننګ او وده، که څه هم مسلکي یا اداري وي او د قانون پر بنسټ اړینه ګڼل شوې وي او یا د لایسنس اخستلو لپاره وي. | ټول هغه ملکي کارکوونکي چې د قانون په بنسټ ټاکل شوي او د لایسنس لپاره اړتیا لري او یا هغوی چې ترفیع او یا د بل پر ځای مقرریږی دی ټریننګ ته اړتیا لري. | د وزارت د اصلي ټریننګ بودجه د معاشونو او مأکولاتو برخه |
| پر ټول وزارت کې د ګډ اصل ټریننګ او د ودې روزنیز موډل | د وزارت ټول ملکي مامورین دا زده کړه ترلاسه کوي | د وزارت د اصلي ټریننګ بودجه د معاشونو او مأکولاتو برخه |
| د ټولو ډیپارټمنټونو د ګډ اصل ټریننګ او د ودې روزنیز موډلونه | په هره ډیپارټمنټ کې دې ملکي مامورین دا زده کړه ترلاسه کوي | د ډیپارټمنټ د اصلي ټریننګ بودجه د معاشونو او مأکولاتو برخه |
| د وزارت لپاره ځانګړی شوی د ټریننګ او ودې روزنیز موډل | یوازې د وزارتونو کارکونکي چې ځانګړې زده کړې ته اړتیا لري | د وزارت د معاشونو او مأکولاتو برخه |
| د ډیپارټمنټونو لپاره ځانګړی شوی ټریننګ او د ودې | یوازې د ډیپارټمنټونو د کارکونکو لپاره چې ځانګړې | د برخو/ډیپارټمنټونو د معاشونو او مأکولاتو برخه |

| روزنيز موډل | زده کړې ته اړتيا لري | |
|---|---|---|
| د يوې برخې لپاره د ځانکړي شوي ټريننګ او ودې روزنيز موډل | يوازې د برخې کارکونکي چې ځانکړې زده کړه ته اړتيا لري، دا تر لاسه کوي | د برخې/ديپارټمنټ د معاشونو او مأکولاتو برخه |
| د واحد لپاره ځانکړې شوی د زده کړې او ودی روزنيز موډل | يوازې د واحد/سکشن کارکونکي چې ځانکړې زده کړې ته اړتيا لري دا ترلاسه کوي | واحد/سکشن معاشونو او ماکولاتو برخه |
| دزده کړې او ځانګړې (اختصاصي)ودې نور موډلونه | يوازې هغه کسان چې ډيرو ځانګړو زده کړو ته اړتيا لري، دا تر لاسه کوي | د اړتيا په وخت کې د عملياتي بودجې په مرسته ټاکل کيږي |

په لنډه توګه د زده کړې او ودې ټول فعاليتونه (د ټولو سيمه ييزو کارکونکو چې ريسان، آمرين او د ټيټې کچې کار کوونکی پکې راځي) به لاندې وړتياوې ترلاسه کړي:

**أ.** د زده کړې، ودې او پلان جوړونې په اړه د مسلکي کارکوونکو د کاراغيزمنتوب، کيفيت او ګټورتوب لوړ کړي

**ب.** ملکي موجوده کارکوونکي په کار واچوي؛ تر څو د زده کړې او ودې اوسني او را روان کارونه سرته ورسوي او په دې توګه به اړتيا نه وي چې دا ټول کارونه د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کميسيون IARCSC له خوا ترسره شي

**ج.** په دې توګه ملکي کارکوونکو ته پياوړتيا ور وبښي چې د ودې سيستماتيک، ګټور او اغيزمن پروګرامونه او فعاليتونه جوړ او پلي يې کړي او د ودې خپلې انفرادي هڅې را برسيره کړي

**د.** د سرچينو د عادلانه او مناسب لګښت ګټه مشخصوي او د زده کړې او د ودې لپاره د ټولو ساعتونو اندازه په يو کال کې ټاکي او دا چې يو سړی به د ټريننګ څومره اعظمی بودجه په يو کال کې لګوی هم ټاکي

**ه.** له ملکي کاركوونکو څخه غوښتنه وکړي چې ځينې مسؤوليتونه پرغاړه واخلي او د زده کړې او پرمختګ فرصوتونه، د زده کړې ښوونکي او د زده کړې ځای تشخيص کړي، د زده کړې د هغو پروګرامونو په برابرولو کې مرسته و کړي، چې دوی يې لازمي بولي، هغه چې ځانګړې مسلکي او محدودې روزنې يا ټريننګ ته اړتيا ولري

**و.** د نويو کسانو لپاره چې ملکي خدمتونو ته راځي، اړينه ده چې د ګډ اصل روزنې او د ودې اړتياوې بشپړې کړي. په دغو اړتياو کې خدمتونو ته د داخليدو، بلدتيا او نور

فعالیتونه راځي. په ملکي خدمتونو کې ترفیع باید هغه وخت اجرا شي چې د زده کړې او ودې حتمي پروګرامونه بشپړ شي. په دغو حتمي زده کړو کې د نر او ښځې برابري یاجنډر په هکله پوهاوی هم ور ګډ شي

**ز.** د غیر حتمي زده کړو او ودې په کورسونو کې د ګډون لپاره خلکو ته مسوولیت ورکړل شي. د دغو کورسونو لاس ته راوړنې به د ترفیع لپاره د ملکي مامورینو په ارزونه او په راتلونکو پراختیایی کړنو کې وکارول شي.

**ح.** ملکي مامورین دې د کار په اړوندو پوهو، مهارتونو او سلوک باندې مجهز شي او هغوی ته دی د بهرنۍ زده کړې زمینه برابره شي، تر څو وکولای شي اداري او تشکیلاتي پوهه په ځان کې پیدا او وساتي

**ط.** دا خبره د باوري کړي چې زده کړې او د ودې فعالیتونه او پروګرامونه د ملکي خدمتونو پالیسي، تعلیمي، اخلاقي، سلوکي، ټولنیز او د حکومتوالی اوصول په برکې نیسي

**ي.** د روزنې او د ودې د کورسونو لپاره د ملکي مامورینو په ګوته کول، په هغه وخت کې چې عمومي او یا ګډې اړتیاوې موجودې وي

**ك.** د هغو ملکي کارکوونکو لپاره د روزنې او ودې د اړتیاوو ټاکل چې د لاربښوونو په جوړولو، د کار په پلي کولو، د کارکونکو د تقاعدئ د پلانونو او د هر فرد کاري سوابقو په برخو کې کار کوي

**ل.** د روزنې او پراختیا د پروګرامونو جوړول او که چیرې ممکنه وي د هغو ټولو امتحانول

**م.** د روزنې له ټولو موجودو قواعدو او تخنیکونو څخه ګټه اخیستل؛ ترڅو باوري شي چې ملکي کارکوونکو ته د ور ښول شویو مهارتونو او پوهې انتقال په ښه توګه تر سره شي

**ن.** د روزنې او ودې د پروګرامونو په جوړولو کې د شخصي کمپنیو، خصوصي سکټور او ګڼ جانبه سازمانونو سره په ګډه کار کول؛ ترڅو د یوه کار له دوه ځلي ترسره کولو څخه مخنیوی وشي، له سرچینو څخه په ښه توګه ګټه واخیستل شي، په لږو پیسو پوهه لاس ته راشي او لګښتونه په اغیزمنه توګه ترسره شي

**س.** د ملکي خدمتونو هغو نافذو لاربښوونو، پالیسیو، مقرراتو او ستراتیژیو ته پاملرنه کول چې د ترفیع، تقاعد، د دندو د پلان او د ملکي مامورینو د وړتیا او د هغوی د دندو تر منځ د پرتله کولو په هکله وي

**په ښاري او سیمه ییزه حکومتوالۍ کې روزنه او څېړنه:**

په افغانستان کې د سمیه ییزه حکومتوالۍ اکاډمي به د روزنې د یوې ملي ادارې په توګه جوړه شي، چې سیمه ییزو ادارو ته به روزنیز پروګرامونه وړاندې کوي او دا به د سیمه ییزو اورګانونو د خپلواکې ادارې تر لارښوونې او څارنې لاندې کار کوي. د افغانستان د سیمه ییزې حکومتوالۍ اکاډمي به د رییسانو د بورډ له خوا اداره کیږي او مشري به یې د سیمه ییزو اورګانونو د خپلواکې ادارې د لوی رییس کوي او غړي به یې د ولسمشر لخوا ټاکل کیږي، یو اجراییه وي رییس د اکاډمي فعالیت اداره کوي.

د سلاکارانو یا مشاورینو یوه شورا به اکاډمي ته د سلا مشورو په برخه کې خدمتونه وړاندې کوي چې په هغو کې له علمي ټولنو، د مدني ټولنې جوړښتونه، د احصایې د مرکزي ادارې، او خصوصي سکټور استازي شامل وي. د سمیه ییزه حکومتوالۍ اکاډمي دنده به دا وي چې سیمه ییزو حکومتي چارواکو او د سیمه ییزو اورګانونو د خپلواکې ادارې کارکونکو ته، د انساني سرچینو په هکله روزنه او وده ورکړي. د سمیه ییزه حکومتوالۍ اکاډمي به په ملي کچه د زده کړې او ودې یوه عالي اداره وي؛ ترڅو د یوې نوښتګرې او اغیزمنې سیمه ییزې حکمتوالۍ په لور وړتیاوې لوړې کړي.

د سمیه ییزه حکومتوالۍ اکاډمي به سیمه ییزو چارواکو ته د هغوی له اړتیاوو سره سم، مناسب تعلیمي او روزنیز خدمتونه برابروي. د هغو کسانو لپاره چې فارغ شوي وي او یایې لوړې زده کړې نه وي تر سره کړي د سیاسي علومو، دولتوالۍ او ملکي ادارې په برخه کې کورسونه شتون ولري. د سمیه ییزه حکومتوالۍ اکاډمي به د خپلو کارکونکو وړتیاوې لوړوي؛ تر څو د خپلو دندو او مسوولیتونو په سرته رسولو کې عالي کچې ته و رسیږی.

د سمیه ییزه حکومتوالۍ اکاډمي د سیمه ییزې حکومتوالۍ لپاره همیشنۍ زده کړې برابروي، له بیلابیلو سیمه ییزو ادارو سره به اړیکې او ملګرتیا پیاوړې کوي او له تعلیمي ادارو سره به هم ملګرتیا پیاوړې کوي.

پخوا له دې چې د سمیه ییزه حکومتوالۍ اکاډمي جوړه شي، د سیمه ییزو اورګانونو د خپلواکه اداره به د خپلو منتخبو چارواکو لپاره د زده کړې او تحقیق په نړیوالو معتبرو موسسو کې د سیمه ییزې حکومتوالۍ په اړه روزنه برابروي، ترڅو دوی دې ته چمتو کړي چې د دی پالیسۍ اغیزمن پلي کول، څارل او ارزونه ترسره کړي.

**د پوهنتون د فارغانو لپاره د کارونو د عملي زده کړې پروګرامونه:**

د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون په بریالیتوب سره د پوهنتون فارغانو او نورو مسلکي زده کونکو ته د عملي کار د زده کړې پروګرامونه برابر کړي؛ ترڅو دوی وکولای شي د ملکي خدمتونو په برخه کې اداري، تخنیکي او د مدیریت مسولیتونه په غاړه واخلي. د زده کړې دغه پروګرامونه به نور هم پراخیږي. سیمه ییزه حکومتي اداري به په دې پروګرام کې نوره هم ډېره برخه واخلي؛ ترڅو په پوره شمیر فارغان په کې زده کړه ترلاسه کړي او د سیمه ییزو ادارو په ملکي خدمتونو کې دندې اجرا کولو ته چمتو شي. د زده کړې دغه پروګرام به د شپږو میاشتو لپاره په ولایتي مرکزونو کې او عملي برخه به یې د شپږو نورو میاشتو لپاره په ولایتي حکومتي دفترونو کې عملي کار کوي. ددې زده کړې موخه داده چې د هغو ځوانو فارغانو لپاره چې د لیسانس او له لیسانس څخه لوړې زده کړې یې ترسره کړي دي، مرسته وکړي، چې خپلې نظري زده کړې له عملي تجربو سره ملګرې کړي. د زده کړې دغه پروګرام به د زده کوونکو کاري مهارتونه او تجربه زیاته کړي؛ نو له دې کبله به د سیمه ییزو حکومتي ادارو لپاره لاره اواره شي چې ښه او تجربه لرونکي کدرونه په اړوندو ځانګو کې ولري؛ تر څو د دوی پروګرامونه په ډېره ښه او اغیزمنه توګه پلي کړي. ددې زده کړې او روزنې موخه به دا وي چې د زده کوونکو مهارتونه په پوره اندازه زیات کړي او دوی به وکولای شي په سیمه ییزه حکومتوالۍ کې د ملکي خدمتونو پوستونو ته درخواستی ورکړي.

د روزنې دغه رسمي شپږ میاشتنی پروګرام به د لومړیو دریو میاشتو لپاره د انګلیسي، کمپیوټر او منجمنت او د دویمو دریو میاشتو لپاره به د خصوصي زده کړو په هکله وي. رسمي روزنه به په دوو برخو ویشل شوې وي:

ددې شپږ میاشتنی روزنې په لومړیو دریو میاشتو کې به زده کوونکي هره نیمه رسمي ورځ په لاندې برخو کې روزنه تر لاسه کوي:

1. منجمنت یا مدیریت
   - رهبري
   - اجراییه وي مدیریت
   - عمومي مدیریت
   - کمپیوټر
   - انګلیسي ژبه.

د روزنې موده به په ورځ کې درې ساعته وي او یا به د هرې کاري ورځې له غرمې وروسته، د هر مضمون لپاره یو ساعت وي.

ځانګړې یا خصوصي روزنې به د دویمو دریو میاشتو په رسمي زده کړو کې ورکول کیږي. دغه روزنه به د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسیون په مرسته او د هغو تر نظر لاندې تر سره کیږي.

د همدې لومړنیو شپږو میاشتو په دوره کې به "د دندې پرمهال روزنې" د ولایتي مرکزونو په غوره شویو حکومتي دفترونو کې د سهار لخوا ورکول کیږي. د روزنې د دورې په پای ته رسیدو سره به زده کوونکي د شپږو میاشتو لپاره په ولایتي دفترونو کې په ګمارل کیږي؛ ترڅو د کار عملي تجربه ترلاسه کړي.

**۷. د کارونو د کیفیت اندازه کول، د عامه خدمتونو معیارونه او په عامه خدمتونو کې مراجعینو ته د خدمتونو وړاندې کولو په اړه لاربښوونې**

**- د کارد کیفیت اندازه کول**

د دې پالیسی اصلي موخه د خدمتونو د وړاندې کولو ښه والي او د هغو د اجرا لپاره د یوې منظمې  لارې موندل دي. د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژي په پنځو راتلونکو کلونو کې د افغانستان د ټولو پرمختګونو بنسټ جوړوي. د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژي له لومړیتوبونو څخه یو هم دا دی چې  د څار او ارزونې یو سیستم جوړ کړي؛ ترڅو دا ارزونه ترسره کړي، چې د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتیژی، په افغانستان کې د بیوزلی پر کچې څومره اغیزه کوي.

څرنګه چې سیمه ییز حکومتونه خلکو ته ډیر نیږدې دي،  له دې امله هغوی ددې وس لري، چې د افغانانو په ژوند کې ښه والي راولي. دا پالیسي له سیمه ییزو دولتي ادارو څخه غواړي  چې خپلو موخو ته د رسیدلو په لار کې، خپل بریالیتوبونه،  ناکامی او پرمختیاوې اندازه کړي.

ټاکل شوې شوراګانې به د حکومت د پالیسی په زړه کې قرار ولري؛ ترڅو د کار کیفیت اندازه کړي. د کار ي کیفیت اندازه کول د حکومت هغه وسیله ده چې پوهیدای شي چې آیا دوی د ټاکل شویو موخو یا موخو په لور روان دي او که نه. د  کار ي کیفیت  اندازه کول داسي تعریفولای شو: کاري کیفیت هغه بهیر دی چې د هغه په وسیله د سیمه ییزو حکومتي واحدونو د کار کیفیت اندازه کولای شو، په تیره بیا د دوی د لاسته راوړنو او له پخوا نه ټاکل شویو موخو او پایلو په پرتله د دوی د کارکیفیت.

**د حکومت د کاري کيفيت د اندازه کولو د پاليسی موخې دادي:**

- **د حساب ورکونې پياوړتيا:** د کاري کيفيت اندازه کول ښاريانو ته دا ښيي چې د دوی لپاره څرنګه خدمتونه شوي دي، سيمه ييزې حکومتي ادارې د پلي کولو لپاره څه پلان لري، څه لاس ته راوړنې لري، او همدا ډول عامه خدمتونه په کوم لګښت ترسره شوي دي
- **د کاري کيفيت پياوړتيا:** د حداقل خدمتونو د معيارونو ټاکل به له حکومتي ادارو سره مرسته وکړي چې په کيفي لحاظ لوړ، اغيزمن او ګټور خدمتونه وړاندې کړي. د حداقل خدمتونو د معيارونو د ټاکلو لپاره وسايل به له حکومتي ادارو سره مرسته وکړي، ترڅو په دې پوه شي چې دوی څه لاس ته را وړلای شي او څرنګه يې په اغيزمنه توګه عملي کولای شي
- **د بودجې د بهير پياوړتيا:** د کاري کيفيت اندازه کول په سيمه ييزه کچه د لګښتونو څارنه پياوړې کوي؛ په تيره بيا په دې برخه کې چې آيا دوی د حد اقل خدمتونو پر معيارونو عملي اغيزه لري او که نه؟
- **د لاس ته راوړنو او خلاقيت هڅونه:** د کاري کيفيت اندازه کول ددې لپاره کارول کيږي چې په سيمه ييزه کچه د خلاقيت او لاس ته راوړنو د هڅولو له پاره امتيازات او انعامونه رامينځ ته شي

حکومتي سيمه ييزې ادارې، سيمه ييزې شوراګانې او سکټوري وزارتونه به د خدمتونو د وړاندي کولو په هکله د معلوماتو په سيستماتيکه توګه راټولولو، ترتيبولو، او تحليلولو په کار کې فعاله ونډه اخلي او د خدمتونو د وړاندي کولو په هکله په رڼه توګه راپور ورکوي. د کاري کيفيت د اندازه کولو يو ښه سيسټم به سيمه ييزه حکومتي ادارې ددې وړ کړي؛ ترڅو د خپل کاري کيفيت په هکله پر باوري شواهدو ولاړ راپور ورکړي. د کاري کيفيت د اندازه کولو سيسټم به د لاندې ځانګړتياوو او يا عناصرو لرونکی وي:

- دغه سيسټم به د سيمه ييزې حکومتوالی ټولې ادارې په څارنه او ارزونه کې شريکې کړي. ولايتي، ولسوالي، ښاروالي او کليوالي شوراګانې به له دې سيسټم سره همکاري او د هغه څارنه به کوي (په راتلونکو پنځو کلونو کې به په دې خبره زور اچول کيږي چې ټولې ولايتي ادارې په دې سيسټم کې شاملې شي او وروسته به دغه سيسټم د ولسواليو او کليو کچې ته هم وغځيږي)

- د کاري کیفیت د اندازه کولو سیستم به د پایلو پر بنسټ ولاړ وي. د کاري کیفیت ښوونکي به په دې باندې راچورلي چې د زیاتو لاسته راوړنو او محصول پر ځای ښه نتایج او پایلې لاس ته راشي
- د پلان او بودجې جوړونې د بهیر او د کاري کیفیت د اندازه کولو ترمنځ به اړیکې جوړې شي. **حکومت د سیمه ییزو ادارو د عالي کاري کیفیت لپاره انعام ورکوي او د کاري کیفیت په بنسټ به په حکومتي ادارو کې بدلونونه ترسره کیږي**
- د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون، سکټوري وزارتونه، د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکه اداره او سیمه ییزه حکومتي ادارې به دداسې انساني سرچینو ملاتړ کوي، چې وکولای شي د کاري کیفیت اندازه کولو سیستم جوړ او وساتي. دا چې د کاري کیفیت د اندزاه کولو سیستم څرنګه جوړ او وساتل شي او څرنګه د حد اقل کاري کیفیت معیارونه جوړ او وڅارل شي، دا به د روزنې او پرمختیا په پلانونو کې په نظر کې نیول کیږي
- د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکه اداره او سکټوري وزارتونه به د ټکنالوجیکي وړتیا د لوړولو ملاتړ کوي؛ ترڅو د کاري کیفیت له معلوماتو څخه ګټه اخیستنه غوره او ښه شي
- د کاري کیفیت د اندازه کولو سیستم به په داسې ډول جوړیږي چې د سیمه ییزو حکومتي ادارو ترمنځ د پرتلې (مقایسې) ملاتړ وکړي
- دا سیستم به د عامه او خصوصي سکټور معلوماتي سرچینو ته له لاسرسی څخه ملاتړ کوي
- د کاري کیفیت د اندازه کولو سیستم به د معیاري معلوماتو د راټولولو، برابرولو او راپور ورکولو لارو چارو پر بنسټ جوړیږي ؛ تر څو دا خبره باوري شي چې معلومات د ډاډ او د اعتماد وړ وي.

- یو قانونی او نظم ورکوونکي چوکات به جوړ شي، څو سیمه ییزې حکومتي ادارې په دې بریالی شي چې د کاري فعالیت د کچې سیستم د مدیریت له پرمختیا او تخنیکي مرستو سره یو ځای کړي

- د هڅولو او تشویقولو جوړښتونه به په سیمه ییزو حکومتی ادارو کې د مراجعینو ته وړاندې کیدونکي خدمتونه لا ښه کړي، تر څو د خدمتونو د وړاندې کولو لږ تر لږه معیارونه پلي کړي

**په عامه خدمتونو کې د عامه خدمتونو د معيارونو اود مراجعينو د خدمتونو لاربښوونې**

حکومت به له سيمه ييزو حکومتي ادارو څخه وغواړي چې داسې يو جوړښت پر مخ بوځي، چې خلکو؛ په ځانګړې توګه بيوزلانو ته ښه او اغيزمن خدمتونه وړاندې کړي. د خدمتونو په وړاندې کولو کې د ښه والي د راوستو لپاره به په سيمه ييزه کچه ټول وزارتونه او سيمه ييزې حکومتي ادارې، په ځانګړې توګه اړونده رياستونه، به اړ وي چې د خدمتونو د وړاندې کولو لږ تر لږه معيارونه پلي کړي. ولايتي، ولسواليو، کليو او د ښاروالۍ شوراګانې به ددې خدمتونو د وړاندې کولو لږ تر لږه معيارونو د پلي کولو څارنه کوي. وزارتونه به د هر اړونده سکټور لپاره د خدمتونو د وړاندې کولو لږ تر لږه معيارونو ته پراختيا ورکړي. سيمه ييزې شورا ګانې به د خدمتونو د وړاندې کولو لږ تر لږه معيارونو د کارولو، پلي کولو او څارنې دنده په غاړه ولري. د خدمتونو د وړاندې کولو لږ تر لږه معيارونه به په دې ډول برابرکړل شي چې د ملکي خدمتونو کارکونکو له لاس ته راوړنو سره ورته والي ولري. که چيرې دغه لاس ته راوړنې ياد شوي ملکي خدمتونه تر لاسه کړي، نو بيا به ورته امتيازې تنخواه او ترفيع ورکول کيږي، او د وړتيا په لوړولو کې به يې هم هڅه کيږي او په دنده کې به ورته د پرمختګ وخت ورکول کيږي. حکومت به په روښانه توګه د وګړو دندې او حقونه څرګندې کړي، ترڅو وکولای شي په سيمه ييزه کچه له هرې عامه ادارې څخه د خدمتونو غوښتنه وکړي.

ټولې سيمه ييزې حکومتي ادارې به د خلکو د شکايتونو اوريدلو لپاره ميکانيزم جوړوي. ولايتي، د ولسوالۍ، کلي او د ښاروالۍ شوراګانې به د شکايتونو د اوريدلو د ميکانيزم څارنه کوي.

**د مالي چارو، ورته والي او کاري کړنو پلټنه**

د سيمه ييزو حکومتي ادارو د کارونو د منظمې پلټنې لپاره به يو سيستم جوړ شي.

**بهرنۍ پلټنه:**

د يوې خپلواکې ادارې له خوا د تفتيش او پلټنې تر سره کيدل، د مالي عامه مديريت يوه اساسي ستن جوړوي. د کنټرول او پلټنې اداره، هغه اداره ده چې د بهرنۍ او يا وروستنۍ پلټنې واک لري. د سيمه ييزه اورګانونو خپلواکه اداره او ټول وزارتونه به د پلټنې له ادارې سره پوره مرسته کوي او د خپلې داخلي پلټنې راپور به د دوی په واک کې ورکوي. يو ميکانيزم به مينځ ته راځي ترڅو وکولای شي هغه موضوعات وڅيړي؛ کوم چې د کنټرول او پلټنې په راپور کې را برسيره شوي دي.

**د کنټرول او پلټنې اداره:**

د کنټرول او پلټنې اداره زموږ په هیواد کې د پلټنې تر ټولو لوړه اداره ده او د پلټنې له قانون سره سم خپلې دندې سرته رسوي. د کنټرول او پلټنې د ادارې لوی رئیس د افغانستان لوی مفتیش (پلټونکی) دی. د کنټرول او پلټنې اداره د پلټنې له قانون سره سم د داخلي پلټنې کار سرته رسوي. د هیواد لپاره د پلټنې یو نوی قانون د منظورۍ په حال کې دی چې د کنټرول د ادارې کار نور هم پراخوي. د کنټرول او پلټنې اداره د دولت، ولایتي ادارې، سیمه ییزو چارواکو، نورو خپلواکو اورګانونو، عامه تشبثاتو، پروژو او پروګرامونو چې د دولت له خوا تمویل یا پلي کیږي، او د حسابونو د بهرنۍ پلټنې دنده په غاړه لري. د پلټنې او کنټرول د ادارې مشر د هغو دولتي ادارو چې دوی یې پلټنه کوي، مالي اسناد تاییدوي.

لکه څنګه چې د تیرو اوږدو جګړو او ناخوالو له کبله د افغانستان حکومت د خپلو کارونو او فعالیتونو د پر مخ بیولو لپاره پوره مالي او تخنیکي سرچینې په لاس کې نه لري، ځکه نو نړیواله ټولنه زموږ له هیواد سره په مالي، تخنیکي او مدیریتي برخو کې مرسته کوي؛ تر څو وکولای شي خپل مدیریتي لګښتونه تمویل کړي. دغه مرستې د ځینو هیوادونو له خوا په مستقیم ډول سره کیږي او ځینې نور هیوادونه یې د ګڼ اړخیزو او دوه اړخیزو ادارو او غیر دولتي سازمانونو له لارې کوي. د عامه ښیګڼې لپاره لګیدونکې دغه پیسې به د کنټرول او تفتیش د ادارې تر څارنې لاندې راځي. هغه ټولې دولتي ادارې او مؤسسې چې دغه مرستې ترلاسه کوي، به خپل حسابونه او په دغه اړه معلومات، د څیړنې لپاره د کنټرول او تفتیش ادارې ته وړاندې کوي.

**داخلي پلټنه:**

د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکه اداره له سیمه ییزو حکومتي ادارو څخه د هغوی د بیلابیلو فعالیتونو، پروګرامونو او پروژو د کار په هکله معلومات غواړي. همدا راز وزارتونه له خپلو سیمه ییزو واحدونو څخه ددوی د کار په هکله بې پرې معلومات غواړي. دغه بې پرې معلومات د اغیزمنو او مناسبو پالیسیو لپاره په کار دي؛ ترڅو دغه پالیسۍ په اغیزناکه توګه تنظیم او پلې شي. ددې ترڅنګ اداره غواړي وپوهیږي چې ایا پالیسي او پروګرامونه پرته له انحراف څخه په ښه توګه عملي کیږي. د اجراآتو اندازې او پراخوالي ته په کتو سره لوړ رتبه چارواکي له هرې وړې او فرعي ادارې څخه معلومات لاس ته نشي راوړی. ځکه نو لوړ رتبه چارواکي داخلي

پلټنې ته ډیر ارزښت ورکوي، چې دا عمل د بیلابیلو پروژو او پروګرامونو په اړه د کره، باوري او پر وخت معلوماتو د تر لاسه کولو په ترڅ کې ډیر اهمیت لري.

د داخلي پلټنې لویه او اساسي موخه داده چې له چارواکو او اداري سره مرسته وکړي ترڅو هغوی وکولای شي خپلې دندې په اغیزمنه توګه سرته ورسوي. داخلي پلټنه به په ټولیزه توګه د اداري د کاري کیفیت په هکله کره او بې پرې معلومات ورکوي. داخلي پلټنه د کار له کیفیت او داخلي کنټرول له ازموینې او ارزونې سره سروکار لري. دغه چاره د پروګرامونو او پروژو بیا کتنه په برکې نیسي ترڅو له لاندې مواردو څخه ډاډ ترلاسه شي:

**i.** مالي او اجراییه وي معلومات باید باوري او جامع وي

**ii.** د هغو پالیسیو، پلانونو، کړنلارو، قوانینو او مقرراتو په هکله چې په اجرااتو د پام وړ اغیزه کولی شي راپور ورکړل شي

**iii.** د شتمینو او د هغو د لستونو ساتنه او په دې هکله ډاډ ترلاسه کول چې دا شتمنۍ په فزیکي ډول په مربوطه ادارو کې موجودې دي

**iv.** د پروګرامونو او فعالیتونو بیا کتنه، ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې ایا ترلاسه شوې پایلې له ټاکل شویو موخو سره په سمون کې دي او ایا دغه فعالیتونه او پروګرامونه له پلان سره سم سرته رسیږي

**v.** ددې خبرې ډاډ ترلاسه کول چې ایا اجراات او پروګرامونه په اقتصادي او ګټوره توګه پرمخ بیول کیږي او ایا دغه پروګرامونه خلکو ته د خدمتونو په وړاندې کولو کې څومره اغیزمن دی

دا چې اوسني قوانین د داخلي پلټنې په اړه کوم روښانه بیان نه لري؛ ځکه نو باید هلته بدلون راوستل شي؛ تر څو د ټولو وزارتونو د داخلي پلټنې لپاره زمینه برابره شي، رهغو پوري به داخلي پلټنه د یوې اجرائیه پریکړې له لاري سرته رسیږي. د عامه مالیو او لګښت د مدیریت په اړه ۶۱مه ماده وایي چې د مالي وزارت باید د داخلي پلټنې لپاره یوه اداره مینځ ته راولي او د ټولو دولتي ادارو د محاسباتي او مالي چارو د پلټنې لپاره پلټونکي په کار وګماري. دغه ماده تر یو حده عملي شوه؛ خو بیا دا کار ودرول شو. د مالي د وزارت د داخلي پلټنې دیپارټمنټ تر ډیره حده د خپلو پلټونکو کاري وړتیا لوړه کړې او په دې لار کې یې لاندې ګامونه اخیستي دي:

**۱.** له پوهنتونونو څخه فارغه شوي تکړه او وړ کسان یې استخدام کړي

**۲.** دوی ته د بنسټیزې محاسبې او پلټنې په هکله د روزنیزو ټولګیو له لاري تر څلورو میاشتو پوري روزنه ورکوي، چې په پای کې به یې ګډونوال په یوه ازموینه کې برخه اخلي او وروسته بیا دوی ته باورلیکونه (سرټیفیکیټونه) ورکول کیږي

**۳.** د پلټنو د نړیوالو ماهرینو له خوا دوی ته د کار په دوران کې، د داخلي پلټنې په هکله روزنه ورکول کیږي

ټول وزارتونه به د مالي وزارت تر تخنیکي لارښوونې لاندې د داخلي پلټنې ادارې مینځ ته راولي. د نورو وزارتونو په شان به د هغو ادارو چې د سیمه ییزه اورګانونو د څېلواکې ادارې تر واک لاندې راځي؛ داخلي مالي پلټنه به د سیمه ییزه اورګانونو د خپلواکې ادارې د پلټونکو له خوا ترسره کیږي. د سیمه ییزه اورګانونو د خپلواکې ادارې د داخلي پلټنې د څانګې کاري وړتیا دا مهال ډیره ټیټه ده. ځکه نو د مالي وزارت په دې هکله د سیمه ییزه اورګانونو د خپلواکې ادارې د پلټونکو د وړتیا د جګولو په لار کې تخنیکي همکاري کوي. دا کار به د سیمه ییزه اورګانونو خپلواکې ادارې پلټونکيددې وړ کړي چې خپل کار له نړیوالو معیارونو سره سم تر سره کړي. د سیمه ییزه اورګانونو د خپلواکې ادارې د داخلي پلټنې څانګه به د ټولو والیانو، ولسوالانو د دفترونو، ښاروالیو، او د ولایتي، ولسوالي او د کلي د شوراګانو د داخلي مالي پلټنې چارې په غاړه ولري. د داخلي پلټنې دغه څانګه کیدای شي خپل سیمه ییزه دفترونه هم ولري. د سکتوري وزارتونو د داخلي پلټنې اداره به په ولایتونو او ولسوالیو کې د خپلو اړوندو سکتوري واحدونو د مالي پلټنې دنده ولري

په مرکز کې د سیمه ییزه اورګانونو د خپلواکې ادارې د داخلي پلټنې د څانګې مشري، د پلټنې د اجرائیه مشر له خوا کیږي (چې د دولت د لومړۍ رتبې مامور به دي)، او ددغې څانګې سیمه ییز دفترونه به هم خپل مشران ولري (چې د دولت د دویمې رتبې مامور به وي). د پلټنې سیمه ییزو دفترونو د کار اندازه به د ادارو له جغرافیایي موقعیت او پر هغوی د کار له فشار سره اندول شوې وي. د پلټنې هر دفتر به د پلټنې خپلې ساحوي څانګې هم ولري. د پلټنې سیمه ییز دفترونه به په پوره شمیر کې تکړه مفتشین او نور کارکونکي ولري؛ تر څو وکولای شي د پلټنې هغه کلنی کاري پلان عملي کړي؛ د کوم منظوري چې به د سیمه ییزه اورګانونو د خپلواکې ادارې د پلټنې د څانګې له لوري ورکول کیږي. د پلټنې سیمه ییز دفترونه به دنده ولري چې د ټولو والیانو او ولسوالانو د دفترونو، ښاروالیو، او د ولایتونو، ولسوالیو او کلیو د شوراګانو داخلي پلټنه وکړي. د سیمه ییزه اورګانونو د پلټنې د څانګې اجرائیه رئیس به د داخلي پلټنې د کار دنده ولري او د خپل کار راپور به خپلو سیمه ییزو دفترونو او د سیمه ییزه اورګانونو د خپلواکې ادارې لوی رئیس ته استوي.

د سیمه ییزو اورګانونو د خپلواکې ادارې او همدارنګه د نورو وزارتونو د داخلي پلټنې څانګې به د داخلي پلټنې په برخه کې له مسلکي نړیوالو معیارونو سره سم خپل فعالیتونه سرته رسوي. د

داخلي پلټنې د اداري لپاره دا ډيره اړينه ده چې خپلواکه واوسي. په هر وزارت کې د دغې ادارې مشر به د خپل اړوند وزارت وزير ته او د سيمه ييزه اورګانونو په خپلواکه اداره کې د پلټنې د څانګې مشر به ددغې ادارې لوی رئيس ته د خپل کار په اړه راپور وړاندې کوي. د داخلي پلټنې څانګه بايد د خپل کار د حدودو په معلومولو، د پلټنې د کار په پلي کولو او معلوماتو په راپور ورکولو کې پوره ازادي ولري. دغه څانګه به خپل کار په پوره مهارت او مسلکي احتياط سره سرته رسوي. د پلټنې کړنلاره يا طرزالعمل به پلټونکو ته، د پلټنې د پلان د ټولو پړاونو، ساحوي کار، راپور ورکولو، او د دغه کار د بهير څارلو په برخه کې له نړيوالو معيارونو سره سم لارښوونه کوي. همدا ډول به داسي يو ميکانيزم رامينځ ته کيږي چې د پلټنې د کار، راپور ورکولو او د پلټنې د تيرو راپوورونو د کار مناسبه او اغيزناکه څيرنه وکړای شي.

د مالې د وزارت د داخلي پلټنې څانګه، د داخلي پلټنې لپاره ډير ښه جوړښت لري. دغه څانګه پردې برياليی شوې چې د پلټنې د لارښونې د بهير لازم مواد او اسناد، طرحه او د نړيوالو معيارونو له مخې، د هغو کره توب او سموالی د عمل په ډګر کې وازمويي. د وزارتونو او سيمه ييزه اورګانونو د خپلواکې اداري د پلټنې څانګې به له دغو لارښوونو څخه د خپلو کاري چارو په اصلاح او سمون کې کار اخلي. د مالې وزارت د داخلي پلټنې څانګه به د نورو وزارتونو او دولتي ادارو د پلټنو له څانګو سره، د پلټنې د ميتودولوژئ په برابرولو کې مرسته او همکاري کوي او همدارنګه به د وزارتونو او د سيمه ييزه اورګانونو د اداري د مسلکي پلټنې په اړه، د کار په جريان کې د پلټنې د څانګو د اړوندانو وړتياو د زياتولو په موخه، د زده کړې د ټولګيو جوړولو او د کار په بهير کې، د پلټنې د څانګو د مهارتونو لوړولو په غرض د پلټنې وسايل او تخنيکي ملاتړ، د وزارتونو او د سيمه ييزو اورګانونو د خپلواکې اداري په واک کې ورکوي. په اوس مهال کې وزارتونه او د سيمه ييزو اورګانونو خپلواکه اداره، داسي پلټونکي چې د کار سرته رسولو په برخه کې، له نړيوالو معيارونو سره برابر د پلټنې چارې تر سره کړي؛ نه لري. وزارتونه او د سيمه ييزه اورګانونو خپلواکه اداره به پر دې خبره غور کوي چې آيا د پلټنې د کار د پرمخ بيولو لپاره د نورو پلټونکو اړتيا شته او که وي نو کيدای شي هغوی استخدام کړي. د مالې وزارت د داخلي پلټنې څانګه به د بشري سرچينو د کارونو د پراختيا په لړ کې، د ښوونيزو ټولګيو په دايرولو سره او د کار پر وخت د روزنې له لارې خپله مرسته کوي. د سيمه ييزه اورګانونو خپلواکه اداره او وزارتونه به ددې کار ډاډ تر لاسه کوي چې د لوجيستيکي اسانتياوو او نورو سرچينو د کمښت له کبله د دوی کار له خنډ سره مخامخ نه شي.

د داخلي پلټنې د کار له لارې به، له سرچينو څخه د اغيزناکې او ښې ګټې اخستنې په اړه ډاډ تر لاسه شي. دا کار به د کتنې، ارزونې او داخلي پلټنې د سيستم د مناسب والي او اغيزمنتوب په

اړه، د راپور ورکولو له لارې تر سره کيږي. د داخلي پلټنې درې واړه ډولونه به سرته رسول کيږي؛ يعنې مالي پلټنه، له مقرراتو سره د سمون په هکله پلټنه او د کار د څرنګوالي پلټنه.

**الف: مالي پلټنه-** د مالي پلټنې تمرکز د حساب ورکولو د چارو او مالي راپور ورکولو پرکيفيت ولاړ دی. په مالي پلټنه کې د عوايدو او لګښت محاسبه، د چارو راپور ورکول او د مالي اجرااتو پايلې شاملې دي. د محاسبې او اقتصاد ملي قوانين خپلول، د بودجې له تخصيص سره سم د لګښتونو ثبت او راپور ورکول، او د بانک او خزانې له ريکارد سره د هغو برابري د نورمالې محاسبې له فعاليتونو څخه دي. مالي پلټنه د داخلي کنټرول او په سمه توګه د بانکي ابلاغيې ورانديې کولو په چاره کې د هغه د اغيزمنتيا بيا کتنه کوي

**ب: د مطابقت په اړه پلټنه-** خلک د عامه سکټور له سازمانونوڅخه دا هيله لري چې په خپلو کارونو کې دې شفاف او له اړوندو قانوني کړنلارو سره په سمون کې وي. قوانين، مقررات، کړنلارې او لارښود د عامه سازمانونو لپاره د هغوی په کار کې د لارښوونې معيارونه دي. څه شي، ولې، څنګه او د چا له خوا؟ دا هغه پوښتنې دي کومو ته چې به د هيواد په حقوقي چوکاټ کې ځواب وويل شي. هغه کنټرول اوکړنلارې چې د عامه سازمانونو له خوا په داخلي توګه ځای پر ځای شوې دي، د شفافيت او حساب ورکولو په باوري کولو کې ډير اړين دي. د مطابقت په اړه پلټنه دا خبره کره کوي چې آيا د حقوقي او داخلي کنترول له دغو کړنلارو څخه پيروي کيږي؟ په دغه پلټنه کې دا ارزونه کيږي چې اداره يا سازمان له اړوندو پاليسيو، قوانينو، لارښوونو، پلانونو او کړنلارو سره سم تر کومه حده خپل کارونه سرته رسوي

**ج: د اړوندانو د کاري چارو پلټنه:** مفتش يا پلټونکی د داسې پلټنې له لارې دا څيړي چې حکومتي پروګرامونو او فعاليتونو هغه څه لاس ته راوړي دي چې انتظار يې کيده؟ د اړوندانو د کاري چارو پلټنه، د اقتصاد د رول او په کاري چاپيريال کې د اړوندانو د کاري اغيزمنتيا څيړنه کوي

د کاري کړنو پلټنه يا تفتيش يو سيستماتيک، او د موخې په اساس ولاړه څيړنه ده چې د حکومتي پروګرام او يا فعاليت د پوره کولو او د اغيز، ګټې او اقتصادي لاسته راوړنې په موخه په لار اچول کيږي. د کاري کړنو تفتيش يوه مهمه وسيله ده چې په مرسته يې کولاي شو هغه حکومت چې د خلکو په سرچينو ولاړ دی، حساب ورکونکې کړو. د کاري کړنو تفتيش د لاس ته راوړنو او پايلو د حساب ورکونې په څانګه راڅورلي. هغه شاخصونه چې د کار د اندازه کولو لپاره جوړ شوي دي، د کاري کړنو د تفتيش په موخه به هم وکارول شي. تفتيش به د مراجعينو لکه، د عامه

وګړو د لید په اساس، په یوې ملکي ادارې او یا پروګرام کې د یو خپلواک تفتیش کوونکې ارزونه وي.

د کاري کړنو پلټنه د حکومت د پروګرام او یا فعالیت ارزونه کوي، چې تر کومې کچې یې ټاکل شوی نو هماغه هیلې یې پوره کړي دي. کاري پلټنې به اغیز، ګټې او اقتصادي لاس ته راوړنې وارزوي.

**د سیمه ییزو حکومتي ادارو د کاري کړنو ارزونه به لاندې پروانه ولري:**

- د ګټې د کچې او اندازې ټاکل چې د کاري کړنو د تقتیش په موخه به وکارول شي
- د معیارونو جوړول، چې د تفتیش لپاره به وکارول شي
- دا به وکتل شي چې هغه راپورونه چې د پروګرام لخوا وړاندې شوي تر کومې کچې د باوراو د کارولو وړ دي
- دا معلومول چې آیا د ترلاسه شوې کاري وړتیا سطحه د ټاکل شویو موخو او معیارونو سره سمون لري او که څنګه؟
- دا معلومول چې تر لاسه شوي کاري وړتیا له ټاکل شویو موخو سره د کومو لاملونو له مخې توپیر لري
- له کاري پلټنې څخه د لاس ته راغلیو معلوماتو ترتیب او په کاري وړتیا کې د لا ښه والي په هکله وړاندیزونه ورکول

**کاري پلټنه به په لاندې دریو پړاوونو کې سرته ورسیږي:**

- د پلان جوړولو پړاو، چې په هغه کې دغه توکي شامل وي: د معلوماتو راټولول، د رامینځ ته کیدونکو ګواښونو او خطرونو او له هغوی سره د مخامخ کیدلو د امکاناتو څیړل، د پلټنې د موخو په ښه ډول سره په ګوته کول، د پلټنې د حدونواو میتودولوژئ معلومول، دا چې د ساحوي کار په توګه، کوم کارونه باید تر سره شي، او د پلټنې د کار لپاره د بودجې معلومول
- د ساحوي کار پړاو چې د هغه په ترځ کې به د پلټنې کار تر سره کیږي
- د راپور ورکولو پړاو چې د هغه په ترځ کې به د پلټنې پایلې ولیکل شي او په دې اړه یو ورستنې راپور بشپړ او چمتو کړل شي

سیمه ییزې حکومتي اداري به تفتیش په دې موخه په لار اچوي چې د هغه راپور د کره والي څیرنه وکړي چې د کاري اجرااتو په اړه ورکړ شوی دی، چې دغه ټکي پکې شامل دي:

- ایا خدمتونه وړاندې شوي دي
- له شرایطو سره د مراجعینو مطابقت
- ایا د پروګرام بودیجه په هغه بڼه چې راپور یې ورکړل شوی، لګول شوې ده.
- د خدمتونو لګښت، لکه د هر وړاندې شوې خدمت لګښت
- د خدمتونو په وخت سره وړاندې کول
- د لاس رسي کچه، انډولتوب، او شتوالی
- د ټاکل شویو موخو او کارکوونکو ترمینځ نسبت، لکه د ښوونکو\زده کونکو نسبت، د خدمتونو د کاروني نسبت
- د اجرااتو د مقیاسونو باوري والي (ایا اندازه کول واقعي کړنې ښیئ، د کړنو ټول مهم او اړونده عنصرونه ښیي)، او...
- د وسایلواو شتمنیو مدیریت، څو دا باوري شي چې سامانونه او زیربناوې په سمه توګه ساتل کیږي، او همدارنګه دا چې بیارغوني او جوړولو ته خو یې اړتیا نه لیدل کیږي

د کاري کړنو تفتیش به د ترسره شویو خدمتونو شفافیت او حساب ورکونه ډیره کړي. د خدمتونو د وړاندې کولو د کیفیت داسې یوه ارزونه یوازې د مالي او مقرراتي پلټنې له لارې نشي تر لاسه کیداې.

د کاري کړنو د پلټنې او تفتیش د چمتو کیدو لپاره به سیمه ییزې حکومتي اداري:

- اغیزمن مالي تفتیش ولري
- د تفتیش لپاره د اړتیا وړ عناصر ولري
- د محاسبې یو باوري سیستم فعالیت ولري
- د کنټرول لپاره بهرني د اړتیا وړ وسایل په لاس کې ولري، د مطبوعاتو، مدني ټولنې او ولایتي شورا په مرسته اوږد مهالی څارنې په ګډون.
- د وړاندوینې په اساس بودیجه پلې او تطبیق کړي، او...
- یو چاپیریال جوړکړي چې د کار سره مرستندوی او کار ته برابر وي

د سیمه ایز حکومت مشرتوب به په لوړه کچه د کاري کړنو په پلټنه او تفتیش کې مرسته کوي.

**۸. د طبیعي پېښو مدیریت**

اوس مهال په افغانستان کې د طبیعي پېښو په وړاندې د مبارزې یوه اداره چې د افغانستان د طبیعي پېښو په وړاندې د مبارزې ملي اداري (ANDMA) په نوم یادیږي، شتون لري. د افغانستان د طبیعي پیښو په وړاندې د مبارزې ملي اداره په بیلابیلو سطحو د نورو ادارو لپاره تکلارې ټاکي او ددې تر څنګ د هغوی پرمختګ هم تنظیموي. د پیښو په وړاندې د مبارزې یوه ولایتي کمیټه په دې ورستیو کې د کندوز په ولایت کې جوړه شوه، او دغه ډول کمیټې به په نورو ولایتونو کې هم په کار پیل کوي، دغه کمیټې د پیښو په وړاندې د تیاری او غبرګون دنده په غاړه لري.

ولایتونو ته د پیښو په وړاندې د مبارزې او مدیریت لوړ توان ورکړل شوی دی. په ولایتونو کې د پیښو په وړاندې مبارزه او مدیریت به په لاندې ډول همغږې کیږي:

- د طبیعي پیښو د مدیریت ولایتي کمیټه د ولایت په کچه د چمتوالي، ځواب وینې او د ګواښونو د کمولو د فعالیتونو د څارنې او ادارې دنده په غاړه لري. ددغې کمیټې مشري والي په غاړه لري او د افغانستان د طبیعې پیښو په وړاندې د مبارزې ملي اداري یو تن استازې، ولایتي شورا، اړوند وزارتونو، ملي اردو، پولیسو او د افغاني سرمیاشتې د ټولنې په څیر د مدني ټولنې له سازمانونو څخه یو یو تن استازی به پکې شامل وي
- د هر وزارت اړوند ولایتي دفتر دنده لري چې په ولایت کې د هر ډول شونو پیښو د اغیزمن ځواب لپاره پلان ولري
- د طبیعي پیښو د مدیریت ولایتي کمیټه دنده لري چې د وزارتونو او ریاستونو پلانونه تکمیل کړي او د دوي تر منځ همغږې باوري کړي
- د طبعي پیښو په وخت کې د ولایت په کچه د کنټرول خونه باید لومړی خبرداری ورکړي او بیا ټول اړوند اړخونه له پیښې خبر کړي، او د ځواب ویونکو ډلو تر منځ به اړیکې ټینګې کړي. او د پیښې د ځواب وینې په اړه به تازه مالومات ټول او خپاره کړي

- په بیړنیو حالتونو کې د ځواب ویلو لپاره د توکو د برابرولو د مرکزونو شبکه به په بیړنیو حالاتو کې کورنیو ته د اړتیاوړ توکي ویشي، لکه برستنې، د ځښاک اوبه، د سون مواد او خوراکي توکي. دغه مرکزونه به ددې توان ولري چې دغه توکي د پیښو په وړاندې د ولایتي کمیټې په امر په هغو سیمو کې چې بیړنی حالت ولري، وویشي
- د طبیعي پیښو د مدیریت ولایتي کمیټه به نورې وړې کمیټې لري چې د پیښو د خطرونو د کمښت ستراتیژي جوړه کړي او دوی به خپلې ستراتیژۍ اړوندو سکټوري وزارتونو ته وړاندې کوي. د بیلګې په توګه دغه ستراتیژي چې د اوبو له تم ځایونو سره د ځنګلونو کېښنول؛ ترڅو د سیل مخه ونیول شي. دا ډول ستراتیژۍ به د کرهنې اومالدارۍ وزارت ته سپارل کیږي
- د ولسوالیو په سطحه هم باید د طبیعي پیښو د مدیریت کمیټه، د کنټرول خونه او پیښو ته د غبرګون وزارتي پلانونه په نظرکې ونیول شي، او د ولایت په څیر دغه جوړښتونه رامینځ ته شي. د طبیعي پیښو د مدیریت کمیټه به په ولسوالي کې د ولسوال له لوري اداره کیږي او غړي به یې د ولسوالي د اړونده واحدونه او د طبیعي پیښو د مدیریت ولایتي کمیټه وي
- هر کلي به د طبیعي پیښو د مدیریت کمیټه ولري، د کلیو د شوراګانو( چې تر دې دمه نه دي جوړې شي)، د مدني ټولنې د ګروپونو، لکه شورګانو، د کلیو پرمختیایي شوراګانو استازي او یو شمیر رضاکاران به ددغې کمیټې غړي وي. دغه کمیټه به ددې مسولیت په غاړه ولري چې په سیمه کې د اټکل کیدونکو پیښو لپاره د غبرګون پلانونه جوړ، او د ساتنې او ژغورنې د اړتیا وړ توکو ویش په اغیزمنه او انډولیزه توګه باوري او د حکومت له غبرګون سره یې همغږې کړي. دغه کمیټه باید د کنټرول یوه اساسي خونه ولري، چې د ولایتي او ولسوالي او رادیویي مرکزونو سره اړیکې ولري
- ولایتي شورا د هرې طبیعي پیښې د ځواب په اړه د کتنې او څیړنې مسولیت په غاړه لري. د کتنې پایلې باید ټولو ته روښانه شي، او باید د طبیعي پیښو د مدیریت ولایتي کمیټې(PDMC) د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکې ادارې او د افغانستان د طبیعي پیښو په وړاندې د مبارزې ملي اداري ته وسپارل شي
- د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکه اداره به د پیښو په وړاندې د مبارزې سیمه ییزو کمیټو ته تخنیکي او د وړتیا د لوړیدو روزنه ورکړي، او دا به باوري کړي چې په سیمه ییزه کچه د پیښو د مدیریت زیربنا (د چمتو کولو مرکز او د کنټرول خونه)

شتون لري او په سمه توګه کار کوي. د سيمه ييزو اورګانونو خپلواکه اداره به دا هم باوري کړي چې هغه ستراتيژګاني، سيستمونه او معيارونه چې د افغانستان د طبيعي پيښو په وړاندې د مبارزې ملي ادارې او نورو ملي ادارو له لوري ځانګړې شوي دي، په سيمه ييزه کچه پلي کيږي، اود هيواد په سطحه، د سيمه ييزو ادارو د راپور ورکوني جوړښت به برابر کړي

**9. سيمه ايز اقتصادي پرمختګ**

په سيمه ييزه کچه کار بايد داسې وشي چې د کمزوري اقتصادي فعاليت بنسټيز لاملونه له مينځه يوړل شي، والي به د سوداګرۍ او صنايعو له وزارت سره په همکارۍ کې، په سيمه ييزه کچه د اقتصادي پرمختيا د ولايتي نوښت مشري کوي. په دې اړه به څلور پروګرامونه پلي شي

1. **سوداګريزو روزنو او ښووونو ته وده ورکول:**

دا پروګرام به د ښوونځيو، پوهنتونونو او ځانګړو روزنيزو مرکزونو او مشورتي خدمتونو په مرسته، سوداګريزو روزنو او ښوونو ته وده ورکړي. دا به خلکو ته هغه وړتياوې ورکړي چې له مخې به يې دوي وکولای شي چې سوداګريز فعاليتونه پيل او پرمخ بوځي، او سوداګريز خويونه خپل کړي. له دې سره به سوداګري وده ومومي او ډيرو وګړو ته به کار پيدا شي او د خدمتونو په توليد کې به د کارګرانو په مهارت کې نور هم ښه والي راشي

2. **د پانګې لاس ته راوړلو ته وده ورکول:**

دا پروګرام د پانګې اچونې، د پانګې اچونې د ولايتي صندوق جوړولو، له بانکي خدمتونو څخه د استفادې په اړه د خلکو روزل،او بالقوه پور ورکوونکو ته د معلوماتو راټولولو له لارې د پانګې ليږد را ليږد نور هم ښه کوي. دا ټول فعاليتونه به د سوداګرۍ په نظام کې د پانګې اچونې اندازه ډيره کړي او په دې ډول د اقتصاد د لاغوړيدو سبب به شي چې ورسره به د کارونو فرصتونه هم زيات شي

3. **له سوداګرۍ، تاسيساتو او زيربناګانو څخه د ملاتړ خدمتونه:**

ددې پروګرام په مرسته به د سوداګرۍ لګښتونو کې کمې راشي، ځکه چې د سوداګرۍ لپاره به مناسب ځای او زيربنا چمتو کړل شي. او دا به د شخصي کارو بارهڅولو کې مرسته وکړي. له دې فعاليتونو سره به د پانګې توليد او اقتصادي وده ډيره شي. دا به اقتصادي فعاليتونه ګړندي کړي. او له دې سره به نوي سوداګريز فعاليتونه پيل شي او روانو سوداګريو کې به پراختيا راشي. او په دې ډول به ډيرو خلکو ته کار په لاس ورشي

### 4. د سوداګرۍ په چاپیریال کې اصلاح:

ددې پروګرام په مرسته به د ولایتي کاري  قوې په مرسته د ولایتونو د پانګه اچونکو او سوداګرو لپاره اداري او قانوني  چاپیریال برابر شي، دغه پروګرام به داسې نوښتونه رامینځ ته کړي چې د هیواد د مرکز لخوا د جوړو شویو اصلاحاتو او سمونونو په پلي کولو کې به مرسته وکړي. او له دې سره به د شته پانګې په تولید کې ډیروالې راشي. او څرنګه چې د مخه وویل شول، دې سره به نوې سوداګرۍ پرانیستل شي، او رواني سروداګرۍ به پراختیا ومومي. همدارنګه به په تولیدې سیستم کې نوي کارونه پیدا شي


څرنګه چې په کاري ځواک کې باید زیاتوالی راشي، له دې امله داسې ستراتیژۍ به په لار واچول شي، څو د کاري  قوې په برخه کې د ښځو ونډه زیاته شي. له دې سره به اقتصادي پرمختګ وده وکړي او ورسره به د جنسیت اصول هم مراعات شي. څلور واړه پروګرامونه به د جندر اصول په پام کې ساتي.

**مهارتونو او روزنې ته وده ورکول**

د پروګرام لومړی پړاو به د سوداګرۍ په اړه درې ډوله د وړتیا د لوړولو پروګرامونه برابر کړي. ددې لپاره به یو درې اړخیزه نصاب جوړ کړل شي.

- **اساسي مهارتونه او نظریات**: په دې کې د سوداګرۍ اساسي نظریات، لکه پانګه اچونه، زیان او ګټه، د پروسس اساسي پیژندګلوي شامل دي، لکه ناستې، مذاکرې، ثبتول او تړونونه
- **عام سوداګریز مهارتونه**: کاري سوداګریزې وړتیاوې عامه وړتیاوې یا مهارتونه دي، لکه د کتابونو ساتنه، بازار موندنه، خرڅلاو، دا ډول وړتیاوې په بیلابیلو موضوعګانو کې سره ورته ماناوې لري
- **له صنعت سره اړونده سوداګریزې وړتیاوې**:  دا وړتیاوې او مهارتونه په یوې ځانګړې سوداګرۍ پورې تړاو لري،  لکه د میوو پروسس کول، د حاصلاتو ټولول، د پروسس کولو ټکنالوژي او د بسته بندۍ عمل. څرنګه چې دغه چارې له یوه سوداګریز فعالیت څخه تر بل سوداګریز فعالیت پورې توپیر لري، نو له دې امله دا ډول روزنې په هر ولایت کې په ځانګړو سکټورونو کې ورکول  کیدای شي

**د پوهې او مهارتونو د ویش سیستم**




دغه پروګرام به د روزنې د نصاب او پروګرامونو د ښه کولو لپاره په پنځو برخو کې کار کوي. دا برخې په دې ډول دي.

- **ثانوي ښوونځي:** د ولایتي پروګرام د مرستې له لارې د پوهنې په وزارت کې د سوداګرۍ د زده کړو پروګرام معرفي او په نصاب کې به داخل شي
- **پوهنتونونه او کالجونه:** په پوهنتونونو او کالجونو کې به د سوداګرۍ په څانګه کې د لسانس په درجه سند ورکول کیږي. د لوړو زده کړو د وزارت په مرسته به ددغو کورسونو نصاب، او د اکاډمیکو اړوندانو لپاره پروګرامونه، د یوه سیستم له لیارې جوړ او د ښوونکو د مرستې لپاره عیار شي
- **د حرفوي روزنې مرکزونه:** د حرفوي اومسلکي روزنې مرکزونه به هغو کسانو ته چې عمر یې په ښوونځیو کې له زده کړو لوړ وي او یا له پوهنتون او کالج څخه بې برخې پاتې شوي وي، جوړ شي. دا پروګرمونه به د ښوونځیو او پوهنتون تر درسي پروګرامونو څخه ډیر عملي اړخ ولري او یوه ځانګړي صنعت پورې به تړلي وي، او که ورته اړتیا وي د حرفوي روزنې دغه مرکزونه به ددغه پروګرام یوه برخه وګرځول شي

- **د مشورتي خدمتونو د برابرولو پروګرمونه**: د ا پروګرام به مشورتي خدمتونه برابروي، چې له رواني سوداګرۍ سره به مرسته وکړي، ډیر دغه خدمتونه به له مشورې او پلټنې سره تړاو ولري؛ خو په ځینو حالتونو کې به روزنه هم ورکوي. پروګرام به د روزنیزو خدمتونو او د موادو په تیارولو کې هم مرسته کوي
- **د امرینو لپاره چمتو شوي پروګرامونه**: د صنایعو په زیاتو څانګو کې د سوداګرۍ اساسي موډلونه د اړوندانو او حتا برابرونکو لخوا پرله پسې روزنې ته اړتیا لري. د بیلګې په توګه د خوراکي توکو د پروسس کولو په عصري صنعت کې کارکونکو ته باید د معیار په اړه روزنه ورکړل شي. لکه د تولید ښې لارې چارې، د معیارونو نړیوال سازمان(ISO9000)، د ګواښونو څیړنه او د کنټرول په برخه کې مهم ټکي، دغه پروګرام له سوداګرۍ سره مرسته کولای شي چې د روزنیزو موادو او لارو چارو د پروګرام له علمي بنسټ سره د یو ځای کولو له لارې د روزنې لوړ معیارونه تر لاسه کړي

د کاري ځواک د زیاتولو د ستراتیژۍ د یوې اړینې برخې په توګه باید په کاري ځواک کې د ښځو ګډون زیات شي، نو ځکه دا ټول پروګرامونه د جنسیت عنصر په پام کې ساتي. د ساري په توګه د بیلابیلو ادارو د روزنې په پروګرامونو کې په ټاکلي شمیر ښځې د ګډون حق ولري او ښځې وهڅول شي چې د حرفوي روزنې په مرکزونو کې زده کړې تر لاسه کړي. دا ډول ترکیب په ریښتینې توګه د جندر یا د ښځو او نرو د حقونو د مساوات او ټولنیز عدالت په اوصولو کې اړین بلل شوي دي.

ددغې چارې په پلي کولو کې د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکې ادارې اود والي پر دفتر سربیره د پوهنې وزارت، د لوړو زده کړو وزارت، د سوداګرۍ اوصنایعو وزارت ولایتي واحدونه او د ښاروالی باید برخه واخلي.

**پانګې ته د لاسرسي پرمختګ**

دغه پروګرام به هڅه وکړي، ترڅو د بیلابیلو سیمه ییزو جوړښتونو له لارې مرستو، پانګې اچونې او پور اخیستنې ته په لاس رسي کې ښه والی راشي.

- د سوداګریزو فعالیتونو د غوړولو ولایتي صندوق: دا په ولایتي کچه سوداګریزه بودیجه ده، چې په سیمه ییزې سوداګرۍ کې ستراتیجیکي پانګې اچونې ته وده ورکوي. د دغې بودجې له لارې سیمه ییز جوړښتونه کولای شي ټولنیزې اوشخصي پانګې اچونې ته وده

ورکړي. د پانګې اچونې منطقي دليل دا دی چې دا سوداګری ته په وده ورکولو کې مرسته کوي او همدا راز بودجوي صندوق خپلو کارکونکو ته هم دا فرصت ورکوي چې د شرکت د غيراجراييه وي رييسانو په توګه خپل رول ولوبوي. له هر ولايت سره به مرسته وشي، چې دغه بوديجه وکاروي، او مهم ستراتيژيک سکټورونه وده وکړي او اړونده سوداګری په مخ بوځي. د پرمختګ دغه پروسه په لاندې جدول کې ښودل شوې ده، په پای کې به دا ډول پرمختللي کارونه ټولنې ته وسپارل شي.

د سوداګرۍ د پرمختيا او غوړولو بهير

**ازمايښتي پانګه اچونه**

- د مناسب شرکت غوره کول
- پانګه اچونه او د بوديجې لګول
- د شرکت په مديريت او اداره کې ګډون کول
- زده شوې تجربې په ګوته کول او د هغو په اساس د سيستم عيارول
- مقياس يا اندازه

**د پانګې اچونې د سيستم مينځ ته راوړل**

- د پانګې اچونې ستراتيژي ټاکل
- د سوداګرۍ ډول
- د پانګې اچونې کچه او د ملکيتِ اندازه
- موده
- د پانګې اچونې د بهيرونو برابرول
- پلان شوې بهيرونه
- د پانګې اچونې لپاره قانونې ميکانيزم
- د څارنې سيستم

**د بوديجې جوړښت مينځ ته راوړل**

- بوديجه برابرول
- د رئيسه هئيت په کارګمارل
- د مديريت او فرعې کميټو لپاره کاري لايحې ټاکل
- د مالي، راپور ورکونې او محاسبې د سيستم جوړول
- د مهمو کارکونکو لپاره د کاري لايحې ټاکل
- مهم کارکونکي ټاکل

- **د پانګه اچوونکو په هکله د ولايت د مالوماتو بانګ:**

په دې فعاليت کې، د بانکونو، تمويلونکو او وړو پورونو ورکوونکو ټولنو په ګډون، د ټولو پانګه ور کوونکو مراجعو په باب د مالوماتو يو بانګ يا ډيټابيس جوړيږي. دغه مالوماتي ډيټابيس ته به موجود او بالقوه سوداګر په مستقيم ډول لاسرسی ولري او همدارنګه په غير مستقيمه توګه به مشورتي سازمانونه، نا دولتي موسسې او دولتي ادارې لاسرسی ورته ولري

- **د ولايتي پورونو ثبت:**

دغه پروګرام به د هغو وګړو او شرکتونو د پورونو د تاريخچو د ثبت کولو بهير ته پراختيا ورکړي، چې با صلاحيته پور ورکونکو ته لاس رسي لري. دا ډول ثبت کيداې شي چې د خصوصي سکتور لخوا به ددغه پروګرام په مرسته په لار واچول شي، لکه د پانګې اچونې په مرسته او يا د ورکړل شوې بوديجې په مرسته، او يا ښارواليو په څير د يوه سيمه ييز دفتر لخوا د عامه خدمتونو په توګه

- **د سيمه ييزو بانکونو د خدمتونو د ودې پروګرام:**

دغه پروګرام به د معيادي او ساتني د حسابونو، له بانک کې خپل حساب زياتو، پيسو د اخيستلو، ګروی، بانکي پور او د نورو بانکي خدمتونو په اړه د خلکو روزنې ته پراختيا او وده ورکړي. دغه پروګرام به په مستقيمه توګه د دولتي ادارو او د سيمه ييزو بانکونو په مرسته په مخ وړل کيږي.

- **د ځمکو د ثبت بهير ته چټکتيا ورکول:**

دغه پروګرام به په تيره په هغو سيمو کې چې د زياتې اقتصادي ودې وړتيا ولري، د ځمکو د ثبتولو کار ته چټکتيا ورکړي. په دې اړه داسي انګيرنه کيږي چې د ځمکي ژر ثبتول به خلک وهڅوي چې  که غواړي نوی کاروبار پيل کړي؛ نو له بانک څخه د پور د اخيستلو پر وخت خپله نوې ثبت شوې ځمکه د ضمانت په توګه وړاندې کړي.

- **په ولايت او ښاروالی کي د پانګې اچونې پرمختيا:**

دغه پروګرام به ولايت او ښاروالی ته ددې فرصت ورکړي چې په خپلو سيمو کې  د پانګې اچونې  يوه سوداګريزه موضوع تياره او بيا يې له بيلابيلو لارو اړوندو ادارو ته وړاندې کړي.


څرنګه چې په تيره برخه کې يادونه وشوه، په  کاري  ځواک کې د ښځو را ګډول، ددغې ستراتيژۍ يو مهم جز دی، څو په دې کار سره د کاري ځواک په محصول کې زياتوالی راشي. له دې امله  په دغو فعاليتونو کې بايد د جنسيت  برخه هم شامله وي. د بيلګې په توګه، د ورکړل شوې بوديجې ځانګړې برخي به د ښځو لخوا د سوداګرۍ د پيلولو لپاره ورکړل شي، اړينه ده چې له بانکي خدمتونو څخه د ګټې اخستنې په باب د ښځو لپاره د عامه پوهاوي پروګرامونه طرحه شي

ددغې چارې په پلي کولو کې د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکې ادارې او د والي پر دفتر سربیره د د سوداګرۍ اوصنایعو او مالي وزارتونو ولایتي ریاستونه او ښاروالۍ هم باید برخه واخلي.

**د سوداګرۍ اړونده خدمتونو د ملاتړ د اسانتیاو او زیربنا پرمختیا**

دغه فعالیت به دا باوري کړي چې په دې برخه کې یو مهم مرستندویه پروګرام شته، چې خدمتونه او د سوداګرۍ لپاره اسانتیاوې او زیربنا په سیمه ییزه کچه وړاندي کوي. لکه څرنګه چې لاندې ښودل شوي دي، دا کار به لګښتونه را کم او د سیمه ییزو سوداګرو ګټه به لوړه کړي، چې په دې توګه به د پانګې تولید ډیر شي. او دا به د سوداګرۍ د پراختیا لامل ګرځي او بازار ته به نوي سوداګریزه پانګه را جذب کړي، چې د کار فرصتونه به هم ورسره ډیر شي.

د سوداګرۍ اسانتیاوې- د ملاتړخدمتونه، اود زیربنا اجزاوې



**دغه پروګرام لاندې برخې ولري:**

- **د سوداګرۍ پرمختیا او د لیږدونې پروګرام:**

دغه پروګرام به ولایتونو ته ددې فرصت برابرکړي چې په سیمو کې سوداګرۍ ته وده ورکړي، او سیمه ییزې سوداګرۍ ته په بازار موندلو کې مرسته وکړي، د بیلګې په توګه، که چیرې ښاروالۍ سره نږدې د میولرونکو ونو باغونه وي، نو کیدای شي چې له دغو میوو څخه د جوس جوړولو صنعت او سوداګرۍ کې کار واخیستل شي. دغې سوداګرۍ ته به وده ورکړل شي او بیا به د پلورلو او یا نورو مکانیزمونو له لارې په عامه ملکیت واړول شي. دا پروګرام د سوداګرۍ د غوړولو بودیجې ته ورته والي لري، خو د بیوزلو اړتیا په کې ډیره په پام کې نیول شوه ده.

- **د سوادګرۍ د مرکز پراختیا:**

دا پروګرام داسې ځایونه لکه مارکیټونه او لیلام ځایونه د اړتیا په اساس چمتو کوي او ساتي، په دې کار سره به په عوایدو کې زیاتوالی راشي او نوې سوداګریزو فعالیتونو ته به لاره پرانیزي.

- **د اسانتیاوو او زیربنا د برابرولو پروګرام:**

دا پروګرام به د وزارتونو له منځ څخه داسې کاري ځواک جوړوي، چې د صنعتي اسانتیاوو مسولیت په غاړه ولري، په دغو وزارتونو کې د اوبو او انرژۍ وزارت، د کانو وزارت او د ترانسپورت د جوړولو زیربنا شامل دي. دا کاري قوه به وزارتونو ته د سیمه ییزې پرمختیا په برخه کې اړتیاوې په ګوته کړي، ترڅو دغو اړتیاوو ته په خپلو کاري پلانونو کې ځاې ورکړي. وزارتونه به په سیمو کې د سوداګرۍ د اړتیا څیړنه کوي، د ساري په توګه، وزارتونه به دا ګوري چې په سیمه کې کومه سوداګري د اوبو او بریښنا اسانتیاوو ته لاسرسی. دغه وزارتونه به مرسته کوي چې په ولایت کې د سوداګریزو بنسټونو اړتیاو ته په ولایتي پرمختیایي پلانونو کې ځای ورکړل شي.

- **د تړون کولو او تدارکاتو په کار کې ښه والی:**

دا پروګرام به له سیمه ییزو سوداګرو سره، د غټو سازمانونو لکه له دولتي ادارو، امنیتي قواوو او پرمختیایي سازمانونو سره د تدارکاتو او تړون په لاسلیک کولو کې مرسته کوي. دا کار به د شته فرصتونو په هکله د معلوماتو د خپرولو او ټولولو او د سوداګریزو بنسټونو د وړتیا د لوړولو له لارې مرسته وکړي.

په دې پروګرام کې د جنسیت مسئاله په نظر کې ساتل شوی دی، ترڅو د ستراتیژۍ په اساس د ښځو په کاري قوه کې زیاتوالې راشي. په دې ډول چې سوداګرۍ به د ښځو ټولنو ته وسپارل شي، او تدارکاتو ته د لاس رسي د زیاتولو پروګرامونه په ډیر شمیر هغو شرکتونو ته ورسیږي، چې د ښځو لخوا پرمخ بیول کیږي.

د والي او د سیمه ییزو اورګانونو د خپلواکي اداري پر دفترونو سربیره به د اوبو او انرژۍ، کانونو، ښاري پراختیا، مالیې، فواید عامې، صنایعو او سودګارۍ وزارتونو ولایتي دفترونه او ښاروالۍ به هم ددغه پروګرام په پلي کولو کې شامل وي.

**د سوداګرۍ د چاپیریال رغونه**

د پروګرام وروستۍ برخه د سوداګرو او پانګه اچونکو لپاره د حقوقي او اداري چاپیریال برابرول دي، چې په ترڅ کې به یې د پانګې په شتوالي او د هغې په محصول کې زیاتوالی راشي. ددې پروګرام لومړیتوب به د ولایتي سوداګرۍ د چاپیریال څارنه او د روانو اصلاحاتو پلي کول کوي. د پروګرام نورې برخې به دا وي:

- **د هغې بیروکراسۍ کمول چې سوداګري ورسره مخ ده:**

په ولایتي کچه به په دولتي اداره کې د پلټنې یو واحد جوړیږي چې په دفتري کارونو کې د وخت د ضایع کیدو او نورو ستونزو لکه ساختماني او د ملکیت د انتقال د جواز سره تړلو چارو څارنه کوي او همدرانګه په کارونو کې د حکومت د نه ورتیا د ستونزې په اړه مالومات به راټولوي. دا به بیا د سیمه ییزې پرمختییایي اقتصادي کمیټې له لارې والي ته وړاندې کیږي، والي به د ولایتي اداري مجلس په مرسته په اړوندو حکومتي ادارو باندې فشار راوړي چې خدمتونه په ښه توګه وړاندې کړي.

- **د مالیاتو کمول:**

دا پروګرام به سوداګرو ته د مالې د پروسو په لنډولو کې د روزنې له لارې مرسته وکړي، او هم به د مالې د بوج د کمولو او ښه سیستم په اړه له مرکزي ادارې سره خبرې اترې وکړي.

- **د حقوقي سیستم وده او غني کول:**

ددغه پروګرام له مخې به د عدلي وزارت له خوا د ولایتي او ښاروالۍ د سوداګرۍ د قانون د محکمې د اصلاحاتو مرسته او ساتنه کیږي.

- **د وارداتو د فکتورونو او د صادراتو د مارکیټونو څارنه:**

د پلټنې یو واحد به د صادراتو، وارداتو او تولید د لګښتونو په هلکه مالومات راټولوي، او همدارنګه به په صادراتو کې شته اداري ستونزې په ګوته کوي. دا مالومات به د سوداګرۍ په قانون کې د اصلاحاتو د راوړلو او د شته قوانینو او پالیسیو د پلي کولو په برخه کې وکارول شي.

**د هغه فساد او درغلۍ کمول چې سوداګرۍ ورسره مخ ده:**


دا پروګرام به د سیمه ییزواورګانونو د خپلواکې ادارې د فساد ضد ګامونو سره په همغږۍ، د عامه تدارکاتو او سوداګرۍ په برخو کې، د حکومتي ادارو دننه موجود فساد او درغلي په ګوته او د هغه ریښې به وباسي.

ددې پروګرام د جنډر برخه به په ښځو پورې اړوندو موسسو د شاملولو لپاره حداقل شمیره په ګوته کړي، تر څو هغوی په مالیاتو کې د مرستې او د بیروکراسۍ د کمولو په څیر خدمتونو څخه ګټه پورته کړي.

د والي او د سیمه ییزو اورګانونو پرخپلواکې ادارې برسیره د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت، عدلیي وزارت او ښاروالۍ به د پروګرام د پلې کولو د ټیم برخه وي.

**د پلان جوړولو او همغږۍ نظام**

د پروګرام په اړه پلان جوړونه به د هرې څانګې د کاري څواک له لوري د اقتصادي کمیټې په مرسته، چې د ولایتي پرمختیایي کمیټې یوه څانګه ده، پر مخ بیول کیږي. په لاندې جدول کې د مدیریت جوړښت ښودل شوی دی.




**د پلان او بودجي تيارولو اساسي اصول په لاندې ډول دي:**

- کله چې د ښاروالۍ فعاليتونه په قانوني او ستراتيجيک چوکاټ کې د يو فعاليت په ډول راشي، دا به د ښاروالۍ له لوري اجرا او اداره کيږي. په دې اړوند يوه ممکنه بيلګه کيداى شي د ښاروالۍ د پانګې اچول او يا د ښوونيزو حرفوي مرکزونو فعالول وي

- کله چې يو فعاليت په ښکاره د اړونده وزارت په واک کې وي او د ښاروالیو له دندو څخه نه وي، دا به د اړونده وزارت له خوا ترسره کيږي. په دې هکله يوه بيلګه کيداى شي د ښاروالۍ له لوري د بريښنا برابرول وي چې د اوبو او بريښنا په وزارت پورې اړه لري

- کله چې يو فعاليت په څرګنده د ښاروالیو يا اړونده وزارتونو له دندو څخه نه ګڼل کيږي، دا کار به د سيمه ييزو اورګانونو د خپلواکې ادارې له لوري، د ولايتي پروژې د يوې

برخې په توګه اجرأ شي. يوه بيلګه په دې اړوند کيداى شي په کاروبار کې د موجود فساد او درغلی را کمول وي

په دريو يادو شو حالتونو کې به د هر يو فعاليت ترسره کول، د ولايت په کچه د اقتصادي پرمختيا د پلان جوړولو او همغږۍ جوړښت په لخوا سمون ومومي.

**د بديل معيشيت له پروګرامونو سره همغږي**

د سيمه ييزه اقتصادي پرمختيا پروګرام به د ولايت په کچه د بديل معيشيت فعاليتونو له پلانولو سره همغږی شي ترڅود ځايي (د هرڅه نه مخکې ښاروالۍ) اقتصادي پرمختيا د هغو کليود اقتصادي پرمختګ ملاتړې شي، چېرته چې د کوکنارو کروندګر ژوند کوي. په لاندې برخو کې بايد همغږي رامينځ ته شي:

- **د مهارتونو لوړول:**

په دې برخه کې بايد ډاډ ترلاسه شي چې هغه مهارتونه چې اړوندو صنايعو ته ورکول کيږي، د بديل معيشت په برخه کې اغيزمن سيستمونه په کار واچوي. د ساري په توګه، که چيرې په ګاونډي سيمه کې د کوکنارو د کرلو لپاره د چاى کښت يو بديل وي، په دې وخت کې بايد د مهارتونو پروګرام د چاى د صنعت په اړه وي.

- **پانګې ته لاسرسی:**

په ورته توګه د پانګې پرګرامونه بايد دا باوري کړي چې پانګه سوداګرۍ او صنايعو ته ليږدول کيږي او په کليوالي سيمو کې د قانوني فعاليتونو د پراختيا ملاتړ کوي. دا پروګرام بايد هغه صنايع را منځ ته کړي چې د بديل معيشت د پروګرام محصولات وپيري او همدارنګه هغه سوداګرۍ چې اساسي حمايه وي خدمتونه او لګښتونه لکه د تخمونو او کيمياوي سرې پلورونکي، د موادو د بسته بندۍ برابرونکي، او هغه کمپنۍ چې د کرهنې ماشينونونو د پلورلو او ترميمولو کارو بارکوي.

- **زيربنا، آسانتياوې، خدمتونه:**

د دی ډول آسانتياو برابرول به هغه نوي کرهنيز اقتصاد ته بيل شي چې د بديل معيشت پروګرام په وسيله رامنځ ته کيږي. د ساري په توګه، که چيرې د بڼوالی محصولاتو ته وده ورکړل شي؛ نولازمه ده چې ددې پروګرام له مخې د بڼوالی د توليداتو او د محصولاتو د پروسس لپاره اړونده ماركيت جوړشي او دا باوري شي چې د بڼوالی كښت لپاره اوبه، بريښنا او نور اړين لګښتونه برابرشوي دي.

- **د سوداګرۍ چاپېریال:**

د سوداګرۍ د چاپېریال کاري ډله باید د بدیل معیشیت په ټولو برخو کې د کرهنیز اقتصاد ترڅنګ هغو شرکتونو ته چې په کروندګرو باندې کیمیاوي سره پلوري او همدارنګه صادرونکو او د پروسس شرکتونو ته خپل پام واړوي. هغه څه چې د دفترداری د کړندودونو د ګړندی کولو او د صادراتو او وارداتو د شرایطو د ښه کولو لپاره ترسره کیږي، باید دا ډول صنایعو ته د امکان د شتون په وخت کې لومړیتوب ورکړل شي. د کاري ډلې مقصد باید دا وي چې بیروکراسی راکمه کړي، په ځانکړې توګه د بدیل معیشیت اړونده فعالیتونه باید په سیمه ییزه ادارو او مؤسسو کې په چټکۍ ترسره شي . کاري ډله کولای شي له حده زیاته بیوکراسی او هغه ستونزی چې له فساد نه راولاړی شوي؛ په ګوته کړي. که چیرې دغه ډله په محلي کچه ستونزې ووینې، باید د هغې د اواری لپاره ځاي پرځای هڅه وکړي؛ له دې پرته کولای شي د راپور په له لارې حکومت په دې باب خبر کړي او له اړونده چارواکو سره په ګډه د مسئلې حل را وباسي.

له دې امله ده چې د پروګرام تطبیق او پلان جوړول باید د ولایت د بدیل معیشیت له پروګرام سره همغږی شي. د اقتصادي پرمختیا د ځایي پروګرام زیات شمیر اړونده فعالیتونه او تأسیساتي بنسټ به وروسته په تفصیل سره بیان شي.

**۱۰. د خلکو لخوا د طبیعي سرچینو مدیریت:**

له کلوبلایزیشن یا نړیوال کیدوسره سم، هغه حالات چې په بشپړه توګه د سرچینو د ځایي او خودمختاره مدیریت په ګټه وو، ډیرمحدود شوي دي؛ خو بیا هم د طبیعی سرچینو د مدیریت لپاره د کلیوالي ټولنې له ګډون څخه مقصد دادی چې هلته داسې پریکړی نیول کیږي او داسې فعالیتونه ترسره کیږي چې په مستقیمه توګه په طبیعی سرچینو باندې اغیزه کوي. له دې سره سره، هغه څه چې ځایي ستونزه ګڼل کیږي، په ځایي کچه نشي اواریدلای؛ ولې ځایي پریکړې او اقدامات په ټولنیزه توګه د چاپیریال سیسټم په ساتنې یا ورانی باندې په زیاتیدونکې ډول اغیزه کوي. داسې ښکاري چې دا د ځایي ټولنو په واک کې ده چې ځنګلونه پاک شي، د یوې ټاکلې سیمې نباتات او ژوي را ټول شي، او د اوبو د سرچینو مدیریت وشي.

فرهنګي او بیولوجیکي تنوع چې په عامه توګه بشري ټولنې او په ځانکړې توګه افغان وګړو ته زیاتې ګټې لري، له داسې خطر سره مخامخ ده چې د کمزورې ادارې په وجه رامنځ ته شوي.

ډیموکراټیک اصلاحات هغه کلي(کنجی) ده چې د ثابت پرمختګ او د بیولوجیکي تنوع له اوږد مهاله خوندیتوب سره مرسته کوي.

بیولوجیکي تنوع ګډه، نړیواله، ملي او سیمه ییزه شتمنی کنټل کیږي؛ خو ورسره هغه د افرادو او ټولنو خصوصي ملکیت هم جوړیدای شي. د ملکیت ناځرګنده حقونه او مسؤلیتونه او د حساب د ورکوني نشتوالی د طبعی سرچینو د ساتنی په سکټور کی د اداري له ځانګړو مسئلو څخه کنټل کیږي؛ ځکه چې د طبیعی سرچینو ساتل په ځمکه، اوبو، تر ځمکې لاندې سرچینو او بیولوجیکي سرچینو باندې اغیزه کوي؛ ځکه چې دا ټول له مالي پلوه ډېر قیمتي او ارزښتمن دي. همدا شاني بیولوجیکي سرچینې ددې له امله هم تر ګواښ لاندې دي چې سیالي غاړې هغه له اندازی څخه په زیاته کچه راباسي. سربیره پردی، که چیرې د سرچینو پر سر د خلکو ترمینځ شخړې موجودې وي؛ نو له امله یې د خوندی توب نشتوالی او نورې منفي اغیزې را مینځ ته کیږي. طبیعی سرچینې زیاتره داسې شتمنۍ کنټل کیږي چې په ساتلو او خوندیتوب سره یې اقتصادي او سیاسي ځواک تر لاسه کیدای شي.

په دې موخه چې د طبیعي سرچینو او د چاپیریال ساتنې ښه ساتنه او دغه شان له چاپیریال سره د تړلو سرچینو ښه مدیریت وشي، حکومتي او سیمه ییزه اداري به لاندې ګامونه پورته کړي:

- د طبیعي سرچینو مدیریت په هکله د بحث او ډیالوګ لپاره فرصتونه رامینځ ته شي، ترڅو په سیمه ییزه کچه د نظر یوالی مینځ ته راشي اوهم په ملي او سیمه ییزه کچه دغه غړ اړوندو لورو ته ورسول شي
- د بیلابیلو تګ لارو او د اجرائیوی ادارو ترمنځ همغږی تأمین شي؛ ترڅو د سرچینو د مدیریت، ښی اداري او د طبیعی سرچینو د ساتنی له موخو سره د یوې داسې پروژې لکه د ځمکې حقوق، د مؤسسو وړتیا، جنسیت او نورو د یو ځای کولو له لارې یو ګډ اوهراړخیز چلند رامنځ ته کړي
- د موجودو معلوماتو او شته ستونزو په هکله له خلکو سره د معلوماتو د شریک کولو له لارې د همکاري زیاتول

- د طبیعی سرچینو د پایښت مدیریت په هکله دهیواد د وګړو د وړتیا لوړول
- د طبیعي سرچینو د مدیریت په هکله په خلکو کې د پوهاوي زیاتول. په دې اړه باید خلک د هیواد د اوسیدونکو په توګه خپل حقونه او مسوولیتونه وپیژني. دا حقونه او مسوولیتونه

د چاپیریال  په هکله په هغو قوانینو او کنوانسیونو کې راغلي چې د حکومت لخوا لاسلیک شوي دي

- له مدني ټولني څخه د ملاتړ په موخه د شبکی جوړول؛ ترڅو د طبیعی سرچینو په مدیریت کې خپل رول ولوبوي، اوظرفیتونه یې لوړکړی، او د ځایي ټولنې اړونده میکانیزم او د ځایي مشروع اداري په مرسته د طبیعی سرچینو مدیریت. طبیعی سرچینې کولای شي د پرمختګ او د بیوزلی په راکمولو کې د کتنې وړ رول ولوبوي. البته دا هغه وخت کیدای شي چې د طبیعی سرچینو مدیریت د ځایي ټولنې اړونده میکانیزم سره  د ځایي مشروعی اداري په وسیله ترسره شي
- د مدني ټولنو ملاتړ لپاره د شبکو رامینځ ته کول، ترڅو هغوی د طبیعي سرچینو د مدیریت په هکله خپل غږ پورته کړي او د ادارو ظرفیت لوړ کړای شي
- له خلکو سره د تړاو لرونکي مکانیزم او د مشروع سیمه ییزې ادارې د ملاتړ له لارې د طبیعي سرچینو مدیریت وشي. طبیعي سرچینې کولای شي د تلپاتې پرمختیا او دغه راز د بیوزلۍ په راکمولو کې رول ولري؛ خو په دې شرط چې له خلکو سره د تړاو لرونکي مکانیزم او د مشروع سیمه ییزې ادارې د ملاتړ له لارې ددغو سرچینو په سمه توګه مدیریت وشي
- که چیرې حکومت د طبیعي سرچینو په چارو کې نوي ګامونه پورته کوي؛ نو باید له ځایي ټولنو(د کوچیانو په شان ګوښه شوېو ډلو اود سیمو اصلي اوسیدونکو په ګډون) سره له پراخو سلا او مشورو وروسته اقدام وکړي. په داسې توګه اخیستونکي ګامونه ځایي ارزښتونه منعکسوي. دا ډول چلند به د بیوزلی په دوامداره راکمولو کې غوره برخه ولري؛ ځکه چې په محصولاتو کې ښه والي په مستقیمه توګه پر کلیوالي معیشیت، خوراکي توکو او مارکیټ باندې مثبت اثر پری باسی
- له چاپیریال څخه داسې ګټه پورته شي چې د چاپیریال پیژندنې له مخې  پایښت ولري او د بیوزلانو د اړتیاوو ځواب ووایي او له ځایي ارزښتونو او کولتور سره سر وخوري
- د سیمه ییزې اداري واحدونه او مدني ټولنه (مصرفونکې ډلی، د تولیداتو انجمنونه او نور) به د پریکړو نیولو په بهیراو د بیا استفادې وړ طبعی سرچینو په زیاتوالی کې رغنده رول ولوبوي
- حکومتي  اداري به داسي طرزالعملونه او میکانیزم جوړ کړي چې د ټولو اړوندو خواوو د ګټو، حقونو او همدا راز د چاپیریال په اړه په پریکړو کې د حق درلودل، په کې خوندی وي

**۱۱. د چاپیریال ساتنې په هکله:**

د تیرو دیرشو کلنو د ناخوالو له کبله چاپیریال ته سخت زیان اوښتی. په هیواد کي د چاپیریال اوسنی حالت په ربنتیا د ډیرې اندیښنې وړ دی؛ ځکه نو د چاپیریال ساتل د دولت له لومړیتوبونو څخه دی. د چاپیریال ساتل زموږ د هیواد د اساسي قانون په ۱۵ مه ماده کي، په څرگنده توگه راغلي دي. د چاپیریال ساتنه به د سیمه ییزه دولتي ادارو یوه له ډیرو مهمو دندو څخه وي.

د چاپیریال ساتنې د قانون ۱۱مه ماده، د چاپیریال ساتنې په موخه، د یوې ملي مشورتي شورا د جوړیدو امر کوي. ددغې شورا په غړو کي والیان، د ولایتي شورا رئیسان، د ولسوالۍ له ټولو شوراگانو څخه یو یو استازی، دیني عالمان او ځایي مخور شامل وي. دوی په کال کې لږ تر لږه یو ځلي د چاپیریال ساتنې د ملي ادارې د رئیس تر مشرۍ لاندې غونډه کوي. د چاپیریال ساتنې د ملي مشورتي شورا لومړۍ غونډه د ۱۳۸۷ کال د غوايي د میاشتې پر۱۴ مه او ۱۵ مه نیټه (چې د ۲۰۰۸ کال د جون د میاشتې له ۳ مې او ۴ مې نیټې سره سمون خوري) په کابل کي جوړه شوه. دغې غونډې په اتفاق سره یو ۲۴ ماده ییز پریکړه لیک منظور کړ، چې د چاپیریال ساتنې په هکله د سیمه ییزه دولتي ادارو وظایف او مسؤلیتونه په واضح ډول څرگندوي. د سیمه ییزه اورگانونو د خپلواکې ادارې له خوا ترتیب شوې دغه پالیسي هم د دغه ۲۴ ماده ییزه پریکړه لیک د عملي کیدلو لأربنوونه کوي.

د چاپیریال ساتنې د قانون۱۲ مه ماده پر سیمه ییزه سطحه، د چاپیریال ساتنې د شوراگانو جوړیدلو لاربنوونه کوي. ددغې شورا په غړیو کې به د انتخاب شوې ولایتي شورا رئیس، د ولسوالیو د شوراگانو رئیسان، ولسوالان، په ولایت کي د چاپیریال ساتنې د ملي ادارې رئیس، دیني عالمان او ځایي مشران، مدني ټولنې، د بزگرانو او کوچیانو استازي شامل وي. شورا به په هرو شپږو میاشتو کي یو ځل غونډه کوي. د چاپیریال ساتنې مشورتي شورا به د ولسوالیو په کچه هم دا ډول مشورتي شوراگانې جوړوي.

سیمه ییزه حکومتي ادارې باید د ځنگلونو، څرځایونو، اوبو او ډندونو د بیا رغونې او له هغو څخه د دوامداره استفادې په اړه عملي گامونه پورته کوي، د چاپیریال له پلوه د ساتل شوو سیمو بیولوجیکي تنوع به ساتي، او د ښارونو د چاپیریال پاک ساتلو لپاره هلې ځلې به کوي. دا کار به د چاپیریال په ساتلو کي د خلکو گډون ته وده ورکړي او له هغوی سره به مرسته وکړي چې د هیواد له طبیعي سرچینو څخه په اغیزناک ډول گټه پورته کړي.

## ۱۲. د کليو د پولو او حدودو جوتول:

دولت به د سياسي او اداري واحدونو په توګه د کليو او ګوزرونو د پولو په پراخه کچه کتنه وکړي. دولت به د هيواد د سياسي او اداري حدونو تعين (نقشه جوړولو) کار پيل کړي او په هغه کې به کلي او ګوزرونه د اساسي واحد په توګه وپيژندل شي. دغو سياسي او اداري نقشو ته به هر څوک لاسرسی ولري او د ټاکنو، ټولنيز-اقتصادي پلان جوړولو او د سيمه ييزه ادارو د پاليسی په پلي کولو کې به کار ترې واخيستلای شي. دا ډيره مهمه ده چې د کلي په کچه د حکومتوالی اداري دی څواکمنې شي. مګر په دې لار کې لومړی ګام د کلي د جغرافيايي پولو او هلته د اوسيدونکو کورنيو د شمير معلومول دي. په تيرو وختونو کې د مالي وزارت او د املاکو اداري کليوالي سيمې د مالي په اساس پر واحدونو ويشلی وې؛ ترڅو د ماليو اخيستلو کار يې اسانه وي. دا ويش په ډيرو ځايونو کې له هغه څه سره سم وو؛ کوم ته چې خلک کلي وايي. بل تقسيم بيا د شميرنې او اداري موخو لپاره په يوه ولسوالۍ کې دننه کلي په ګوته کوي. د تيرو تجربو په پام کې نيولو سره د کليو د حدودو د معلوممولو لپاره بيلابيل معيارونه ټاکل کيدلای شي لکه؛ د کورنيو حد اقل شمير، جغرافيايي ګاونډ، د ګډ ملک يا ارباب درلودل، د اوبو رسولو له ګډې سرچينې څخه استفاده کول، تيروخت کې د مالي په ګډ واحد کې راتلل او يا د ولسوالۍ په دوسيو کې د کلي په توګه ثبتيدل.

خو بيا هم د کلي تعريف له مخکې نه لا د مرکزي احصايې د ادارې له خوا شوی دی. سيمه ييزه خلک په پوره توافق سره کولای شي د خپل کلي حدود وښيي. د افغانستان د جيوديزۍ او کارتوګرافۍ لويه اداره به د کليو هغه حدود په رسميت وپيژني، چې د ځايي خلکو له خوا ورته ښودل کيږي. خو البته دا کار به د کلي او ولسوالۍ له شوراګانو او د املاکو له دفتر سره له مشورې وروسته تر سره کيږي؛ خو د ځايي خلکو موافقه په دې هکله بيا هم ډيره ضروري ده.

ددې حدودو ټاکل به د سپوږمکۍ(سټلايټ) له لارې د اخيستل شوو عکسونو پر اساس چې يو مناسب مقياس به ولري، کيږي. چې دا به د کلي د لوی والي له اندازې سره هم اړه ولري. دغه عکسونه به د هغو ټيمونو له خوا تياريږي چې په ساحه کې کار کوي. ددوی دا کار به د سيمې د شورا د مشرانو په موافقه، د هغه سند له مخې تر سره کيږي، چې د دوی لاسليکونه، نومونه او د ګوتې نښې به ولري او د کلي ټاکل شويو حدودو سره به د دوی موافقه ښيي. ددغو عکسونو او سندونو نقل به د کلي له مشرانو سره پريښودل کيږي. بل نقل به يې د احصايې دفتر ته وړل کيږي او هلته به هغه اداري او سياسي حدود يوه ملي معلوماتی سيستم ته اچول کيږي.

## ۱۳.د ځمکو اداره:

### د ځمکو ثبتول

لکه څنګه چې د افغانستان د ملي پراختیا د ستراتیژۍ (ANDS) د حکومتوالۍ، عامه ادارې او بشري حقونو په سکټوري استراتیژۍ کې راغلي دي، د ټولو اداري واحدونو، که هغه په کلیوالو او یا هم ښاري سیمو کې موقعیت لري، قوالو او املاکو د ثبتولو کار به د ۱۳۸۷ لمریز کال د مرغومي(جدې) تر میاشتې پورې پیل شي، چې دا کار به بیا هم یو ټولنیز اساس ولري. دولت به په کلیو کې د عرفي قوالو په اړه د معلوماتو د ثبت او آرشیف کولو وړتیا پیدا کوي. سپین ږیري کولای شي چې ددغه کار سرپرستي او کتنه وکړي او ددغو معلوماتو د کره والي په هکله ډاډ ورکړي. څکه نو دغه کار د کرنې او مالدارۍ، د ښاري ځمکو د ادارې په پروژه کې سرته رسیږي. د ښاروالیو په برخه کې کیدلای شي دا کار په ګوزرونو کې د سندونو د ثبتولو د سیمه ییزې څانګې له لارې تر سره شي. دغه بهیر اوس د کابل ښاروالۍ د LTERA د پروژې له لارې په ازموینتي توګه ترسره کیږي. هغه اسناد چې په محلي توګه ثبت شوي دي، د هغو سندونو په پرتله چې ثبت شوي نه دي، له حقوقي پلوه ترجیح لري. همدا ډول به دولت د څړځایونو، ځنګلونو او د کرنې د شخصي ځمکو او همدارنګه د کلیو او ګوزرونو د حدودو د معلولو لپاره د کلیو شوراګانو ته د سپوږمکۍ له لارې اخیستل شوي عکسونه ورکوي چې به ډیر دقیق او کره وي. د ځمکو د شخړو د حل لپاره به یوعادلانه سیستم هم مینځ ته راځي

### ستراتیژي[18]:

د ځمکې نوې تګ لاره په ارشیف کې د ځمکې د ملکیت د دوه ځلو ثبت یا ریکارد د له مینځه وړلو غوښتنه کوي، چې دا کار د کلیوالي ځمکو د ملکیت په هکله سلا او مشوره ګټوره او آسانه کوي. د املاکو په دفتر کې د ځمکې ادارې څانګې د کډستر د سروې له ادارې سره یو ځای کیږي، تر څو د ځمکیو د قوالو ثبتولو یو واحد سیستم جوړشي، چې د ملکیت جغرافیوي توضیحات به هم ولري. دا هم ضروري ده، تر څو د قوالو ریکاردونه له هغو فرعي پلانونو سره چې د ښاروالیو لخوا اداره کیږي؛ یوځای شي. دا اداري اصلاحات به د ځمکو د ادارې لوی ریاست رامنځ ته کړي، چې مستقیماً به د هیواد د ولسمشر تر نظر لاندې کارکوي؛ څکه چې دا اداره به په ټول هیواد کې د ښاري او کلیوالي ځمکو د ثبتولو او

[18] د ډاکټر جې داوید ستانفیلډ او محمد یاسین د ځمکو د پالیسی او د اداري اصلاحاتو لپاره د وړتیاوو د لوړولو په هکله لیکنې ته مراجعه وکړئ.د کرهنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د ځمکو د اداري اواملاکو د عمومي ریاست څېړنې وګوري

بیو ټاکلو چارې په غاړه ولري. له شتمنیو څخه د مالي د را ټولولو ادارې به یا د ځمکو د ادارې په لوی ریاست کې مدغم شي (لکه په ۱۹۶۰ لسیزه کی) او یا به د ځمکې د ملکیت په باب د معلوماتو هغه ډیټابیس ته لاسرسی ولري، چې د ځمکو د ادارې لوی ریاست له خوا یې ساتنه کیږي. له دریو برخو څخه جوړه شوې ستراتیژي به د ځمکو د ادارې لپاره نوی سیسټم رامنځ ته کړي.

**لومړی برخه: د ځمکو د ټوټو د نقشې جوړولو لپاره د تخنیکي ظرفیت لوړتیا**

- په تخنیکي انستیتوتونو کې د معاصرو معلوماتو او د اړیکو(کمونکیشن) د ټکنالوجۍ د تدریس معرفي کول
- په دغو مرکزونو کې ددې ټکنولوجۍ د پکارولو لپاره د سامان آلاتو او کاري وسایلو برابرول او په پرله پسې توګه د خصوصي اوعامه سکټور له خوا ددې ټکنولوجۍ خپلول
- د کلیو او ګوزرونو ترمنځ د پولو د نقشې کولو په موخه د یوه ملي پروګرام تر لاس لاندې نیول چې کیدای شي (د مالیو د واحدونو) په نوم یاد شي، لکه چې پخوا تر دې همداسې وو؛ تر څو په راتلونکو کې د ځمکو د ټوټو او فرعي ویش سروې ګانې د شمیراو پیژندګلوۍ په برخه کې سمې پایلې ولري. ددغو چارو مسؤولیت د ځمکو د ادارې د لوی ریاست په غاړه دی

## دویمه برخه: په نویو بنسټونو باندې د دودیزو بنسټونو بدلول

په عمل کې د کلیوالي او ښاري ځمکو(او نورو ملکیتونو لکه اپارتمانونو) د زیاترو معاملو د سندونو کاپي یوازې د معاملې له غاړو سره وي. زموږ. چلند د خلکو د روانو معاملو د ترسره کولو (دودیزو قوالو) پربنسټ ولاړدی. موږ غواړو رواني کړنې ته په دوو لاندېنیو لارو سره څه ور زیات کړو:

- که چیرې د کلي په کچه د قوالې د ریښتیني کاپي د جوړولو چاره شونې نه وي، نو د کلیو د ځایي مخورو په مرسته دا وړتیا را مینځ ته شي، چې د محلي ملکیتونو د قوالو په اړه معلومات ثبت او ارشیف شي. همدا ډول باید په دوامداره توګه ددې تایید وشي، چې په سیمه ییزه کچه د جایداد او ملکیت په اړه ارشیف شوي معلومات کره او سم دي. ددې وړتیا د رامینځ ته کولو په خاطر اوس مهال د کرهنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د کلیوالي ځمکو د ادارې پروژه پیل کړې ده، چې له لارې یې د څرځایونو او ځنګلي سیمو د قوالو او سندونو په باب معلومات د کلیو د شورا لخوا ثبت کیږي. د څرځایونو او ځنګلونو په اړه دغه

ټرونونه د شورا منشي د شورا د غړو تر نظر لاندې، په کلکو پوښونو کې آرشيف کوي. او همدا رنګه د سپوږمکۍ (سټلايټ) لخوا کليو د حدودو په اړه د اخستل شويو عکسونو اصل به په کليو کې ساتل کيږي.

- په ښاروالیوکي د سندونو د ثبت لپاره محلي واحد، ښايي ګوزر شي. په دې اړوند اوسنی بهير هم د کليوالي ځمکو اداري پروژې LTERA له لارې په ازمايښتی توګه تر لاس لاندې نيول شوي
- هغه سندونه چې په محل کې ثبت شوي وي، د نا ثبت شويو سندونو په وړاندې ورته قانوني لومړيتوب ورکول کيږي.هغه افراد چې غواړي خپل سندونه د ابتدايی محکمې له لارې برابرکړي، دی کار ته هڅول کيږي، خو هغوی بايد د خپل تيارشوی سند يو نقل د ثبتولو په ځايي واحد (کلي او ياګوزر) کې ثبت کړي. هغه کسان چې غواړي خپلې معاملې د دوديزه قوالو له لارې تر سره کړي، بايد د داسې سند يوه کاپي د ثبتيدلو لپاره د سيمې د ثبتولو واحد (کلي يا ګوزر) ته هم ورکړي .
- د کليو شوراګانو او ګوزرونو ته بايد د سټلايټ عکسونه ورکړل شي؛ ترڅو هغوی ددې عکسونو په مرسته وکولای شي د څړ ځايونو، ځنګلونو او د خصوصي کرهنيزو ځمکو، د لويو او فرعي کليو حدود، او په ښاري سيمو کې د ګوزرونو ترمنځ پولې وښيي.

**دريمه برخه: د يو ځای شوو ځمکو اداري چارې**

د املاکو لوی رياست د هيواد په کچه د جايدادونو په هکله د تخنيکي او مالي معلوماتو زيربنا جوړوي، ترڅو په سيمه ييزه کچه د ځمکو د ثبتولو داسې اداره را مينځ ته شي چې په مرکز متکي نه وي. د ځمکو د ادارې لوی رياست کاري څانګې به لاندې دندې ترسره کوی:

**الف.** د ځمکو ثبت او د کاډسټر د ملاتړ څانګه (د ثبت له محلي ادارو سره مرسته؛ تر څو هغوی خپل کارونه وڅاري او که وغواړي له هغوی سره د آرشيف کولو په هکله مرسته).

- له کليوالي شوراګانو سره د کليوالي ثبت په برخه کې مرسته
- د ګوزر له کميټو سره د ښاري ثبت په برخه کې مرسته

- د ځکمو د ثبت له واحدونو سره د مرستې په خاطرد کاډسټر د نقشې جوړولو او سروې برخې، د املاکو او د ښاروالیو د ملکيتونو د معلوماتو له سيستم يو ځای کول

**ب.** د ښارونو او کليو د ځمکو د سيمه ييزې ارزونې، او د ملکيتونو د ماليو راټولولو د مرستې لپاره د ملکيتونو د ماليې رياست

ج. **د تصفيې رياست** : د ځمکې پر سر د رامنځ ته شوو لانجو له حل سره مرسته کول.

**د.** د کلنيو او پنځه کلنو پلانونو د برابرولو او د ځمکو د ثبت او کاډستر او د شتمنيو د مالي څانګو سره د مرستې لپاره د پلان جوړولو او روزنې رياست.

**هـ.** د قانون د مسودې د څارنې حقوقي واحد، دا واحد به په هغې قانوني مسودې څارنه کوي چې د ځمکې او نورغير منقوله جايداد د درلودلو له حق سره تړاولري، ددې حقوقي واحد بل کار به داوي چې د هغو قوانينو او مقررو مسوده چمتو کړي چې د ځمکو د ادارې لوی رياست لخوا غوښتل شوې وي او همدا ډول به د ځمکو د ادارې د لوی رياست او اړوندو ادارو پر تشکيلاتی جوړښت بيا کتنه هم کوي.

**و. د قضائيي اړيکو رياست** چې د قضائيي قوې په لوړولو کې کارکوي؛ تر څو د کاډستر معلومات، د اړونده شتمنيو د مالي راټولولو تر ټولو کوچني واحد په کچه، له قوالو سره يو ځای او د ځمکو ملي اداري يا NLA ته يې کاپي برابره کړي.

**ز.** د ځمکو د تثبيت رياست چې د لومړيتوبونو له برخو سره کار کوي او د راز راز ځمکي لکه: اوبو لرونکي، باغونو، للمی، څړځايونو، ځنګلونو او نورو ځمکو د وزارتونو (تر ټولو مخکې د کرهنې او ښاري پراختيا وزارتونو) ښاروالیو او د ځمکو د ماليو راټولولو چارواکو د اټکل له مخې د راز راز ځمکو پراخوالی معلوم کړي.

د مالياتي واحدونو د پولو معلومولو د سروې او د کليوالي ځمکو د معلوماتو د ثبت رامنځ ته کولو لپاره د لومړيتوب له مخې، د ولايتونواو ولسواليو ټاکل.

- د لومړيتوب له مخې د دی غوره شوو سيمو په هکله د سپوږمکی له خوا د نقشو اخستل شوي عکسونه ترلاسه کول
- د کليو له مشرانو او مخورو سره د سلا مشورې له لارې، د کليو اوعامه څړځايونو او ځنګلي ځمکو په اړوند د کليوالي ځمکو د اداري پروژې له خوا د برابر شوي ميتود پر بنسټ، د روا دعوا را منځته کول. په کليوالي او ښاري سيمو کې د ټولنو د ملکيت د مشروعيت پروګرام لپاره د فورمو او کړندودونو برابرول. له خلکو سره د هغوی د ملکيت د مشروعيت پروګرام په عملي کولو کې د ملاتړ يا حمايت مديريت جوړول
- د هغو کليو او ولسواليو د مالياتو د راټولولو مديريت لپاره، چې غواړي د کرهنيزو ځمکو، څړځايونو او ځنګلونو په اړه د ټولنې د قانوني کيدو د حقونو په بهير کې برخه واخلي، د کاډستر د نقشو او د املاکو د ثبت د نوی دفتر او په ښاروالیو کې د ملکيتونو د ثبت د دفترونو برابرول

حکومت به د جایدادونو په برخه کې د ښځو د ملکیت څیړنه وکړي او په دې هکله به په افغانستان د فرهنګي او ټولنیزو خنډونو جاج واخلي او ددې په نتیجه کې به سپارښتنې وړاندې کړي؛ تر څو داسي یو حمایه وي او انډولیز سیستم رامنځ ته شي چې نر او ښځې دواړه د جایدادونو له مالکیت څخه برخمن شي.

**د عامه موخو لپاره د ځمکې لاسته راوړل**

حکومت به هغو خلکو ته پوره تاوان ورکوي د چا ځمکې چې د عامه مقصدونو لپاره ورڅخه اخستل کیږي. وزارتونه او دولتي اداري به د قانون له مخې ددې پابنده وي چې د خپلې پروژې په لګښت کې د ځمکې د استملاکولو قیمت هم شامل کړي. د ځمکو د استملاک بهیر باید د ځمکو د استملاک په قانون کې د مناسبو بدلونونو له لارې ورغول شي.

**د شخصي او دولتي ځمکو د غصبولو مخنیوی**

والیان او ولسوالان دنده لري چې تر خپل واک لاندې سیمو کې د عامه او شخصي ځمکو له غصب څخه مخنیوی وکړي او همدارنګه له ضروري قانوني بهیر پرته له چا څخه ځمکه وانه خستل شي.

## ۱۴- له نیشه یي توکو سره مبارزه

د استراتیژۍ او تګ لارې یو شمیر سندونه د نیشه یي توکو سره د مبارزې د تګ لارو او فعالیتونو بنسټ ټینګوي. د نیشه یي توکو د کنټرول ملي استراتیژۍ هغه غوره سند دی چې د نشه یي توکو خلاف هغه فعالیتونه تنظیموی چې د افغانستان د اسلامی جمهوریت لخوا پرمخ بیول کیږي. د ۲۰۰۶ کال د نشه یي توکو د کنټرول ملي استراتیژۍ د څلورو لومړیتوبونو درلودونکی ده:

۱) د نشه یي توکو د سوداګری پای ته رسول
۲) د کلیو په کچه قانوني معیشیت پیاوړی او متنوع کول
۳) د نا مشروع نشه یي توکو لپاره د تقاضا راکمول،
۴) د دولتي ادارو پیاوړی کول.

د نشه يي توکو د کنټرول ملي استراتيژۍ له نشه يي توکو سره په مبارزه کې د ولايتي ادارو د راښکيلولو په هکله کوم احکام لري. د نشه يي توکو د کنټرول د ملي استراتيژۍ په اساس، ولايتي ادارو ته د بنسټونو(مؤسساتو) په جوړولو، عامه پوهاوي او د نشه يي توکو د له مينځه وړلو لپاره رول په نظرکی نيول شوی دی. سربيره پردې، دا سند وايي چې د له مينځه وړلو سيسټم بايد د والي ترمشرتابه لاندې سيسټم وي او واک يې بايد د والي په لاس کې وي.

د ګډې همغږۍ او څارنې د ډلې راپور چې ددې ډلې په اوومه غونډه کې تصويب شوی، د نشه يي توکو د کنټرول د ملي ستراتيژۍ د عملي څارلو د څرنګوالي په اړه يو شمير سپارښتنې لري، په ځانګړې توګه د ولايت په کچه دا سپارښتنی په لاندې مواردو ولاړې دي:

- د نشه يي توکو د له مينځه وړلو لپاره د ولايتي موخو ټاکل
- د والي ترمشرۍ لاندې، د ولايتونو لخوا له نشه يي توکو سره د مبارزې د هغو پلانونو برابول چې له ولايت د پرمختيايي پلانونو سره يوځای کيږي
- له نشه يي توکو سره د مبارزې د پلانونو د برابرولو په هکله له واليانو سره مشوره کول

همدا راز د ملي پرمختيا ستراتيژي په ولايتي کچه له نيشه يي توکو سره د مبارزې د چلند په هکله احکام له ځان سره لري. په هغه کې داسې راغلي دي " له نيشه يي توکو سره د مبارزې د ستراتيژي د پلي کولو کار بايد د ولايت په کچه وشي او په دی خاطر به له ولايتونو څخه غوښتل کيږي چې له خپل مسوليت سره سم له نشه يي توکو سره د مبارزې داسې کاري پلانونه جوړ کړي چې له ولايتي پرمختيايي پلانونو سره په يوه کتار کې وي. له نشه يي توکو سره د مبارزې د پلانونو د برابولو په هکله له واليانو سره سلا مشورې کيږي او دا پلانونه بيا د لومړيتوب له مخې له اجراائيوي ملي پلانونو سره يو ځای کيږي. واليان د محلي پلان جوړولو بهير همغږی کوي، چې پکې د اړوندو وزارتونو ولايتي واحدونه، نړيوال سازمانونه، ولسوالۍ او محلي ټولنې برخه لري.

د ولايتي ستراتيژيو په شمول له نشه يي توکو سره د مبارزې ټولې ستراتيژۍ، دغو څلورو توکيو ته اړتيا لري: د نشه يي توکو له مينځه وړل، د تقاضا کمول، بديل معيشيت او د قانون انفاذ. په عام ډول د نشه يي توکو له مينځه وړلو څخه مقصد له کښت څخه د مخه کمپاين او د نشه يي توکو د له مينځه وړلو د پروګرام له لارې د کوکنارو د کرولو مخنيوی دی. هغه فعاليتونه چې د تقاضا راکمولو ته متوجه وي، بايد د درملنې او ښوونې روزنې له لارې د لګښت د لږيدو سبب شي. د بديل معيشيت برابرول د کوکنارو بيوزلو کروندګرو ته د مشروع

معیشیت د سیستم بنه کول دی. د قانون نافذول د افیونو او هیرووینو په صنعت کې د اخته کاروباریانو په اړوند د جنایي عدالت ترسره کول دي.

ددې باوري کول چې د نشه يي توکو د له مینځه وړلو بهیر د هر ولایت لپاره په سمه توګه طرح شوی دی، له والي سره باید مشوره وشي؛ ترڅو په دې هکله موخې په بنه توګه په نبنه شي. که څه هم چې له نشه يي توکو سره مبارزه یوه ملي مسئله ده، نو له دې امله د هیواد په کچه چارواکو ته بنايي د نشه يي توکو د له مینځه وړلو موخې وټاکي او ددې کار د پلان په هکله د وروستۍ پریکړې واک ولري، خو کیدای شي چې والیان د سیمه اییزو شرایطو په هکله بنه معلومات ولري او په دې توګه باید د پلان جوړولو په بهیرکی شامل شي. د نشه يي توکو د له مینځه وړلو په پلانونو کې د والیانو شاملول هغوی ته دا احساس ورکوي چې دا پروسه د ځان خپله وګڼي، چې دا کار د والیانو لخوا د حساب ورکول هم آسانوي. د پلان جوړولو لاندې کړی به والي په دې وتوانوي تر څو د نشه يي توکو د پلانونو په جوړولو کې اړینه ونډه واخلي:

۱. د نشه يي توکو د له مینځه وړلو ملي کاري ډله لومړنی مسوده برابروي
۲. د پلان په هکله له والي سره مشوره ترسره کیږي او هغه ته ددې وخت ورکول کیږي؛ ترڅو د لومړني پلان د مسودې په وړاندې بدیل وړاندې کړي
۳. د نشه يي توکو د له مینځه وړلو ملي کاري ډله که چیرې مناسبه وي، د والي د نظریاتو پر بنسټ لومړنی پلان تنظیموي
۴. والي بیاهم دویم ځل د دی وخت ترلاسه کوي؛ تر څو د نشه يي توکو د له مینځه وړلو لپاره نوې سیمې پیشنهاد کړي
۵. د نشه يي توکو د له مینځه وړلو ملي کاري ډله پلان بشپړوي

په دې ډول له والي سره د دا ډول مشورې له لارو د نشه يي توکو د له مینځه وړلو ملي کاري ډله به د اړونده ولایت لپاره د نشه يی توکو د له مینځه وړلو لپاره نه یوازې بنه پلان ولري؛ بلکه دا به د لازیاتې همکارۍ سبب شي، داسې چې په هغه کې د والي ونډه او مرسته نوره هم زیاته شي. همدا ډول په دې کې د والي برخه اخیستل د نشه يي توکو د له مینځه وړلو ملي کاري ډلې سره د ساحو په غوره کولو کې مرسته کوي.

په هغو سيمو کې چې کوکنار کرل کيږي، د لنډ مهاله او اوږد مهاله پروګرامونو د يوې برخې په توګه، د بديل معيشيت د مرستې په وړاندې کولو کې، والي بايد مرکزي رول ولوبوي. د راتلونکو ۴ کلونو لپاره به دا رنګه درې پروګرامونه په کار واچول شي.

**د کوکنارو د کرلو په سيمو کې دا لاندې پروګرام بايد د لنډ مهاله مودې (نيږدې يوکال) په ترڅ کې عملي شي.**

۱. واليان د داسې پروګرام مديريت ترسره کوي؛ تر څو بيوزلو کروندګرو ته، چې کرل شوې ځمکې يې له کوکنارو څخه پاکيږي، لنډ مهاله مرستې ورکړي. په دې پروګرام کې به د والي له برخې اخيستنې سره د بديل معيشيت د اساسي تخنيکي مرستو او همدارنګه مارکيټ ته د لاسرسي په هکله مرسته وشي. د ساري په توګه، که چيرې والي وکولای شي، پيرودونکي او پلورونکي سره نيږدې کړي، د کوکنارو پخواني کروندګر به له اوسني قانوني معيشيت څخه د لا ښه او د پايښت وړعوايدو ترلاسه کولو چانس ولري.

۲- دا ډول مرسته بايد له نشه يي توکو سره د مبارزې د يوې برخې په توګه وګڼل شي، چې په هغو کې له کښت نه د مخه کمپاين، بديل معيشيت، د نشه يي توکو له مينځه وړلو او د قانون انفاذ پکې شامل دی.

۳- د بديل معيشيت د پروګرام د پلي کيدو لګښت بايد د اړونده وزارتونو، له بې عوضه مرستو او د ولايت د بديل معيشيت د پروګرام له خوا برابر شي.

**دا منځ مهاله پروګرام به د لنډ مهاله پروګرام له بشپړيدو څخه وروسته، له دوو څخه تر څلورو کلونو په ترڅ کې عملي شي.**

۱- والي د نا دولتي موسسو د درې کلني پروژې د مشر په توګه کار کوي؛ تر څو زيربنا او د ځمکې پرمختګ او په کرهڼه کې ښه والی رامنځ ته کړي او د خلکو لخوا د رامينځ ته شوي بازار موندلو په سازمان کې مرسته وکړي. ددې پروګرام د عملي کولو لپاره د غوره انسجام ورکونکي په توګه، والي پخپله وړتيا کې ښه والی راولي؛ تر څو دا پروګرام په اوږده مهال کې د دولت په ملکيت واوړي.

۲- د پروګرام د پايښت لپاره نورمواد هم شته. په دې لړ کې به غير دولتي موسسو ته دنده ورسپارله کيږي چې د ولايت په کچه له حکومتي ادارو سره په شريکه پروګرام پلی کړي. د وزارتونو په چوکاټ کې د مالکيت رامنځ ته کول به له دې پروګرامونو سره مرسته وکړي؛ ترڅو د پروژې له پای څخه د مخه هغه د ولايت اړونده دفتر ته وسپاري. همدارنګه به د

اړونده ادارو د ظرفيتونو په لوړولو کې هم هڅه وشي. د پروژې د پايښت په موخه، لازمه ده چې له اړوندو سکټوري وزارتونو او د هغوی له مرکزي دفترونو، او همدارنګه له ولايتي پرمختيايي کميټو سره يو ځای کار وشي، تر څو دا باوري شي چې د پروژې فعاليتونه له پلان سره سم دي او د راتلونکی کال لپاره بودجه هم شته. يوازې ددې کار په باوري کولو سره چې فعاليتونه پلان شوي او هم ورته بودجه شته، د پروژې پايښت باوري کيدای شي.

**هغه اوږد مهاله پروګرام چې د پنځو کلونو څخه د زياتې مودې په اوږدو کې عملي کيږي، په لاندي ټکي په بر کې ونيسي:**

۱- والي به له خپل مقام څخه په ګټه اخيستلو دا باوري کړي چې د پلان جوړولو ولايتي بهيرهغه وزارتونه په بر کې ونيسي چې د بديل معيشيت پروګرامونه وړاندې کوي. په دغو کي کيدای شي داسي پروګرامونه لکه د کرهنې په برخه کي روزنه چې د کرهنې، اوبولګولو او مالدارئ وزارت له خوا عملي کيږي يا د سړکونو جوړول چې د فوايد عامې وزارت له لوری ترسه کيږي، شامل وي. که څه هم سکټوري رياستونه به د بديل معيشيت د پروګرامونو د عملي کيدو مسؤوليت په غاړه ولري، والي بايد دا باوري کړي چې په وزارتونو کي دننه اوهمدا ډول د هغوی ترمنځ د څو ګونو سکټوري فعاليتونو لپاره د پروګرام د عملي کيدلو په اړه همکاري شته.

۲- والي او ولايتي شورا دواړه به د بديل معيشت د خدمتونوهمغږي او څارنه کوي

۳- نړيوال سازمانونه به يوازې هغه وخت مرسته کوي چې دوی خپل پلانونه د ولايت د پلان جوړولو د بهير له لارې پرمخ بوځي او يا دوی خپل مالي ملاتړ د مالي وزارت، د پرمختيايي اساسي بودجې او يا اړوندو سکټوري وزارتونو له لارې عملي کړي. همدا راز کيدای شي هغوی د تخنيکي مرستو او د ظرفيتونو د لوړولو په برخه کي هم همکاري وکړي.

د قانون نافذول، له نشه يي توکو سره د مبارزې وروستی کليدي عنصر دی. که څه هم د قانون پلې کول د والي په دندو کې نه راځي، بيا هم په ولايت کې له نشه يی توکو سره د مبارزې د اړونده قانون د انفاذ د څرنګوالي څخه د نظارت له لارې، والي ارزښتناک کار ترسره کولای شي. د لويې څارنوالی، عدلې وزارت او د کورنيو چارو وزارت په شمول، د قانون انفاذ د اړونده وزارتونو او ادارو مسؤوليت دی. سره له دې، د والي دفتر د قانون د انفاذ د اړونده فعاليتونو او پاليلو څخه د څارنې له لوري د قانون د انفاذ له ښه کولو سره مرسته کولای شي. والي او يا د هغه استازی بايد د ولايت د قانون د انفاذ د څارنې کميټې رياست وکړي. ددې کميټې په غړيتوب کې د ولايت په سطحه د څارنوالی استازی، له نيشه

يي توکو سره د مبارزې وزارت استازى، د نيشه يي توکو سره د مبارزې پوليس، د نشه يي توکو خلاف کاري کميټې او همدارنګه د کورنيو چارو د وزارت استازى شامل وي. کميټه د داسې فعاليتونو لکه يرغل کول او د نيشه يي توکو د ليرد مخنيوى، ، د هيروينو د لابراتوارونو پيدا کول او د افيونو\هيرويونو په صنعت کې د ککړو کسانو نيول او قضايي څانګو ته سپارل. همدا ډول کميټه دنده لري؛ ترڅو د داسې کړنو پر خلاف د تجويز شوو جزاګانو او ددې جزاګانو د عملي کولو په هکله راپور ورکړي. کميټه په عمومي توګه د قانون د انفاذ او د هغه د پلي کولو او پرمختګ په هکله پريکړه صادروي. ددې کميټې راپور بايد د اړونده ونډو اخيستونکو وزارتونو د نيشه يي توکو سره د مبارزې وزارت او د سيمه ييزو اورګانونو له خپلواکې ادارې سره شريک شي.

د سيمه ييزو اورګانونو خپلواکه اداره د واليانو له دفترونو سره د تخنيکي ملاتړ او د ظرفيتونو لوړولو، له ادارو څخه د مرستې په راجلبولو کې هم رول لوبوي. د ساري په توګه د سيمه ييزو اورګانونو خپلواکه اداره له واليانو سره د هغوى تر واک لاندې ولايتونو لپاره د بديل معيشيت د لنډ مهاله او مينځ مهاله پروګرامونو په برابرولو کې مرسته کوي او همدارنګه له بهرنيو غير دولتي موسسو څخه نورې مرستې هم دوى ته راجلبولاى شي. د سيمه ييزو اورګانونو خپلواکه اداره دا ډاډمنه کوي چې واليان له نيشه يى توکو سره د مبارزې او د کورنيو چارو وزارتونو په شان لوړ پوړو هيوادنيو ادارو ته د نيشه يي توکو پرضد د خپل فعاليت په اړه حساب ورکوي او دا باوري کوي چې پلې شوې ستراتيژۍ او تګ لارې په ملي کچه له ستراتيژيو او تګ لارو سره سمون لري.

## ۱۵. د اړيکو (کميونيکشن) ستراتيژي:

حکومت بايد له خپلو وګړو سره په پراخه پيمانه تفاهم او خبرې اترې وکړي. دا کار به د حکومت او نورو اړوندو غاړو ترمينځ د دوه اړخيزو اړيکو، د پوهاوي د کچې لوړولو، د عامه خبرواترو او د معلوماتو شريکولو له لارو څخه ترسره شي. همدا ډول په دې ترڅ کې معلومات له اصلي سرچينو څخه پريکړه نيوونکو چارواکو ته بايد ورسيږي؛ ترڅو د شواهدو پراساس ولاړ پلان په جوړولو کې ورڅخه ګټه واخستل شي. همداراز، حکومت به داهم ډاډمنه کړي چې د سيمه ييزې ادارې د اصلاحاتو د عملي کيدو په هکله معلوماتو ته لاسرسى شته. دا موخه به د پوهاوي د پيدا کولو او د اړيکو د کانالونو د جوړولو له لارې د بيلابيلو غاړو ترمينځ معلومات د شريکولو له لارې تر لاسه شي. دا کار به د ړونده غاړو ترمينځ د سيمه ايزې حکومتوالۍ په

باب د خبرواترو او بحثونو سبب شي. د عامه وګړو د پوهاوي او له حکومت سره د هغوی د مفاهمې د پراخولو لپاره له ډله ییزو رسنیو څخه ګټه اخیستل کیږي. په هغو رسنیو کې چې معلومات خپروي؛ د ډله ییزو رسنیو وسایل، حکومتي خپروني، ویب پاڼی او شوراګانو او جرګو ته د استازو استول راځي. له محلي ټولنو سره سلا مشورې صورت مومي. خلکو ته ددې زمینه برابرول چې د تګلارو او د هغو د پلي کولو په اړه خپل نظر څرګند کړي، چې دا کار به ددې سبب شي، چې خلک ځانونه د اصلاحاتو د عملي کولود کار مالکان وګني.

د سیمه ییزې حکومتدارۍ د سمون لپاره د حکومت د مفاهیمې په استراتیژۍ کې دا لاندې مسئلې شاملې دي:

۱- د ادارې تګلارې د موخو او محتوا په هکله کلیدی اړوندانو ته معلومات ورکول او همدارنګه دا چې تګلارې کومې لاس ته راوړنی ولري
۲- د ځواب ورکولو او روڼتیا د لوړلو په موخه عامو وګړو ته د حکومت د فعالیتونو په هکله معلوماتو ورکولو لپاره د ډله ییزو رسنیو کارول
۳- د سیمه ییزې ادارې تګلارې د موخو او مضمون په هکله حکومتي کارکوونکو ته معلومات ورکول؛ تر څو هغوی دا تګلاره په سمه عملي کړي او د هغو د ښه کولو لپاره خپل نظرونه وړاندې کړي
۴- د سیمه ییزې ادارې د تګلارې د څرنګوالي په هکله عامو وګړو او حکومتي مؤسساتو ته معلومات ورکول
۵- د دوه اړخیزو معلوماتو د بهیر بنستیز کول چې د سیمه ییزې ادارې تګلارې او د هغې د عملي کولو په هکله د عامو وګړو خبرتیا ډاډمنه کوي.

**د سیمه ییزې ادارې اصلاحاتو د عملي کولو لپاره د حکومت د اړیکو ستراتیژي پر لاندنیو اصولو ولاړه ده:**

۱. اړوندې غاړې د سیمه اییزې حکومتوالی د پالیسی له موخو، له موادو او له دې خبرې چې د پالیسي له لارې څه شي لاس ته راوړلای شو، د اړوندو غاړو خبرول.
۲. د بیلابیلو رسنیو په کارولو سره د شفافیت او حساب ورکولو په کار کې زیاتوالی راوستل، چې له دې لارې به خلک د حکومت د کړونو په باب معلومات ترلاسه کړي.
۳. د حکومت اړوندان د سیمه اییزې حکومتوالی د اصلاحاتو له موخو او موادو خبرول؛ ترڅو وکولای شي هغه په ښه توګه پلي کړي او د نورو ښه والي په اړه یې خپل نظرونه وړاندې کړي.

**۴.** د سیمه اییزې حکومتوالۍ د اصلاحاتو د پلي کولو د کیفیت په اړه خلکو او حکومتي ادارو ته معلوماتورکول

**۵.** د معلوماتو یو داسې دوه اړخیزه بهیر مینځ ته راوړل چې له لارې یې په خلکو کې د سیمه اییزې ادارې د اصلاحاتو او د پلي کولو په اړه یې پوهاوی پیدا شي.

**د سیمه اییزې حکومتوالۍ د اصلاحاتو د پلي کولو په برخه کې د اړیکو ستراتیژي به پر لاندې اوصولو ولاړه وي:**

- **ملی مالکیت:**

د ستراتیژۍ موخه داده ترڅو د سیمه ییزې ادارې تګلارې په هکله ټولو اړوندو غاړو ته معلومات برابرکړي او همدارنګه د ملی پرمختیا او اجرائیوي بهیر په اړوند د نظر د څرګندولو لپاره فرصت رامنځ ته کړي.

- **سیاسي ژمنه:**

حکومت دې ته ژمن دی؛ تر څو د سیمه ییزې ادارې تګلارې د اصلاحاتو له کلیدي غاړو سره د مفاهمې کانالونه پرانیزي او ویې ساتي.

- **د معلوماتو د تر لاسه کولو حق**:

ستراتیژي منی چې هر څوک حق لري، عامه معلومات تر لاسه کړي او دا باید باوري کړي، چې خبرونه او معلومات د دولت په ټولو کچو کې خپریږي.

- **ځواب ورکونه اوروڼتیا:**

ستراتیژي دا مني چې هر څوک د عامه معلوماتو د ترلاسه کولو حق لري او دا چې خبرتیا او معلومات د دولت په ټولو کچو خپریږي

**ستراتیژۍ لپاره په نښه شوي اوریدونکی عبارت دي له:**

- حکومت،
- ډله ییزې رسنۍ،
- مدني ټولنې او ولسي پرګنې
- او همدارنګه په پرمختیا کې شریکې غاړې.

د استراتیژۍ د موخو د تعقیب لپاره، د پوهاوي یا خبرتیا بیلا بیل وسایل به کارول کیږي؛ ترڅو عام وګړي په دې هکله معلومات ترلاسه کړي او ددې بهیر په هکله له بیلابیلو غاړو څخه نظرونه ترلاسه کړي چې په لاندې ډول دي:

- له خبري رسنیو او مطبوعاتو سره د منظمو ناستو او د خبري پاڼو خپرولو په ګډون، د یوې ګډې روښانې ستراتیژۍ مینځ ته راوړل
- د بیان د آزادۍ لپاره د قانوني او مناسب چاپیریال له پیاوړی کولو څخه ملاتړ
- په ملي او ولایتي کچه د ډله ییزو رسنیو د معیارونو لوړول
- د خبرتیا د حق په اړه د اتباعو پوهاوی لوړول
- د داسې میکانیزم پیاوړي کول چې د معلوماتو د برابرولو او هغو ته لاسرسی ممکن کړي
- د نظر وړ اوریدونکو د شمیر په کچه د سیمه ییزې ادارې تګلارې او بنې ادارې په هکله د معلوماتي موادو لکه پوسترونو، وړو رسالو او نورو معلوماتي موادو برابرول
- په ملي او سیمه اییزه کچه د داسې اقداماتو تر لاس لاندې نیول، چې په ترڅ کې یې د انګیرنو او اندیښنو په هکله بیلا بیلو اړوندانو لپاره معلومات راټول او خپاره شي
- ترګواښ لاندې ډلو لپاره د اړیکو د میکانیزم پیاوړي کول

په ولایاتونو کې له عامه وګړو سره د سیمه اییزې ادارې اړیکې ددې غوښتونکې دي؛ تر څو د والي د دفتر له لوري د ولایت د عامه اړیکو د سیستم په ښه پرله پسې او منظم کار ترسره شي. د دی سیستم عمومي هدف دادی تر څو په ټول ولایت کې د معلوماتي اړیکو اغیزمنتیا ډاډمنه کړي او د حکومت او خلکو تر منځ د تشې(خلا) د پاسه پل جوړ کړي.

**د ولایت د عامه اړیکو سیستم لاندې موخې لري:**

**۱-** د والي او ولسوال د دفترونو، د ولایتي او ولسوالۍ شوراګانو او ښاروالیو مهارت او پوهه لوړوي؛ تر څو د هغو په ترڅ کې د ارتباط اغیزمنه عامه تګلاره عملي شي

**2-** د والي او ولسوال د دفترونو، ولایتي شورا، ولسوالۍ شورا او ښاروالیو تخنیکي او مادي ظرفیت لوړول تر څو د اړیکو اغیزمنه عامه تګلاره تمرین کړي

**3-** په ولایت کې د ډله ییزو رسنیو او مدني ټولنې د مسلکي پوهې او مهارتونو لوړول؛ ترڅو د اړیکو اغیزمنه عامه تګلاره پیاوړې کړي

**4-** د ولايت لپاره د يوه داسې فعال دايمي جوړښت رامنځ ته کول چې د عامه خبرتيا او مسئلو په هکله ولايت دفتر لپاره د سلاکاره ارګان په توګه کار وکړي او د ولايت د اړيکو استراتيژي د عملي کولو مسؤوليت په غاړه ولري

**5-** د اړيکو د نويو او زياتو اغيزمنو تخنيکونو معرفي کول؛ تر څو د ولايت د اړيکو ستراتيژي په عملي کولو کې مرسته وکړي

**6-** د ولايت اړيکو په استراتيژي کې د ښځو او ځوانانو په شمول د ګوښه شويو ډلو د پراخې برخې اخيستلو هڅول

د ولايت د عامه اړيکو کميټه د عامه اړيکو خبرتيا د مسئلو په هکله د والي دفتر سره د سلاکاره ارګان په توګه کارکوي او د ولايت د عامه اړيکو ستراتيژۍ د پراختيا او عملي کولو مسؤوليت په غاړه لري. د ولايت د عامه اړيکو کميټه، د ولايت د اطلاعاتو او کولتور د رئيس تر مشرۍ لاندې کار کوي او په دې کميټه کې د ولايت د عامې روغتيا، بيارغونې، ښځو چارو، ديني چارو، کار او ټولنيزو چارو، پوهنې او کرهنې په څير ولايتي واحدونو رييسان، د ولايتي شورا استازی چې د ولايتي شورا د رئيس لخوا معرفي کيږي، ښاروالی، د ولايت د راديو تلويزيون، خپلواکو ډله ييزو رسنيو او د مدني ټولنې استازي غړيتوب لري. د ولايت د عامه اړيکو کميټه د ولايت د عامه اړيکو د استراتيژي څارنه کوي او د ولايت په مرکز او په ولسواليو کې د هغو د عملي کيدو څار هم په غاړه لري، او د ولايت د ټولو اړوندو خواوو تر منځ په عامه اړيکو او معلوماتو کې مثبتی تجربې خپروي.

د ولايت د عامه اړيکو سراتيژي هغه هر اړخيز ستراتيجيک پلان دی چې په ولايت کې د عامه معلوماتو او اړيکو د اوسني حالت موخې او مقصدونه تشريح او څيړنه يې کوي. همدا راز دغه ستراتيژي بيلا بيلې لارې چارې په کار اچوي تر څو د ولايت د عامه اړيکو د ستراتيژۍ له پلي کولو او په دې لړ کې د ستراتيژۍ د ګډون کونکو غاړو له دندو او مسوليتونو ډاډ تر لاسه کړي. د ولايت د اطلاعاتو او کولتور رياست د عامه اړيکو استراتيژي په طرح کولو کې د ولايت د عامه اړيکو د کميټې د غړو په ملاتړ د رهبرۍ رول لوبوي. د عامه اړيکو استراتيژي د ولايت د والي له خوا تائيديږي په دې شرط چې ولايتي شورا يې منظور کړي چې دا بيا د ولايت د عامه اړيکو کلني پلان لپاره اساس جوړوي.

د ولايت، ولسوالی او ښاروالی مامورين به د عامه اړيکو د تخنيک او طريقې په برخه کې روزنې مومي. د والي د دفتر، د تخنيکي او سکټوري خدمتونو په څانګه کې به يو مسلکي کارپوه، د ولايتي شورا له ملاتړو کارکونکو څخه يو تن، د ولايت له هر رياست څخه يو يو

استازی، د هرې ولسوالۍ یو استازی، او د ولایت له ښاروالۍ څخه به یو تن په ځانګړې توګه د عامه اړیکو په برخه کې ځانګړې روزنه ترلاسه کړي. مدني ټولنه، دودیز مشران او د ډله ییزو رسنیو استازي به د عامه اړیکو د تخنیک او طریقو او همدا راز د دولت د اغیزمنو تګلارو او لاسته راوړنو په هکله وروزل شي. حکومت به دعامه اړیکو او معلوماتو په اړوند د ولایت د موجوده وړتیاوو او وسایلو اټکل ترسره کړي؛ تر څو ډیرې بیړنۍ اړتیاوې په ګوته او د هغو د لرې کولو لارې چارې ولټوي.

**حکومت به په ولایتونو کې د اړیکو د لاندې تخنیکونو او وسایلو ملاتړ وکړي**: د عامه اړیکو هر اړخیز د ځواب ورکونې کمپاین او همدارنګه مدني ښوونه روزنه او د عامه پوهاوي کمپاین چې عامه غونډې، ساحوي لیدنې کتنې، په عامو ځایونو کې د خلکو د ګټې اخستنې لپاره د معلوماتو راځړول، او د چاپ شویو موادو او الکټرونیکي رسنیو څخه ګټه اخیستل. د حکومت او مدني ټولنې لخوا د اړیکو د بیلابیلو طریقو او تخنیکونو لکه ګردي میزونه، کنفرانسونه، مرکې، عامه سلا مشورې، د معلوماتي پاڼو ویشل، د معلوماتي تختو نصب او ځړول، د دولتي او ازادو نویو رامنځ ته شوو الکټرونیکي او چاپي ډله ییزو رسنیو ملاتړ، د ساري په توګه د ولایت دفتر یا ښاروالۍ کولای شي اوونیزه یا میاشتنۍ خبرپاڼه چاپ او خپره کړي، د ګرځنده معلوماتي ډلې جوړول؛ تر څو په کلیو او ولسوالیو کې عامه پوهاوی او ښوونیز کمپاین وکړي، د ولایت د فعالیت د کلني راپور خپرول او د ولایتي شورا او ښاروالۍ له خوا هم د ورته خپرونو چاپول، د ولایتي ویب پاڼې په شمول له معلوماتي ټکنالوجۍ او اړیکو څخه ګټه اخیستل او داسې نور په کې راځي.

د مرکزي حکومت، ولایتونو، ولسوالیو او کلیو تر منځ د تړاو لپاره به لازیاتې هڅې وشي. دغه هڅې به په ټول هیواد کې خبرونو او معلوماتو پر ازاد بهیر متمرکزې وي. د دا راز اړیکو اسانتیا به د هیواد ۳۶۴ ولسوالۍ او ۳۴ ولایتي مرکزونه په خپلو کې او له مرکز او مرکزي حکومت سره لا ډیر نیږدې کړي. د دی مقصدونو د ترلاسه کولو لپاره دوه کارونه باید سرته ورسیږی. د ولایتونو او ولسوالیو ټول مرکزونه به د انټرنیټ آسانتیاوې ولري چې دا به د ولسوالیو، ښاروالیو، ولایتونو او کابل ترمنځ د معلوماتو په راکړه ورکړه مثبت اثر واچوي . د افغانستان د حکومت ټول وزارتونه او لوی ریاستونه به له خپلو تګلارو او پروګرامونو څخه د افغانستان وګړو او نړیوالې ټولنې د خبرتیا لپاره په پښتو، دري او انګلیسي ژبو خپلې ویب پاڼې جوړې او فعاله کړي. دا ویبپاڼې به د دی امکانات ولري چې له اړوندو غاړو څخه تبصرې او نظرونه ترلاسه کړي. کیدی شي په لومړي سر کې د بی سوادۍ لوړه کچه، په هیواد کې د

ښوونې روزنې ټيټه کچه او انټرنټ ته محدود لاسرسی، له دغو اسانتياوو څخه د ګټه اخستونکو شميره ډيره نه وي.

سربيره پردې، د سپوږمکی سيستم په وسيله د ولسوالی د اړيکو شبکې له لارې، به اړيکتيايي خدمتونه دوام ومومي؛ تر څو لږ ترلږه په ټولو ولسواليو کې د تليفون لومړني خدمتونه برابر شي. د اړيکو کليوالي شبکه به د ولسوالی د اړيکو شبکې يوه برخه وي، چې په ورو ورو ډول به په ټول افغانستان کې له پنځو تر شپږو زرو پورې کليوالي ټولنې تر پوښښ لاندې راولي. د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجي وزارت په ټول هيواد کې د ځايي حکومتي ادارو په مرسته پخوانی حکومتي پروژې بيا ترلاس لاندې نيسي. دا پروژې به معلوماتي سرچينو ته  لاسرسی جوړ کړي، د عامه اجرااتو اغيزمنتيا به زياته کړي او کارونه به چټک شي، ددې تر څنګ به شفافيت او اغيزمنه څارنه هم رامينځ ته شي.

## ۱۶- د بشري حقونو پر بنسټ د سيمه ييزې حکومتوالی چلند

د بشري حقونو پربنسټ د سيمه ييزې حکومتوالی چلند به د سيمه ييزې حکومتوالی د پاليسی د عملي کيدو او د سيمه ييزو حکومتونو د اداري واحدونو د فعاليت د څرنګوالي په هکله معلومات وړاندې کوي. د سيمه ييزو حکومتونو ادارې او واحدونه به د بشري حقونو او د قانون د واکمنی د لا غوړيدلو لپاره کار کوي. د سيمه ييزو حکومتونو ادارې او واحدونه به د بشري حقونو په اړوند د معيارونو او اصولو پربنسټ د چارو د دواړو اړخونو يعنی نتيجی او بهير څارنه او ارو‌زنه تر سره کوي. دا شننه به ټول اړوندان په بر کې نيسي. د سيمه ييز حکومت ادارې او واحدونه به د ټولو اړوندو غاړو په وړاندې مسؤوليت ولري. هغوی خپل پام  په ګوښه او زيانمن شوو او له پامه غورځول شويو ډلو باندې متمرکز کوي. هغوی هڅه کوي؛ تر څو ټولنيز توپيرونه را کم کړي. نارينه وو او ښځو ته به په خپل پرمختګ کې کليدی رول ورکړل شي؛ نه دا چې هغوی به په غير فعاله توګه يوازې څيزونه او خدمتونه ترلاسه کړي. ګډون کول به هم د وسيلې اوهم د هدف په توګه پيژندل کيږي. استراتيژي د زيانمن شويو په ګټه کار کوي. ددغه پرمختايي بهير مالکان به د سيمې خلک وي. له ښکته نه پورته او پورته نه ښکته چلندونو څخه به يو ځای کار اخيستل کيږي. د محلي ادارې واحدونه به د بشري ټولو حقونو د مراعات او تامين لپاره کار کوي. د دی هدف د ترلاسه کولو لپاره ستراتيجيکه ملګرتيا رامنځ ته کيږي.

## ۷. سیمه ییزه پلان جوړونه او مالي چارې

### ۱. اوسنی وضیعت

### ۱،۱ ولایتي پلان جوړونه او بودجه جوړونه

**د ولایتونو د پلان جوړوني او بودجه جوړوني لپاره دوديز چلند**

اوس مهال، پلان جوړونه په ولایتي کچه د لاندنیو ځانګړتیاوو لرونکی ده:

- **په ولایتي کچه د ستراتیجیک تصور نشتوالی:**

که څه هم ځینو ولایتونو اوس هم اوږد مهاله پلانونه په مخ بیایی (لکه په بلخ او کندهار کې پنځه کلن پرمختیایي پلانونه) خو د زیاترو ولایتونو پلانونه یو کلن دي. دغه یو کلن پلان هم ستراتیجیکي بنسټ نه لري. اوسني کلني ولایتي پلانونه، په بیلا بیلو سکټورونو کې د اړینو پروژو له لستونو څخه نورڅه نه دي.

- **د ټولنیز کولو نشتوالی:**

په ولایتي کچه اوسنی پلانونه، که اوږد مهاله وي او یا کلنی پلانونه، د سکټوري دفترونو د پلانونو یوه مخانیکي مجموعه ده بې له دې چې دا ارزیابی شي چې دا پلانونه له ولایتي ودې او پرمختیا سره کوم مطابقت لري او که نه؟

- **پایلو ته، نه پاملرنه:**

ولایتي پلانونه که ستراتیجیک وي او یا کلني، همغږي او پایلو د لاس ته راوړلو بنه نلري. د حالاتو ځیرنه تقریباً نه ترسره کیږي او د پلان توضیحي برخو(که چیرې وي) او د وړاندیز شویو پروژو تر منځ منطقي اړیکي نه لیدل کیږي. ولایتي پلانونه د پایلو د ترلاسه کولو بنه نه لري، په دوی کې هغه موخې نه څرګندیږي چې ولایت یې غواړي ترلاسه کړي.

- **د افغانستان د پراختیا ملي استراتیژي سره اړیکې نه لرل:**

د ولایتي پلانونو او د افغانستان د پراختیا ملي استراتیژي تر منځ څه اړیکې نشته؛ مګر یوازې په ظاهري او سرسري توګه دا اړیکې لیدل کیږي. ولایتي پلانونه یوازې په رسمي توګه د افغانستان د پراختیا ملي استراتیژي شکل تعقیبوي؛ خو دا هڅه نه کوي چې ولایتي لاسته راوړني د افغانستان د پراختیا ملي استراتیژۍ له موخو سره وتړي. په اوسنیو ولایتي پلانونو کې دا نه لیدل کیږي چې څرنګه په ولایتي کچه پلان شوې پروژې د افغانستان د پراختیا ملي استراتیژۍ د موخو په لاس ته راوړلو کې مرسته کوي.

- **بهرنی بڼه درلودل او په ساختماني پروژو باندې متمرکز کیدل:**

ولایتي پلانونه اوس بهرنی تمایل لري ولایتي وړتیاوې د پروژو په پلي کولو کې ډیرې محدودې دي. اوسني ولایتي پلانونو سیمه ییزې سرچینې، که هغه مادي او که غیر مادي وي، لکه داوطلبانه کارګران، د خصوصي سوداګرو برخه اخیستنه، د مدني ټولنې ګډون او داسې نور په بشپړه توګه له پامه غورځولي. ولایتي پلان جوړونه په بشپړه توګه په بهرنیو سرچینو ولاړه ده، چې باید د مرکزي دولت یا د مرسته کوونکو لخوا ورکړای شي. له سیمه ییزو سرچینو څخه کولای شو د دواړو ساختماني او غیر ساختماني (سافت) پروژو په برخه کې کار واخلو، خو دا سرچینې په تیره بیا د غیر ساختماني پروژو په برخه کې، لکه د پوهاوی کمپاین، د خلکو په خوځولوکې د ډیر ارزښت لري؛ خو له بده مرغه اوسني ولایتي پلانونو تقریباً په پوره توګه غیرساختماني پروژې له نظره غورځولي دي.

**اوس مهال، په افغانستان کې د ولایتونو لپاره بودجه جوړول، لاندې ځانګړتیاوې لري:**

- **د هر سکټور لپاره د ولایتي بودجې نشتوالی:** ولایتونه بودجه نه لري، په دې معنا چې د ځان لپاره د لګښتونو یو واحد او تصویب شوی کلنی مهال ویش نه لري؛ بلکه هره مرکزي اداره چې په ولایتونو کې هم فعالیتونه ترسره کوي، د هرهغه ولایت لپاره چې په کې فعالیت لري، بودجه برابروي. د اړونده ولایت بودجه په منطقی توګه د هغو بودجو مجموعه ده چې مرکزي اداره یې د خپلو اړونده ولایتي ریاستونو لپاره بیلوي. یعنی د هلمند بودجه عبارت ده د فواید عامې، پوهنې، کرنې او مالدارۍ دوزارتونو لخوا هغه ولایت ته دبیلو شویو وړو بودجو له مجموعې څخه، او په دې ډول نور.
- **بودجه ولایتونو ته بیلیږي ولې نه د ولایتوتو په وسیله:**

لکه څنګ چې پورته یې یادونه وشوه، د ولایت بودجه زیاتر وخت د مرکزي وزارت له خوا له خپل اړوند ولایتي ریاست، د ولایت له مقام او یا بل کوم ولایتي واحد سره له محدودې مشورې وروسته ټاکل کیږي. د اړوندو وزارتونو ولایتي ریاستونه ددې واک نه لري چې د خپلو فعالیتونو پروګرام او یا زماني مهال ویش جوړ کړي.

- **د بودجې د برابرولو په اړه بی پروګرامه چلند:**

سره له دې چې ددې چلند د بدلون لپاره کارونه ترلاس لاندې دي، د بودجې اقدام لا تر اوسه هم د مالي د رییس لخواه په کتګوریو ویشل کیږي، نه د پروګرام د مسولینو له خوا. دا په دې معنا ده چې د لګښتونو کتګورۍ د هغو د ډول له مخې جوړیږي؛ نه د خپلې مرستې د موخې پراساس کیږي.

هغه نوښت چې په 1.12 تر 1.13 برخو کې بیان شوی دی، ددې عمومیاتو په اړه ځینې مهمې ځانګړیتاوې رامنځ ته کوي.

**د ولایتي پرمختیا د پلان جوړولو نوښت:**

د ځینو ستونزو د اوارې په وړاندې تر ټولو مهمه وروستۍ هڅه، هغه بهیر دی چې د هغه په وسیله د ولایت د پرمختیا پلان په 2007 کال کې جوړشوی. په نظر کې وه چې د ولایتونو پرمختیایي پلانونو لپاره به د یوه ولایت د ځایي خلکو د اړتیاوو او لومړیتوبونو پربنسټ چې په هر سکټور کې د اړوند وزارت له استراتیژۍ سره سمون ولري، پلان او بودجه ورکړل شي. له دې پلانونو څخه به د افغانستان د ملي پرمختیا استراتیژۍ په برابرولو کې ګټه واخستیل شوه او همدارنګه دا هم پتیل شوی وه؛ تر څو له هغې څخه په هر ولایت کې د تمویلونکو د همغږۍ لپاره کار واخیستل شي.

**هغه بهیرچې له هغې وروسته یې په هر ولایت کې دوام موندلی وه په لاندې ډول دی:**

- **د تیارۍ نیولو ورکشاپ:**

د کلیوالي ټولنو استازي، ښاري اړوندان او له ګواښ سره مخ ډلې راټولې او ترې پوښتنه وشوه؛ تر څو هغه ننګونې چې ولایت ور سره مخ دی په ګوته کړي، او د هغو له مخې، لومړیتوبونه او پروژې وټاکي. ددې فعالیت موده دوه ورځې وه چې نتیجه یې د لومړیتوب له مخې د پروژو د لست جوړول وو.

- **په سیمه ییزه کچه سلا مشورې:**

د تیاري نیولو د ورکشاپ له ګډونوالو سره د وزارت استازی او بهرینو اړوندانو لکه د نادولتي اوتمویلونکو موسسو استازي او د ولایت د بیارغوني ډلې سره یو ځای شول. دا استازي په اتو سکټوري ډلو وویشل شول، وروسته بیا د اړوندو سکټورونو له هر وزارت څخه غوښتنه وشوه چې خپله استراتیژۍ وړاندې کړي. برخه والو د خپلو اړتیاوو په هکله راپورونه وړاندې کړل او د خپلو اړتیاوو د لیرې کولو په وړاندې یې د وزارت د ستراتیژۍ د څرنګوالي په هکله نظرونه وړاندې کړل. ددې فعالیت لپاره دوه نیمې ورځې وخت په نظر کې نیول شوی وو او په پای کې د وزارت ستراتیژي د محلي ټولنو د سلا مشورې په نتیجه کې په نوی بڼه او محتوا سره ومنل شوه.

- **د ولایتي پرمختیا د پلانونو ورکشاپ:**

په دې فعالیت کې، د سیمه ییزو سلا مشورو برخه والو د لومړیتوب لس پروژې د اتو سکتورونو لپاره غوره کړې، په دې هیله چې د پلان له جوړولو څخه وروسته به یې د یو کال په ترڅ کې عملي کړي. ددې فعالیت لپاره دوه ورځې وخت په نظر کې نیول شوی وو.

- **د راپور لیکل او وړاندې کول:**

د مخکنیو غونډو پایله د ولایت په هکله د ښاري پرمختیا او ولسوالی پرمختیا د پلانونو له معلوماتو سره یوځای شوه او د لومړیتوب له مخې د پروژو تاکل ورسره یو ځای او له دې څخه د ولایت د پرمختیا بشپړ شوی پلان د افغانستان د ملي پرمختیا استراتیژۍ ته د کیفیت د څارلو لپاره وړاندې شو.

- **پروګرام لپاره پکارول شوی ۸ سکتورونه دا وو:**

زیربنا او طبیعي سرچینې، اقتصادي اداره او د خصوصي سکتور پرمختیا، کرهنه او کلیوالي پرمختیا، پوهنه، روغتیا، ټولنیز خوندیتوب، اداره، امنیت، د قانون واکمني او بشري حقونه. ددې بهیر لنډیز په لاندې جدول کې ښودل شوی دی

**د ولایت د پرمختیایي پلانونو د جوړول بهیر**

| د راپورلیکل او وړاندې کول | د ولایتي پرمختیا د پلان کولو ورکشاپ ۲ ورځې | سیمه ایيزې سلا مشورې 2.5 ورځې | د تیاری نیولو ورکشاپ ۲ ورځې |
|---|---|---|---|
| • د دویم او دریم پړاو پایلې سره یوځای شوې چې د لاندې ځانګړنو لرونکی سند ورځخه جوړ شي:<br>د ولایت ستراتیژۍ او په ۸ سکتورونو کې د لومړیتوب پروژې شاملې شي.<br>• د کیفیت د کنټرول لپاره د افغانستان د ملي پراختیا ستراتژۍ ته وړاندې شوې. | • سلا مشورو لپاره ځینې استازې راټول شول.<br>• په هره برخه کې یې د لومړیتوب لس پروژې د لاندې معیارونو پر بنسټ غوره کړې:<br>- ترجیح<br>- له اړتیا سره سمون<br>- او د وزارت له ستراتیژۍ سره سمون. | • د تیاری نیولو ورکشاپ جمع د وزارتونو استازی، ولایتي رییسان او بهرنی اړوندان (غیر دولتی موسسی، تمویلونکي، د ولایتي بیا رغونی ډلی او نور) سره راغونډ شول.<br>• د وزارتونو استازو په ۸ سکټوري برخو کی د ولایت استازو ته خپل پلانونه وړاندی کړل.(زیربنا او طبیعي سرچینې، اقتصادي اداري او خصوصي سکټور ته وده ورکول، کرنه او کلیوالي پرمختیا، پوهنه، روغتیا، ټولنیز خوندیتوب، حکومتوالي یا اداره، امنیت، د قانون حاکمیت او بشري حقونه. | • د کلیوالي ټولنو استازي (که چیری شونی وي د ولسوالۍ پرمختیایي شورا په ګډون) ښاري اړوندان (ښاروالۍ، د سوداګرۍخونې، سودا ګریزې ټولنې) او له ګواښ لاندې ډلی (د مثال په توګه ښځې، کډوال) سره راټول شول.<br>• ننګونی چې ولایت ورسره مخامخ دی په ګوته او د لومړیتوب پروژې وټاکل شوې |

د ټولو ۳۴ ولایتونو پرمختیایي پلانونه بشپړ شول، چې دا پلانونه د محلي لومړیتوبونو د ټاکلو لپاره د یوې ګټورې وسیلې په توګه وکارول شول؛ خو د ولایت د پلان او بودجې جوړولو لپاره د هغو ګټورتوب د طرح کولو د بهیر د دوو اړخونو له امله محدود دی. لومړی: د هیڅ یوې پروژې لګښت معلوم نه وو. دویم: د لومړیتوب پروژو د عملي کېدو لپاره د بودجې هیڅ سند موجود نه وو. په دې ترتیب د پروژو د لومړیتوبونو د اټکل لپاره په کار اچول شوی بهیر د جوړښت له نظره سم نه وو. دا پلانونه له دریمې ستونزې سره ټړاو لري. د ولایتي پرمختیایي پلانونو بهیر، پرته له هغو پروژو څخه چې د وزارتونو او ولایتي پرمختیایي پلانونو کې موجودې وې، د غوره شویو پروژو د عملي کولو له میکانیزم سره نه وو تړل شوی؛ ، له دې پرته دا هیڅ څرګنده نه وه چې د هغو په ترڅ کې د ولایت د پرمختیایي پلان پروژې څنګه تمویل اوپلې شي .

د ولایت د پرمختیایي پلانونو د بهیرد بیا کتنې په پایله کې کولای شو؛ د تګلارې څو لاندې اصول په ګوته کړو:

- **له کښته څخه پورته پلان جوړونه یوه بنسټیزه اړتیا ده:**

د ولایت د پلان جوړولو چاره د سیمه ایيزه ټولنو، د وګړو د اړتیاوو او لومړیتوبونو منعکس کونکی ده. یعني له کښته څخه پورته طریقه په څرګنده ارزښتناکه ده اوله پام څخه باید ونه غورځول شي.

- **د پانګې د بودجې پاکټ(اندازه) باید د هر ډول پلانولو لپاره برابر شي:**

د بودجې له پاکټ څخه پرته د لومړیتوبونو وروستنی لست جوړول شونی نه دی. له دې امله له ښکته څخه د پورته طریقې پر بنسټ د ولایت د پرمختیا د پلان جوړول باید د لوړو مقاماتو لخوا د اداري او مالي ژمنې ملاتړ تر لاسه کړي.

- **د لګښتونو لپاره باید مناسبې سرچینې برابرې شي**

د بودجوي پاکټ پرشتون سربیره د ولایت پلان جوړونکي باید د اړونده پروژو د لګښت دقیق اټکل ولري، تر څو د هغو پر بنسټ لومړیتوبونه معلوم او د پاکټ په چوکاټ کې وروستۍ پرېکړه وکړي. دا د لګښتونو د معلومولو لپاره نه یوازې د تخنیکي مناسبو سرچینو برابرول غواړي؛ بلکې د لازم وخت درلودل هم اړین دي؛ تر څو د لګښتونو بهیر بشپړ شي.

- **له ښکته څخه پورته پلانول باید د عملي کېدو لپاره د میکانیزم ملاتړ وکړي.**

د بودجوي پلان په بشپړېدو سره، باید د عملي کېدو یو ښکاره جوړښت موجود وي. د عملي کیدو کاریې باید د سکټوري وزارتونو، ولایتي اداري یا قراردادي لخوا تر سره شي. تر ټولو ښه ترتیب هغه دی چې زیاتره شرایط ولري؛ خو دا ډېره اړینه ده چې په دې اړه ځینې ښکاره او اساسي ترتیبات موجود وي.

**د ولایتونو د بودجې جوړولو نوښت:**

د ولایتونو لپاره د بودجې جوړول د مالیې وزارت له نوښتونو څخه دي. ددغه نوښت مقصد دادی چې د بودجې جوړولو مسوولیت له مرکزي وزارت څخه د هغه اړوند ولایتي ریاست ته ولېږدول شي او همدارنګه د بودجې په جوړولو او منظورۍ کې د ولایت ځینې نورې ولایتي ادارې هم په دې کار کې را ګډې شي. اوس مهال دا پروګرام په وزارتونو او څو غوره شویو ولایتونو کې په ازمایښتي پړاو کې قرار لري. په ازمایښتي پړاو کې شامل وزارتونه عبارت دي له: د پوهنې، کرنې او د کلیو د بیارغونې او پراختیا له وزارتونو څخه. په ازمویښتي پړاو کې شامل ولایتونه دادي: د بلخ، پنجشیر، کندهار، ننګرهار، لوګر، غزنې، بامیان، هرات، فاریاب، بدخشان، هلمند، خوست، پکتیا، پروان، میدان وردک، تخار، کندز، او جوزجان ولایتونه. هیله کېږي چې ورو ورو به په دې پروګرام کې ټول ولایتونه شامل شي.

هغه سیستم چې د ولایت د بودجې جوړونو پروګرام په ترڅ کې رامنځ ته شوي په لاندې ډول دي:

- **د اکتوبر له پیله تر نیمایي پورې(تله)**

د مالیې وزارت، ازمایښتي وزارتونه د دوی د کلنۍ بودجوي له اندازې څخه خبروي او له ازمایښتي وزارتونو سره مرسته کوي چې د ازمایښتي ولایتونو تر منځ د دې اندازې څخه یوه برخه وټاکي.

- **د اکتوبر له نیمایي څخه تر وروستۍ پورې(تله-لړم)**

په ولایت کې د ازمایښتي وزارت اړوند ریاست د بودجې د جوړولو لپاره د ولایت له پرمختیایي کمیټې سره د هغې اندازې بودجې په محدوده کې چې برخه والو وزارتونو ټاکلي ده، یوځای کارکوي، تر څو د ولایت له پرمختیایي پلانونو سره په پراخه پیمانه سمون ولري. دا بیا د ولایت د پرمختیایي کمیټې لخوا منظورېږي او مرکزي اړونده وزارتونو ته استول کېږي.


- **نومبر(لړم-لیندۍ)**

مرکزي وزارتونه له ولایتونو سره په مشوره بودجه ترتیبوي، د ماليې وزارت سره د بودجې پرسرخبرې اترې کوي او وروستنۍ پایلې وړاندې کوي.

- **له دسمبر څخه د فبروري تر لومړیو پورې(لینډۍ-مرغومي-سلواغه)**

بودجه کابینې ته وړاندې کوي او د تصویب نور پړاوونه تېروي.

**دا بهیر په لاندې جدول کې ښودل شوې ده:**




د بودجې جوړولو ولایتي پروګرام په سمه توګه بشپړېږي او په اوصولي توګه هغه ستونزې اواروي چې ۱،۱ برخه کې ورڅخه یادونه شوې ده، یعني دا چې بودجه د ولایتونو لپاره جوړېږي؛ خو پخپله د ولایتونو لخوا نه جوړېږي؛ خو بیا هم د ولایتي واحدونو او د ولایت د پرمختیایي کمیټې د ټیټې وړتیا له کبله، زیاتره هغه بودجې چې په ولایتونو کې جوړېږي؛ مخکې له دې چې د ماليې وزارت ته وړاندې شي، هراخېزې بیا کتنې او اضافي کار ته اړتیا لري. په دې توګه تر زیاتې اندازې ګډونوال وزارتونه لاهم د بودجې جوړولو بهیر کنټرولوي. په هر حال د دې تمه کېږي چې په طبیعي توګه به دا ستونزه ورو ورو اواره شي. دا ځکه چې د ولایتي برخه اخېستونکي جوړښت وړتیا به هم له دوی سره یو ځای وده وکړي.

د ولایت د بودجې جوړولو د پروګرام د تجربو پربنسټ؛ د تګلارې په اړه لاندې سپارښتنې په ګوته کیږي:

- **د ولایت د بودجې جوړولو پروګرام باید پیاوړی شي.** دا پروګرام ددې وړتیا لري چې د بودجې په جوړیدلو کې ښه والی راولي او په ولایت کې له کښته څخه پورته طریقې پر بنسټ جوړو شویو پلانونو په عملي کېدو کې مرسته وکړي. د پروګرام موخې او طریقې په بنسټیزه توګه سمې دي؛نو د پرله پسې عملي کېدو د بهیر ملاتړ باید  وشي.
- **د ولایت د بودجې په جوړولو کې د برخه اخیستنې لپاره د ولایت له ادارو سره بنسټیز تخنیکي ملاتړ ته اړتیا شته.** په ولایتونو کې د کار لپاره د اړتیا وړ بودجې په  تر لاسه کولو کې دا ستونزه په ګوته شوې چې بنسټیزې تخنیکي مرستې ته اړتیا شته. د دې نوښت د دوام او پراخولو لپاره دې ته اړتیا ده؛ ترڅو پروګرام په هر اړخیزه توګه طرح او برابر شي.

**۱،۲. د لګښتونو د مسوولیتونو ویشنه**

په افغانستان کې د لګښتونو د مسوولیتونو ویشنه  لاندې ځانګړنې لري:


- **د موجودو حکومتي سیمه ییزو ادارو لګښتونه نه تمویلیږي.** دا چې ولایتونه لومړي بودجوي واحدونه نه دي؛ نو نشي کولای د حکومت دننه ادارو لګښتونه تر لاسه کړي. په دې اړه یواځنی سیمه ییز اداره  چې د بودجې دا ډول انتقال تر لاسه کولای شي ښاروالۍ دي؛ خو په عمل کې هغوی دا مالي انتقال نه تر لاسه کوي. ښاروالۍ په بشپړه توګه په خپلو عوایدو ډډه لګوي.
- **د وزارتونو ولایتي ریاستونو ته د کم لګښت ورکول.** واقعي سیمه ییزو حکومتي ادارو ته هیڅ ډول لګښت نه ورکول کیږي، ولې د اړوندو سکتوري وزارتونو سیمه ییزو (ولایتي) ادارو لګښت تمویلیږي؛ خو دا هم  په پرتله ییزه توګه کم دی: له هرو څلورو ډالرو څخه چې وزارتونه یې تر لاسه کوی، یوازې یو ډالر یې ولایتي ریاستونو ته لیږدول کیږي.
- **د لګښتونو\ تدارکاتو د اجرا مرکزي کیدل.**  نیږدې ټول تدارکات په مرکز کې تر سره کیږي او دغه تدارکات او خدمتونه بیا وروسته ولایتونو ته لیږدل کیږي. دا په دې معنی ده چې ټول هغه لګښتونه چې د اجراتو او د خدمتونو له وړاندې کولو سره تړلي دي لکه

د ښوونځيو د کتابونو پيرودل يا د ډاکټرانو د کلينيکونو د ساتنې تړونونه په مرکز کې تر سره کيږي.

**د لګښتونو/تدرکاتو د پلي کولو مسوولیتونه مرکزي شوې.** د لګښتونو د مسوولیتونو زيات مرکزي کيدل کيدای شي د پوهنې وزارت د بيلګې په وړاندې کولو سره ښه روښانه شي. د ولسوالی په کچه ددغه وزارت واحدونه د ښوونځيو د تفتيش، د ښوونې او روزنې، ښوونکو او سامان الاتو د اړتياوو د معلومولو مسوول دي. ددې وزارت ولايتي رياستونه د شپږم ټولګي او تر هغه کښته ټولګيو لپاره د مامورينو او ښوونکو په ټاکلو، د ښوونيزو د موادو د ويشلو(نه پيرودلو) د ښوونځيو تفتيش او د اکاډميکي څارنې مسووليتونه لري. په مرکز کې وزارت، د تګلارې او استراتيژۍ د جوړولو، تعليمي نصاب او بودجې برابرولو او اجرا کولو، د مامورينو د ګمارلو، د تنخواګانو د ورکولو او د توکو او تجهيزاتو چمتوکولو، له شپږم ټولګي څخه د پورته ټولګيو لپاره د ښوونکو ګمارلو، د ښوونځيو د کتابونو برابرولو، د ښوونځيو ثبتولو، د ښوونځيو د آبادولو او بيارغولو د چارو همغږي کولو او د ښوونکو د روزنې چارې د اداره کولو مسووليت په غاړه لري. د ښوونې او روزنې په اړه هيڅ ډول لګښت د ولايت او يا ولسوالی له لوري نه تنظيميږي (که څه هم چې د ښوونکو تنخواګانې له مرکز څخه ولايتونو ته ليږدول کيږي) د مسووليتونو دا ډول ويش د ټولو وزارتونو په کچه د عمومي جوړښت استازيتوب کوي.

اوسنی بهير دداسې سيستم په لور روان دی چې د هغه له مخې به که ولايتونه د عامه لګښتونو د ٪۶۱ سلنه(فيصده) ګټه اخيستونکي بلل کيږي، خو د ولايت سکټوري رياستونه د عامه پانګې يوازې ٪۱۷ سلنه ترلاسه کوي، چې دا حالت په لاندې جدول کې ښودل شوی دی:

**د عامه سرچینو بیلول : ۲۰۰۶**





په واقیعت کي دا معلومات د تدارکاتو د لګښتونو د مرکزي کېدني اړوند مسوولیتونه کم ښيي: د ولایت اړونده ریاستونو ته په مالي انتقال کي د ښوونکو تنخواګاني راځي چي د پوهني وزارت یوازنی تر ټولو زیات لګښت جوړوي او په حقیقت کي د افغانستان حکومت د لګښتونو یوه له تر

ټولو سترو برخو څخه ده. په هيڅ يو بل سکتور کې هم د پانګې او لګښت په اړه د پام وړ مسوولیتونه ټيټې کچې ته نه دي ورسپارل شوي.

**۱،۳. د ولايت بودجوي تخصيص:**


په ولايتونو کې د وزارتونو د لګښتونو د اهميت په هکله له ټولو نه مهم ټکی دادی چې د سړي سر عوایدو تر منځ توپير زيات دی. ددې توپير ځيني حالات د منلو وړ دي؛ ځکه چې ولايتونه د اړتياوو له مخې يو له بل سره  توپير لري؛ د بېلګې په توګه: ځيني ولايتونه تر نورو بيوزلي دي او ځيني بيا تر نورو زيات لګښت لري؛ خو بياهم د پلټنې په ترڅ کې دا څرګنده شوې ده چې د سړي سر لګښت د ولايت په سر کېدای شي ترلس برابره هم زيات توپير ولري.
لکه چې په لاندې جدول کې ښودل شوي دي:

BUDGETED PER CAPITA EXPENDITURE (ALL SECTORS): AFs, 1385




لکه چې په جدول کې ښودل شوې، هغه ولايتونه چې زيات لګښت لري، د سړي سر يې ۳۶۰۰ افغانۍ په ۱۳۸۵ کال کې ترلاسه کړي، په داسې حال کې چې هغه ولايتونه چې ډېر کم لګښت لري، د سړي سر يوازې لږ څه باندې ۳۰۰ افغانۍ ترلاسه کړي.

د سړي سر لګښت کې د توپیر ځینې برخې کیدای شي په دې ډول تشریح شي: د ساري په توګه په ځینو ولایتونو کې د ښاري پراختیا په برخه کې د لګښت نشتوالی لامل دا وي چې ځینې ولایتونه د ښاري پرامختیا لپاره واقعي ښاري ساحه نلري (لکه د دایکنډي ولایت) د کرنې او بیارغونې او پراختیا په اړه د لګښتونو نشتوالی کېدای شي په اړونده ولایت کې د کرنیزو فعالیتونو په نشتوالي سره روښانه شي. بیاهم د روغتیا او پوهنې په برخو کې موږ د سړي سر په لګښت کې د ډیر توپیر توقع نه لرو. د تکراري بودجې په برخه کې هم د سړي سر په لګښت کې د زیات توپیر توقع نه لرو، خو لکه چې په لاندې جدول کې راغلي دي، کېدای شي داسې حالت رامنځته شي:



ددې توپير علتونه نه دي څرګند! داسې ويل کېږي چې ګواکې پانګه د پخوانۍ تخصيص او د پانګې د راجلبولو د وړتيا له مخې بېله شوې ده، ولې بياهم هغه څه چې ښکاره دي دادي چې پانګه ولايتونو ته د ښکاره، رڼو او عادلانه معيارونو پربنسټ نه ده بېله شوې.

**۱،۴. مالي مديريت**

په سيمه ايېزه کچه د مالي مديريت حالت لاندې ځانګړنې لري:

- **د اړونده وزارتونو په ولايتي او ولسواليو په دفترونو باندې د مالي مديريت له پلوه ډېره کمه تکيه کېږي.** دا چې زيات لګښتونه په مرکزي دفترونو کېږي، له دې امله د ولايت او ولسواليو دفترونه په ملي مديريت کې کم مسووليت په غاړه اخلي او په دې توګه په دې دفترونو کې د عامه بودجې د ناوړه مديريت لپاره امکانات لږ دي.
- **د مرکزي وزارتونو لخوا د ولايتونو د پروګرامونو د مديريت ښه کول.** د ولايت زياتره لګښتونه په مرکز کې تنظيمېږی؛ نو له دې امله ددغو پروګرامونو مديريت په چټکۍ سره ښه والی مومي. نږدې ټول وزارتونه خپلو پروګرامونو ته د نسبتاً معاصرو محاسبوي چارتونو له مخې بودجه جوړوي او د افغان مالي مديريت معلوماتي سيسټم ترڅې سيسټم لاندې لګښتونو ته د لاسرسي زمينه برابروي. د تدارکاتو په قانون کې ښه والی او په زياتېدونکې توګه په وزارتونو کې د پروګرام د حمايه وي واحد د مديريت لاندې د تدارکاتو راوستلو په لور خوځښت هم په دې برخه کې د ناوړه ګټې اخېستنې شونتيا راکموي.
- **د مرکزي وزارتونو لخوا د ولايتونو پروګرامونو په مديريت کې له ښو کړنو څخه يو څه کړېدل.** د افغانستان د رسمي مالي مديريت سيسټم لا تر اوسه د دوه ګوني مدخلي سيسټم (Double-entry system) پرځای له يوګوني مدخلي سيسټم (Single-entry system) کار اخلي. همدا راز د بودجې جوړولو سيسټم زيات تمرکز لا تراوسه هم پر سرچينو باندې دی، نه په پايلو او نتيجو باندې. په عامه توګه داسې باور موجود دی چې د مالي مديريت په سيسټم کې ډېر غيرقانوني تاديات ترسره کېږي. د ساري په توګه ځينې تاديات داسې کسانو ته کېږي چې موجود نه دي، تقاعد يې کړی او يا هم مړه دي.
- **د واليانو او ولسوالانو د دفترونو د مالي مديريت کمزورتيا.** په ولايتونو او ولسواليو کې د اړونده وزارتونو له دفترونو پرته، د ولايت او ولسواليو اداري مديريت کمزوری دی. د لګښتونو بودجه په سمه توګه نه جوړېږي او د لګښتونو ثبت په منظمه توګه نه ترسره کېږي. تر دې دمه هم د حسابونو د واحدو او منظم چارتونو په جوړولو کې ځينې ستونزې شته.

په مرکز کې، په عمومي توګه مالي مدیریت په چټکې سره ښه والي مومي؛ خو نور ښه والي ته هم اړتیا لري. په داسې حال کې چې په سیمه ابیزه کچه مالي مدیریت د قناعت وړ نه دی.

**۲.د ولایتي پلان جوړونې لپاره د تګلارې وړاندیز**

**۲،۱. د تګلارې موخې**

**د دې تګلارې موخې په لاندې ډول دي :**

- **د ولایتونو د ستراتیژیکو پلانونو له لارې په ستراتیژیکه توګه د ولایتونو د پلان جوړول.** دغه تګلاره به د ولایت پلان جوړونه په یوه واحد ستراتیژیک لید کې کېږدي. هغه ځانګړې موخې، هدفونه او معیارونه به په ګوته کړي چې د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژۍ په اړوند، به د ولایت لخوا ترلاسه شي او په دې ترتیب به د لا زیاتې روڼتیا او ځواب ورکونې په راوستو کې مرسته وکړي. همدار راز، د ولایتي پلان په جوړونه کې به دا تګلاره له پورته څخه کښته او له ښکته څخه پورته چلند ترمنځ انډول هم جوړ کړي، چې په لاندې توګه به وي:
- **له ښکته څخه پورته د ولایتي پلان جوړولو بهیر د عملي کېدو شونتیا.** دا تګلاره به هر ولایت په دې بریالی کړي؛ تر څو د پرمختیا خپل پلان د ښکته کچې (کلیو ته) د اړتیا وو او لومړیتوبونو پر بنسټ جوړ کړي. دا به ددې بهیر لپاره ټول اړین موسساتي او حمایه وي ترتیبات، د تخنیکي ملاتړ، بودجوي اندازې او د عملي کېدو د میکانیزم په شمول، رامنځته کړي.
- **د سرچینو تخصیص باید د مالي چارو په هلکه شته اوصول په پام کې وساتي.** پالیسۍ به دا ډاډ رامینځ ته کوي هغه سرچینې چې سیمه ابیزو ادارو ته ورکول کیږي، د لګښت په برخه کې دغو ادارو ته له ور سپارل شوي واک سره په سمون کې دي.
- **په سیمه ابیزه پلان جوړونه او بودجه کې د سیمه ابیزو جوړښتونو(سکتوري واحدونو او ولایتي پرمختیایي کمیټو) رول زیاتول.** دا پالیسي به په پام کې نیسي چې سیمه ابیز جوړښتونه، خپل فعال رول ولوبوي؛ ترڅو د پریکړو کولو چاره خلکو ته نیږدې وي.

- **د ولایتونو د بودجوي تخصیص په اړه د برابرئ او ګټورتوب لوړول.** تګلاره، د منل شویو اصولو لکه د اړتیاوو د لرې کولو او د بلاعوضه مرستو د سمون د طرحې پر بنسټ، د ولایتونو ترمنځ د پانګې برابر او مفید ویش ډاډمنوي.
- **په سیمه ایزه کچه د خدمتونو وړاندې کولو د ګټورتوب ښه کول.** دا تګلاره له دې لارې چې پلانول او عملي کېدل په ښه کچه سرته رسیدلي او دا چې د اجرااتو لپاره پخې انګیرنې شته، د خدمتونو د وړاندې کولو په پایلو کې ښه والي رامنځ ته کړي.
- **د نورو سیمه ایزو تګلارو د اصلاحاتو ملاتړ.** تګلاره به د رولونو، مسوولیتونو، د سرچینو د میکانیزم او په سیمه ایزه کچه د حساب ورکونې په رڼولو سره، د سیمه ایزې ادارې د پالیسي جوړولو بهیر د نورو توکو ملاتړ کوي.

دغو موخو ته د رسیدو میکانیزم ددې سند په لاندې برخه کې تشریح شوی.

**۲،۲. د تګلارې اجزا**

**۲،۲۱. د ولایت د پلان جوړولو لپاره چوکاټ او بودجوي میکانیزم**

د افغانستان حکومت به په ولایتي کچه د پلان جوړولو ستراتیژیک میکانیزم معرفي کړي؛ ترڅو اوږد مهاله هراړخیز او د ولایتونو په اړه د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژئ موخو ته د رسیدو په لوري پرله پسې او منظم پرمختګ رامینځ ته شي. د ولایت د ستراتیژیکی پلان جوړونه په لاندېنیو دریو برخو کې د پنځه کلنې مودې په اوږدو کې، د ولایتونو د پرمختیا ستراتیژیکي تګلارې ټاکي: حکومتوالی، امنیت، او پرمختیا. د ستراتیژیک پلان جوړونې موخه دا ده چې د ښې ادارې لید او هغه اړونده پایلې چې د افغانستان ملي پرمختیا په ستراتیژئ او د سیمه ایزو اورګانونو د خپلواکې ادارې په ستراتیژیک چوکاټ کې بیان شوي دي، تفسیر کړي. د افغانستان د ملي پرمختیا په استراتیژئ کې د ملي موخو سره د ولایتونو د موخو د تړاو له لارې به ستراتیجیک پلان په ولایتونو کې په یاد شوو دریو برخو کې د پام وړ پرمختګ وکړي.

ستراتیجیکه پلان جوړونه به په ولایتي کچه د ټولو سیمه ییزو ادارو یو ګډ عمل وي. د افغنستان د ملي پرمختیا استراتیژئ او د سیمه ایزو اورګانونو د خپلواکې ادارې او دا شان د وزارتونو له چوکاټ او ستراتېژیو څخه د یوه ټولیز چوکاټ په توګه په ګټه اخیستلو سره، د بیلا بیلو ادارو یوه کارپوه ډله چې د سیمه ایزو اورګانونو د خپلواکې ادارې له لوري به یې ملاتړ کېږی، د ولایتي پرمختیا هغه پلان بشپړوي، چې د نوموړې ادارې په وسیله تیار شوی دی او د ولسمشر له لوری

به تاییدېږی. د ولایت سترتیژیک پلان، لکه څنګه چې په راتلونکو برخو کې بیان شوی، د ولایتي پرمختیا کلني پلان د جوړولو لپاره د لارښود په توګه کار ورکوي.

**د ولایت د پلان د بودجوي اندازې جوړول**

ددې لپاره چې ولایتي پلان جوړونه اغیزمنه وي؛ د افغانستان حکومت به داسې میکانیزم رامنځ ته کړي؛ تر څو سکټورونو سره تړلي د ولایتي کلنیو پلانونو لپاره بودجوي پاکټونه معلوم او اعلان کړي. دا پلانونه به د دوو بیلا بیلو؛ خو یو له بل سره تړلو بهیرونو په ترڅ کې جوړ شي:
**۱)** له ښکته څخه پورته د پلان جوړولو بهیر چې د کلي په کچه (د خلکو پلان) پر په ګوته شویو اړتیاوو او لومړیتوبونو به ولاړ وي. او
**۲)** د وزارتونو تر لارښوونې لاندې اصلاح شوی دودیز پلان چې د پروګرام جوړونې په نوښتونو به ولاړ وي او د ولایت اړوند ملي لومړیتوبونه عملي کوي(د وزارتونو تر لارښوونی لاندې پلان) چې د ولایت په کچه سکټوري ریاستونه به پکې زیات رول لوبوي.

د ولایتي پلانونو لپاره د بودجوي پاکټ د جوړونې مسؤلیت د کابینې د سیمه ییزه پلان جوړونې او بودجې د کمیټې په غاړه ده چې ددې تګلارې په ترڅ کې به جوړېږی (دریمه برخه وګوری) د بودجې د پاکټونو(اندازې) په باب پریکړه به په داسې توګه وشي، چې ټولې هغه سرچینې چې ولایت ته د مرکز لخوا ورکول کیږي، به د ولایتونو له مالي لګښتونو سره همغاړې وي.
دې مقصد ته د رسېدو بهیر په لاندې ډول

- **د ټولو سرچینو وړاند وینه:**

کمیټه به د هغې بودجې اټکل کوي چې په را روان کال کې به یې هر وزارت د مالي وزارت په مرسته تر لاسه کوي.

- **د تیر کال د کاري کیفیت کتنه:**

کیمټه به د تیر کال د ولسي پلان لپاره ولایتونو ته د ورکړل شوې بودجې د منظمولو او کارولو په برخه کې د ولایتونو د کار جاج اخلي.

- **د ولایتونو د مالي اړتیاوو ارزونه:**

کمیټه به د ولایتونو لخوا (د ولسي او ولایتي پلانونو له لارې) د پروګرام شوې بودجې د تر ټولو زیاتې اندازې اټکل لګوي، چې دا کار به د تیر کال پر کړنو او په کارونو کې د نور ښه والي لپاره د ولایت په وړتیا پورې اړه ولري او ددې په پایله کې ولایت ته د لګښت په برخه کې په ورکړل شویو واکونو پورې تړلې وي. هغه ټولې سرچینې چې د مرکز لخوا به ولایت

ته ورکولې کيږي، بايد په يوه ځانګړي سکټور کې ولايت ته د لګښت او مالي اړيتاو په برخه کې له ورکړل شوي واک سره برابرې وي.

- **د وزارتونو د اړتياوو په ګوته کول:**

کيمټه به د سکټوري بودجې د هغه نسبت اټکل لګوي، چې د وزارتونو لخوا طرحه شويو پروګرامونو لپاره ځانګړې وي، لکه د هيواد پر کچه پرلومړيتوبونو ولاړ پروګرامونه يا د اوږدې مودې ستراتيژۍ. که چيرې د سرچينو د کمښت له کبله په ټوله سکټوري بودجه کې د سرچينو د کمښت له امله دغه پروګرامونه د ولايت له اړتياوو سره په ټکر کې راشي؛ نو په هغه حالت کې به د ولايت اړتياوو ته لومړيتوب ورکول کيږي.

- **د ولايتي سکټوري بودجې ويش:**

کميټه به د مخکنيو کړنو د ارزونې، شته سرچينو او په سيمه اييزو وړتياوو کې د زياتوالي پر بنسټ د هرې ولايتي سکټوري بودجې لپاره يوه ځانګړې سلنه(فيصدي) وټاکي، چې تر پنځه ويشت سلنې به لږه نه وي. د بودجې دا برخه به د ولسي پلان د پلي کولو لپاره کارول کيږي. ددې بودجې پاتې برخه به د رياست په مشرۍ د وزارتي پلان لپاره تخصيص مومي. ددې کار پايله به دا وي چې په ولايتونو کې د ولسي پلانونو او وزارتي پلانونو دواړو لپاره به د مجموعي سکټوري بودجې يوه اندازه برخه معلومه وي، چې دغه برخه به بيا وروسته د ولايتونو ترمينځ د يوه شفاف او رانه فورمل له لارې په لاندې توګه ويشل کيږي.

## د ولسي پلان او د رياست په مشرۍ د وزرتي پلان ځانګړنې

څرنګه چې په ۲،۲۱ برخه کې څرګنده شوه، ټوله ولايتي بودجه به په دوو برخو ويش کيږي: لومړۍ برخه به په ټوليزه توګه له کښته څخه پورته بهير سره سم(چې په ۲،۲۲ برخه کې ورکړل شوی دی) برابريږي. د دويمې برخې د پروګرام جوړولو کار به په ولايت کې د هر سکټوري رياست لخوا له اړوندو ملي لومړيتوبونو سره سم کيږي. دغه توپيرونه په لاندې پراګرافونو کې نور هم ښه څرګنديږي:

ولسي پلان د هغو پروژو له مينځ څخه چې د ځايي خلکو(کليو) لخوا په ګوته شوي، يو لړ يې انتخابوي. د ولسوالۍ په کچه د چاڼ(فلتر) له لومړي پړاو څخه وروسته، ولايتي پرمختيايي کميټه د يوه واحد په توګه دغه پروژې د سکټورونو په لحاظ سره جلا کوي او همدا ډول يې تخنيکي طرحه او لګښت بشپړوي. وروسته بيا پروژو ته د لومړيتوبونو پر بنسټ ترتيب ورکوي. په پای کې د له مخکې نه معلومې شوې بودجوي اندازې د انتخاب شويو پروژو

وروستنی لست برابریږي. ولايتي سکټوري واحدونه د ولايتي پرمختيايي کميټې د غړو په توګه په دغه بهير کې برخه اخلي. که څه هم هغوی دې ته هڅول کيږي چې د پروژو د وړانديزونو د جوړولو په وخت کې د هيواد او ولايتونو په کچه لومړيتوبونه په پام کې ونيسي؛ خو بيا هم هغو لومړيتوبونو ته زياته پاملرنه کيږي چې د سيمه ايېزه خلکو لخوا مخامخ په ګوته شوي وي. هغسې چې هيله کيږي په ولسي پلان کې به زياتره د کلي د کچې وړې پروژې شاملې وي. د ولسي پلان بودجه به يوازې او يوازې د پرمختيايي پروژو لپاره کارول کيږي.

د رياست په مشرۍ وزارتي پلان به د هر سکټوري رياست لخوا جوړيږي. ددې پلان موخه به دا وي چې د وزارت تګلارې، سکټوري ستراتيژۍ، د افغانستان د ملي پرمختيا ستراتيژي او د ملي کچې نور لومړيتوبونه د ولايت له اړتياو سره سم پلې شي. هر ولايتي رياست به دنده ولري چې خپل پلان جوړ کړي او د ولايتي پرمختيايي کميټې دنده به دا وي چې وخت ناوخته په دې هکله مشورې ورکړي. په دغه پلان کې به زياتره پرمختيايي پروژې او د خدمتونو وړاندې کولو پروګرامونه شامل وي. دغه پروژې به په ولسي پلان کې د طرحه شويو کليوالي کچې له پروژو څخه لوېې او پراخې وي؛ ترڅو پر يوه موضوع د دواړو پلانونو لخوا د پروژو له جوړولو څخه مخنيوی وشي. ددغه وزارتي پلان بودجه به د تنخواګانو، څارنې او پرمختيا په برخو کې کارول کيږي.

کوم وخت چې دواړه پلانونه بشپړ شي، نو اړوند سکټوري رياست به په يوه ځانګړي سکټور کې د دواړو پلانونو جاج اخلي او ددې کار پايله به د يوه واحد ولايتي سکټوري پلان په بڼه کې ولايتي پرمختيايي کميټې ته وړاندې کوي. ولايتي پرمختيايي کميټه به ټول دا ډول ولايتي سکټوري پلانونه سره يو ځای او واحد ولايتي پلان به ترې جوړوي، چې دغه ولايتي پلان به د منظورۍ لپاره لومړی والي او وروسې ولايتي شورا ته ځي.

**د ولايتي تخصيص لپاره د معيار ټاکل**

- لکه څرنګه چې په ۲،۲۱ برخه کې ويل شوي دي، د هر وزارت لخوا ولايتي پلان د تمويل لپاره د ټول عامه لګښت بيله شوې برخه، به هرکال د سيمه ايېز پلان جوړولو او بودجې په اړه د کابينې د کميټې لخوا معلوميږي. دا کار به په ولايتي کچه د لګښت په برخه کې د مالي اړتياوو پر بنسټ کيږي. د مجموعي مالي برخې په ټاکلو سره، له هر وزارت څخه به وغوښتل شي چې د ولايتونو ترمينځ د خپلې تخصيص شوې بودجې د سم ويش لپاره يو مناسب، په ښه ډول طرحه شوی او شفاف فورمول وکاروي.

- هر وزارت به د خپل بودجوي فورمول د جوړولو مسوول وي او دغه فورمول باید د منظورۍ لپاره کمیټې ته وړاندې کړي. دغه فورمول به د ولایتي پلان لپاره تخصیص شوې ټوله بودجه په لاندې ډول وویشي:
- **ثابته بودجه:**

د مجموعي بودجې یوه ځانګړې برخه به هر ولایت ته د یوه معیاري او ثابت تخصیص د تمویل لپاره ورکول کیږي. د ساري په توګه هر ولایت ته د سل زره افغانیو د ثابتو پیسو د ورکولو لپاره کیدای شي د ۳،۴ میلیونو افغانیو یو صندوک رامینځ ته شي. په دې ډول به ډاډ تر لاسه شي چې ټول ولایتونه پرته له دې چې پراخوالی او یا نور شرایط یې په نظر کې ونیول شي، به د خپلو لګښتونو لپاره یوه ثابته بودجه ولري. هیله کیږي چې دا بودجه به ډیره زیاته نه وي.

- **د سړي سر بودجه:**

د ټولې بودجې یوه ځانګړې برخه به د سړي سر له حساب څخه د ټولو ولایتونو ترمینځ په برابره توګه وویشل شي، د ساري په توګه: ۲۹ میلیونه افغانیو بودجه به دا ډول رامینځ ته شي چې د یوه ولایت هر اوسیدونکي ته به یوه افغانۍ ور ورسیږي.

- **د خدمتونو د وړاندې کولو د لګښت بودجه:**

کیدای شي داسې اضافي بودجه رامینځ ته شي چې د وزارت لخوا د ولایتونو ترمینځ د دوی د لګښتونو یعنې د ولایت د مالي اړتیاوو پر اساس وویشل شي. د ساري په توګه د پوهنې وزارت کیدای شي د داسې بودجې وړاندیز وکړي چې د ولایتونو ترمینځ، په هر ولایت کې د ښوونځي عمر لرونکو ماشومانو د شمیر پر بنسټ وویشله شي. په دې ډول چې هغه ولایتونه چې د پوهنې په برخه کې یې لګښتونه زیات وي، به ډیرې پیسې تر لاسه کړي.

- **د کړنو لپاره تشویقي بودجه:**

وزارتونه کولای شي دا ډول یوه بودجه رامینځ ته کړي، چې په کې د ښو کړنو لپاره انعامونه او مکافات په نظر کې نیول شوي وي، د بیلګې په توګه: د خدمتونو په ښه توګه سرته رسولو لپاره کیدای شي یوه بودجه رامینځ ته شي. ددې جاج به اخستل کیږي چې د

ولایت لخوا د وړاندې کیدونکو خدمتونو کیفیت څه ډول دی؟ ددې ارزونې پایله که هرڅومره ښه وي هومره به ولایت ته زیاته بودجه ورکول کیږي[19].

- **له بیوزلۍ سره د مبارزې بودجه:**

داسې به وګڼو که چیرې ولایتونه تر خپله مینځه په هرڅه کې سره برابر وي؛ نو بیوزلي ولایتونه به زیاته بودجه ترلاسه کوي. ددغې بودجې د ورکولو څرنګوالي به داسې وي چې بیوزلو ګڼل شویو ولایتونو ته به سړي سر ددې بودجې څخه برابره ونډه ورکول کیږي.

د تخصیص د فورمول عمومي فورمول به داسې وي[20]:

که چیرې $T_p$ د ولایتونو لپاره د سکټوري تخصیص مجموعه وي. هره بودجوي اندازه د $T_p$ د یوې فیصدۍ په توګه څرګندیږي او د یوه متحول $w$ په توګه لیکل کیږي چې اړونده بودجوي اندازه د یوه کوچني حرف په توګه تر $W$ لاندې لیکل کیږي. د بیلګې په توګه که د ثابتې بودجې لپاره له $w_{fixed}$ او د نفوسو پر سر د بودجوي اندازې لپاره له $w_{population}$ ، د لګښتونو د خدمتونو لپاره $w_q$ ، د کړنو په بدل کې د مکافاتو لپاره $w_j$ او د بیوزلۍ د له مینځه وړلو د بودجې لپاره له $w_{poverty}$ څخه کار واخلو او د دغو ټولو ارقامو مجموعه ۱ وي.

$P_i$ د اړوند ولایت نفوس ، $P$ د ټول هیواد نفوس، $n_{qi}$ د قیمتونو د تحول ارزښت (د بیلګې په توګه شمولیت، د زړو خلکو شمیر) په $i^{th}$ ولایت کې د $q_{th}$ معیارد تعدیل قیمت یا ارزښت ، $c_{ji}$ د ولایت اجراآت، $i^{th}$ د $j_{th}$ معیاراجراآت ، $c_{jb}$ د اجراآتو شاخص (د ولایتونو په مینځ کې تر ټولو ښه او یا تر ټولو بد)، د $j_{th}$ اجراآتو لپاره معیار، $ep_i$ د ا ښیي چې ولایت ترکومه حده د بیوزلۍ لپاره له ځانګړې شوې بودجې څخه د ګټې اخیستلو مستحق دی(که مستحق وي نو 1 او که نه وي نوصفر0). که د ولایت لپاره سکټوري تخصیص $i^{th}$ نو بیا $TP_i$ عبارت دی له:

$$TP_i = \frac{w_{fixed}}{34}T_p + \frac{w_{population}P_i}{P}T_p + \sum_q w_q T_p \frac{n_{qi}}{\sum_k n_{qk}} + \sum_j w_j T_p \frac{P_i\left|c_{ji} - c_{jb}\right|}{\sum_k P_k\left|c_{jk} - c_{jb}\right|} + w_{poverty}T_p \frac{P_i ep_i}{\sum_k P_k ep_k}$$

دا فورمول د لاندې بهیر له مخې باید هر وزارت بشپړ کړي:

---

[19] دغه بودجه به داسې وي چې له ټولو نه ناکاره اجرا کوونکی به هیڅ بودجه لاس ته نه راوړي، او هر څومره چې د نورو ولایتونو کړنې غوره وي په هم هغه اندازه به یې د سړي سر بودجه ډیره وي

[20] د سیمه ایيزو ادارو خپلواک ریاست به د سکټوري ځانګړی فورمول په جوړیدو کې ، چې د عمومي شکل بیانونکی وي، د مرستې لپاره کتابګوټې، تخنیکي مرستې او نورې سر چینې برابرې کړي

- **د پیسو انتخاب**. وزارتونه باید د پیسو د ټاکلو لپاره خپل چلند غوره کړي؛ تر څو خپل ټول تخصیصونه د ولایتونو پلانونو لپاره وویشي. په عمومي توګه، په دغو پیسو کې ثابته بودجه، د نفوسو پر سر بودجه، له بېوزلی سره د مبارزې لپاره بودجه او له دې سره سره د لګښت لپاره بودجه او د هر سکټور لپاره د ښو کړنو د هڅول تشویقي بودجي شاملي دي.
- **د بودجې د اندازې لګول**. وزارت باید د بودجې لپاره سلنه وټاکي داسې چې ترڅو د بودجې مجموعي اندازه له ۱ سره برابره وي(٪۱۰۰). اندازه به د داسې شرایطو لکه مساوات، اړتیا، او نورو له مخې وټاکل شي.

- **د ازمېښتي موډل برابرول**. وروسته وزارت باید د هر ولایت لپاره د برابرۍ له مخې د متغیرونو لپاره د واقعي ارزښتونو په هکله وروستنی دقیق او سم معلومات تر لاسه کړي. دا به وزارت ته ددې امکان ورکړي تر څو په وروستنی مالي پړاو کې د تخصیصونو څرنګوالي وارزوي.

- **د بودجې په وروستۍ اندازه کې د بدلون راوړل**. وروسته بیا وزارت باید د برابرۍ، د ملي لومړیتوبونو سره د مطابقت، اړینو انګېزو د شتون او داسې نورو پر بنسټ، په موډل کې د ولایت تخصیصونه وارزوي. همدا راز دغه وزارت باید د هغو معلوماتو چې د یو لړ منلو شوو ارزښتونو د نمایش په هکله تړې استفاده شوی، په هکله د پام وړ تحلیل تر سره کړي. ددې ارزونې پر بنسټ به وزارت ډېر مساعد تخصیصونه تنظیم کړي.

دې خبرې ته باید بشپړه پاملرنه وشي چې د بودجې د پیسو انتخاب او اندازه داسې یوه موضوع ده چې په پالیسی پوري اړه لري. له دې وروسته بهیر، دا هم باید په کلکه په پام کې ونیول شي چې د پالیسۍ له مخې د بودجې ټاکل په هغو پایلو وانه وړي چې توقع یې نه کیږي.

**هغه فورمول چې د هر وزارت له لوري جوړیږي، باید د لاندنیو شرایطو سره سمون ولري:**

- فورمول باید د بودجې عادلانه ویش تامین کړي. دا فورمول باید داسې وي چې د ولایتونو د تخصیصونو تر منځ زیات توپیر په کې نه وي، او دا توپیرونه تر هغه څه زیات نه دي چې د توپیرونو د جبران او یا د ښو کړنو د هڅولو لپاره ورته اړتیا وي. هغه ولایتونه چې د ښو اجراآتو له امله نه وي تقدیر شوی، باید څرګند او ښکاره

فورمول ورته برابر شي، چې د هغه په اساس دوی خپل اجراات ښه او تخصیصونه تر لاسه کړي.

- فورمول باید د اړتیاوو په هکله توپیر په ګوته کړي. لکه څنګه چې ولایتونه بیلابیلې اړتیاوې لري، د ساري په توګه د فزیکي اندازې، نفوس او یا نورو لاملونو له امله؛ نو فورمول باید دا توپیرونه منعکس کړي او مناسب ولایتي تخصیصونه وړاندې کړي؛ خو ولایتونو ته د سپارل شوي واک اندازه د اړتیاوو د هڅولو یو اساسي عامل دی
- فورمول باید منفي انګېزې رامنځ ته نه کړي. دا فورمول باید داسې نه وي چې کمزورې حکومتوالی، د پانګه اچونې کمزورې پرېکړې او یا د ولایتي ادارو په ځینو برخو کې نا مناسب چلند وهڅوي
- فورمول باید د ملي لومړیتوبونو په اړه حساس وي. د پانګې د ویشلو او د ولایتونو په منځ کې د پانګې د وېشلو معیارونه باید د ملي لومړیتوبونو څرګندویه وي، د ساري په توګه دا لومړیتوبونه باید د افغانستان د ملي پرمختیا په ستراتېژۍ او د وزارتونو په سکټوري ستراتیژیو کې راغلي وي

ولایتونو ته د زیان رسیدلو د مخنیوي لپاره به د دریو کلونو د لنډ مهاله مودې لپاره لازم ترتیبات ونیول شي؛ ترڅو چې د فورمول له مخې هغه ولایتونه چې په سکټوري تخصیص کې له کمښت سره مخ کیږي، په عامه لګښت کې د ډراماتیکې رالویدنې له کبله د خدمتونو په وړاندې کولو کې پاتې رانشي.

د کابینې د سیمه ییز پلان جوړونې او مالي چارو کمېټه به د هر وزارت هغه فورمول چې د ولایتونو تر منځ د تخصیصونو د ټاکلو لپاره کارول کیږی، په پرله پسې توګه ګوري او که چېرې دا معلومه شي چې فورمول د پورته یادو شوو معیارونو سره برابره نه دی، نو ددې واک لري؛ تر څو وزارتونو ته ددې هدایت ورکړي چې په کې بدلون راولي. هغه فورمول چې د ولایتي تخصیصونو او هغه معلومات چې هر کال د ولایتي ځانګړو تخصیصونو د معلوموللو لپاره کارول کیږی، دواړه باید عامو وګړو ته د لاسرسی وړ وي. ولایتونو او نورو اړوندو غاړو سره به مرسته کیږی؛ تر څو دا ښکاره شي چې د دوی د لګښتونو سرچینې او د نورو ولایتونو سره د دوی د تخصیص توپیر د پوهېدلو وړ دی.

### ۲،۲۲. د کلني ولایتي پلان دور

**رول او دندې**

ولایتي پلان به د موجوده کلني دور پر بنسټ جوړیږي. لاندې سیمه ییزې ادارې به په دې دور کې د لاندنیو مسؤلیتونو لرونکي وي:

- **د کلیو شوراګانې:**

د کلیو شوراګانې دنده لري چې د کلیو د اوسیدونکو استازیتوب وکړي او مسؤلیت لري داسې اړتیاوې او ترجیحات او د پروژو وړاندیزونه په ګوته کړي چې د خلکو د پلان بنسټ جوړوي. د کلي شوراګانې باید وهڅول شي چې د امکان تر پولې سیمه ابیزې اړتیاوې له اعلان شویو ولایتي لومړیتوبونو سره د خپلو پروژو د وړاندیزونو جوړولو په وخت ګډ کړي. د کلیو د شوراګانو تر ټاکلو پورې، دا دنده د کلیو پرمختیایي شوراګانې تر سره کوي.

- **ولسوالان او د ولسوالۍ شوراګانې:**

ولسوالان باید په لومړي پړاو کې له ولسي پلان څخه هغه وړاندیزونه راوباسي چې د کلیو لپاره دي او که چیرې وړاندیزونه سره تداخل ولري؛ نو سره یوځای یې کړي. دغه وروستي وړاندیزونه بیا ولایت ته لیږل کیږي. د ولسوالۍ د شوراګانو له ټاکنو څخه وروسته بیا غوره شوې پروژې، مخکې له دې چې وړاندې شي، د دی شوراګانو له خوا منظوریږي.

- **ولایتي پرمختیایي کمیټه**

ولایتي پرمختیایي کمیټه د ولایت لپاره، د ولایتي شورا په مشوره، عمومي ترجیحات ټاکي. دغه ولایتي کمیټه همدا ډول د تخنیکي پلان جوړولو او مسودې د کمیټې په ډول "د خلکو د پلان" لپاره کار کوي او د هر سکټور لپاره، له ټاکل شوی بودجې سره سم، د پروژو د طرحې، د لګښتونو د معلومولو او د ترجیحاتو د جوړولو مسوولیت لري. همدا ډول ولایتي پرمختیایي کمیټه د هغو پلانونو د ودې لپاره چې د وزارت له خوا جوړیږي، اړونده وزیرانو ته مشورې ورکوي. د دواړو پلانونو له بشپړیدو سره ولایتي پرمختیایي کمیټه ټول ولایتي سکټوري پلانونه د واحد ولایتي پلان په بڼه سره توحیدوي او هغه د والي دفتر ته د منظورۍ لپاره سپاري.

- **والی:**

والي مسوولیت لري ترڅو اړوند پلان او بودجه د وزارت د ولایتي پلان لپاره منظوره کړي او ورپسې یې ولایتي شوراته د وروستۍ منظورۍ لپاره وسپاري.

- **ولايتي شورا:**

ولايتي شورا مسوولت لري چې ولايتي بودجه او پلان له والي څخه ترلاسه او بيا يې منظور کړي.

- **د سکټوري واحدونو تر لارښووني لاندې وزارتي پلان:**

ولايتي واحدونه دا مسووليت لري تر څو دا ډول وزارتي پلانونه په اړوندو سکټورونو کې له ټاکل شوی بودجې سره سم جوړ کړي. څرنګه چې دوی هم د ولايتي پرمختيايي کميټې غړي دي؛ نو ځکه به هم د "خلکو په پلان" کې برخه اخلي. کله چې دواړه پلانونه جوړ شول؛ نو ولايتي واحدونه به دغه پلانونه د يوه واحد ولايتي سکټوري پلان په بڼه سره يوځای کوي، او کله چې ټول ولايتي پلان په ولايتي کچه منظور شو؛ نو اړوند سکټوري رياستونه به بيا ولايتي سکټوري پلانونه او د هغو بودجه په مرکز کې خپلو اړوندو وزارتونو ته وړاندې کوي. له دې کار سره به د ولايتي بودجې جوړولو له اوسني سيستم سره سم ګامونه پورته کوي.

**مهال ويش:**


د ولايتي پلان د کلني بهير لپاره مهال ويش په داسې ډول تنظيم شوی چې سکټوري ولايتي پلان د اړوندو شعبو لپاره د لړم په مياشت کې (له اکتوبر څخه مخکې) وړاندې شي؛ تر څو دوی وکولای شي هغه د افغانستان د دولت له نورمالې بودجوي دورې سره سم توحيد او تنظيم کړي.
په هر ولايت کې دا بهير له لاندنيو لارښونو سره سم ټاکل کيږي:

- **کب**: د کليو په کچه بايد د ترجيحاتو تشخيص پيل شي
- **چنګاښ**: د ولايتي پرمختيايي کميټې له خوا بايد د طرحې، لګښتونو معلومول او د ترجيحاتو کار پيل شي
- **زمرى**: د هر سکټوراو هر ولايت لپاره ټاکل شوې بودجه بايد اعلان شي
- **لړم**: منظور شوې پلان بايد په اړوندو برخو وويشل شي او اړوندو سکټوري وزارتونو ته وسپارل شي
- **مرغومي**: منظوره شوې بودجه بايد د وزيرانو د شورا او پارلمان له خوا تصويب شي

په لاندني جدول کې یو وړاندیز شوی مهال ویش ښودل شوی

**د لاندی نه پورته دپروسی په نتیجه کی او یا هم د سکتوری وزارتونوله خوا مینځ ته راغلی پلانونه به په ولایت کی جوړ او تصویب او بیا وروسته و مرکز ته وړاندی کیږی.**

د ولایتی پلان جوړونی پروسه: مهال ویش




-3-

د پلان جوړوني او مالي چارو په هکله د کابیني کمیټه به د دغه ترتیب بیا کتنه وکړي او که چیري ورته اړتیا وي نو بدلون به راولي، د بیلګې په توګه ممکنه ده چې دغه دور اوږد شي یعني په کال کي دوه ځلې شي.

## ۲،۲۳. د ولایتي پلان او بودجې پلي کول:

د ولایتي پلان او بودجې پلي کول د وزارت د ولایتي واحدونو دنده او مسوولیت دی. دا عملیه به په لاندنیو مرحلو کې ترسره کیږي:

1. ولایتي واحدونه، اړوند سکټوري پلانونه مرکزي وزارتونو ته وړاندې کوي
2. مرکزي وزارتونه، له ټاکل شوې بودجې سره سم، وروستي سمونونه راولي
3. بودجه بیا وروسته د وزیرانو شورا او په پای کې د پارلمان له خوا منظوریږی
4. منظوره شوې بودجه د مالي د وزارت له خوا اړونده وزارتونو ته لیږدول کیږي

5. وزارت د منظورو شويو پلانونو بودجه خپلو ولايتي رياستونو ته ليږي
6. ولايتي رياستونه پلانونه پلي كوي
7. ولايتي شورا او والي د ارزونې او څارنې دنده ترسره كوي

دغه عمليه د اوسنی ولايتي بودجې د نوښت بيا پيلونه ده؛ خو توپير يې دا دی چې ولايتي تخصيصونه له يو شفاف او عادلانه فورمول سره سم ترسره كيږي او په پوره اندازه پيسې د وزارت ولايتي رياستونو ته ليږدول كيږي؛ ترڅو هغوی وكولای شي له ټاكل شوې بودجې سره سم فعاليتونه ترسره كړي.

په عمومي توګه د پلان پلي كول د سكټوري وزارتونو دنده ده؛ خو كه چيرې لګښتونه ولايتي كچې ته وسپارل شي او كومه پلي كوونكی موسسه په ولايتي كچه موجوده نه وي؛ نو په دې وخت كې لګښتونه د والي د دفتر تر لارښونو لاندې ترسره كيږي. پردې مهال د والي دفتر د وزارت د ولايتي رياست په توګه كار كوي او د سيمه ييزو اورګانونو خپلواكه اداره د هغې مركزي ادارې رول خپلوي، چې بودجه ترلاسه كوي او د لګښتونو د سپارلو واک لري. دغه كړنې په ولايتي مالي سيسټم باندې د وزارتونو د ګډې كميټې تر لارښونو لاندې ترسره كيږي او بايد په پرله پسې توګه وارزول شي.

**ولايتي ادارو ته د لګښت د واک سپارل:**

د مالي چارو په هلكه له شته اوصولو څخه پيروي كول، د سرچينو د بيلولو په برخه كې يو مخكنی شرط او د لارښوونې اصل دی. هغه سرچينې چې ولايتي ادارو ته وركول كيږي، بايد په دې برخه كې د ولايتونو د لګښتونو له مالي اړتياوو سره سمون ولري. ددې لپاره چې په كاركې ښه والی راوستل شي او پريكړې كول خلكو ته نيږدې وي؛ نو مركزي وزارتونه بايد د ځينو لګښتونو په برخه كې دندې خپلو اړوندو ولايتي واحدونو ته وسپاري. ولايتونو ته د ورسپارل شويو واكونو څرګند تعريف به ولايتونو ته د مالي تخصيص لپاره لومړی شرط وي.

هر وزارت ته پكار دی چې د لګښتونو د مسووليت د كابينې د سيمه ييزې پلان جوړونې او مالي سيسټم كميټې ته وسپاري. تمه ده چې ددې پلان په بنسټ به وزارتونه خپلو ولايتي رياستونو ته د لاندنيو لګښتونو مسووليت ور وسپاري:

- **هغه لګښتونه چې د ولايتي پلانونو د پلي كولو لپاره اړين دي:**

هغه لګښتونه چې زياتره له ښكته څخه پورته پلانونو لكه د سړكونو د جوړونې يا د ښوونې او روزنې او د روغتيايي اسانتياو د بيا رغونې په برخو كې كارول كيږي؛ نو په نورماله توګه به د اړوندو وزارتونو ولايتي رياستونو ته سپارل كيږي.

- **هغه لګښتونه چې د ولایت په کچه پلان او پلي کیږي:**

په احتمالي توګه هغه لګښتونه سپارل کیدای شي چې د ولایتي وړتیا په محدوده کې وي او یا به ډیر ژر تر دغې محدودې لاندې را شي او که چیرې دا ځانګړنه ونلري، لکه هغه چې لوړې تخنیکي وړتیا ته اړتیا ولري؛ نو نشي سپارل کیدای.

- **هغه لګښتونه چې ګټه اخیستونکي یې د اړونده ولایت ډیری اوسیدونکی تشکیلوي:**

هغه لګښتونه چې ګټې یې نورو ولایتونو ته نه رسیږي، باید په معمولي ډول ولایتي ریاستو ته وسپارل شي.

هر وزارت باید په ښکاره توګه دا وټاکي چې د کومو لګښتونو مسوولیت ولایتي دفترونو ته سپاري او کوم د ځان لپاره ساتي. هغه لګښتونه چې د خپل ځان لپاره ځانګړې کیږي باید په هغو کې دقت وشي چې:

**(الف)** هغه ډول لګښتونه نه وي چې په ولایتي پلان کې راغلي وي

**(ب)** یا د ولایتي ریاست له وړتیا څخه لوړ وي، که څه هم ولایتي ریاست ته کافی اندازه مرستې د لګښتونو په لګولو کې ورکړل شي،

**(ج)** او دا چې د ګټو خپریدل یې نورو ولایتونو ته زیات وي.

د لګښت په برخه کې د واک له سپارلو څخه به په منظمه توګه کتنه کیږي او د وخت په تیریدو سره چې به د ولایتونو په وړتیاوو کې څومره زیاتوالی راځي هومره نور واک ورسپارل کیږي.

**۲،۲۴ . ښاروالیو ته کلنی لیږد**

**خواوشا ۱۷ ملیونه (د احصایې د مرکزي ریاست د ۲۰۰۴ کال د منځنی اټکل پر بنسټ۸،۴ ملیونه) د افغانستان نفوس د ښاروالیو په سیمو کې اوسیږي؛ نو له دې امله په بالقوه توګه د ښاروالیو له خدمتونو څخه برخمن ګیږی، ځکه نو دې ته اړتیا لیدل کیږي، چې د مالي لیږد یو میکانیزم رامینځ ته شي.**

ښاروالیو ته کلنی لیږد باید د لاندې ځانګړونو لرونکی وي:

- د وړتیا لوړول؛ ترڅو معیاري خدمتونه وړاندې شي. مالي لیږد باید په داسې ډول ترسره شي، چې ښاروالۍ په دې وتوانیږی؛ ترڅو معیاري خدمتونه د ښاروالیو وګړو ته وړاندې کړي

- د خدمتونو د ښه وړاندې کولو لپاره د تشویقونو برابرول. لیږد باید په دې ډول وي چې ښاروالۍ وهڅول شي؛ تر څو د ښاروالیو د وګړو لپاره ښه خدمتونه وړاندې کړي
- د عوایدو د راټولولو لپاره د تشویقیو برابرول. لیږد باید په داسې ډول وي چې ښاروالۍ د راټولو شویو عوایدو لکه فیس او مالیاتو د زیاتولو لپاره، وهڅول شي

د پورتنیو اصولو په نظر کی نیولو سره سم، د ښاروالۍ د لیږد لپاره د یوه فورمول وړاندیز کیږي:
که چیرې د لیږد ټول امکانات ښاروالۍ ته Tm ونوموو او د ښاروالۍ ټول ملي عواید R ونومول شي، د ښاروالیو شمیرN ونومول شي، د I ښاروالۍ عواید د Ri په نوم یاد کړو، په ښاروالۍ کې ټول نفوس د P په نوم یاد کړو، په I ښاروالۍ کې نفوس Pi په نوم یاد کړو، د I ښاروالۍ د خدمتونو د وړاندې کولو ضریب ته Ei نوم ورکړو، او د هغې ښاروالۍ د خدمتونو ضریب ته چې د کمزورو خدمتونو وړاندې کوونکی وي د EL نوم ورکړو؛ نو د I ښاروالۍ ته انتقال Tm، په لاندې توګه لاسته راوړو.

$$TM_i = .05\,\frac{T_m}{N} + .2\left(\frac{T_m}{R}\times R_i\right) + .5\left(T_m \times \frac{P_i}{P}\right) + .25\left(T_m \times \frac{P_i\left(E_1 - E_l\right)}{\sum P_j\left(E_j - E_l\right)}\right)$$

دا فورمول باید د مالي چارو او پلان جوړولو په برخه کې د کابینې د کمیټې لخوا له ارزولو سره منظور شي.[21]

تر درې کلونو پورې به هره هغه ښاروالۍ چې وکولای شي ډیر عواید راټول کړي یوه اضافي بودجه تر لاسه کړي. هره ښاروالي چې د ۲۰۰۸ کال په پرتله زیات عواید ولري، ٪۲۰سلنه(فیصدي) زیاته بودجه به تر لاسه کړي.

ښاروالیو ته د لیږد وړ بودجه به داسې جوړه شي چې په ملي کچه د ښاروالیو د عوایدو ځای ونیسي، داسې چې د خدمتونو سرته رسولو په برخه کې د ښاروالیو له مالي اړتیاوو سره سمون ولري؛ ځکه نو د ښاروالیو د خدمتونو او دندو پولې باید له وړاندې معلومې وي.

---

[21] لومړی جدول ٪۵۰ د انتقال د امکاناتو اندازه د ښاروالۍ د درآمداتو له لاس ته راوړنو سره سم وویشی (د شورای نیولو لپاره هڅی)؟ دویم حل په دی فورمول کی ٪۲۵ د انتقال د امکاناتو اندازه د ښاروالۍ له سهمیی ره سم وویشی. او دریم حد ٪۲۵ د انتقال د امکاناتو اندازه د دی پر بنسټ چې هغه ښاروالۍ چې ډیر ناسم خدمات ترسره کوی، کوم څه به ترلاسه نکړی، ترسره کیږي، او هرڅومره چې د ښاروالۍ خدمات د هغی ښاروالۍ په پرتله چې خراب خدمات ترسره کوی، ښه وي نو په همدې پرتله په د یوو فرد لپاره تخصیص د انتقال د امکاناتو له قیمت څخه زیات وي. دا فورمول د هغه فورمول عمومي حالت ښیی چې په پخوانی سکشن کی وړاندی شی وو.

دا تخصیص به د اعطايي بودجې په بڼه ترسره کيږي. ښاروالۍ د تخصیص شوې بودجې د لګولو په برخه کې د ملي لومړیتوبونو په نظرکې درلودلو سره، زیات واک ولري.

**۲،۲۵ . کلیو ته کلنۍ لیږد**

د ملي پیوستون د پروګرام د بریالیتوبونو په رڼا کې، کلیو ته د موجوده مرستو برابرول به له دې پالیسۍ سره سم روان وي. دا به د کلیو پرمختیایي شوراګانو ته تر هغه ورکول کیږي؛ ترڅو د کلیو د شوراګانو ټاکنې تر سره شي، بیا به دغه مرستې د کلیو شوراګانو ته ورکول کیږي.

څرنګه چې د مرستو فورمول د ملي پیوستون د پروګرام له خوا لا پخوا کارول شوی او خلکو هم منل؛ نو ځکه به دا فورمول پایښت مومي او له هغه څخه به کار اخستل کیږي. اوسنی فورمول په دې ډول دی: که چیرې د یوې کورنۍ لپاره مرسته TH وي، د کورنیو شمیر په I کلي کې Hi وي، او د مرستې تر ټولو لوړه کچه به K ونومول شي؛ نو د I کلي لپاره به مرسته داسې وي:

$$TVi = \min \{TH \times Hi, K\}$$

چې min هغه تابع ده چې مونږ ته د دوو حدونو اصغری قیمت په معادله کې راکوي.
دا فورمول به د مالي چارو او پلان جوړولو په برخه کې د کابینې د کمیټې له خوا له ارزولو وروسته منظوریږي.

**۲،۲۶. مالي مدیریت**

**مالي حساب ورکونه**

ولایتي دفترونه به د والي او د ولایت د شورا په وسیله د عامه بودجې د لګښت پر مهال حساب ورکونکی وګرځول شي. دغې موخې ته د رسیدو لپاره به لاندې میکانیزم کارول کیږي:

- **مالي تفتیش یا پلټنه:**

د هر ولایتي واحد د مالي او حسابي چارو پلټنه به د داخلي پلټونکو او د مالي د وزارت د پلټونکو لخواتر سره کیږي.

- **په ولایتي کچه د پروګرام پلټنه:**

په هر ولایت کې د هر وزارت د اړونده ریاست منظوره شوی بودجه به د پروګرام په وسیله جوتیږي، د کتنې لپاره به والي او ولایتي ادارې ته تسلیمیږي. د پروګرام یوه واحده بودجه

چې په ولایت کې د ټولو وزارتونو د ریاستونو له مجموعي بودجې څخه جوړه شوی وي، هم جوړیږي.

- **د پروګرام له لاسته راوړنو سره د لګښت مطابقت:**

د پروګرام لګښت به په روښانه ډول د پروګرام د حقیقي او اټکل شویو لاسته راوړنو سره پرتله کیږي. که چیرې لګول شوې پیسې د انتظار وړ لاس ته راوړنې ونه لري؛ نو مسله به د ولایتي شورا او والي له خوا تر څیړنې لاندې نیول کیږي.

- **د پروګرام له پایلو سره د لګښت مطابقت:**

ترکومه ځایه چې ممکنه وي، د پروګرام د لګښتونو پرمختیایي لاسته راوړنې به په روښانه ډول وپیژندل شي. که چیرې لګول شوې پیسې د انتظار وړ لاس ته راوړنې ونه لري؛ نو مسله به د ولایتي شورا او والي له خوا تر څیړنې لاندې نیول کیږي.

هر وزارت به د خپلې سیستماتیکه ناکامی په مناسبه توګه سمې او ورغوي، تر څو ولایتي ریاستونه د لګښت په برخه کې د انتظار وړ لاسته راوړنې ولري، او هغه اداره کړي. د اقداماتو مجموعه به د ولایتي مالي حسابونو ګډې وزارتي کمیټې ته د منظورۍ لپاره وړاندې شي.

ټول مالي حسابونه، راپورونه او ارزونې به په یوه داسې تل پاتې حالت کې وساتل شي چې خلک ورته په آزاد ډول لاسرسی ولري.

**د مالي مدیریت د اصلاحاتو عملي کول**

په اغیزمنه توګه د عامه بودجې د ادارې او د مالي حساب ورکونې د سیستم عملي کول چې د ۲,۲۴۱ برخه کې تشریح شوي، د وزارتونو د ولایتي واحدونو د مالي مدیریت په وړتیاوو کې د پام وړ لوړوالي غوښتنه کوي. که چیرې د ځینو لګښتونو مسوولیت په نیغه د والیانو دفترونو ته ورکړل شي، نو دغو ادارو ته به همدا شان پرمختګ ضروري وي. دغه اړین پرمختګ به د کړنو تر دریو غټو کټه ګوریو لاندې راځي: د مالي سیستم کنټرول، د حسابدارۍ لپاره معیاري سیستمونه، او د اجرااتو مدیریت. که چیرې د یوې موسسې مالي اداره نیمګړې وي، نو لاندې اصلاحات باید پړاو په پړاو معرفي شي. درې واړه کټه ګورۍ په لاندې جدول کې ښودل شوي او په لاندنیو پاراګرافونو کې تشریح شوي دي.

| د مالي حسابونو کنټرول | معياري محاسبه او مالي مديريت | د اجرااتو مديريت |
|---|---|---|
| • داخلي کنټرول معرفي کړي<br>• د بيلانسونو او د نغدو پيسو د راتګ او لګښت يوه مناسبه محاسبه باوري کړي<br>• د بودجې د جوړونې اساسي سيستمونه جوړ کړي<br>• د محاسبې او توکو لپاره داسې سيستم جوړ کړي چې هغه په ټينګه کنټرول کړي | • د محاسبې د مضاعف سيستم مطابق وړاندې لاړ شي<br>• د محاسبې هر اړخيزه سيستم خپل کړي (د ليجرونو يو بشپړ سيټ، مناسب حسابي سرليکونه، دوامداره مطابقت)<br>• د پروګرام د بودجې جوړونه معرفي کړي.<br>• د بودجوي بهير په اتکلولو کې سمون راولي.<br>• د پراخې پلټنې او څارنې لپاره د سيستم رامينځ ته کول.<br>• د هراړخيزې مالي پلټنې معرفي کول | • د اجرايه وي موسسو او د خلکو د استازو تر منځ د "د کړنو تړونونه" معرفي کړي<br>• منيجران د مالي او بودجوي پروګرامونو د پايلو په اړه حساب ورکونکې وګڼي<br>• داسې بودجه جوړه کړي چې له اجراتو سره سمون ولري<br>• د مالي مديريت لپاره يو واحد سيستم برابر کړي<br>• د سرمايې بودجه برابره کړي<br>د بودجې اغيزمن لګښت وارزوي او پياوړي يې کړي. |

د کړنو د لومړی کته ګوری موخه، د مالي حسابونو کنټرول، دا په لاندې کچه د تر نظر لاندې موسسو حسابداری ته داسې يوه روڼتيا ور ښنی؛ تر څو دغه ادارې د هغه له لارې له يوه مناسب معيار سره د برابری په لور حرکت وکړي. دغه به کم له کمه په لاندې ډول وی:

- **د اساسي څارنې معرفي کول:**

لومړنی ځارنې دادي، د بانکي حساب د جوړښت څرنګوالی، د تجهیزاتو او شتمنیو معلومول، د پیسو د تادیې لپاره د مناسبو لاسلیکونو معرفي او د مالي سیستم د مهمو دندو بیلول (د تادیې د امر ورکولو واک او د تادیې اجرا کول).

- **د نغدو پیسو د راتګ او د لګښت او همدا رنګه د نغدو پیسو د موازنې باوري کول:**

د ټولو نغدو پیسو حقیقي او متوقعه تګ او را تګ باید په یوه داسې ډول وشي چې دغه سیستم په را روانه کې د محاسبې د هرې دورې د نغدو پیسو د حالت وړاند وینه وکړي او د نغدو پیسو اوسنی حالت له هغه متوقعه حالت سره چې پخوا په نظر کې نیول شوی وو، پرتله کړي.

- **د بودجې لپاره د اساسي سیستمونو جوړونه:**

اداره باید د کار د پلان او بودجې د جوړونې لپاره، د حکومت د ځانګړو مالي لګښتونو د کوډ په بنسټ، یو ساده بهیر برابر کړي.

د دویمې کته ګورۍ د کړنو موخې، د معیاري محاسبې داسې یو سیستم دی چې د مالي مدیریت نیمګړی سیستم په یو داسې سیستم واړوي چې د محاسبې له سالمو کړونو څخه پیروي وکړي. کیدای شي دغه سیستم به تر ټولو غوره نه وي؛ ولې کیدای شي مناسبه روڼتیا او مالي حساب ورکونه رامنځته کړي. په دې کې باید لاندې توکي شامل وي:

- **د محاسبې د مضاعف سیستم جوړول:**

اداره باید د لګښتونو د ثبت او ریکارډ لپاره مضاعف سیستم برابر کړي. داسې یو سیستم چې په هغه کې د عملیاتي بودجې مازاد/ کسر او ابلاغیې او د بیلانس ورقه موجوده وي. د عوایدو او لګښت د رسیدونو د منلو د وخت لپاره هم باید یو سیستم جوړ شي او د پیسو د تګ او راتګ تفصیل باید د یوې داسې وسیلې په توګه معرفي شي چې د مازاد او د نغدو پیسو د حالت څرګندونه وکړي.

- **د لیجرونو د یوه بشپړ سیټ او د حسابي جدولونو معرفي:**

اداره باید د معیاري لیجرونو یو سیټ معرفي کړي (د بیلګې په ډول، د نغدو پیسو د حسابونو کتاب، د اسمي حسابونو کتاب، د تنخواګانو د ورکړې سند، د تادیې د حسابونو کتاب او داسې نور) او د حسابونو سرلیکونو یو بشپړمعیاري سیټ؛ تر څو ورځنۍ محاسبې په کې ولیکل شي.

- **د پروګرام د بودجې د برابرولو معرفي:**

د بودجې د برابرونې سیستم ته باید له سره سمون ورکړل شي، داسې چې د پروګرام له عمومي موخو نه نیولې، بیا د بودجې د پراخ او لوړې اندازې تشریح په کې وي، چې د هغه په بنسټ به د معیاري حسابونو تر سرلیکونو لاندې د هرې برخې بیلا بیلې بودجې جوړې شي.

- **د بودجې د جوړیدو د بهیر د اټکلولو سمون:**

اداره باید د خپلې بودجې اغیزمنتوب اندازه کړي. دا کار باید په سیستماتیکه توګه له هغه څه سره چې وړاند وینه یې کید، د حقیقي لګښتونو د پرتله کولو او د لویو توپیرونو په ګوته کولو له لارې ترسره شي. که چیرې توپیر د بودجې د بهیر د هغو ستونزو او یا رقمونو له امله را منځ ته شوی وي، چې وړاینډ وینه یې ممکنه وي، نو د بودجې بهیر باید د هغو په بنسټ برابر کړل شي.

- **د عملیاتي او ساتنې د بودجې سیستماتیکه جوړونه:**

د ادارې ثابت لګښتونه، اداري لګښتونه او اضافي لګښتونه باید په روښانه ډول او د بیا بیا پیښیدنې پر بنسټ، د همدغې ادارې په بودجه کې اټکل شي. د نورو لګښتونو په هکله، د متوقعه او حقیقي ارزښت توپیر باید تشخیص شي او د بودجې د جوړیدو د سیستم د ښه والي لپاره د یوه اصل په توګه ورڅخه کار واخیستل شي.

- **د هر اړخیزې پلټنې معرفي:**

اداره باید په منظمه توګه تر داخلي او بهرنۍ پلټنې لاندې را شي او مخکښ مدیران باید د اجرااتو د داسې ښه والي مسوول وګرځول شي چې د پلټونکو لخوا یې غوښتنه شوې وي.

د دریمي کته ګورۍ د فعالیتونو او کړنو د مدیریت موخه داده چې د مالي مدیریت داسې جوړښتونه معرفي کړي چې د مالي معلوماتو او تشکیلاتي کړنو ترمینځ اړیکې پیاوړې کړي. په دغو فعالیتونو کې باید لاندې ټکي شاملې وي:

- **د " کړنو تړون" معرفي کول:**

داسې یو سیستم باید برابر شي چې په هغه کې ولایتي پلان د پلي کوونکي وزارت او د ولایت تر منځ د یوه تړون په توګه وپیژندل شي. داسې چې پلی کوونکی وزارت باید هغه لاسته راوړنې چې په پلان کې ځانګړې شوي، د اړوندې بودجې له مخې چې د

لګښت په ډول ترینه یادونه شوې، لاس ته راوړي. که چیرې د ترون مواد پلي نشي، نو اړونده وزارت مسوولیت لري چې ځینې اصلاحي ګامونه پورته کړي؛ تر څو اړوند واحد دې ته وهڅول شي چې په خپلو کړنو کې سمون راولي.

- **د مدیرانو د حساب ورکونې زیاتول:**

په مالي او بودجوي مدیریت پورې د اړوندو کارکونکو ارزونه باید د کاري کیفیت د پیاوړي مدیریت عناصر له ځانه سره ولري، دا ځکه چې کمزورى کاري کیفیت د کار په راتلونکې، استحقاق، او د مسوولیتونو پر سطحې منفي پرېباسي.

- د کاري کیفیت\پایلو د بودجې جوړونه. د بودجې د جوړېدو بهیر باید پراخ وي؛ دا ډول چې د بودجې د جوړېدو د پیل ټکی د یوه ځانګړي معلوم اثر او پایلې په څیر وي، چې دا به وروسته د بودجې د اندازې او حسابي معیاري سرلیکونو د سیټ په نامه ونومول شي.

- **د مالي مدیریت یو واحد سیستم برابر کړي:**

یو داسې ډیټا بیس باید په لاره واچول شي چې د ادارې د راپور ورکول، د حسابي معاملاتو د بهیر، د بودجې او د محاسبې د ټولو کتابونو معلومات سره را ټول کړي.

- **د دارایي یا پانګې د بودجې جوړولو معلومول**

د ودانولو او د وسایلو او شتو د پالنې بودجه باید د یوه جلا کار په توګه معلومه شي چې د یوه جلا مالي سیستم او عوایدو له لارې تمویل شي.

- **د بودجې د اغیزمنې کارونې پیاوړتیا او ارزونه:**

داسې یو سیستم چې په هغه کې د بودجې اغیزمنتوب، لکه د بودجې د لګښت او اجرااتو سلنه او د بودجې د وړاند وینې سموالی له ځان سره ولري؛ د بودجوي سیستم د لا غوره والي لپاره د یوه اصل په څیر کارول کیږي.

په دې ډول کولای شو ووایو چې د دغو ځانګړتیاوو لرونکو سیستم به تر یو حده غوره او تشویقونکی وي.

## ۳. د پالیسی د پلي کولو لپاره اداري تدبیرونه

### ۳،۱. د سیمه ییزې پلان جوړونې او مالي حسابونو لپاره د کابینې کمیټه

د ټول سیستم د مشرۍ لپاره به د سیمه اییزې پلان جوړونې او مالي چارو په باب د کابینې یوه کمیټه جوړیږي. ددې کمیټې مشرې به د ولسمشر یو مرستیال کوي. د مالې او اقتصاد وزیران او د سیمه ییزو اورګانونو د خپلواکې اداري لوی رییس به یې ګډ مرستیالان وي. ددغې دارلانشاء چارې به د اقتصاد وزارت او د سیمه اییزو اورګانونو د خپلواکې اداري لخوا په ګډه پرمخ وړل کیږي. د کابینې دغه کمیټه به په کال کې درې ځلې راغونډیږي او د سیمه اییزې پلان جوړونې

او مالي چارو په هکله د يوه ګډ وزارتي کاري ګروپ لخوا به يې ملاتړ کيږي. دغه کاري ګروپ به د کابينې تر هرې غونډې وړاندې دوه ځلي ناسته کوي؛ ترڅو د هغو وړانديزونو چې کميټې ته وړاندې کيږي، تخنيکي کتنه او د مسودې چارې همغږی کړي. د کابينې دغه کميټه به د بودجې له کميټې سره له نيږدې کار کوي. ددغو دواړو کميټو په کارونو کې به پراخه همغږي موجوده وي؛ ترڅو د چارو له تکرار او بې ځايه خپلمنځي سياليو څخه مخنيوی وشي.

د سيمه ايزې پلان جوړونې او مالي چارو په هکله د کابينې کميټه به د ټولو مجموعي ملي، سکټوري سرچينو هغه سلنه(فيصدي) ټاکي چې ولايتونو ته به ورکول کيږي. همدا راز به دغه کميټه د ولسي پلان د تمويل لپاره د سکټوري بودجې سلنه، د کليو لپاره د اعطايي پيسو او ښاروالیو ته د ليږدېدونکو پيسو لپاره مجموعي اندازه وټاکي. دا کميټه به د هر وزارت لخوا د ولايتي تخصيص د وړانديز شوي فورمول منظوري ورکوي او د کليو د اعطايي پيسو او ولسواليو ته د ليږديدونکو پيسو لپاره د کارول شوي فورمول بيا کتنه او منظوري به هم کوي. کميټه به همدا راز د لګښت په برخه کې د وزارتونو لخوا خپلو سکټوري واحدونو ته د ورسپارل شويو دندو څارنه کوي او واليانو ته د لګښت په برخه کې د فوق العاده ورکړل شوي واک بيا کتنه او منظوري يې هم له دندو څخه دي. همدا راز به کميټه دنده ولري چې د وزارتونو د هغه کار د اغيزمنتوب ارزونه وکړي، چې له مخې دوی خپل ولايتي سکټوري واحدونه، واليانواو ولايتي شوراګانو ته حساب ورکونکي جوړوي. له دې سره سره به کميټه په سيمه ايزه کچه د پلان جوړونې او مالي چارو د سيستم د مجموعي کاري کيفيت څارنه او بيا کتنه هم کوي.

د سيمه ايزو اورګانونو خپلواکه اداره او د اقتصاد وزارت به د دارالانشا چارې برابروي او ځانګړې دنده به يې د هغو معلوماتو راټولول او وړاندې کول وي چې د ولايتي تخصيص په فورمول کې د کارويدونکو محويلونو قيمت ورکوي.

د پلان جوړونې او مالي چارو په هکله د کابينې کميټه کيدای شي د مسودې مفصله څيړنه وسپاري او د سيمه ايزې پلان جوړونې او مالي چارو په هکله د وزارتونو ګډ کاري ګروپ د دندو بيا کتنه وکړي. ددغه کاري ګروپ په غړو کې به د پاليسی د رييسانو په کچه استازي، لوړ رتبه سلاکاران يا د وزارتونو او هغو موسسو چې په سيمه ايزه کچه کار کوي، هم کچې چارواکي شامل وي.

**۳،۲. د کميټې رولونه او دندې**

د کابينې د سيمه ييزې پلان جوړونې او مالي سيستم کميټه لاندې مسووليتونه لري:

- **د سيمه ييز تخصيص او ليږد لپاره د ملي بودجې ټاکل:**

دغه کمېټه به د ټولې ملي سکټوري بودجې هغه تناسب ټاکي چې په ولایتي کچه(ولایتونوته لیږدیدونکي مجموعي سکټوري بودجه) به کارول کیږي او همدار راز به د ولسي پلانونو د تمویل لپاره د ولایتي سکټوري بودجې او ښاروالیو او کلیو ته د لیږدیدونکو بودجو د ټولې اندازې تناسب هم ټاکي.

- **د تخصیص د منظورۍ او بیا کتنې فورمولونه:**

دغه کمېټه به د ولایتي تخصیص، ښاروالیو ته د لیږد د اندازی او د کلیو اعطایي بودجې د جوړونې فورمول منظوروي. همدا راز دغه کمیته به د دغه فورمول اغیزمنتیا ګوري او که لازمه وي؛ نو د اړینو بدلونونو وړاندیز به کوي.

- **د لګښتونو د دندو بیا کتنه او منظوري:**

دغه کمېټه به د مرکزي وزارتونو او د هغو د ولایتي واحدونو تر منځ د لګښتونو وړاندیز شوی ویشنه منظوروي.

- **د والي د دفتر لخوا د مستقیمو لګښتونو تنظیم او هغو ته اجازه ورکول:**

دغه کمیته به د والي دفتر ته د مستقیم لګښت واک په هغه حالت کې ورکوي، چې په ولایت کې باید اجراات وشي او د ولایت په کچه مناسبه پلې کوونکي موسسه شتون ونه لري. کله چې دغه لګښت منظور شو، دغه کمېټه به د ټول تخصیص د برابرونې رول ولري او د ولایتي تخصیص فورمول ته به چې د سیمه ییزو اورګانونو د خپلواکې ادارې له خوا کارول کیږي، د پلي کولو اجازه ورکړي.

- **د ولایتي ریاستونو لپاره د کاري کیفیت څارنه:**

دغه کمېټه به د ولایتي واحدونو د پلانونو د تطبیق د اجرااتو د هڅونې لپاره سیستمونه ټاکي او د دغو هڅونو اغیزمنتیا به ګوري.

- **په ټولیزه توګه د کړنو د مدیریت سمبالول**

دغه کمیته به د سیستم د اجرااتو څارنه او ارزونه کوي. که چیرې اجراات کمزوري وي، دغه کمیته به د اصلاحي لازمو کړنو وړاندیز کوي او هغه به په احکامو، قوانینو، مقرراتو او پالیسیو کې د بدلون د راوستو تر کچې پورې پرمخ وړي.

دغه کمیته به په کال کې درې ځلې، (غوایي، وږي او مرغومي) په میاشتو کې غونډې کوي.

دهرې غونډې پایله به په لاندې ډول وي:

| غونډه | پایله |
|---|---|
| د غوايي مياشت | • د لګښت په برخه کې د مرکز او ولايتي واحدونو د واک ويش پر سرهوکړه<br>• د واليانو دفترونو ته د لګښت د واک د ورسپالو پر سره هوکړه<br>• ولايتي ادارو ته د سکټوري بودجې د تخصيص ټاکل<br>• د ولسي پلان د تمويل لپاره د ولايتي سکټوري بودجې تناسب ټاکل<br>• د ښاروالیو لپاره د کلني لګښت اټکلول<br>• د کليو لپاره د اعطايي بودجې د اندازې اټکلول |
| د ورې مياشت | • ولايتونو ته د تخصيص په هکله وړانديز شوي ګامونه<br>• د تخصيص\اليږدونو د اټکل لپاره د فورمول په هکله وړانديز شوي ګامونه |
| د مرغومي مياشت | • د ولايتي واحدونو د کاري کيفيت د لا ښه والي لپاره وړانديز شوي ګامونه<br>• د کاري کيفيت ټوليزه ارزونه او په دې اړه وړانديزونه |

د کميټې له هرې غونډې څخه دمخه، د وزارتونو ګډ کاري ګروپ په هرو دو مياشتو کې دوه ځله سره غونډه کوي؛ تر څو لازمې تيارۍ ونيسي.

د مالي د وزير تر مشرۍ لاندې د بودجوي چارو له اوسنۍ کميټې سره د همغږۍ لپاره کړنې؛ تر څو د کارونو له تکرار او بې ځايه خپل منځي سيالۍ څخه مخنيوی وشي. د بودجې په هکله د کابينې د کميټې غړي به د سيمه ايېزې پلان جوړونې او مالي چارو په کميټه کې هم استازيتوب ولري؛ تر څو د دواړو کميټو ترمينځ همکاري او همغږي ډاډمنه شي.

## VI. پلي کول، څارنه او ارزونه

### د سيمه ييزو ادارو د پاليسی پلي کول

دا پاليسي د حکومتوالی په هکله، د هغو اصلاحاتو په لړ کې، لومړی ګام دی چې پر سيمه ايېزه کچه، په نظر کې نيول شوي دي. ددې پاليسی د عملي کولو لپاره به ځينې ګامونه اخيستل کيږي چې په هغو کې د نويو قوانينو، مقرراتو او طرزالعملونو جوړول، په هغو قوانينو، مقرراتو او

طرزالعملونو کې چې له مخکې موجود دي بدلون راوستل، د اداري بدلونونو راوړل او همدارنګه د پالیسی عملي کولو په خاطر، په روانو پروګرامونو کې نوښت او بدلون راوستل او د نویو پروګرامونو معرفي کول شامل دي. د ۱۳۸۸لیږدیز لمریز کال (۲۰۰۹ میلادی کال) په اوږدو کې به ددغو قوانینو، مقرراتو، طرزالعملونو او اداري بدلونونو مینځ ته راتګ پیل او د ۱۳۸۹ او ۱۳۹۲ لمریز (۲۰۱۰-۲۰۱۳ م) کلونو په ترڅ کې به دا پالیسي ورو ورو او په پرله پسې توګه بشپړه پلې شي. دولت به ددې پالیسۍ د پلي کولو له کار سره د مرستې په خاطر، له یو ګډ ملاتړلرونکي مالي میکانیزم څخه کار اخلي.

په کال ۱۳۹۲ لمریز(۲۰۱۳ م) کې به دولت د پالیسۍ د پلي کولو د کار یوه هراړخیزه بیا کتنه تر لاس لاندې ونیسي او په دې ترڅ کې به دولت پردې خبرې غور کوي، چې ایا دغې پالیسۍ خپل ټاکلي موخې لاس ته راوړې دي کنه؟ په ۱۳۹۲ل.ل او ۲۰۱۳ م.کال کې به د پالیسۍ د مسودې جوړولو کمیټه او ورسره د پالیسۍ د بیا کتنې کمیټه، یو ځل بیا راغونډیږي؛ ترڅو په پالیسۍ کې د نورو بدلونونو په هکله پریکړه وکړي، چې دا کار به د وخت له غوښتنو سره سم، په افغانستان کې د سیمه ایيزې حکومتوالۍ د سمون او نور ښه کولو د هڅو پایښت وي. دولت به د سیمه ایيزې حکومتوالۍ په هکله د قوانینو د سمون تخنیکي د کاري ګروپ (LRTWG) یوه فرعي کمیټه جوړوي. ددغې فرعي کمیټې مشري به د عدلې وزارت، د تقنین ریاست او د سیمه ایيزه اورګانونو خپلواکې اداري پرمخ وړي. هغه وزارتونه به چې له نویو جوړیدونکو یا بدلون په حال کې قوانینو سره، تړاو ولري، ددغې فرعي کمیټې دایمي غړي وي . ددغې کمیټې لوی مسئولیتونه به دا وي چې د نویو قوانینو او مقرراتو مسوده او هم په شته قوانینو کې، د په پام کې نیول شوو بدلونونو مسوده تیاره کړي؛ ترڅو ددغې پالیسۍ مسوده په ۱۳۸۸ ل.ل کال کې ملي شورا ته د وړاندې کولو لپاره چمتو شي. دولت به ددغې پالیسۍ د عملي کولو لپاره ټول اړین قوانین او مقررات په نظر کې ونیسي او دی کار ته به لومړیتوب ورکړي. دا به د ۱۳۸۷ کال په دویمې نیمایې او د ۱۳۸۸ کال په لومړۍ نیمایي کې، د قانون جوړونې د مسودې د کلنې پلان یوه نه بیلیدونکې برخه وي.

- **د سیمه ییزو ادارو حقوقي چوکاټ ته له سره کتنه:**

یو حقوقي دفتر چې د سیمه ییزو ادارو حقوقي چوکاټ ځاري لا له مخه شتون لري. حقوقي چوکاټ د قوانینو د راټولو لپاره یو داسې تفصیلی شرط دی چې یوه واحده کړنلاره جوړوي؛ تر څو پالیسی او یا هدف ته په رسیدو کې مرسته وکړي. د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکې ادارې د سیمه ییزو ادارو لپاره دغه موجوده حقوقي چوکاټ څیړلی، چې په هغه کې ددی چوکاټ کمزورتیا، پیاوړتیا او د داسې یوه حقوقي اغیزمن او واحد چوکاټ د جوړیدو لپاره فرصتونه شامل دي چې د روڼتیا، برخه اخیستنې، حساب ورکونې، ګټورتوب او اغیزمنتیا د اصولو پیروي کوي. ددې څیړنې په پایله کې دا معلومه شوه چې د سیمه ییزو ادارو موجوده حقوقي چوکاټ په تدریجی ډول تسوید شوی او یوه داسې سراسری پالیسی نه لري چې د یو واحد داسې چوکاټ جوړیدو ته لاره اواره کړي چې د سیمه ییزو ادارو لپاره د یو غوره

سیستم بنسټ جوړ کړي. که څه هم نور قوانین د سیمه ییزو اورګانونو په هکله پوره ځانګړني او وضاحت نه لري؛ ولې اساسي قانون د سیمه ایيزوادارو لپاره حقوقي بنسټ دی. د سیمه ییزو ادارو په اړوند مقننه ترکیب کې د همغږی او وضاحت کمښت په مقننه، موسساتي او تنظیمي چوکاټ کې د درز د رامنځ ته کیدو سبب شوی. عملیاتي مقررات، موسساتي او وظیفوی مسوولیتونه او همدا راز د سیمه ییزو ادارو د بیلابیلو دفترونو تر منځ ذات البینی اړیکي نه یوازې چې په ځینو حالاتو کې سره مخالفي دي، بلکې یو واحد چوکاټ هم نه جوړوي. ددې په یوه برخه کې کیدای شي د سیمه ییزو ادارو لپاره پخوا تر دې د پالیسی له نشتوالی څخه یادونه وشی او دا هم کیدای شي ووایو چې د سیمه ییزو ادارو اړوند قوانین پرته له دې چې په دې فکر وشی چې دغه بیلابیلې برخې به څنګه سره راټولیږي، په تصادفی ډول تسوید او تعدیل شوي. د سیمه ییزې ادارو د پالیسی د پلي کولو لپاره لازمي شرط دادی چې د قوانینو یو داسې سیټ تسوید شي چې په سیمه ییزه کچه د پورته یادو شویو ادارو رول او مسولیتونه، خپل مینځي او د دوی او مرکز تر منځ اړیکې په ګوته کړي. په اوسنی حال کې د ټولو قوانینو نوی کولو ته اړتیا نشته. مخکې له دې چې د سیمه ییزو ادارو پالیسی پلې شي، د سیمه ییزو ادارو د حقوقي چوکاټ ډیر شمیر قوانین باید بدل شي.

د سیمه ییزو دفترونو په قانون کې د وضاحت او ځانګړنو نشتوالي ته په پاملرنې او همدا راز په دې پالیسی کې د والیانو او ولسوالانو د رول او مسوولیت د بدلون په پام کې نیولو سره، لازمه ده چې دغه قانون له سره جوړ شي. وزارتونه او د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکه اداره به موجوده قوانین له پالیسی سره پرتله کوي؛ تر څو معلومه کړي چې په موجوده قوانینو کې څنګه بدلون راوستل شي، کوم قوانین دي چې باید له سره جوړ شي او د قوانینو منځپانګه باید څه وي؛ تر څو د پالیسی اغیزمن پلي کول باوري کړي.

**هغه قوانین چې له نوي سره بیا جوړیدلو ته اړتیا لري په لاندې ډول دي:**

۱. د سیمه ییزو ادارو قانون
۲. د ښاراليو په هکله قانون چې د ښاروالیو د شوراګانو په اړه قانوني مادې هم پکې شاملې وي
۳. د ولسوالیو د شوراګانو په هکله قانون
۴. د کلیو د شوراګانو په هکله قانون
۵. د سیمه ییزې پلان جوړونې او مالي چارو په اړه قانون او مقررات
۶. معلوماتو د لاسرسی د حق درلودلو قانون
۷. د ښځو لپاره د مثبت توپیر(تبعیض) قانون
۸. د وزارتونو له خوا خپلو ولایتي او د ولسوالی واحدونو ته د واک سپارلو په هکله قانون
۹. په سیمه ییزه حکومتوالی کې د مدني ټولنې د ګډون په هکله قانون

**هغه قوانین چې بیا کتنې ته اړتیا لري په لاندې ډول دي:**

۱. د ولایتي شوراګانو په اړه قانون
۲. د ټاکنو قانون
۳. د عامه مالي چارو او لګښتونو د مدیریت په اړه قانون
۴. د ۱۳۸۴ لمریز ( ۲۰۰۵م) کال د تدارکاتو قانون، او د ۱۳۸۶ لمریز (۲۰۰۷ م) کال د عامه تدارکاتو د کړنلارې قواعد
۵. د مالي پلټنې په هکله قانون (د پلټنې د ادارې قانون ۱۳۴۱)
۶. د ملکي کارکونکو په اړه قانون ( دا قانون په کال ۱۳۸۷ کې د ملکي خدمتونو د قانون پر ځای مینځ ته راغلی
۷. د ولایتي اداري مجلس په هکله قانون
۸. د پولیسو قانون
۹. د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د جوړښت، دندو او مکلفیت په هکله قانون (کال ۱۳۸۴ )
۱۰. د خبري رسنیو په هکله قانون
۱۱. د کلیو د پرمختیایي شوراګانو په هکله قانون
۱۲. د نشه یي توکو پر ضد قانون. کال ۱۳۸۴ (۲۰۰۵م)
۱۳. د ځمکو د مدیریت قانون
۱۴. د ځمکو د استملاک قانون (د شتمنۍ د ترلاسه کولو قانون)
۱۵. د چاپیریال ساتنې د مدیریت قانون (د چاپیریال ساتنې په اړه قانون)
۱۶. د سر شمیرنې په هکله قانون
۱۷. د اداري فساد او درغلۍ پر ضد د ستراتیژۍ له پلې کولو څخه د څارنې قانون، کال ۲۰۰۸
۱۸. د ناوړه طبعي پیښو د اغیزو د راکمولو د مدیریت قانون
۱۹. د پوهنې یا زده کړې په هکله قانون
۲۰. د محکمو د واک او جوړښت په هکله قانون
۲۱. د لوی څارنوال د دفترد واک او جوړښت په هکله قانون
۲۲. په ناقانونه توګه د موادو له ذخیره کولو او احتکار څخه د مخنیوي په هکله قانون کال ۱۳۷۴

**هغه مقررات چې بدلون ته اړتیا لري په لاندې ډول دي**
۱. د ښاروالیو د خدمتونو په بدل کې د مالیو (فیسونو) د ورکړې په اړه قانون
۲. د ښارونو د ززغونولو او پاک ساتلو په اړه مقررات
۳. د ښارونو د پاک ساتلو په بدل کې د مالیو د ورکولو په هکله مقررات
۴. په ښاري سیمو کې د موټرونو لپاره د تم ځایونو (پارکنګ) د جوړولو په بدل کې د مالیو د اخیستلو په هکله مقررات
۵. د ښاروالۍ د شتمنیو لپاره د کرایو د ټاکلو په هکله مقررات
۶. د کابل ښار لپاره د ماستر پلان د پلې کولو په هکله مقررات، کال ۱۳۷۹ (۲۰۰۰م)
۷. په کابل ښار کې د هستوګنې او لوړپوړو ودانیو لپاره د نومرو د ویش او خرڅلاو په اړه قانون ( په کابل ښارکې د دولتي ځمکو د ویش او خرڅلاو په هکله فرمان)
۸. په کابل ښار کې د کور جوړولو د پروژو په هکله مقررات ( پنځه ویشت کلن پلان)

۹. د ملکي مامورينو لپاره کړندود

**هغه مقررات او لارښودنې چې بايد له نوي سره تسويد کړل شي په لاندې ډول دي:**

۱. په راتلونکو برخو کې د سيمه ييزو ادارو د پاليسی د پلي کولو په اړه لارښوونې:د پاليسی د پلي کولو د بيا کتنې د کميټې جوړيدل، مکلفيتونه او کار کول، د سيمه ييزې پلان جوړونې او مالي چارو په اړه د کابينې کميټه، د پاليسی د پلي کولو کميټه، د پاليسی د پلي کولو په هکله وزارتي کاري گروپونه، د پلي کولو او څارنې کميټه، د سيمه ييزو ادارو په اړه د قانون د اصلاحاتو د تخنيکي کاري گروپ کميټه، د سيمه ييزو ادارو لپاره د مرستندويه سازمانونو د همغږۍ کميټه او د سيمه ييزو ادارو په اړه د مدني ټولنې د همغږۍ کميټه

۲. په سيمه ييزه کچه د پلان او بودجې جوړولو په هکله لارښوونې

۳. د حکومتي ادارو تر مينځ د مالي ليږد په اړه لارښوونې

۴. د سيمه ييزه مالي مديريت په اړه عملياتي لارښود

۵. په سيمه ييزه اداره کې د ټاکل شوو (انتخابي) کارکونکو لپاره اخلاقي اصول او د انتصابي کارکونکو لپاره د داخلي دندو کړندود

۶. د واليانو، ولسوالانو او والي د مرستيالانو د مقررلو په هکله لارښوونې

۷. د پوليسو لپاره د دندو د کړندود د پلي کولو په هکله لارښوونې

۸. د ځمکې د ثبت او راجستر په اړه مقررات

۹. د کليو د نقشې اخيستلو او پولو او حدودو د معلومولو په هکله مقررات

۱۰. د ټاکنو له لارې رامينځ ته شوو شوراګانو (ولايتي شورا، د ولسوالۍ شورا، د ښاروالۍ شورا او د کلي شورا) د ظرفيت د لوړولو په هکله مقررات

۱۱. په سيمه ييزو ادارو کې د عامه اداري سمونونو (اصلاحاتو) په اړه مقررات

۱۲. په سيمه ييزه کچه د گمارل شويو کارکونکو د روزنې په هکله مقررات

۱۳. د سيمه ييزو حکومتي ادارو د کاري کيفيت د اندازه کولو په هکله مقررات

۱۴. د عامه خدمتونو د معيارونو د جوړولو، پلي کولو او څارلو په هکله مقررات

۱۵. د ښاروالیو په اړه مقررات

**پرمختيايي پروگرامونه**

۱. د افغانستان د سيمه ييزو ادارو د اکاډمۍ جوړول

۲. د پوهنتونونو د فارغانو لپاره د کاري روزنې د پروگرامونو پراخول

۳. د افغانستان د ثبات دټينګښت پروگرام د سند اصلاح؛ تر څو د بنسټيزو اسانتياوو په اړه مادي هم پکې شاملې شي، چې په هغو کې د ودانۍ لپاره پوره ځای، کمپيوټرونه، د اړيکو اسانتياوې، موټرونه، ميزونه، څوکۍ او داسي نور، د نارينه وو او ښځينه وو لپاره جلا جلا تشنابونه او د کار په ځای کې د ماشومانو لپاره د پاملرنې د مرکزونو جوړول شامل دي. يادې شوې اسانتياوې بايد د ټاکل شوو شوراګانو په ټولو دفترونو، سيمه ييزه دولتي دفترونو او ښاروالیو کې شتون ولري

۴. د ځمکو د ثبت او راجستر په هکله پروگرام

۵. د نقشې اخيستلو له لارې د کليو د پولو ټاکلو په هکله پروگرام

۶. د ټاکل شويو شوراګانو(ولايتي شورا، د ولسوالۍ شورا، د ښاروالیو شورا او د کلي شورا) د وړتيا (ظرفيت) د لوړولو په هکله پروگرام

۷. د ښاروالیو ادارو د پرمختيا پروگرام

۸. په سيمه ييزه کچه د عامه اداري اصلاحاتو په اړه پروگرام

۹. په سیمه ییزه کچه د ګمارل شوو مسولینو د روزنې پروګرام
۱۰. د سیمه ییزه پلان جوړونې، سیمه ییزې بودجې، سیمه ییزه مالي مدیریت او د دولتي ادارو تر منځ د مالي لیږد په برخو کې د ظرفیت د لوړولو پروګرام
۱۱. د سیمه ییزو حکومتي ادارو لپاره د کاري کیفیت د اندازه کولو پروګرام
۱۲. د عامه خدمتونو د معیارونو د جوړولو، پلي کولو او څارلو په هکله پروګرام

**د ښاروالیو په اړه به په څلوراتیا (۸۴) بیلابیلو برخو کې شل (۲۰) مقررې جوړې شي:**

**د ښاروالیو تعریف، مینځ ته راوړل (تاسیس)، ګډول (ادغام) او لغوه کول**
۱. د ښاروالیو د مینځ ته راوړلو لپاره معیارونه
۲. د ښاروالیو د مینځ ته راوړلو، ګډولو او لغوه کولو بهیر
۳. د ښاروالیو یو له بل سره د ګډولو په هکله شرطونه
۴. د یوې ښاروالۍ د لغوه کولو په هکله شرطونه

**د ښاروالیو ډلبندي**
۱. د ښاروالیو د ډلبندۍ اسباب
۲. د معیاري نوم ایښودلو اصول

**د ښاروالیو دندې**
۱. د ښاروالیو بنسټیزې یا حتمي دندې
۲. د ښاروالیو اختیاري دندې
۳. له یوه تشکیلاتي موډل څخه بل ته د بدلیدلو لپاره معیار او بهیر
۴. د څوکیو معیاري ډلبندي او نومونه، د زیانونو د جبرانولو لپاره جوړښتونه او د دندو او مسولیتونو لارښود

**د مدیریت سیستمونه**
۱. داسې مقررات چې د نورو تر څنګ د پرمختیایي پلانونو، پانګې اچولو د پروګرامونو، بودجې جوړولو، محاسبې، تدارکاتو او لوجیستیکي مدیریت او ثابتو شتمنیو د مدیریت په اړه سیستمونه او کړنلارې په ګوته کړي
۲. د ښاروالیو له خوا د داسې سیستم د خپلولو په ترڅ کې له هغوی څخه د مرکزي حکومت ملاتړ
۳. د مرکزي حکومت له خوا د دې څارنه چې کارونه څومره له سیستم سره سم پرمخ ځي
۴. د نویو سیستمونو د خپلولو په لار کې انتقالي دوره او اړین اجراآت
۵. له سیستم سره د سم کار نه کولو په ترڅ کې مجازات او د ښه کار کولو په بدل کې مکافات

**پرمختیایي اداره**

۱. د هیواد په کچه د ټولنیزې اقتصادي پرمختیا موخې چې هغو ملي ارمانونو ته انعکاس ورکونکې وي چې د سلا مشورو او عامه ګډون د بهیر له لارې څرګندې شوې وي

۲. له لاندې څخه پورته بهیر پر بنسټ ولاړ داسې سیستمونه او کړنلارې چې د خلکو لومړیتوبونو ته انعکاس ورکړي او تر څنګ یې له پورته څخه کښته داسې پلان جوړونه چې د سرچینو شتون هم په پام کې ونیسي

**د ښاروالیو اقتصادي تشبثات**

۱. د ښاروالیو په اقتصادي تشبثاتو کې پانګه اچول
۲. اقتصادي تشبثات باید د خصوصي سکتور د پانګې په ګډون بهرنیو سرچینو څخه پورونو ته لاسرسی ولري
۳. پر خدمتونو باندې د لګښت د جبران کولو د فیس او سبسایډی، له پانګې اچولو څخه د لاس ته راغلې ګټې، او پر خدمتونو باندې د مالیې د لګولو په اړه لارښوونې
۴. عامه محاسبو او د مالي پلټنې په اړه هغه قواعد او مقررات چې د ښاروالیو پر اقتصادي تشبثاتو یې اطلاق کیږي
۵. په دې اړه مقررات چې د ښاروالیو اقتصادي تشبثاتو له خوا تر لاسه شوې ګټه به چیرې او په څه ډول کارول کیږي او یا ددغو تشبثاتو له خوا شوی تاوان به څنګه او په څه ډول جبران مومي

**د کاري کیفیت مدیریت**
۱. د ښاروالیو د کاري کیفیت د مدیریت لپاره اداري او انفرادي دندې او مسولیتونه
۲. د ښاروالیود کار د کیفیت په ترڅ کې د ټاکل شویو موخو د لاس ته راوړلو لپاره د هیواد په کچه د موخو اومقصدونو د ټاکلو لپاره کړنلارې
۳. پر دوره یي اساس د ښاروالیو د کاري کیفیت د ارزونې او د هغه د راپور ورکولو په اړه بهیر او مهال ویش
۴. د مجازاتو او مکافاتو لپاره میکانیزم

**د وړتیا (ظرفیت) لوړول**
۱. د ښاروالیو په کچه د وړتیاوو د لوړولو په هکله اداري او انفرادي مسولیتونه
۲. د ښاروالیو د وړتیاوو د زیاتولو لپاره د ملي او ښاروالیو د بودجې د تخصیص په اړه لارښوونې
۳. د ښاروالیو په کچه د عامه اداري اصلاحاتو د پلي کولو په هکله اداري او انفرادي مسولیتونه، لارښوونې او کړنلارې

**ښاروال او د ښاروال مرستیال**
۱. د ښاروالی د مسولینو د خدمت د مودې، له کاره د ګوښه کولو او بیا ټاکلو په اړه لارښوونې
۲. د ښاروالانو لپاره کاري تجربه او وړتیا
۳. د ښاروال او د هغه د مرستیال دندې

**انتصابي (ګمارل شوي) مسولين**

۱. د وړتيا پر بنسټ د ټاکلو او استخدامولو په اړه لارښووني
۲. د مشوقونو، مجازاتو او مکافاتو په ګډون د بشري سرچينود مديريت يو داسې سيستم چې د کاري کيفيت پربنسټ ولاړ وي
۳. د څوکيو د ډلبندۍ او نوم ايښودلو يو معياري سيستم
۴. د زيان د بيرته ورکړې لپاره يو معياري مهال ويش
۵. د ظرفيت د لوړولو پروګرام

**د ښاروالیو شوراګانې**

۱. دندې
۲. له اجراييه قوې سره په لاندې برخو کې د ښاروالیو د انتخابي شوراګانو اړيکې بايد ښې رڼې او څرګندې وي : د اړيکو کچه، استازيتوب، د څوکيو نوم ايښودنه، غونډې، کړندود، د شوراګانو د غونډو د بهير څرنګوالی، په غونډو کې د شويو پريکړو مشروعيت، د شوراګانو واک، حساب ورکونه، له محاکمه کيدو څخه خونديتوب، دا چې د ښاروالیو شوراګانې د محکمو د پريکړو تابع دي، او د سرچينو تخصيص

**د ښاروالیو له خوا د عوايدو لاس ته راوړل**

۱. د شتمنيو د بيې او د ماليو د قيمت ټاکلو په ګډون، پر شتمنيو باندې د ماليو د قانون د پلې کولو په هکله لارښووني
۲. د هيواد، ولايت او ښاروالۍ په کچه د شتمنيو د ماليو د قانون د پلي کولو په اړه اداري او انفرادي مسوليتونه
۳. د هغه چا لپاره چې د ښاروالیو د کار څيړنه کوي د لياقت او تجربې معيارونه
۴. د عوايدو له سرچينو څخه د ګټې اخيستلو او د هغوی لپاره د قيمت ټاکلو لپاره لارښووني او بهيرونه
۵. د ښاروالۍ له خوا د عوايدو اداره او د راپور ورکولو سيستم
۶. د ناقانونه ماليو د ټولولو او ښاروالیو د عوايدو په هکله له قوانينو او مقرراتو سره د سم چلند نه کولو په صورت کې مجازات

**د ښاروالیو بودجه او د پانګې اچولو په اړه پلان جوړونه**

۱. د نوي بودجوي سيستم د خپلولو په ترڅ کې د ښاروالیو لپاره اجراآت، مهال ويشونه او انفرادي او اداري مسوليتونه
۲. د ښاروالیو لپاره بيا کتل شوی بودجوي سيستم، کړنلارې او بڼه، چې په دې کې د بودجې جوړولو، بيا کتنې او منظورۍ په برخو کې انفرادي او اداري مسوليتونه شامل دي
۳. د بودجې له اجرا څخه د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو په هکله بهيرونه، کړنلارې، مهال ويش او انفرادي او اداري مسوليتونه

۴. د بودجې جوړولو په بهیر کې له لاندې څخه پورته سلامشورو لپاره بهیرونه، کړنلارې او کره او مستند شواهد
۵. ددې لپاره چې د ښاروالیو د پانګې اچولو وړاندیزونه تر کومه حده د پلې کولو وړ دي، د مطالعاتو د سرته رسولو په هکله لارښوونې
۶. د بودجې له معیارونو، کړنلارو او مهال ویش سره د سم عمل نه کولو پر وخت مجازات

**د حکومتي ادارو خپل مینځي مالي اړیکې او پور اخیستل**

۱. د مرکزي حکومت له لوري ښاروالیو ته د مالي لیږد په اړه معیارونه، لارښوونې او کړنلارې
۲. په ښاروالیو کې د خصوصي سکتور د اړینو خدمتونو د تولید او وړاندې کولو په اړه موډلونه، لارښوونې او کړنلارې
۳. د ښاروالیو د بودجې د کسر لپاره معیارونه، لارښوونې او د منظورۍ بهیر او کړنلارې
۴. د ښاروالیو له لوري له کورنیو او یا بهرنیو سرچینو څخه د پور اخیستلو په اړه معیارونه، لارښوونې او د منظورۍ بهیر او کړنلارې، چې د پور د خدمت نسبت او نور مالي خنډونه هم په دې ترڅ کې راځي

**مالي مدیریت او راپور ورکول**

۱. د ښاروالیو د مالي مدیریت د سیستم د جوړولو او پلې کولو په هکله انفرادي او اداري مسولیتونه
۲. د ښاروالیو لپاره د مالي راپور ورکولو سیستم او کړنلارې
۳. د محاسبو بیا کتل شوي جدولونه
۴. د ښاروالیو لپاره د محاسبې د مضاعف سیستم معرفي کول
۵. مالي قواعد، د راپور ورکولو بڼې او مهال ویشونه
۶. د ښاروالیو دننه د کنټرول سیستم
۷. د داخلي او بهرنۍ مالي پلټنې لپاره اړتیاوې او کړنلارې
۸. له مالي قواعدو، کړنلارو، شکلونو او راپور ورکولو سره د سم کار نه کولو په صورت کې مجازات او تعذیر
۹. د څارنې او نظارت د یوې ادارې په توګه د ښاروالۍ د شورا رول

**له ولایتي ادارې سره اړیکې**

۱. د ښاروالۍ او د ولایتي ادارې تر مینځ د دندو ویش
۲. او ولایتي ادارې ته د ښاروالیو له خوا د راپور او حساب ورکونې تعریف
۳. د ولایتي ادارې له خوا د ښاروالیو د کار څارنې په اړه لارښوونې
۴. د ولایت او ښاروالیو د لومړیتوبونو ترمینځ د همغږۍ په هکله لارښوونې

**له نورو ښاروالیو او ولسوالیو سره اړیکې**

۱. د ولسوالیو او ښاروالیو تر مینځ د اړیکو په هکله لارښوونې
۲. د ښاروالیو لپاره د ټولنو یا انجمنونو د جوړولو منشور

**د خلکو ګډون**

۱. د خلکو د ګډون د پلي کولو لپاره د ښاروالیو حقوقي چوکاټ
۲. د خلکو د ګډون لپاره تشکیلاتي او عملیاتي چوکاټ
۳. د خلکود ګډون لپاره اجراآت
۴. د خلکو د ګډون سکتورونه
۵. د ښاروالیو او خلکو دواړو د اړوندو وړتیاوو لوړول
۶. د عامه ګډون لپاره معیارونه
۷. د عامه ګډون لپاره د پیل ټکی
۸. د خلکو له ګډون سره تړلي بهیرونه
۹. مهمو معلوماتو ته د خلکو د لاسرسي په اړه میکانیزم

**د ښاروالیو په اقتصادي پرمختیا کې د خصوصي سکتور رول**

۱. په سیمه ییزې اقتصادي پرمختیا کې د خصوصي سکتور د ګډون دایره
۲. د مقرراتو او مشوقونو چوکاټ
۳. د ښاروالۍ د ادارې هغه وړتیاوې او ځانګړتیاوې چې خصوصي پانګه به راجلب، د سوداګرۍ لګښت را کم او د ښاروالۍ اداره به خصوصي پانګه اچونې ته نوره هم پرانیزي

د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکه اداره له خپل مکلفیت سره سم د سیمه ییزې ادارې او د ولایتي شوراګانو قوانین او نور دا ډول قوانین تسوید او تعدیلوي.
کوم وزارتونه چې د ځانګړو برخو په قوانینو کې یې بیا کتنې ته اړتیا لیدل کیږي، هغوی باید د دغو قوانینو په تسوید او بدلولو کې مخکښ رول ولري او باوري کړي چې دغه قوانین د قانون جوړونې خپل بهیر وهي. ددې بهیر په ترڅ کې به د قانون مسوده لومړی د عدلی وزارت  د تقنین د څانګې لخوا کتل کیږي، وروپسې به د وزیرانو د شورا د تقنین کمیټه د هغه منظوري ورکوي او په پای کې به  د ملي شورا لخوا تصویب او د ولسمشر لخوا به تایید کیږي.

د مقننه بهیر د ازمایښتي پرمختګ لپاره عملیاتي ویش په لاندې ډول دی:

- د ۲۰۰۹ لمریز کال تر فبروري پورې به د یاد شوی قانون مسوده  د چارو ادارې ته ددې لپاره سپارل کیږي چې مقننه بهیر ووهي.
- د چارو اداره د عدلي وزارت له لارې د تقنین څانګې ته دنده سپاري چې په مسوده باندې کار وکړي.

- د تقنین څانګه به د قانون مسوده له اسلامي شریعت او اساسي قانون سره د مطابقت په خاطر ګوري او دا به په ډاګه کوي چې یاده شوې مسوده له نافذو قوانینو سره په ټکرکې نه ده
- د تقنین څانګې لخوا تعدیل شوې او تایید شوې مسوده به د ۲۰۰۹ زیږدیز کال د اپریل تر میاشتې پورې هغو وزارتونو ته لیږل کیږي چې د اړوند قانون په منظورۍ کې مکلفیت لري
- د ۲۰۰۹ زیږدیز کال د مې میاشت کې د نوموړو وزارتونو د منظورۍ له ترلاسه کولو وروسته به نوموړې مسوده بیرته د چارواداري ته سپارل کیږي. د چارو اداره به وروسته نوموړې مسوده د وزیرانو شورا د قانون جوړوني کمیټې ته استوي
- د ۲۰۰۹ زیږدیز کال د جون په میا شت کې به د وزېرانو شورا نوموړې مسوده منظوروي
- د ۲۰۰۹ زیږدیز کال د جولای په میاشت کې به د چارو اداره نوموړې مسوده ملي شورا ته استوي
- ولسي جرګه به نوموړې مسوده اړوند کمیسیون ته د بیا کتنې لپاره سپاري. ولسي جرګه د قانون مسوده منلی، ردولی او هم بدلون پکې راوستلی شي
- یو ځل چې د مشرانو جرګې د قانون مسوده منظور کړه؛ نو بیایي بیرته د وزیرانو شورا ته استوي. او شورا يې بيرته د چارو ادارې او د وزیرانو شورا دارالانشا ته او دغه اداره يې بيرته د بیا کتنې لپاره د عدلې وزارت د تقنین څانګې ته لیږي. د چارو اداره په دې باب چې ایا دغه مسوده لاسلیک او د قانون بڼه پیداکړي که نه، خپل نظرونه د ولسمشر په واک کې ورکوي
- ولسمشر د قانون د خپریدو لپاره خپل حکم صادروي. د تقنین څانګه د قانون د سموالي په اړه ډاډ ورکوي او وروسته تردې دا قانون په رسمي جریده کې خپریږي.

**هغه نورې لارې چارې چې د قانون جوړونې د بهیر لپاره په لاندې ځانګړیو حالتونو کې کارول کیږي:**

1. د سیمه ییزواورګانونو خپلواکه اداره او سکتوري وزارتونه له ولسي جرګې سره د اړوندو قوانینو په جوړونه کې کار کولای شي. د ولسي جرګې تر منظورولو او د ولسمشر له توشیح وروسته قانون په عملي توګه نافذیږي. د تقنین څانګه په وروستۍ نیټه او پړاو کې قانون له اساسي قانون سره د سمون په موخه ګوري.

2. که یو اړوند وزارت ولسي جرګې د رخصتیو په دوران کې، د یوه قانون مسوده د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي؛ نو د وزیرانو شورا نوموړې مسوده ګوري او تر تصویب او تصدیق وروسته یې ولسمشر ته د توشیح لپاره استوي. د تقنین څانګه به نوموړې قانون ته له اساسي قانون سره د سمون د ډاډ په موخه بیا کتنه کوي. حکومت د ولسي جرګې د رخصتۍ پر مهال، له بودجې او اقتصادي چارو پرته، یوازې د بیړنۍ حالت په وخت کې د قانون جوړونې چاره خپلولای شي. د ولسمشر تر لاسلیك وروسته دغه سند د قانون بڼه غوره کوي. د قانون جوړونې فرمان ملي شورا ته د ملي شورا د لومړۍ غونډې له پیل څخه په دیرشو (۳۰) ورځو کې وړاندې کیږي. د ولسي جرګې لخوا د ردولو په وخت کې قانون باطلیږي. دا لار یوازې په لږو او هغه هم په بیړنیو حالتونو کې چې بودجې او اقتصادي چارې په کې نه وي ذکر شوې، کارول کیږي. ځکه دا د واك د ویش مفکوره چې اساسي قانون یې ملاتړ کوي، کمزورې کوي.

- هغه قوانین چې بدلون ته اړتیا لري ډیر ژر به ولسي جرګې ته وړاندې شي.
- **د پلي کیدو لپاره د اصولو او مقرراتو جوړول:**

د اړوندو قوانینو له جوړولو او تعدیلولو څخه وروسته، د پلي کیدو لپاره باید د ځانګړي حالت لرونکې اصول او مقررات جوړ شي تر څو وښیي چې د قانون او پالیسۍ بیلا بیلې خواوې څنګه پلي شي. د وزارتونو ګډه کمیټه به پر اصولو او مقرراتو د مشورې لپاره جوړه شي. دغه ګډه کمیټه به له خلکو سره پر اصولو او مقرراتو د سلا مشورې په اړه هم مسؤله وي. تر داسې مشورو وروسته اصول او مقررات د پلي کیدو لپاره تصویبیږي.

- **د پالیسۍ د پلي کیدو بیا کتنه:**

حکومت به په ۲۰۱۳(۱۳۹۲) کال کې د پالیسۍ د پلي کیدو په اړه یوه هر اړخیزه بیا کتنه کوي. حکومت به په دې بیا کتنه کې معلوموي چې د کړنلارې مواد په دې بریالي شوي چې تر نظر لاندې موخې تر لاسه کړي او که نه. دا بیا کتنه به حکومت ته دا وړتیا ورکړي چې خپلې پالیسۍ په داسې یو ډول عیارې کړي چې د موخو په ترلاسه کولو کې آسانتیاوې برابرې کړي.

- **د پالیسۍ تعدیل:** د کړنلارې د تسوید بیا کتنې کمیټه به په ۲۰۱۳ (۱۳۹۲)زیږیز کال کې په پالیسۍ کې د لا ډیرو بدلونونو د رامنځ ته کولو لپاره له سره جوړیږي او په دې توګه به د افغانستان د سیمه ییزې حکومتوالۍ د اصلاحاتو او د ښه والي راوستو هڅو ته دوام ورکوي

**د سیمه ییزې حکومتوالۍ لپاره د قانون د اصلاحاتو د تخنیکي-کاري ډلې فرعي کمیټه:**

د قانون د اصلاحاتو تخنیکي-کاري ډله په ۲۰۰۶ کال کې د افغانستان ملي پراختیایی استراتیژۍ او په قانون جوړونې پورې اړوند موخو د اصلاحاتو د ترلاسه کولو او د نورو قانوني اصلاحاتو د پرڅای کولو لپاره جوړه شوه. د قانون د اصلاحاتو تخنکي کاري ډله دا باوري کوي چې قوانین له اساسي قانون د افغانستان له اړتیاوو او له نړیوالو معیارونو سره سم دي. د قانون د اصلاحاتو تخنیکي کاري ډله د عمل د پلان او شته سرچینو سره سم د قانون د تسوید، بدلول او بیا کتنې لپاره د بهیر او وخت د ټاکلو لپاره لومړیتوبونه غوره کوي. حکومت به د سیمه ییزې حکومتوالۍ لپاره د قانون د اصلاحاتو د تخنیکي کاري ډلې فرعي کمیټه جوړه کړي. د فرعي کمیټې ملي مشرتوب به د سیمه ییزواورګانونو له خپلواکې اداري او د عدلې وزارت د تقنین له څانګې سره وي. نړیوال دایمي غړي به نړیواله مرسته او همغږی رامنځ ته کوي. هغه وزارتونه چې د قوانینو د تسوید او بدلولو طبیعي کورګتل کیږي، هغوی به د فرعي کمیټې دایمي غړي وي.

د سیمه ییزې حکومتوالۍ د فرعی کمیټې لوی مسؤلیتونه به ددې پالیسی د پلي کیدو لپاره د نویو قوانینو تسوید او په شته قوانینو کې تعدیل راوستل وي. د فرعي کمیټې ګډ رییسان به ددې پالیسۍ د پلي کیدو لپاره د ټولو قوانینو د تسوید وړ بهیر او پلان جوړ کړي، د قانون د اصلاحاتو تخنیکي کاري ډله به له نورو کمیټو سره په سلا مشوره د ټولو قوانینو د پښتو او دري استول شوېو مسودو بیا کتنه وکړي او د امکان په وخت کې به دارالانشا ته برېښنایي کاپي هم ولیږي، او یو داسې لیک چې په کې به د سیمه اییزې حکومتوالۍ فرعی کمیټې ته وخت ورکړل شوی وي چې له خپل مشرتابه او دارالانشا سره له مشورې وروسته د سیمه ییزواورګانونو خپلواکې ادارې او د عدلی وزارت ته خپل نظریات راولیږی، لیږل کیږي. د سیمه اییزې حکومتوالۍ د فرعي کمیټې د ټولو هغو غړیو چې د قانون د یوې برخې د جوړونې په څانګړې ناسته کې یې ګډون کړی وي، د نومونو او ټیلفون شمیرې، ورکړي، اوهر وخت که ورته اړتیا وي، د سیمه اییزې حکومتوالۍ د فرعی کمیټې په غونډه کې د هیواد په کچه د خپلو غړو له حاضرۍ څخه ډاډ تر لاسه کړي؛ ترڅو د دوی له څانګړیو نظرونو څخه په ښه توګه استازیتوب وشي.

**د پالیسی د پلي کولو لپاره لارښود اوصول**

یو لړ ښې کړنې او اجراات به د عملي کولو د چوکاټ او بهیر لارښوونه کوي. دا کار به د سیمه اییزو اورګانونو خپلواکه اداره او نور هغه ټول وزارتونه او ادارې چې د پلي کولو په بهیر کې

ونډه لري، ددې وړ وګرځوي چې د افغانستان د حکومت د سیمه اییزو ادارو پالیسي په تر ټولو اغیزمنه توګه پلي کړي.

- د پالیسۍ پر اهمیت باندې په ټینګار سره به یو لړ ګامونه واخستل شي چې موخه به یې د ټولو حکومتي ادارو او د افغانستان د وګړو پر پالیسۍ باورکول وي
- د پالیسۍ لپاره د خلکو او دولتي ادارو د ملاتړ د ترلاسه کولو لپاره به لازم مکانیزمونه جوړیږي. دغه مکانیزمونه به ددې وړتیا ولري، چې ډاډ ترلاسه کړي چې د پالیسۍ توکي په سمه توګه پلي کیږي او دا عمل به په حکومتي ادارو کې ادامه ولري
- دا چې د پوره سرچینو درلودلو پرته د پالیسۍ په ښه ډول پلي کول ناشوني دي؛ نو دې کار ته به پوره پاملرنه وشي چې د پالیسۍ د ټولو توکو د تمویل په برخه کې پوره مالي سرچینې شتون ولري
- د پالیسۍ د پلي کولو واک او دندې به د ټولو اړوندو ادارو ترمینځ وویشل شي. په دغو ادارو کې حکومتي وزارتونه او ادارې، نادولتي موسسې، د مدني ټولنې سازمانونه او عام خلک شامل دي
- نوي جوړښتونه او کړنلارې به رامینځ ته شي چې دا به د پالیسۍ د پلي کولو لپاره د چوکاټ په جوړولو، او همدارنګه د پالیسۍ په څارنه او ارزونه کې مرسته وکړي
- هغه چارواکي چې د پالیسۍ د پلي کولو د څارنې کار په غاړه لري، به د پالیسۍ د پلي کولو په برخه کې د بدلونونو او اغیزو جاج اخلي، او که چیرې د پلي کولو په ترڅ کې داسې پایلې رامینځ ته شي چې د قناعت وړ نه وي، نو د هغو د سمون او بدلون هڅه به کوي
- دغه پالیسي به په ترتیب سره پلي کیږي؛ ترڅو د پالیسۍ د پلي کولو د بهیر د اسانه کولو لپاره اقدامات په ګوته شي
- د پالیسۍ د پلي کولو له بهیر څخه به په ستراتیجیکه توګه مدیریت وشي. هغه همغږې راوستونکې ادارې چې د پالیسۍ له پلي کولو څخه د ډاډ د ترلاسه کولو دنده لري، باید د پلي کولو د بهیر اړتیاوې، لنډ مهالې او اوږد مهالې موخې په ګوته او هغو ته د بیلابیلو وزارتونو او ادارو له فعالیتونو سره اړیکه ورکړي.

- لومړیتوبونه او ستراتیجیک موضوعات به پردې بنسټ په ګوته کیږي چې څومره ستر او بیړني اقدام ته اړتیا لري. وروسته له په ګوته کولو به اړوندې غاړې پردغو موضوعاتو او لومړیتوبونو د کار کولو لپاره ستراتیژۍ او پلانونه جوړکړي
- لکه څرنګه چې د اړوندو ادارو هراړخیزه ګډون د پالیسۍ د پلي کولو شونتیا زیاتوي، ځکه به نو د ګډون دغه عمل د  سیمه اییزو ادارو د پالیسۍ د پلي کولو محور وي. د یو شمیرو پرمختیایي سکتورونو شواهد دا په ګوته کوي، چې د پالیسۍ پایلې هغه وخت په ښه توګه ترلاسه کیدای شي چې د پالیسي د هدف ډلې د هغې د اصلاح په پریکړو او پلي کولو کې ګډون وکړي. پر دې سربیره له پالیسۍ څخه د ګټه اخستونکو ډلو ګډون شفافیت او ځواب ورکونه زیاتوي او له عامه ادارو او چارواکو څخه د حساب په اخستلو کې مرسته کوي.
- ددې لپاره چې د پالیسۍ پلي کیدل د ولسواکې حکومتدارۍ له اوصولو سره سم تر سره شي، ډیره اړینه ده چې له دې بهیر سره اړوندو معلوماتو ته هرڅوک لاسرسي ولري؛ ځکه به نو د پالیسۍ له بهیر سره اړوند معلومات په پراخ ډول سره هر چاته د لاسرسي وړ وي
- دا هڅه به کیږي چې د مدني ټولنې ډلې او له پلیسۍ څخه ګټه اخستونکې خواوې د پالسیۍ د پلي کولو په بهیر کې برخه واخلي. په دغه بهیر کې د یادوشویو برخو لخوا زیاته برخه اخستنه ښایي یوه داسې وسیله وي چې له لارې یې حساب ورکونه، شفافیت او ځواب ویل او ولسواکې  حکومتوالۍ داسې نورې ځانګړتیاوې پلي او پیاوړې شي.
- د سیمه اییزو اورګانونو خپلواکه اداره به دا هڅه وکړي چې د پالیسي د پلي کولو دغه څو اړخیزه عمل په ستراتیجیکه توګه اداره کړي. دغه اداره به د اړوندو خواوو ترمینځ یو ګډ لرلید او همکاري مینځ ته راوړي؛ ترڅو د پروګرامونو د پرمخ بیولو کار د یو بل په مرسته په ګډه مخته لاړ شي
- د سیمه اییزو اورګانونو خپلواکه اداره به د پالیسي د موخو د ترلاسه کولو په کارکې د بیلابیلو خواو ترمینځ همغږي مینځ ته راوړي
- ددې لپاره چې همغږي لا بریالۍ راووځي د پالیسۍ د پلي کولو چوکاټ به د ګټو د اوصولو او ګډو ارزښتونو پر بنسټ ولاړ وي

- هغه ټولې ادارې چې د پلي کولو د چوکاټ مینځ ته راوړلو او پخپله د پالیسی په پلي کولو کې لاس لري باید انعطاف کونکي وي. له تیرو تجربو څخه دا حقیقت جوت شوی دی چې د پروژو او پروګرامونو تر پلي کولو دمخه باید د پلان جوړولو کار څه ناڅه انعطاف منونکي وي؛ ترڅو د پروژې د پلي کولو په ترڅ کې له اړتیا سره سم په فعالیتونو کې بدلون راوستل شي.
- دا خبره ټول مني چې د پالیسي د پلي کولو د څارنې لپاره دا ډیره اړینه ده چې فعالیتونه پر سمه لار روان وي، د پایلو راپور ورکړل شي، بدلونونو ته اړتیا په ګوته شي او د اصلاحاتو د ستراتیژۍ ارزونه وشي. ددې ټکو په پام کې نیولو سره به د سیمه اییزو اورګانونو خپلواکه اداره د څارنې او ارزونې یو هراړخیز سیسټم رامینځ ته کړي. د څارنې او ارزونې له لارې راغونډ شوي معلومات به له ټولو اړوندو غاړو سره مرسته وکړي، څو پر دې وپوهیږي چې د پالیسۍ د پلي کولو چوکاټ څه وخت او چیرې زیات اغیزمن دی او ایا بدلونونو ته اړتیا پکې شته. په عامه توګه ویلای شو چې د څارنې او ارزونې یو داسې سیسټم چې په ښه ډول ترتیب شوی وي، کیدای شي د پالیسۍ د پلي کولو په بهیر کې د رامینځ ته شویو خنډونو د کتنې او پرهغوی باندې د بحث لپاره وکارول شي.

**د پالیسۍ د پلي کولو لپاره جوړښت**

د سیمه اییزو ادارو د پالیسۍ د پلي کولو بهیر به پر دوو پراخو او لږ څه خپلواکو پړاونو باندې ولاړ وي. د پالیسۍ زیاتره برخو د پلي کولو لپاره به د یو شمیر حکومتي وزارتونو او ادارو مرستو او همکاریو ته پوره اړتیا وي؛ خو بیا هم د سیمه اییزو اورګانونو خپلواکه اداره به د پالیسۍ د یو شمیر اړخونو د پلي کولو مسوولیت ولري. له دې کبله د سیمه اییزو اورګانونو خپلواکه اداره به د کار یو پړاو په لاره واچوي او دا پړاو به د ولسمشر لخوا د پالیسی له منظوریدلو سره سم پیل شي. تر دې مخکې چې د سیمه اییزو اورګانونو خپلواکه اداره د پالیسۍ پلي کول پیل کړي، د پالیسۍ د پلي کولو او له هغې څخه د څارنې په برخو کې، ددغې ادارې وړتیاوې باید پیاوړې شي. دا کار به د سیمه اییزو اورګانونو د خپلواکې ادارې دا وړتیا زیاته کړي چې د پالیسۍ هغه برخې چې مسوولیت یې دی، پلي کړي او همدارنګه د ټولې پالیسۍ د پلي کولو په بهیر کې، په ونډې اخستلو سره مرسته وکړي.

**د پالیسۍ هغه برخې چې د پلي کولو کار یې د سیمه ایيزو اورګانونو په غاړه دی**

د پالیسۍ هغه برخې چې د پلي کولو کار یې د سیمه ایيزو اورګانونو د خپلواکې ادارې په غاړه دی، شپږ پړاونه لري.

**د پالیسۍ د پلي کولو په بهیر کې د مرستې لپاره د سیمه ایيزو اورګانونو د خپلواکې ادارې په دننه کې د بنسټونو رامینځ ته کول:**

د سیمه ایيزو اورګانونو د خپلواکې ادارې په دننه کې د څانګو یا بنسټونو دندې کیدای شي بیا کتنې ته اړتیا ولري؛ ترڅو جوته شي چې آیا د دوی دندې د پالیسۍ د پلي کولو له کار سره د ملاتړ په موخه، سمون او اصلاح ته اړتیا لري؟ او که یې لري، نو څه ډول سمون ته؟ او آیا دا چې د سیمه ایيزو اورګانونو د خپلواکې ادارې په دننه کې باید د نویو څانګو او څوکیو رامینځ ته کولو ته اړتیا شته؟ د سیمه ایيزو اورګانونو خپلواکه اداره به د خپلې وړتیا زیاتولو په خاطر د پالیسۍ واحدونه لا پسې پیاوړي کړي. د وړتیا د لوړولو واحد به په دې موخه پیاوړی شي چې په عمومي توګه د سیمه ایيزواورګانونو د خپلواکې ادارې د جوړښتونو ظرفیت لوړ کړي او په ځانګړې توګه له دې لارې د پالیسۍ د پلي کولو په کار کې مرسته وشي. دا کار به د والي او ولسوالانو د دفتري چارو د پرمخ بیولو کار نور هم ښه کړي. دا چې دغې پالیسۍ د جنسیت د برابرۍ موضوع ته پوره پام کړی دی؛ ځکه نو د سیمه ایيزو اورګانونو خپلواکه اداره باید دې ته چمتو وي چې پر سیمه ایيزه کچه په کیدونکو فعالیتونو کې د جنسیت له برابري څخه ډاډ ترلاسه کړي. ددې کار د لا ګړندي کولو لپاره د سیمه ایيزو اورګانونو د خپلواکې ادارې دننه باید د جنسیت د چارو سلاکار څوکۍ یا واحد رامینځ ته شي. ددې تر څنګ به د پالیسۍ واحد (څانګه) د مالي پالیسیو په برخه کې د خپلو ظرفیتونو د لوړولو په موخه هر وخت چې ورته اړتیا وي، د مالي پالیسیو متخصیصین په دندو وګماري، تر څو د سیمه ایيزو اورګانونو خپلواکه اداره وکولای شي چې د سیمه ایيزې پلان جوړونې او مالي چارو د پالیسۍ د بیلابیلو اړخونو د پلي کولو په چارو کې، د نورو اړوندو ادارو په کارونو کې همغږي رامینځ ته کړي.

**د سیمه ایيزو ادارو له پالیسۍ سره د اړوندو له مخکې نه موجودو پلانونو او استراتیژیو ارزونه:**

ځینې نورې غاړې له پخوا څخه پر یو شمیر داسې نوښتونو او پروګرامونو کار کوي چې لازمه ده د سیمه ایيزو اورګانونو خپلواکه اداره د هغو زیاته برخه مسوولیت په خپله غاړه

واخلي او بشپړ يې کړي. د سيمه ايیزو اورګانونو خپلواکه اداره باید پر هغو نوښتونو چې د پالیسۍ د پلي کولو لپاره اړین دي؛ زیات کار وکړي. د سیمه ایيزو اورګانونو خپلواکه اداره باید ډاډ تر لاسه کړي چې دغه پروګرامونه د سیمه ایيزو ادارو له پالیسۍ سره سم پرمخ ځي. د بیلګې په توګه یو شمیر حکومتي او غیر حکومتي ادارو د اداري او سیاسي حدودو د نقشې جوړولو پر چاره کار کړی دی، د سیمه ایيزو اورګانونو خپلواکه اداره باید په دغه نوښت کې یو مخکښ رول ولوبوي. برسیره پر دې، د ولایت په کچه د بودجې په اړه یو نوښت د مالیې وزارت په مشرۍ لا له مخکې څخه خپل کار پر مخ بیایي. کیدای شي د دغه نوښت پر بنسټ د سیمه ایيزې پلان جوړونې او مالي چارو په اړه پالیسي هم جوړه شي. د سیمه ایزو اورګانونو خپلواکه اداره باید دا معلومه کړي چې ټولي دا ډول اداري کومې او په دې اړه څومره کار شوی دی او له هغه وروسته بیا ددغو کارونو نور بهیر پرمخ بوځي. د افغانستان د ثبات د ټینګښت پروګرام(A.S.P) باید ددغه پروګرام د سند بیا کتنه وکړي او دا خبره وارزوي چې د غه پروګرام د سیمه ایيزو اورګانونو له خپلواکې ادارې سره څنګه همغاړی کړي. د سیمه ایيزو اورګانونو خپلواکه اداره باید د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو له خپلواک کمیسیون سره په ګډه کار وکړي؛ تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې د عامه ادارې د اصلاحاتو په اړه د هغوي پالیسۍ او ستراتیژۍ تر کومې کچې له دغې پالیسۍ سره سمون لري، او که یې نه لري؛ نو څنګه کولای شو په هغو کې بدلون راولو. د سیمه ایيزو اورګانونو خپلواکه اداره همدارنګه باید له نیږدې څخه د کلیو د بیا رغونې او پراختیا له وزارت سره کار وکړي؛ تر څو په دې هکله ډاډ تر لاسه کړي چې آیا د کلیو پرمختیایي شوراګانو ته لازمه روزنه ورکړل شوې ده او دا چې دوي څنګه کولای شي په راتلونکې کې د کلیو د جوړیدونکو شوراګانو رول پر مخ بوځي.

**د پالیسۍ له پلي کولو څخه د ملاتړ لپاره د پلانونو جوړول:**

ددې لپاره چې پالیسي د پلي کولو وړ وګرځي باید پر پروګرامونو او پروژو وویشل شي. په ټولو هغو برخو کې چې د سیمه ایيزو اورګانونو خپلواکه اداره د نورو وزارتونو او ادارو فعالې همکارۍ ته اړتیا نه لري، دغه اداره باید داسې پروګرامونه او پروژې جوړې شي چې د پلي کولو له بهیر سره څنګ په څنګ مخته ولاړ شي. له دې کبله د سیمه ایيزو اورګانونو خپلواکه اداره باید لاندې پلانونه جوړ کړي:

۱. هغه پلانونه چې د سیمه ایيزو اورګانونو د خپلواکې ادارې د وړتیا د لوړولو پروګرامونه پلي کړي.

۲. داسې پلانونه چې له لارې یې ډاډ ترلاسه شي، چې ټول انتخابي او انتصابي مسوولین طرز سلوک او د اخلاقو اوصول لاسلیک کړي. په دغه پروژه کې باید دا پلان هم شامل وي چې

چارواکي په هغو سندونو کې چې لاسلیک کړي یې دي، له ورکړل شویو دندو څخه خبر او ورسره ژمن دي.

۳. د افغانستان د ثبات د ټینګښت پروګرام د اصلاح او له پالیسۍ سره د همغاړي کولو په موخه پلانونه.

۴. د پالیسۍ د پلي کولو په کار کې د نورو حکومتي ادارو د ورګډولو پلانونه، دهیله کیدونکو فعالیتونو په ګډون د دغو ادارو رول او مسولیتونه

۵.د ولایتي شوراګانو لپاره د وړتیاوو د لوړولو یو بیا کتل شوی چوکاټ چې د پالیسۍ پر بنسټ ولاړ وي

۶.د ولایتي شوراګانو د وړتیاوو د لوړولو په موخه یو هراړخیز پروګرام

۷.د ولسوالیو د شوراګانو لپاره د وړتیاوو د لوړولو یو هر اړخیز پروګرام

۸.د اقتصاد له وزارت سره په همکارۍ د ولایتي پرمختیایي کمیټې د وړتیاوو د لوړولو لپاره پروګرام

۹.د کلیو د شوراګانو د وړتیاوو د لوړولو لپاره یو هراړخیز پروګرام

۱۰.د کلیو د بیا رغونې او پراختیا له وزارت سره په همکارۍ د کلیو پرمختیایي شوراګانو د وړتیاوو د لوړولو په موخه یو چوکاټ

۱۱. په ټول هیواد کې د ښې او سالمې ادارې د څارنې لپاره د یو چوکاټ جوړول

په جوړیدونکو ټولو پلانونو کې باید موخې، فعالیتونه، پایلې، سرچینې او همدارنګه د پلي کولو لپاره شامل وي

**د پالیسۍ د پلي کولو په اړه د سیمه ایېزو اورګانونو د پلانونو د پلي کولو لپاره د سرچینو موندل:**

ددې لپاره چې په مجموع کې د پالیسۍ د پلي کولو او په ځانګړې توګه هغو برخو ته چې د سیمه ایېزو اورګانونو د خپلواکې ادارې تر مسوولیت لاندې دي؛ د سیمه ایېزو اورګانونو خپلواکه اداره کیدای شي د حکومتوالۍ په اړه د څارنې او انسجام د ګډ بورډ له کمیټې سره خپلو سلا مشورو ته ادامه ورکړي. دغه کمیټه به د سیمه ایېزو اورګانونو له خپلواکې ادارې سره د پالیسۍ د پلي کولو د لارو چارو د په ګوته کولو په برخه کې مرسته وکړي. په دې لړ کې کیدای شي د مرستې صندوق جوړول یا په هغه صندوق کې دننه د افغانستان بیا رغونې د مرستې صندوق په څیر ځانګې شاملې وي. په دې لړ کې باید د همغږۍ د کمیټې منظمې غونډې وشي ترڅو دا جوته شي چې کومې پروژې به د چا له خوا تمویلیږي. ددغه کار د تمویل چارې باید د سیمه ایېزو اورګانونو د خپلواکې ادارې لخوا په دوامداره توګه د کاري وړتیا او اغیزمنتوب پر بنسټ وڅیړل شي.

**د پلانونو او پروګرامونو پلي کول:**

د يادو شويو پروژو او پروګرامونو په جوړولو پسې به د هغو د پلي کولو کار پيل شي

**د پروګرامونو د پلي کولو بيا کتنه:**

د سيمه ايیزو اورګانونو د خپلواکي اداري د څارني او ارزوني ځانګه به دنده ولري، چې د پروګرام په سندونو کې له ورکړل شويو موخو سره سم د پروګرامونو څارنه او ارزونه وکړي. د سيمه ايیزو اورګانونو خپلواکه اداره بايد خپل پروګرامونه له اړتيا سره سم، د څارني او ارزوني د بهير له لاري د ترلاسه شويو معلوماتو پر بنسټ برابر کړي.

**الف. د پاليسۍ د پلي کولو د ملاتړ لپاره کميټې او کاري ګروپونه**

د پلي کولو د چوکاټ د جوړولو په کار کې د ګډون د بهير د ملاتړ لپاره به يو شمير ګډې وزارتي کميټې او کاري ګروپونه مينځ ته راځي، چې کار به يې د پلي کولو د بهير ملاتړ او څارنه وي. د پاليسۍ په بهير کې د شاملو کميټو، په ځانګړې توګه د پاليسۍ د تدقيق او تدوين د کميټو مکلفيتونه بيا کتل کيږي؛ ترڅو دغه کميټې د پلي کولو د بهير ښه ملاتړ وکړای شي. د هرې کميټې او کاري ګروپ لپاره د کړنلارې قواعد او هم ددغو کميټو او کاري ګروپونو خپل مينځي اړيکې بايد تسويد شي. د دغو ګروپونو رول او دندې په لاندې ډول دي:

**۱. د پاليسۍ د پلي کولو له چارې څخه د بيا کتنې کميټه:**

ددغې کميټې مشرتوب او غړيتوب کيدای شي د پاليسۍ د بيا کتنې له کميټې څخه لږ شانته بيل او بدل شوی وي. په دې شرط چې دغه بهير ته را روان وزارتونه او اداري موافقه وکړې؛ نو کيدای شي ددوی نومونه هم ددغې کميټې د غړيو په لست کې ور زيات شي. د وزارتونو او ادارو نومونه دادي: د پوهنې وزارت، د لوړو زده کړو وزارت، د اوبو او انرژۍ وزارت، له طبعي پيښو سره د مبارزې اداره، د چاپيريال ساتنې ملي اداره، د لوی څارنوال دفتر، د اداري فساد پر ضد د ستراتيژۍ له پلي کولو څخه د څارنې لوړ رتبه اداره، او ستره محکمه. د پاليسۍ د پلي کولو د چارې د بيا کتنې کميټه به، د پاليسۍ د پلي

کولو په چوکاټ کې د اړتیاوړ تکوته یوه وروستی بیا کتنه وکړي او ورسره به د پلې کولو د بهیر څارنه، بیا کتنه او لارښوونه وکړي. دغه
کمیټه به د وزیرانو په کچه خپلو غونډو ته دوام ورکړي.

**۲. د پالیسی د پلي کولو کمیټه:**

د دغې کمیټې د مشرتوب او غړیتوب په چارو کې به کیدای شي د پالیسی د پلي کولو د کمیټې په شان بدلون را شي. د دغې کمیټې غړیتوب به د معینانو په کچه وي. کمیټه به همدارنګه د کتنې رول هم رول لوبوي. د پالیسی د پلي کولو کیمټه به، د پلي کولو لپاره د یوه چوه کاټ د جوړولو او د پالیسی د ښه پلي کولو د چارې لومړنی مسوول اورګان وي. د پالیسی د پلي کولو کار به په تخنیکي کچه د پالیسی د پلي کولو په کاري ډلو کې هغسې سرته رسیږي، چې لاندې راغلي دي:

**د سیمه ایزې پلان جوړونې او مالي چارو په هکله د کابینې کمیټه:** دغه کمیټه به له ملي بودجې څخه یوه برخه د سیمه ایز مالي لیږد او تخصیص لپاره بیلوي، د تخصیص د فورمول او د لګښت د واک د ور سپارولو د چارو کتنه او منظوري به کوي، د والیانو د دفترونو له خوا د مخامخ لګښت او د هغه جوړښت په برخه کې به واک ورکوي، د ولایت د دویمه درجه سکتوري واحدونو د کړنو څارنه به کوي، او په سیمه ایزه پلان جوړونه او مالي چارو کې، به په تولیزه توګه د کاري کیفیت مدیریت په غاړه لري. د دې خبرې په نظر کې نیولو سره چې دا یو لوړ پوړې کمیټه ده (چې د ولسمشر دویم مرستیال یې مشري په غاړه لري)، نو دا کمیټه به د نورو کمیټو د کار لارښوونه کوي. کمیټه به د سیمه ایزې پلان جوړونې او مالي چارو او د هغې د پلې کولو په چوکاټ کې د اړین بدلون په هکله هم پریکړه کوي. د کابینې د کمیټې او د اړوندو ټولنو او کاري ګروپونو تر مینځ سلا مشورې او اړیکې باید یقیني شي.

**د پالیسي د پلې کولو کاري ګروپونه:** یو لړ ګډ وزارتي کاري ګروپونه به د پالیسی د بیلا بیلو اړخونو د پلې کولو او د دې کار د مدیریت په موخه رامینځ شي. لکه څنګه چې د پالیسي د بیلابیلو اړخونو د پلې کولو چارې یوازې هغه وزارتونه او اداري په برکې نیسي چې د پالیسي د پلې کولو د کمیټې غړیتوب لري، ځکه به نو په کاري ګروپونو کې هغه وزارتونه ګډون وکړي چې ورته اړتیا وي. د کاري ګروپونو ګډون وال به د رییسانو په کچه تخنیکي مسولین وي. هغه کاري ګروپونه چې رامینځ ته به شي په لاندې ډول دي:

i. د **امنيت په اړه کاري ګروپ**: ددغه کاري ګروپ مشري به د کورنيو چارو د وزير په غاړه وي. په ګډون والو کې يې کيداى شي د دفاع وزارت، د ملي امنيت رياست او د نړيوالې ټولنې استازي شامل وي

ii. **د جنډر يا جنسيت د مسالو په هکله کاري ګروپ**: ددغه کاري ګروپ مشري به د ښځو د چارو د وزارت په غاړه وي. نور ګډون وال به يې د کاري ګروپونو د غونډو تر پيل کيدو د مخه غوره شي

iii. **د ځمکو د ادارې او د کليو د نقشو اخيستلو او پولو ټاکلو په اړه کاري ګروپ:** د دغه کاري ګروپ مشري به د سيمه ايزو ارګانونو د خپلواکې ادارې په غاړه وي . په نورو غړيو کې به يې د کرهنې، اوبو لګولو او مالدارئ وزارت، د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت، د جيوديزي او کارتوګرافي عمومي اداره او د نړيوالې ټولنې استازي شامل وي

iv. **د عامه خدمتونو د معيارونو او کړنو د مديريت په هکله کاري ګروپ:** د دغه کاري ګروپ مشري به د سيمه ايزو ارګانونو د خپلواکې ادارې په غاړه وي او يا د بل هغه وزارت يا اداره چې د دغه کار پرمخ بيولو ته تياره وي. په غړيو کې به يې ټول حکومتي وزارتونه، خپلواک رياستونه او ادارې شاملې وي

v. د ټاکل شوو شوراګانو د وړتياوو د لوړولو په هکله کاري ګروپ

vi. **په عامه سيمه ايزو ادارو کې د اصلاحاتو او د وړتياوو د لوړولو په اړه کاري ګروپ**: د دغه ګروپ مشري به د اداري اصلاحاتو_او ملکي خدمتونو د خپلواک کميسيون په غاړه وي. نور غړی به يې د کاري ګروپ تر غونډو مخکې په ګوته شي

vii. د افغانستان لپاره سيمه ايزو ادارو د اکاډمی د رامينځ ته کولو په اړه کاري ګروپ

viii. **د واک د ورسپارلو يا تفويض په هکله کاري ګروپ:** د سيمه ايزو ارګانونو خپلواکه اداره به د دغه کاري ګروپ په سر کې وي. هغه ټول وزارتونه او ادارې به چې د پاليسي په پلې کولو کې ونډه لري، به په دغه کاري ګروپ کې خپل استازيتوب ولري

ix. د مدني ټولنې د ګډون، خبري رسنيو او معلوماتو د لاسرسي د حق په اړه کاري ګروپ

x. **د اداري فساد په هکله کاري ګروپ:** د اداري فساد پر ضد د ستراتيژۍ له پلي کولو څخه د څارنې عالي اداره به د دغه کاري ګروپ مشري کوي. نور غړي به يې د کاري ګروپ د غونډو تر پيل کيدلو مخکې غوره شي

xi. د بشري حقونو په اړه کاري ګروپ

xii. د سيمه ايزو ټاکنو په اړه کاري ګروپ

xiii. د ښاروالۍ د اداري په هکله کاري ګروپ

xiv. له ناوړه طبعي پيښو سره د مبارزې کاري ګروپ

xv. له نيشه يي توکو سره د مبارزې کاري ګروپ

xvi. په سيمه ايزو ادارو کې د محکمو او څارنوالۍ د دفتر د واک د دايرې په اړه کاري ګروپ

**د سيمه ايزو ادارو لپاره د حقوقي اصلاحاتو د تخنيکي کاري ګروپ فرعي کميټه:**

دغه فرعي کميټه به د هيواد په کچه له بنسټونو سره يو ځای کار کوي؛ ترڅو د داسې قوانينو مسودې جوړې او يا داسې بدلون په کې راولي چې د سيمه ايزو اورګانونو د خپلواکي اداري له پاليسۍ له پلي کولو سره ترلي وي. د کاري ګروپ رياست به د سيمه ايزو اورګانونو خپلواکه اداره او د عدليې وزارت د تقنين څانګه په ګډه په غاړه ولري. نړيوال ملاتړ او همغږي به د هغو دايمي نړيوالو غاړو له خوا تر سره کيږي چې تر دې وروسته به معلوميږي. هغه وزارتونه به چې د پاليسۍ د پلي کولو د بيا کتنې د کميټې غړيتوب لري او همدارنګه د ملي شورا غړي کولای شي د دايمي ملي غړيو په توګه د خدمت سرته رسولو لپاره ځانونه ونوموي. د کاري ګروپ د غونډو په ګډون کونکو کې کيدای شي دې خبرې ته په پام سره چې کوم قوانين تعديل او يا تسويديږي، بدلون راشي. د اړوندو ملي ادارو شتون په داسې حال کې ډير اړين دی چې د هغوی له کارونو او فعاليتونو سره اړه لرونکې قوانين د تسويد په حال کې وي

**د پاليسۍ له پلي کيدو څخه د څارنې او ارزونې کميټه:** دغه کميټه به دنده ولري چې د پاليسي له پلي کيدو او د پاليسۍ د موادو له څرنګوالي څخه څارنه او ارزونه وکړي. د دغې کميټې له خوا شوې پريکړې او د هغو پايلې بايد په نيغه توګه د پاليسي د پلي کولو کميټې، د حکومتوالۍ په اړه د همغږۍ او څارنې د ګډ بورډ ځانګړې کميټې او همدارنګه د مدني ټولنې د همغږۍ کميټې ته وړاندې شي. د پاليسۍ د پلي کولو د بيا کتنې کميټه به په

دې اړه چې د دغې کميټې د نظر پر بنسټ په پاليسی او د هغې د پلي کولو په چوکاټ کې څه ډول اړين بدلونونه راشي، وروستۍ پريکړه کوي. د دغې ادارې له خوا د معلوماتو ورکول به د حساب ورکولو او شفافيت کار لا ښه کړي. د څارنې او ارزونې کميټه هم کيدای شي د پاليسی تر پلي کولو مخکې خپل فعاليتونه پيل کړي. د څارنې او ارزونې کار به نه يوازې د پلي کولو بهير؛ بلکه پخپله د پاليسی بهير هم په بر کې ونيسي. د څارنې او ارزونې کميټه کولای شي د پاليسی د پلي کولو او يا د پاليسی د موادو په بيا کتنه کې مرکزي رول ولوبوي او دا خبره يقيني کړي چې د پاليسی ټول اړخونه به د پاليسی د موخو په ترلاسه کولو کې مرسته کوي.

**د سيمه ايېزو ادارو لپاره د مدني ټولنې د همغږۍ کميټه:** دغه کميټه به دنده ولري چې د پاليسي د پلي کولو د چوکاټ په اړه د مدني ټولنې نظرونه را ټول کړي او همدا رنګه له حکومت سره د مدني ټولنې د ګډون په هکله د لارو چارو په لټولو کې مرسته وکړي، تر څو له دې لارې د پلي کولو چوکاټ او هم د پلي کولو عمل پياوړی شي. د مدني ټولنې د سازمانونو استازو ته به په دغه فرعي کميټه کې د ګډون بلنه ورکړل شي.

**د حکومتوالی په هکله د همغږۍ او څارنې د ګډ بورډ ځانګړې کميټه:** د حکومتوالی په هکله د همغږۍ او څارنې د ګډ بورډ ځانګړې کميټه به د يوې داسې ادارې په توګه کار سرته رسوي چې د حکومت او مرستندويانو (څوک چې به د دغې پاليسی د بيلا بيلو اړخونو په پلي کولو کې مرسته کوي) تر مينځ به د اړيکو او خبرو اترو لپاره لار پرانيزي. دغه اداره همدارنګه کولای شي د يو مشورتي بورد په توګه کار وکړي.

**د بيلابيلو اورګانونو د کار کولو د څرنګوالي لپاره به د کړنلارې قواعد رامينځ ته شي. په دغو قواعدو کې به لاندې معلومات شامل وي:**

۱. څوک ددې صلاحيت لري چې په کومو برخو کې څه ډول پريکړې وکړي.

۲. هر ګروپ د کومو کارونو اجازه لري، غوښتنه ترې کيږي او يا ورته په کار دي.

۳. د ګروپونو ترمينځ او د دوی په دننه کې بايد له کومو کړنلارو څخه کار واخستل شي.

۴. کوم معلومات به چاته او څه وخت ورکړل شي.

۵. هرې کميټي يا ګروپ ته د هغوی د فعاليتونو په نتيجه کې کومې ګټې يا لګښتونه ورکړل شي.

۶. د نظارت او پلي کولو کار به څرنګه پرمخ وړل کيږي.

**ب: د سیمه اییزو اورګانونو د پالیسۍ د پلي کولو لپاره د بنسټ ایښوول**

د پالیسۍ پلي کول باید یو پرله پسې بهیر وي، چې په ستراتیجیکي توګه یې مدیریت وشي. د پالیسۍ د پلي کولو د چوکاټ د جوړولو او پخپله د پالیسۍ د پلي کولو لپاره باید له داسې هراړخیزې طریقې څخه کار واخستل شي، چې ټولې اړوندې خواوې وکولای شي، ورسره بلدتیا پیدا کړي او ځانونه ددغه بهیر یوه برخه وګڼي. د پالیسۍ د پلي کولو بهیر له هغو اوصولو سره چې یاد شول لاندې راغلی دی:

**۱. د پالیسۍ سمون:**

ددې لپاره چې د پالیسۍ د اغیزمن پلي کولو څخه ډاډ ترلاسه شي، باید د پالیسۍ ټولې برخې او توکي په پوره ډول سره واضح او څرګند وي. دې کار ته اړتیا شته چې د پالیسۍ د تدوین او تدقیق په کمیټو کې په دې هکله ګډ نظر رامینځ ته شي، چې د سیمه اییزې ادارې د پالیسۍ د کار له پیلیدلو دمخه، د پالیسۍ کومې برخې باید څرګندې او ښکاره شي. دغه اورګانونه او د پالیسۍ کاري ګروپونه باید پالیسۍ هغه برخې څرګندې کړي چې یا نیمګړې دي او یا یې په هکله ګډ نظر نشته. په دې موخه چې په حکومت او مدني ټولنه کې دا باور رامینځ ته شي، چې هغوی ځان ددې بهیر یوه برخه وګڼي؛ نو په سیمه اییزه کچه باید له حکومتي چارواکو او مدني ټولنې سره سلا مشورې دوام ومومي. د تدوین کمیټه به بیا د حکومت او مدني ټولنې د نظرونو پر بنسټ په پالیسۍ کې سمون راولي.

**۲. د پالیسۍ د پلي کولو له بهیر څخه د ملاتړ په خاطر د همغږۍ د مکانیزم او کاري ګروپونو جوړول:**

هغه کاري ګروپونه او د همغږۍ اورګانونه چې یادونه یې وشوه به رامینځ ته شي. ددې لپاره باید د پالیسۍ د تدوین او تدقیق د کمیټو پر مکلفیت له سره کتنه وشي. د هرې کمیټې د کاري ګروپ د کړنلارو قواعد باید برابر شي او د ا خبره روښانه شي چې دغه کمیټې او کاري ګروپونه له یو بل سره څه راز اړیکې ولري.

**۳. د قوانینو تسوید:**

یو شمیر قوانین دې ته اړتیا لري چې باید له سره جوړ او یا بدلون پکې راوستل شي؛ترڅو د پالیسۍ د پلي کولو له بهیر سره مرسته وکړي. یوازې د دا ډول قوانینو په نافذولو سره شونې ده چې د پالیسي مواد پلي شي. هغه قوانین چې بدلون ته اړتیا لري دادي: د سیمه اییزې ادارې قانون، د ولایتي شورا قانون، د ښاروالیو قانون، د عامه مالي چارو او

لګښتونو د مدیریت قانون او د تدارکاتو قانون. دغه لست ټول د بدلون وړ قوانین په بر کې نه نیسي. لکه څنګه چې پورته یې یادونه وشوه، مسوده جوړول، بیا کتنه او له منظورو شویو قوانینو څخه پیروي به د سیمه اییزې ادارې د قانوني اصلاحاتو د تخنیکي  کاري ګروپ د فرعي کمیټې دنده وي.

| د پالیسۍ سمون | د همغږۍ د میکانیزمونو او کاري ګروپونو جوړول | د قوانینو مسوده جوړول | د پلي کولو د یو هر اړخیز چوکاټ جوړول |
| --- | --- | --- | --- |
| • د پالیسۍ د تدوین او تدقیق په کمیټو کې، په دې هکله ګډ نظر رامینځ ته شي چې د سیمه اییزې ادارې د پالیسۍ د کار له پیلیدلو دمخه، د پالیسۍ کومې برخې باید نوري هم څرګندې او ښکاره شي<br>• د پالیسۍ هغه برخې  باید څرګندې شي | • د پالیسۍ د تدقیق او تدوین د کمیټو مکلفیتونو ته باید بیا کتنه وشي؛ تر څو د پالیسۍ د پلي کولو په بهیر کي مرسته وشي.<br>• لاندي کمیټې باید رامنځ ته شي:<br>- له مدني ټولنې سره د همغږۍ کمیټه<br>- د څارنې او ارزونې فرعي کمیټه<br>- د سیمه ایزې ادارې په اړه  د قانوني اصلاحاتو د تخنیکي کاري ګروپ فرعي کمیټه<br>- د سیمه ایزې پلان جوړونې او مالي | - د یو شمیر قوانینو او قواعدوتسوید او تعدیل؛ ترڅو د پالیسۍ د پلي کولو په کار کي مرسته وشي. په دې ترڅ کي لاندي قوانین شامل دي:<br>- د سیمه ایزې ادارې قانون<br>- د ولایتي شورا قانون<br>- د پولیسو قانون<br>- د کلیو د پرمختیایي شوراګانو قانون<br>- د ملکي مامورینو قانون<br>- د عامه مالي چارو او لګښتونو د مدیریت قانون | - د پلي کولو د یوه هر اړخیزه چوکاټ د تسوید د بهیر پیلول<br>- د پالیسۍ د بیلا بیلو اړخونو د پلي کولو لپاره د پروګرامونو طرح کول<br>- د پروګرام د سندونو |

| | | | |
|---|---|---|---|
| چې يا نيمګړې دي او يا يې په هکله ګډ نظر نشته<br>• په سيمه اييزه کچه بايد له حکومتي چارواکو او مدني ټولنې سره سلا مشورې دوام ومومي او په دې هکله د دوی نظرونه راغونډ شي<br>• د تدوين کميټه به بيا د حکومت او مدني ټولنې د نظرونو پر بنسټ، په پاليسی کې سمون راولي.<br>• د حکومتي ادارو په دننه کي د هغو موضوعاتو په اړه د ګډ نظر رامنځ | چارو په هکله د کابينې کميټه<br>- د کاري ګروپونو جوړول؛ تر څو وګوري چې بيلابيل اړخونه بايد څنګه بلې شي<br>- د هرې کميټې، کاري ګروپ او ددغو کميټو او کاري ګروپونو د خپل مينځي اړيکو لپاره د کړنلارې قواعد تسويد شي | - له نشه يي توکو سره د مبارزې قانون<br>- د تدارکاتو قانون<br>- د قوانينو تسويد، بيا کتنه او منظوري به د سيمه ايزې ادارې د قانوني اصلاحاتو د تخنيکي کاري ګروپ د فرعي کميټې دنده وي | او کاري پلانونو تسويد<br>- هغه فعاليتونه او پايلي چې انتظار يې کيږي<br>- هغه سرچينې چې ورته اړتيا شته<br>- د پلي کولو په کار کي ګډې غاړې |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ته کول چې<br>پالیسۍ پرې<br>وروستۍ نظر<br>ورکړۍ دی | | | |

**۴. د پلي کولو د یوه هر اړخيز چوکاټ رامينځ ته کول:**

هغه توکي چې په دغه چوکاټ کې شامل دي عبارت دي له هغو پروګرامونو څخه چې د پالیسۍ د بیلابیلو اړخونو د پلي کولو لپاره کار ورڅخه اخستل کیږي، همدا رنګه هغه کاري پلانونه چې د پروګرامونو د عملي کیدلو څرنګوالی راښیي هم پکې شامل دي. د پروګرام په سندونو کې به د توقع وړ فعالیتونه، پایلې، اړینې سرچینې او همدا رنګه د پلي کولو د چارې ګډونوال شامل وي.

| **د سیمه ایزې اداري په دننه کې د پالیسي د پلي کولو له کار سره د مرستې په غرض جوړښتونه رامینځ ته کول** | **د سیمه ایزو اورګانونو د پالیسۍ له پلې کولو سره د اړوندو شته پلانونو او ستراتیژیو ارزونه** | **د پالیسۍ له پلي کولو څخه د ملاتړ لپاره د پلانونو جوړول** | **د سیمه اییزو اورګانونو د خپلواکې اداري د پالیسۍ له پلې کولو سره د تړلو پلانونو د په لار اچولو لپاره د سرچینو لټون** | **د پلانونو پلي کول** | **د پلي کولو د پروګرامو نو بیا کتنه** |
|---|---|---|---|---|---|
| - د سیمه ایزه اورګانونو د خپلواکي اداري په دننه کي د پالیسي د څانګې پیاوړي کول | **-** د سیاسي او اداري واحدونو په ځانګړې توګه د کلیو د پولو د ټاکلو په برخه کي | **-** د سیمه اییزه اورګانونو د خپلواکي اداري د کاري وړتیاوو د زیاتولو د پروګرامونو د پلې کولو په | **-** د مرستندویه ټولنو تر مینځ د همغږۍ د کمیټې جوړول | **-** یو کمپاین په لاره اچول چې موخه به یې د ټولو انتخابي او انتصابي چارواکو دې ته هڅول وي چې ورکړل شوی | له لرلید او موخو سره په پرتله د پلانونو ارزونه<br><br>- د |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| - د سیمه اییزو<br>اورګانونو د<br>خپلواکي اداري<br>په دننه کي د<br>وړتیا د<br>زیاتولو د<br>ځانګي لا<br>پیاوړي کول<br><br>- سیمه اییزو<br>اورګانونو د<br>خپلواکي اداري<br>په دننه کي د<br>جنسیت د<br>چارو یوه<br>څوکۍ رامینځ<br>ته کول او یا<br>هم په دې ترڅ<br>کي د یوه<br>سلاکار په<br>کارګمارل | د سیمه اییزو<br>اورګانونو د<br>خپلواکي<br>اداري د<br>پلانونو<br>ارزونه او<br>ددغه کار د<br>پرمخ بیولو<br>په موخه د<br>یوې پالیسۍ<br>جوړول<br><br>- د افغانستان<br>د ثبات د<br>پروګرام د<br>سند بیا کتنه<br>او دا څیرل<br>چي هغه تر<br>کومه حده<br>بدلون ته اړتیا<br>لري؛ تر څو<br>د سیمه اییزو<br>ادارو له<br>پالیسۍ سره<br>سمون پیدا<br>کړي<br><br>- د سیمه<br>اییزو<br>اورګانونو د | خاطر د پلانونو<br>جوړول<br><br>- د ټولو انتخابي<br>او انتصابي سیمه<br>اییزو چارواکو<br>لپاره د<br>طرزالسلوک او د<br>اخلاقو د اصولو<br>د لاسلیکولو په<br>غرض د پلانونو<br>جوړول<br><br>- د افغانستان د<br>ثبات د پروګرام<br>له لارې د داسي<br>پلانونو جوړول،<br>چي له مخې یې<br>دا باوري شي<br>چي تر دغه<br>پروګرام لاندي د<br>ودانیو د جوړولو<br>کار له پالیسۍ<br>سره سم دی<br><br>- دا معلومول<br>چي کومو<br>دفترونو ته باید د<br>ترانسپورټ<br>مناسبي اسانتیاوي | - د<br>مرستندویه<br>سازمانونولپار<br>ه د مناسبو<br>طریقو، او<br>مرستو د<br>مناسبو لارو<br>چارو<br>معلومول؛<br>ترڅو د<br>پالیسۍ د پلي<br>کولو د کار<br>پوره مالي<br>ملاتړ وشي<br><br>- د سیمه<br>اییزو<br>اورګانونو د<br>خپلواکي<br>اداري په دننه<br>کي د مرستو<br>د څارني او<br>همغږۍ لپاره<br>د واک او<br>صلاحیت<br>ورسپارل<br><br>- د سیمه<br>اییزو<br>اورګانونو د | طرزالسلوک او د<br>اخلاقو د اصولو<br>سند لاسلیک کړي.<br>همداراز د<br>چارواکو لپاره په<br>پالیسی کي د<br>ورکړل شویو توکو<br>باندي د ځان پوه<br>کولو په غرض هم<br>د کمپاین په لاره<br>اچول<br><br>- د کاري وړتیا او<br>پوهاوي د زیاتولو<br>عمل د سیمه اییزه<br>اورګانونو په<br>خپلواکه اداره کي<br>په دې موخه د یوه<br>پروګرام له پلي<br>کولو سره پیل شي<br><br>- د هغو ودانیو د<br>جوړولو په کار کي<br>د اړتیا په وخت<br>کي سمون راوستل<br>چي د جوړولو کار<br>یې د افغانستان د<br>ثبات د پروګرام له<br>خوا پیل شوی دی | بریالیتوب<br>سره د ،<br>ترلاسه<br>شویوتجر<br>بو او تر<br>ټولو ښو<br>کړنو د<br>بنسټیزو<br>لاملونو<br>درک او<br>پوهه<br><br>- د سیمه<br>اییزو<br>اورګانونو<br>د خپلواکي<br>اداري په<br>دننه کي د<br>څارني او<br>ارزوني د<br>څآنګي<br>جوړول؛<br>تر څو د<br>پلانونو له<br>پلي کولو<br>څخه پرله<br>پسې څآرنه<br>وشي<br><br>- په |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | خپلواکې اداري د ظرفیت د لوړولو د پنځه کلن پلان بیا کتنه او د سیمه ایزو ادارو له پالیسۍ سره د هغه سمون د پالیسۍ سره اړوندې د پوهاوي چارې هم باید په دغه پروګرام کې شاملې شي | ورکړل شي او څنګه<br>- د پلي کولو په پلانونو کې د موخو، پایلو، د اړتیا وړ سرچینو او هغو فعالیتونو چې انتظار یې کیږي، شاملول | خپلواکې اداري لپاره د شته د مالي ملاتړ بیا کتنه<br>- (که موافقه پرې وشي) د پالیسی د پلي کولو د لومړي پړاو د تمویل لپاره د یوې بودجې او یا سندوک رامینځ ته کول | - هر چیري چي ورته اړتیا وي، ترانسپورتي اسانتیاوې برابرول<br>- د جنسیت د چارو کارپوه سلاکار ګمارل<br>- له ځمکو او املاکو سره د اړوندو چارو د یوه سلاکار ګمارل | پروګرامونو او پروژو کي د دغې بیا کتنې پر بنسټ بدلون او سمون راوستل |

**د پالیسی د پلي کولو لپاره د بنسټ ایښودل**

## د پالیسۍ د پلي کولو په لړ کي د لومړي ګام په توګه د سیمه ایزه اورګانونو د خپلواکې اداري په دننه کي سیمه ایزو ادارو د پالیسۍ د پلي کولو لپاره د وړتیا زیاتول

**هغه اداري اقدامات چې د دې پالیسی د ځینو اړخونو د پلي کولو د نوښت لپاره اړین دي په لاندې ډول دي:**

### 1. د نشه یي توکو په وړاندې مبارزه

- **د نشه یي توکو د کنټرول ملي ستراتیژۍ ته بیا کتنه:**

ددې په نظر کې نیولو سره چې د نشه يي توکو په وړاندې ملي ستراتيژي بايد په هرو پنځو کلونو کې بدلون ومومي، نو هغه کسان چې د دې ستراتيژۍ د مسودې په جوړولو کې ګډون لري، په راتلونکو دوو کلونو کې په دې ستراتيژۍ کې د بدلون او تعديل راوستلو په اړه فکر کول پيل کړي.

- **د واليانو لپاره د لګښتونو د واک چوکاټ:**

هغه ميکانيزم چې له لارې به يې واليان د بديل معيشيت لپاره د لګښتونو د کولو واک ولري او د نشه يي توکو د جرړې وويستل شي، بايد معرفي شي.

- **اداري او تشکيلاتي ژمنو ته بيا کتنه او هوکړه:**

يو شمير وزيران بايد د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې په هغو فعاليتونو کې چې په ځايي توګه پلي کيږي، برخه واخلي. وزارتونه بايد په خپلو منځو کې پريکړه وکړي چې کوم وزارت به څه کارونه تر سره کوي.

**۲ . د طبيعي پيښو مديريت**

- **د واليانو لپاره د لګښتونو د واک چوکاټ:**

هغه ميکانيزم چې له لارې به يې واليان د طبيعي پيښو په وړاندې د لګښت کولو واک ولري، بايد معرفي شي.

- **د طبيعي پيښو د کميټې جوړونه:**

د طبيعي پيښو کميټې به د ښار، کلي، ولسوالۍ او ولايت په کچه جوړې شي، دا چې ددې کميټو غړي به څوک وي او همدارنګه د کلي او ولسوالۍ شوراګان تر ټاکل کيدو مخکې او بيا له ټاکل کيدو څخه وروسته به دغه غړيتوب څنګه ليږدول کيږي، ددې څرنګوالی بايد معلوم شي.

- **د طبيعي پيښو په وړاندې د وزارتونو تيارى:**

وزارتونه بايد د دا ډول پيښو پر وخت خپلې دندې معلومې کړي. د طبيعي پيښو د کميټو د غونډو له لارې بايد د هر وزارت کاري دندې معلومې شي. په دې کار سره، بايد نوموړې کميټه ډاډ تر لاسه کړي، چې د شته وزارتونو لخوا په نوموړيو وزارتونو پورې اړوندو سيمو کې، له طبيعي پيښو څخه ټولې راولاړې شوې ستونزې، په پام کې نيول شوې دي.

- **د طبيعي پيښو د تاوانونو د کمښت\سمبالښت کړنلاره:**

زيات شمير طبيعي پېښي په طبيعي ناورينونو اوړي؛ ځكه چې د ناورينونو د مخنيوي لپاره وړ لارې چارې او قدمونه اوچت شوي نه دي. هغه وزارتونه چې د ناورينونو پر وړاندې د كړنو مسؤليتونه لري بايد معلوم شي.

**۳. ځايي اقتصادي پرمختګ**

- **د ځايي بودجو د پانګو قانوني بنسټ ته بيا كتنه:**

د ځايي بودجې د پانګې لپاره قانوني بنسټ بايد وپلټل شي. لومړنی نخښې دا ښيي چې د نوموړې پانګې لپاره هيڅ قانوني بنسټ نشته. دا چې د دې ډول پېښې قانوني بنسټ شتون نه لري؛ نو ځكه د كاري بهير د قانوني بنسټ د پرمختګ پيلولو ته اړتيا ليدل كيږي.

- **د مسلكي روزنو د ترسره كوونكو ادارو معلومول:**

هغه ادارې چې د ځايي اقتصادي پرمختګ لپاره اړينی مسلكي او حرفوي روزنې په دوامدار ډول ترسر ه كولای شي، بايد معلومی شي. دغه ادارې بايد دا ډاډ هم تر لاسه كړي چې په پرله پسې توګه د دا ډول روزنو د ترسره كولو لپاره وړ بودجه ترلاسه كړي.

- **پانګې ته د لاسرسي ډاډ:**

دا پيلامه به د پانګې د ثبت پرمختګ چې د اقتصادي پورونو بنه به ولري، رانغاړي . له دې امله د دوی شتمنيو او سمبالښت لپاره بايد بنسټونه جوړ شي.

- **د سوداګرۍ د پرمختګ لپاره د اړين بنسټ جوړول:**

د ولايتي پرمختيايي كميټې د اقتصادي ادارې فرعي كميټه بايد د شخصي سكټور ودې ته آسانتياوی برابرې كړي او په ځانګړې توګه د دی ډاډ تر لاسه كړي چې د كمپنيو ګټې د سيمه ييز پرمختګ پلان جوړولو په بهير كی، په نظر كې نيول شوي.

- **د سودا ګرۍ لپاره د خوښې وړ چاپيريال جوړول:** د ولسي شكايت اوريدنې سيستم چې په سيمه ييزه كچه جوړه شوی، بايد له كمپنيو څخه د شكايت اوريدنې كچې ته پراخ كړای شي. سربيره پردې د سوداګريز چاپيريال پورې اړوندو معلوماتو د يو ځای كولو او شنني لپاره داسې يو سېستم لكه د يوې سوداګرۍ لپاره پر وخت د اجازه ليك ترلاسه كول، جوړ او وكارول شي.

**د سیمه ییزې حکومتوالی د پالیسی د پلي کیدو څارنه او ارزونه**

- **د څارنې او ارزونې یو سېستم به جوړ شي:**

د سیمه ایيزواورګانونو خپلواکه اداره به د پالیسۍ د پلي کیدو لپاره د څارنې او ارزونې یو سېستم جوړ او پلی کوي. د سیمه ایيزواورګانونو خپلواکي ادارې د پالیسی او انسجام معین به د داسې سېستم د څارنې مسؤلیت پر غاړه ولري. د سیمه ایيزواورګانونو خپلواکي ادارې د پالیسۍ په څانګه کې د څارنې او اروزنې مشر او د سیمه ایيزواورګانونو خپلواکي ادارې د پالیسۍ رییس به په دې کار کې د سیمه ایيزو اورګانونو خپلواکې ادارې د پالیسۍ له معین سره مرسته کوي.

- **د څارنې او اروزنې وسایل به برابر او وکارول شي:**

دا سېستم به یو شمیر هغه وسایل وکاروي چې د پالیسۍ د پلي کیدو د څارنې لپاره کارول کیږي، چې په دې کې به د پالیسۍ د پلي کیدو څارنه، عامه سلا مشورې او نظر غوښتنې شاملې وي. دغه وسایل به پرله پسې په ټولو ولایتونو کې وکارول شي؛ تر څو ډاډ تر لاسه شي، چې یو لړمعیاري وسایل او معلومات په ټولو ولایتونو کې وارزول شي. یو مرکزي (Database) به په مرکزي کچه جوړ؛ خو په ټولو ولایتونو کې به د لاسرسي وړ وي. دا به د یو میکانیزم په توګه د ټولو اړوندو معلوماتو د خوندي کولو او خپرولو لپاره وکارول شي.

- **په هر ولایت کې د څارنې او ارزونې څانګې:**

د هر ولایت د والي په دفتر کې به د څارنې او ارزونې څانګه، چې د پالیسۍ اغیزه او په اغیزناکه توګه پلي کیدل به څاري، جوړیږي. د څارنې اوارزونې دغه څانګې به د د سیمه ایيزو اورګانونو د خپلواکې ادارې د پالیسۍ په واحد کې، د څارنې او ارزونې مشر ته نیغ په نیغه راپور ورکوي.

- **د وزارتونو ترمنځ بهددې پالیسی د پلي کیدو د څارنې په موخه، د وزیرانو، معینانو او پالیسی د رییسانو په کچه ګډه کمیټه جوړه شي.** ددغې کمیټې په غړو کې به د پالیسۍ د پلي کولو د ټولو مسوولو حکومتي وزارتونو او ادارو استازي شامل وي. د پالیسۍ په واحد کې د څارنې او ارزونې مشر به دې کمیټې ته د سیمه ایيزو اورګانونو د خپلواکې ادارې د معین له لارې راپور ورکوي.

## VII. مل(ضمیمه)

### په سیمه ایيزه کچه د دولت د انتصابي مامورينو لپاره کړندود

**موخه**

- دا کړندود په ورځنيو چارو کې د دولتي مامورينو د کړو وړو د تنظيم په موخه ترتيب شوی دی.
- د دې کړندود موخه د دولتي مامورينو د کړنو لپاره د نورمونو جوړول، د ملکي خدمتونو د کيفيت د ښه والي په موخه د اتکل شوي کړندود په اړوند د خلکو پوهاوی، د عامه ګټو پرمختيا او له مخې يې د سالمې ادارې را منځ ته کيدل، په عامه اداره کې د اداري فساد په مخنيوي او له مينځه وړلو کې برخه درلودل او په پای کې د داسې حالت را منځ ته کول، چې له مخې به يې د عامه خلکو باور په دولتي اداره پياوړی شي.
- دا کړندود بايد په ټوله مانا وکارول شي. که چېرې په نورو ملي قوانينو کې له دې کړندود څخه سخت مقررات موجود وي؛ په دې وخت کې دې هماغه ملي قوانين وکارول شي.
- په دې کړندود کې د ټولو ذکر شويو نورمونو کارول، په ټولو مامورينو باندې حتمي دي.
- ټول دولتي مامورين بايد د قانون او ددې کړندود درناوی وکړي او په ټول وس سره له دې کړندود څخه د سرغړونې مخنيوی وکړي.
- له کړندود څخه د سرغړونې له امله، د دولتي مامورينو د قانون له مخې، به سرغړونکي مجازات شي.
- هغه مامورين چې باور لري له دې کړندود څخه سرغړونه شوې او يا کيږي، بايد موضوع ژر تر ژره لوړ پوړو چارواکو ته ورسوي. که چېرې اړينه وي کولای شي له نورو هغو چارواکو او ادارو سره چې ورته موضوعات څيړي هم اړيکه ونيسي.
- دا بايد روښانه شي، هغه مامورين چې د سرغړونې او يا يې هم د احتمال په باب راپور ورکوي، د هيڅ ډول اداري او يا بل ډول مجازاتو سره مخ نشي؛ ځکه هغه يوازې د اړوندې موضوع په اړه راپور وکړی دی.

**د دولتي مامورينو د کړنو اصول**

دولتي مامورين بايد د عامه چارو د ترسره کولو په وخت کې لاندې اصول په نظر کې ونيسي:

1. قانونيت
2. بې پرېتوب

3. خپلواکي
4. مسلکيتوب
5. وفاداري

**قانونيت**

- دولتي مامورين بايد د عامه چارو د تر سره کولو په وخت کې، د افغانستان د اسلامي جمهوريت اساسي قانون، ټول نافذه قوانين او هغه نړيوال تړونونه چې د افغانستان اسلامي جمهوريت ورته ژمن دی، مراعات کړي.
- ټول هغه دولتي مامورين چې باور لري، دوی د قانون او ددې کړندود له نورمونو څخه سرغړونې ته مجبور کيږي، بايد موضوع ژر تر ژره لوړ پوړو چارواکو ته ورسوي.

**بې پرېتوب**

- دولتي مامور بايد ټولې پريکړې او اقدامات په بې پرې، له توپير پرته او په مساوي ډول تر سره کړي او هيڅ شخص يا ډلې ته د نژاد، ژبې، مذهب، جنس، نظر، سياسي پلويتوب، ملکيت او نورو ټولنيزو ارزښتونو په اساس لومړيتوب ورنه کړای شي.
- دولتي مامور ته ښايي چې له عامه خلکو او همدارنګه له خپلو آمرانو، همکارانو او لاس لاندو کسانو سره په پوره درناوي، بې پريتوب، صداقت او ادب سره چلند وکړي
- دولتي مامور ته نه ښايې چې قانوني او بې پرې اشخاص او نور مامورين بې قانونۍ ته وهڅوي او د دوی له رسمي دندې نا سالمه ګټه اوچته کړي

**خپلواکي**

- د دولتي مامور سياسي پلويتوب بايد دده په رسمي دنده او کړنو کې او همدارنګه د عامه چارو د چارواکو په تګلارو، پريکړو او اقداماتو اغيزه ونلري.
- دولتي مامور ته نه ښايي چې د رسمي دندې په ترڅ کې:
  - له اداري سرچينو څخه د يوه نوماند په ګټه استفاده وکړي،
  - په دولتي اداره کې د سياسي ګوندونو د استازو او نورو خپلواکه نوماندو کسانو نښانونه چې د دوی نومونه او لاسليکونه پرې موجود وي؛ ځوړند کړي
  - په دولتي اداره کې د يوه سياسي ګوند کومه فرعي څانګه پرانيزي.

**مسلکیتوب**

- دولتي مامور باید خپله دنده په پوره مسوولیت، لیاقت، اغیزمنتوب، ګړندیتوب او سمه توګه تر سره کړي
- دولتي مامور د خپلې دندې د اجرا په اړه خپل لومړي آمر، لوړ پوړي آمر او د اړونده ادارې مشر ته مسوول دی

**وفاداري**

- دولتي مامور باید په خپله اړونده اداره کې، په پوره وفادارۍ سره، خپله دنده تر سره کړي او د دولتي کارکونکو حقوقي ګټو خپله فردي ژمنتیا وساتي
- دولتي مامور د خپلې دندې د اجرا په وخت کې له هغو کارونو څخه ډډه وکړي چې کیدای شي د اړونده ادارې تصویر، حیثیت او حقوقي ګټې تر پوښتنې لاندې راولي

**د دولتي مامورینو د کړنو معیارونه**

**معلوماتو ته لاسرسی**

- د ورتیا مطابق او د قانون له مخې، کوم د معلوماتو د لاسرسي حق چې دولتي مامور ته ورکول شوی دی، نو دولتي مامور باید چې:

✓ ولس د عامه ګټو د موضوعګانو په اړه په فعاله، عادلانه او پر وخت توګه خبر کړي

✓ معلوماتو ته آزادانه لاسرسی باوري کړي

✓ هغه مهال ویش چې د قانون په اساس د معلوماتو د لیږد لپاره جوړ شوی، وڅاري

**له عامه سرچینو څخه ګټه اخیستل**

- دولتي مامور ته ښایي له زیان څخه د عامه ملکیتونو خوندیتوب باوري کړي
- دولتي مامور ته ښایي چې د رسمي وختونو اوله اداري آسانتیاوو څخه یوازې د ورسپارل شوې دندې د اجرا لپاره کار واخلي
- دولتي مامور ته ښایي په اغیزمنه توګه او د موخې له مخې، د مالي سرچینو لګښت باوري کړي
- دولتي مامور ته نه ښایي چې له عامه سرچینو څخه د شخصي کارونو او هغو فعالیتونو لپاره چې قانون کې منع شوي، کار واخلي

**په نړیواله اړیکو کې چلند**

- هغه دولتي مامور چې په نړیواله موسسو، تحصیلي ادارو، کنفرانسونو، سیمینارونو او نور ورته فعالیتونو کې د یوه مقام استازیتوب کوي؛ باید له داسي چلند څخه کار واخلي چې د هیواد او اړونده اداري حیثیت ته زیان وانړوي
- هغه دولتي مامور ته چې له هیواد څخه بهر په رسمي سفر بوخت وي، ښایي د منل شوي پروتوکول اصولو ته ژمن او همدارنګه د همغه هیواد قوانین مراعات کړي
- دولتي مامور ته نه ښایي چې له نورو هیوادونو سره د اړیکو جوړولو پر وخت، پر ملي او نړیوالو موضوعګانو باندې خپل شخصي نظرونه ورکړي

**د ډالۍ او تحفو اخستل**

- دولتي مامورین له چا څخه نه سوغاتونه غواړي او نه یې مني او د ځان، خپلي کورنۍ، دوستانو، د هغو شرکتونو یا کسانو چې دوی ورسره کار او بار او یا سیاسي اړیکې لري، داسې چې په عامه کاري اجراآتو کې دده په وس باندې منفي اغېزه وکړي او یا دا چې د دده د دندې د سرته رسولو لپاره انعام وګنل شي، لپاره د خدمتونو ګټه، مرسته او امتیازات نه اخلي.
- که چېرې د دندې د اجرا په وخت کې کومه ډالۍ ترلاسه کوي، هغه باید حکومت ته ورکړي
- که چیرې عامه کارکوونکي ته د کومې ښېګڼې وړاندیز وشي، هغه باید د لاندې ګامونو په پورته کولو سره خپل ځان له هغه څخه و ژغوري:

1. له اضافي امتیاز اخستلو څخه دې ډډه وکړي او نه دې مني، ځکه چې وروسته به د شواهدو په توګه دده پر ضد ترې کار واخیستل شي
2. هڅه وشی؛ تر څو د داسي امتیاز د ورکوونکي هویت معلوم کړي
3. ددې کار لپاره خپل همکاران د شاهد په توګه وساتي
4. ددې هڅې په هکله هر څومره چې زیات شواهد موجود وي؛ په رسمي کتابونو کې ثبت کړي
5. ژر تر ژره خپل آمر ته او یا اړونده چارواکو ته ددې موضوع په هکله راپور ورکړي
6. خپل کار ته په عادي توګه دوام ورکړي، په ځانګړې توګه هغه کار ته چې په ترڅ کې یې ده ته ددې امتیاز وړاندیز شوی دی

**د ګټو تضاد**

- ملکي کارکوونکي باید د ګټو له تضاد څخه ځان وساتي

- د عامه پوستونو په هکله د یو کاندید د ګټو د تضاد غوښتنه باید د مقام له نیولو څخه د مخه اواره شي
- د ګټو د تضاد د وړاندې کولو او د اوارې کړندود باید په دې اړوند د موجوده قانون په بنسټ حل او فصل شي

## د هغه ملکي کارکوونکي مسوولیتونه چې د مدیریت په مقام کې کار کوي

- هغه ملکي کار کوونکي چې د مدیریت لوړ مقام لري، باید د تر لاس لاندې کارکوونکو له لوري د رفتار سلوک مراعاتول تامین او غوره والي ور وښيي.
- د مدیریت د دندې د اجرا پر مهال، ملکي کارکوونکی باید:

1. د ترفیعاتو په اړه له ټولو لاس لاندې کارکوونکو سره یوشان چلند وکړي او برابر فرصتونه ورته برابر کړي
2. د ترفیعاتو د وړاندیز، تبدیلی، انتصاب یا انفکاک، نقدي تقدیر یا مجازاتو په وخت کې باید د لاس لاندې کارکوونکو د مسلکي پوهې او اجراآتو په برخه کې، د قبول شوو معیارونو پر بنسټ ارزونه تر سره کړي او له هر ډول پلوي توب او توپیري چلند څخه ډډه وکړي
3. د کارکوونکو د عامه مقاماتو لپاره ارتقا او ترفیع په اړوند د هر ډول تبعیض، کورنی تړاو او یا له دا ډول نورو معیارونو څخه چې له کړندود څخه سر غړونه ګڼل کیږی، ډډه وکړي
4. د تر لاس لاندې مامورینو په منځ کې د فساد مخنیوی وکړي او د نا مناسبه اجراآتو له امله د کارکوونکو د ناکامۍ مسوولیت ولري
5. دا چې د فساد تعریف په ملي قوانینو کې کیږي، په دې باید وپوهیږو چې د عامه خدمتونو د دندې د تر سره کولو په ترڅ کې د سوغاتونو اخیستلو، د ژمنو او یا د پاروونکو انګېزو په وړاندې تدابیر تر لاس لاندې ونیول شي
6. د " فساد عمل" په عبارت کې، څنګه چې پورته ترینه یادونه شوې، باید د فساد لپاره هڅه کول هم شامله شي.

---

د کارکونکي لاس لیک

نیټه:________________( ورځ/میاشت/ کال)

## دويم مل(ضميمه)

**II . د سيمه ييزو منتخبو چارواکو کړندود**

**موخه:**

ددې کړندود موخه او مقصد د ولايت، ولسوالۍ، ښاروالۍ او کليو شوراګانو ټاکل شويو غړو او ټاکل شويو ښاروالانو د چلند لپاره د اخلاقي او ټولنيزو معيارونو د لاربنود جوړول دي.

**د کړنو معيارونه**

1. د ولايت، ولسوالۍ، ښاروالۍ او کليو شوراګانو ټاکل شوي غړي او ټاکل شوي ښاروالان بايد ټل په دې لټه کې وي چې د وګړو او سيمه ايېزو ټولنو لپاره هوسا چاپېريال رامنځ ته کړي
2. د ولايت، ولسوالۍ، ښاروالۍ او کليو شوراګانو ټاکلي غړي او ټاکلي ښاروالان بايد په رېښتينولۍ، پوره باور او بې پرې توب سره، له خپلې پوهې او وړتيا څخه تر ممکنه حده پورې، د دفتر په کاروبار کې ګټه واخلي

**هغه کړنې چې بايد په نظر کې ونيول شي**

**۱. د ټاکل کيدلو او انتصاب په مهال کړنې**

په ټاکنو پسې او دندو له پيل کولو سره د ولايت، ولسوالۍ، ښاروالۍ او کليو شوراګانو د ټاکل شويو غړو او ټاکل شويو ښاروالانو له لوري د مقام نيولو په وخت کې بايد د خپلې شتمنۍ او منقول او غير منقول ملکيت په هکله په ښکاره معلومات ورکړي او هغه له اړونده مقاماتو سره ثبت کړي.

په ټاکنو پسې او دندو له پيل کولو سره د ولايت، ولسوالۍ، ښاروالۍ او کليو شوراګانو ټاکل شوي غړي او ټاکل شوي ښاروالان بايد په ښکاره د خپل مالي حالت او نورو شتمنيو په هکله په تفصيل سره د هر هجري شمسي کال تر وروستۍ ورځې پورې يو ځل معلومات ورکړي. ددې کار څارنه د حکومت له لوري تر سره کېږي او د اړوند اداري جوړښت له خوا يې ملاتړ کېږي. حکومت په دې هکله په عامه توګه معلومات ورکوي او د عامه لاسرسی لپاره زمينه برابروي؛ تر څو د کال په هر وخت کې د عامه پلټنې لپاره موجود او چمتو وي.

**۲. د نيول شويو پريکړو درناوی**

د ولايت، ولسوالۍ، ښاروالۍ او کليو شوراګانو ټاکل شوی غړي او ټاکل شوي ښاروالان بايد د شورا پرېکړې له خلکو سره په سمه شريکې کړي؛ حتا که ټاکل شوي کسان له دې پرېکړو سره موافق هم نه وي، تر څو د پريکړو درناوی وشي.

**۳. عامو وګړو او رسنیو ته د معلوماتو ورکول**

د شورا غړي دا مني چې د شورا د پرېکړو او تصمیمونو په اړه رسمي معلومات کیدای شي د شورا د رییس، غړو او یا د شورا د واکمن استازي له خوا په سمه توګه ټولنو او رسنیو ته ورسېږي.

**۴. د سوغاتونو منل اجازه نه لري**

د ولایت، ولسوالۍ، ښاروالۍ او کلیو شوراګانو ټاکل شوي غړي او ټاکل شوي ښاروالان باید له چا څخه سوغات وا نه خلي، او نه د ګټې د یوې برخې(کمیشن) سوغات یا نورو ګټورو وړاندیزونه په شخصي توګه یا د کورنۍ د غړو یا دوستانو له لارې چې په مستقیمه توګه د شخص د وظیفوی چارو د اجرا څخه سرغړونه ده؛ وړاندیز، رد او قبول نه کړي.

**۵. په نا سازګاره فعالیتونو کې پر ګډون بندیز**

د ولایت، ولسوالۍ، ښاروالۍ او کلیو شوراګانو ټاکل شوي غړي او ټاکل شوي ښاروالان باید په داسې مالي یا نورو فعالیتونو کې برخه وانه خلي چې د دوی د رسمي دندې د اجرا او له مسولیتونو سره په تضاد کې وي.

**د چارو له محدودولو څخه پرته د ولایت، ولسوالۍ، د ښاروالۍ او کلیوالي شورا ګانو ټاکل شوي غړي او ټاکل شوي ښاروالان باید:**

- د خپل رسمي موقف اغیزې، له رسمي کارونو څخه پرته، نورو موخو لپاره ونه کاروي
- ټول داسې معلومات ونه کاروي چې د دفتر له اجرا څخه ترلاسه شوي؛ هغه چې عامو خلکو ته له رسمي دندو پرته د بل کوم هدف لپاره نه کارول کیږي
- کوم وګړي یا سازمان ته دا ژمنه ورنه کړي چې د هغه له رسمي موقف او حالت څخه ناوړه ګټه پورته کړي
- له هغه وګړي یا سازمان سره، چې دې مالي ګټې ورسره لري، امتیازي برخورد ونه کړي
- که چیرې اداره یا شورا د داسې وګړي یا سازمان په هکله پریکړه کوي، چې دې مالي ګټه ورسره لري؛ نو دغه پریکړه باید دده تر اغیز لاندې ونه نیول شي
- د ځاني ګټې یا هر شخصي هدف لپاره د ادارې مواد، تجهیزات، آسانتیاوې یا کارکونکي ونه کاروي

**٦. له ضایعاتو څخه ډډه**

د ولایت، ولسوالی، ښاروالۍ او د کلیو د شورا ګانو ټاکل شوي غړي او ټاکل شوي ښاروالان باید په تدارکاتو یا د عامه سرچینو په استعمال کې د ضایعاتو، ناوړه استعمال او بې ځایه لګښت مخه ونیسي، او هغه فساد او درغلي په ډاګه کړي چې دوي ورڅخه خبر دي.

**له وګړو سره د شورا د غړو چلند**

**۱. له هر چا سره په وقار، پوهې او درناوي چلند وکړي**

د ولایت، ولسوالی، ښاروالۍ او کلیو د شوراګانو ټاکل شوي غړي او ټاکل شوي ښاروالان باید د بشري حقونو اصول مراعات کړي، باید دوي د شورا د نورو غړو، دولتي کارکونکو، د خدمتونو په برخه کې د قراردادي کسانو او عامو خلکو په ګډون له هرچا سره په وقار، پوهې او درناوۍ سره چلند وکړي او د هغوي لپاره د برابرۍ او د داسې یوه چاپیریال د درلودلو د حق درناوی وکړي چې خوندي او له هر ډول زورونې او تبعیض څخه خالي وي.

**د بشري حقونو له اصولو سره سم له تبعیض څخه ډډه کول:**

د ولایتي، ولسوالی، ښاروالۍ او کلیو شورا ګانو ټاکل شوي غړي او ښاروالان باید له هیچا سره د قوم، سیمې، جنس او نژاد په بنسټ تبعیضي یا توپیري چلند ونه کړي.

ددې تګلارې په لاسلیک سره، زه دا څرګندوم چې ما ددې کړندود مواد ولوستل او پوره پرې پوه شوم. زما لاسلیک له دغې تګلارې څخه د ملاتړ څرګندوی دی او زه د خپل وظیفوي قرارداد له مخې ځان مکلف ګنم چې ددغه کړندود له اوصولو څخه به په بشپړه توګه پیروي کوم.

---

د شورا د غړي لاسلیک

نیټه ________________________ ورځ / میاشت/ کال

## III - مل(ضمیمه)

## III- د سيمه ييزو قلمرونو حوزې

**د ولايتونو او ولسواليو لست:**

| پړله پسې ګڼه | ولايتونه | د ولايت مرکز | د ولسواليو ټول شمير | د ولسوالی نوم | د احصايي مرکزي اداري2004کال د جولای لومړۍد اټکل له مخي نفوس | د كليو شمير |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | **بدخشان:**<br>د ځمکي پراخوالی 6.87%<br>نفوس (3.50%)<br>تش شوي كلي 7<br>ويجاړشوي كلي 18<br>فرعي كلي 57 | دفيض آباد بنار | | د بدخشان ښار فيض آباد | 61057 | 104 |
| | | | 27 | ارگو | 83999 | 143 |
| | | | | ارغنج خواه | 14741 | 46 |
| | | | | بهارک | 33012 | 40 |
| | | | | دارايم | 37983 | 64 |
| | | | | درواز پاين مامي | 22848 | 72 |
| | | | | درواز بالای نيسي | 26986 | 76 |
| | | | | اشکاشيم | 12566 | 43 |
| | | | | جورم | 51714 | 73 |
| | | | | کيران و منجان | 8084 | 40 |
| | | | | کيشم | 71262 | 82 |
| | | | | خاش | 15436 | 21 |
| | | | | خواهان | 14235 | 42 |
| | | | | کوهستان | 15586 | 95 |
| | | | | کوفاب | 20835 | 54 |
| | | | | ريگيستان | 28927 | 110 |
| | | | | شيکی | 18105 | 39 |
| | | | | شهرې بزرگ | 45419 | 70 |
| | | | | شيغنان | 22939 | 55 |
| | | | | شهدا | 26430 | 59 |
| | | | | تگاو | 24375 | 55 |
| | | | | تيشکان | 26850 | 56 |
| | | | | واخان | 11657 | 97 |
| | | | | وردوج | 19609 | 43 |
| | | | | يفتل پايين | 48425 | 77 |
| | | | | يمگان (گيروان) | 22533 | 43 |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 70 | 27317 | آوان | | | | |
| 24 | 6466 | زيباک | | | | |
| 1793 | 819396 | | **ټول شمير** | | | |
| 85 | 69.349 | د قلعه نو ښار | | د قلعه نو ښار | **بادغيس:** د ځمکي پراخوالی 3.19% نفوس 2.20% تش شوي کلي 18 | 2 |
| 137 | ۸۱،۸۴۳ | ابي کمري | 6 | | | |
| 132 | 109.381 | بالامرغاب | | | | |
| 96 | 52.566 | غورماچ | | | | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 320 | 77.635 | جووين | | | ويجاړشوي کلي 22 فرعي کلي 1 | |
| 37 | 20.480 | مقور | | | | |
| 156 | 88.139 | قاديس | | | | |
| 963 | 449.393 | | **ټول شمير** | | | |
| 158 | 191.640 | د پلخمري ښار | | د پلخمري ښار | **بغلان:** د ځمکي پراخوالی 2.80% نفوس 3.20% تش شوي کلي 4 ويجاړشوي 78 فرعي کلي 18 | 3 |
| 68 | 19.642 | اندراب | 14 | | | |
| 165 | 119.604 | بغلان جديد | | | | |
| 93 | 39.118 | بورکه | | | | |
| 85 | 43.153 | دهنه ي غوري | | | | |
| 81 | 29.098 | ده سلا | | | | |
| 130 | 57.160 | دوشي | | | | |
| 28 | 15.552 | فيرنگي غارو | | | | |
| 20 | 9.568 | گوزرگاه نور | | | | |
| 73 | 26.344 | خينجان | | | | |
| 52 | 25.058 | جيلگه | | | | |
| 133 | 56.678 | خوست وفيرنگ | | | | |
| 122 | 57.509 | نهرين | | | | |
| 56 | 22.196 | پولي حسار | | | | |
| 83 | 29.370 | تالاوه برفک | | | | |
| 1347 | 741.690 | | **ټول شمير** | | | |
| 000 | 375.81 | د مزار شريف ښار | | مزارشريف | بلخ | 4 |
| 116 | 97.055 | بلخ | 14 | | | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | د ځمکي پراخوالی | | | چمتله | 81.311 | 161 |
| | 2.48% | | | چاربولاک | 69.975 | 109 |
| | نفوس 4.90% | | | چارکینت | 32.306 | 79 |
| | تش شوي کلي 14 | | | دولت آباد | 79.638 | 82 |
| | ویجاړشوي کلي 23 | | | دهدادي | 66.009 | 58 |
| | فرعي کلي 12 | | | کلدار | 17.932 | 13 |
| | | | | خولم | 49.207 | 34 |
| | | | | کشیندې | 49.083 | 166 |
| | | | | مارمول | 9.510 | 7 |
| | | | | نهرشاهی | 38.791 | 19 |
| | | | | شولگره | 85.269 | 110 |
| | | | | شورتیپه | 30.314 | 19 |
| | | | | زري | 42.367 | ي 152 |
| | | | **تول شمیر** | | 1.123.948 | 1125 |
| ۵ | باميان | د باميان ښار | 6 | د باميان ښار | 70.28 | 159 |
| | د ځمکي پراخوالی | | | گهمرد | 31.042 | 48 |
| | 2.76% | | | پنجاو | 48.397 | 440 |
| | | | | سيغان | 23.215 | 57 |
| | نفوس 1.50% | | | شيبر | 22.933 | 128 |
| | تش شوي کلي 1 | | | ورس | 82.119 | 643 |
| | ويجاړشوي 11 | | | يکاولنگ | 66.158 | 351 |
| | | | **تول شمیر** | | 343.892 | 1826 |
| 6 | **دايکندی** | د نيلي ښار | 9 | د نيلي ښار | 30.058 | 105 |
| | د ځمکي پراخوالی | | | گيتي | 59.947 | 136 |
| | 2.68% | | | گيزاو | 75.503 | 140 |
| | نفوس 2.10%<br>تشی شوی کلي 30 | | | اشترلی | 52.909 | 484 |
| | ويجاړشوي کلي 8<br>فرعي کلي 2 | | | کيجران | 26.259 | 42 |
| | | | | خيدير | 41.420 | 180 |
| | | | | ميرامور | 78.506 | 295 |
| | | | | سنگی تخت | 46.612 | 373 |
| | | | | شهرستان | 66.330 | 373 |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | **تول شمیر** | | 477.544 | 228 |
| 7 | **فراه** | د فراه ښار | | د فراه ښار | 109.409 | 118 |
| | د ځمکي پراخوالی | | 10 | انار دره | 24.782 | 31 |
| | 7.56% | | | بالابلوک | 72.465 | 90 |
| | | | | بکوا | 39.871 | 80 |
| | نفوس 2.10% | | | گلستان | 49.774 | 20 |
| | تش شوي کلي 13 | | | خاک سپید | 34.600 | 67 |
| | ویجاړشوي کلي 37 | | | لاشي جووین | 20.499 | 57 |
| | فرعي کلي 1 | | | پورچمن | 51.626 | 280 |
| | | | | پوشترود | 36.315 | 56 |
| | | | | قلعه کاه | 30.653 | 86 |
| | | | | شیب کوه | 23.013 | 51 |
| | | | **تول شمیر** | | 493.007 | 1124 |
| 8 | **فاریاب** | د میمني ښار | | د میمني ښار | 68.055 | 000 |
| | د ځمکي پراخوالی | | 13 | المار | 91.900 | 94 |
| | 3.60% | | | اندخوی | 41.656 | 9 |
| | نفوس 3.30% | | | بیلچراغ | 41.706 | 33 |
| | تش شوي کلي 5 | | | دولت آباد | 42.078 | 46 |
| | ویجاړشوي کلي 34 | | | گورزي وان | 72.497 | 46 |
| | فرعي کلي 45 | | | خاني چارباغ | 16.943 | 9 |
| | | | | خواجه سبز پوشی ولي | 45.268 | 66 |
| | | | | کوهستان | 53.616 | 98 |
| | | | | پشتونکوټ | 158.250 | 251 |
| | | | | قرم قول | 16.098 | 13 |
| | | | | قورغان | 27.116 | 13 |
| | | | | قیسار | 11.877 | 196 |
| | | | | شرین تگاب | 71.064 | 81 |
| | | | **تول شمیر** | | 833.724 | 975 |
| 9 | غزنی | د غزني ښار | | د غزني ښار | 154.618 | 72 |
| | د ځمکي پراخوالی | | 18 | آب بند | 26.124 | 69 |
| | 3.44% | | | اجرستان | 24.865 | 53 |
| | نفوس 4.70% | | | اندړ | 120.277 | 255 |
| | | | | ده یک | 44.386 | 59 |
| | تش شوي کلي 15 | | | گیلان | 52.073 | 136 |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | ویجاړشوي کلي 19<br>فرعي کلي 15 | | | ګیرو | 38.110 | 97 |
| | | | | جغتو | 29.378 | 147 |
| | | | | جاغوري | 152.162 | 568 |
| | | | | خواجه عمري | 17.475 | 35 |
| | | | | مالیستان | 71.784 | 284 |
| | | | | مقور | 47.425 | 114 |
| | | | | ناوه | 5.147 | 32 |
| | | | | ناور | ۸۱،۹۰۹ | ۴۸۰ |
| | | | | قره باغ | 132.174 | 426 |
| | | | | رشیدان | 12.279 | 48 |
| | | | | واغز | 36.531 | 119 |
| | | | | ولی محمد شهید خوګیاني | 16.608 | 63 |
| | | | | زنه خان | 17.518 | 37 |
| | | | **تول شمیر** | | 1.080.843 | 3094 |
| 10 | **غور**<br>د ځمکي پراخوالی<br>5.67%<br>نفوس 2.70%<br>تش شوي کلي 3<br>ویجاړشوي کلي 31<br>فرعي کلي 65 | د چغچران ښار | 9 | د چغچران ښار | 132.442 | 300 |
| | | | | چهار صده | 30079 | 60 |
| | | | | دولت یار | 33364 | 121 |
| | | | | دولینه | 38654 | 109 |
| | | | | لال و سرجنګل | 92800 | 464 |
| | | | | پاسه بند | 92356 | 318 |
| | | | | ساغر | 30497 | 111 |
| | | | | شهرک | 57888 | 180 |
| | | | | تیوره | 82287 | 248 |
| | | | | تولک | 44935 | 196 |
| | | | **تول شمیر** | | 635.302 | 2107 |
| 11 | هلمند<br>د ځمکي پراخوالی<br>8.93%<br><br>نفوس (6.20%<br>تش شوي کلي 6<br>ویجاړشوي کلي | د لښکرګاه ښار | | د لښکرګاه ښار | 201.546 | 102 |
| | | | 12 | باغران | 129.947 | 290 |
| | | | | دیشو | 29.005 | 58 |
| | | | | ګرمسیر | 107.153 | 147 |
| | | | | کجکي | 119.023 | 170 |
| | | | | موسا قلعه | 138.896 | 107 |
| | | | | نادعلي | 235.590 | 164 |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | 33 | | | نهرسراج | ۱66.827 | 206 |
| | فرعي كلي 5 | | | ناوه بارکزی | 89.814 | 129 |
| | | | | نوزاد | 108.258 | 169 |
| | | | | خان نشين | 17.333 | 42 |
| | | | | سنگين | 66.901 | 51 |
| | | | | واشير | 31.476 | 64 |
| | | | **تول شمير** | | 1.441.769 | ۱۶۹۹ |
| 12 | **هرات** | د هرات ښار | | دهرات ښار | 397.456 | 000 |
| | د ځمکي پراخوالی**8.56%** | | 15 | ادرسکن | 56.193 | 161 |
| | | | | چشتی شریف | 25.428 | 68 |
| | نفوس 7.60% | | | انجيل | 224.607 | 212 |
| | | | | فرسي | 28.252 | 87 |
| | تش شوي کلي 13 | | | غوريان | 90.201 | 75 |
| | ويجاړشوي کلي ۴۸ | | | گلران | 106.983 | 224 |
| | فرعي کلي 25 | | | گوزره | 135.187 | 190 |
| | | | | كه روخ | 58.594 | 120 |
| | | | | گشک (ربات سنگی) | 133.446 | 156 |
| | | | | گشک کوهنه | 41.642 | 93 |
| | | | | کوهسان | 57.782 | 36 |
| | | | | اوبې | 75.175 | 139 |
| | | | | پشتون زرغون | 90.817 | 174 |
| | | | | شينډنډ | 185.418 | 333 |
| | | | | زينده جان | 54.976 | 76 |
| | | | **تول شمير** | | 1.782.157 | 2144 |
| 13 | جوزجان | د شبرغان ښار | | د شبرغان ښار | 148.3۲9 | 77 |
| | د ځمکي پراخوالی | | 10 | آقچه | 42.061 | 19 |
| | 1.73% | | | درزاب | 37.185 | 59 |
| | | | | فيض آباد | 33.969 | 55 |
| | نفوس 1.80% | | | خان آقا | 30.927 | 44 |
| | | | | خمياب | 12.517 | 5 |
| | تش شوي کلي 5 | | | خواجه دوكو | 19.372 | 23 |
| | ويجاړشوي کلي 21 | | | مينگجيک | 31.492 | 34 |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | فرعي کلي 2 | | | مردیان | 26.326 | 27 |
| | | | | قرقین | 19.878 | 3 |
| | | | | قوش تیپه | 24.931 | 40 |
| | | | **تول شمیر** | | 426.987 | 386 |
| 14 | **کابل** | د کابل ښار | | د کابل ښار | 1.925.548 | 000 |
| | د ځمکي پراخوالی | | 14 | بگرامی | 68.287 | 37 |
| | 0.69% | | | چهارآسیاب | 26.089 | 49 |
| | | | | ده سبز | 47.348 | 52 |
| | نفوس 10.50% | | | فرزه | 15.139 | 16 |
| | تش شوي کلي 2 | | | گلدره | 14.245 | 29 |
| | ویجاړشوي کلي 34 | | | استالیف | 16.513 | 35 |
| | فرعي کلي 12 | | | کلکان | 18.992 | 21 |
| | | | | خاک جبار | 7.461 | 35 |
| | | | | میربچه کوت | 32.461 | 27 |
| | | | | موسهي | 18.351 | 39 |
| | | | | پغمان | 82.597 | 105 |
| | | | | قره باغ | 50.139 | 61 |
| | | | | شکردره | 57.644 | 95 |
| | | | | سروبی | 44.871 | 157 |
| | | | **تول شمیر** | | 2.425.067 | 755 |
| 15 | **کندهار** | د کندهار ښار | | د کندهارښار | 437.625 | 137 |
| | د ځمکي پراخوالی | | 15 | ارغنداو | 53.205 | 43 |
| | 8.40% | | | ارغستان | 000 | 0000 |
| | | | | دامان | 27.680 | 118 |
| | نفوس 3.90% | | | غورک | 000 | 0000 |
| | تش شوي کلي 69 | | | خاکریز | 15.074 | 69 |
| | ویجاړشوي کلي 38 | | | میوند | 58.254 | 156 |
| | فرعي کلي 3 | | | معروف | 000 | 0000 |
| | | | | میانشین | 000 | 0000 |
| | | | | نیش | 000 | 0000 |
| | | | | پنجوایي | 74.943 | 110 |
| | | | | شگه (ریگ) | 000 | 0000 |
| | | | | | | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | |
| | | | | شاولیکوټ | 0000 | 000 |
| | | | | ښوراواک | 0000 | 000 |
| | | | | سپین بولدک | 149.853 | 103 |
| | | | | ژړی | 95.396 | 108 |
| | | | **توول شمیر** | | 912.030 | 944 |
| 16 | **کاپیسا** | د محمودراقي | | د محمودراقي ښار | 48.774 | 61 |
| | د ځمکي پراخوالی | ښار | 6 | اله سای | 34.894 | 71 |
| | 0.29% | | | حصه اول کوهستان | 46.906 | 69 |
| | | | | حصه دوم کوهستان | 42.344 | 44 |
| | نفوس 1.50% | | | کوهبند | 19.600 | 42 |
| | تش شوي کلي 1 | | | نیجراو(نیجراب) | 92.533 | 159 |
| | ویجاړشوي 7 | | | تګاو(تګاب) | 73.217 | 113 |
| | فرعي کلي 56 | | **توول شمیر** | | 358.268 | 559 |
| 17 | **خوست** | د خوست ښار | | د خوست ښار | 160.214 | 155 |
| | د ځمکي پراخوالی | | 12 | علیشیر | 47.650 | 64 |
| | 0.65% | | | باک | 27.675 | 32 |
| | نفوس 2.80% | | | ګوربز | 30.751 | 58 |
| | تش شوي کلي 3 | | | مندوزی اسمعیل خیل | 61.682 | 66 |
| | ویجاړشوي کلي 11 | | | ځاځي میدان | 23.197 | 75 |
| | فرعي کلي 4 | | | موسا خیل | 41.998 | 83 |
| | | | | نادرشاه کوټ | 37.193 | 44 |
| | | | | قلندر | 11.406 | 22 |
| | | | | صبری (یاکوبی) | 89.779 | 63 |
| | | | | شمل | 13.523 | 25 |
| | | | | سپیره | 26.685 | 62 |
| | | | | تنی | 67.096 | 115 |
| | | | **توول شمیر** | | 638.849 | 864 |
| 18 | **کنړ** | د اسعدآباد ښار | | اسعدآباد ښار | 29.177 | 11 |
| | د ځمکي پراخوالی | | 14 | برکونړ | 20.716 | 47 |
| | 0.75% | | | چپه دره | 28.681 | 53 |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 39 | 15.509 | دانگام | | | | |
| 105 | 44.858 | پیچ دره | | | نفوس 1.80% | |
| 36 | 23.663 | غازي آباد | | | | |
| 40 | 31.950 | خاص کونړ | | | تش شوي کلي 5 | |
| 32 | 17.316 | مره وره | | | ویجاړشوي کلي 11 | |
| 46 | 32.510 | نری | | | فرعي کلي 8 | |
| 67 | 27.937 | نرنگ | | | | |
| 41 | 25.047 | نورگل | | | | |
| 31 | 24.080 | سرکانو | | | | |
| 62 | 28.905 | څوکی | | | | |
| 79 | 33.781 | شیگل | | | | |
| 74 | 28.778 | وټپور | | | | |
| 763 | 413.008 | | **توول شمیر** | | | |
| 171 | 247.450 | د کندزښار | | د کندزښار | **کندز** | ۱۹ |
| 58 | 38.522 | علی آباد | 6 | 176 | د ځمکي پراخوالی | |
| 54 | 61.587 | چهاردره | | | 1.24% | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | د شتی ارچي | 57.150 | 121 |
| | نفوس 3.30% | | | امام صاحب | 199.186 | ١45 |
| | تش شوي كلي 2 | | | خان آباد | 114.743 | ١43 |
| | ویجاړشوي كلي 15 | | | قلعه ذال | 54.749 | 35 |
| | فرعي كلي 176 | | **ټول شمیر** | | 773.387 | 727 |
| 20 | **لغمان** د ځمکي | د مهترلام بابا | | دمهترلام بابا ښار | 112.856 | 158 |
| | پراخوالی0.61% | ښار | 4 | الینګار | 89.716 | 112 |
| | نفوس 1.80% | | | الیشنګ | 68.153 | 138 |
| | تش شوي كلي 2 | | | دولتشاه | 40.887 | 70 |
| | ویجاړشوي 15 | | | قرغه یی | 70.968 | 139 |
| | فرعي كلي 2 | | **ټول شمیر** | | 382.280 | 617 |
| 21 | **لوګر** | دپولی علم ښار | | د پولی علم ښار | 88.886 | 193 |
| | د ځمکې پراخوالی | | 6 | ازره | 14.550 | 55 |
| | 0.70% | | | بر کي برک | 78.063 | 132 |
| | نفوس 1.40% | | | څرخ | 40.492 | 60 |
| | تش شوي كلي 19 | | | خروار | 26.607 | 53 |
| | ویجاړشوي كلي 23 | | | خوښی | 15.127 | 49 |
| | فرعي كلي19 | | | محمد آغه | 58.979 | 110 |
| | | | **ټول شمیر** | | 322.704 | 652 |
| 22 | **نیمروز** | د زرنج ښار | | د زرنج ښار | 49.851 | 80 |
| | د ځمکې پراخوالی | | 4 | اصلي چخانسور | 11.165 | 80 |
| | 6.50% | | | چاربرجک | 8.080 | 59 |
| | نفوس0.50% | | | کنګ | 13.514 | 59 |
| | تش شوي كلي 27 | | | خاشرود | 35.381 | 59 |
| | ویجاړشوی 234<br>فرعي كلي ٠ | | **ټول شمیر** | | 117.991 | 337 |
| 23 | **ننګرهار** | د جلال آباد | | د جلال آباد ښار | 205.423 | 000 |
| | د ځمکې پراخوالی | ښار | 21 | اچین | 95.468 | 156 |
| | 1.17% | | | بټي کوټ | 71.308 | 48 |
| | نفوس 5.80% | | | بهسود | 118.934 | 71 |
| | تش شوي كلي5 | | | چپلیار(چپرهار) | 57.339 | 55 |
| | ویجاړشوي كلي7 | | | دره نور | 28.202 | 44 |
| | فرعي كلي 35 | | | دوربابا | 13.479 | 42 |
| | | | | ده بالا | 33.294 | 59 |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 49 | 31.130 | گوشته | | | | |
| 95 | 28.376 | حسارک | | | | |
| 64 | 52.527 | کامه | | | | |
| 146 | ١11.479 | خوګياني | | | | |
| ۳۲ | ۱۶،۳۲۸ | نازيان | | | | |
| ۵۷ | ۴۰،۱۴۱ | پچيرواګام | | | | |
| ۴۹ | ۶۳،۳۵۷ | رودات | | | | |
| ۳۶ | ۶۴،۸۷۲ | شينواري | | | | |
| 110 | 63.232 | شيرزاد | | | | |
| 103 | 91.548 | سرخ رود | | | | |
| 37 | 52.154 | کوټ | | | | |
| 53 | 42.823 | کوزکونړ | | | | |
| 20 | 18.997 | لالپوره | | | | |
| 39 | ۴2.103 | مومند دره | | | | |
| 1365 | 1.342.514 | | **ټول شمير** | | | |
| 22 | 11.508 | د پارون ښار | | د پارون ښار | نورستان | |
| 23 | 18.398 | بارګ مټل | 7 | | د ځمکي پراخوالی | |
| 17 | 6.973 | دواب | | | 1.42% | |
| 37 | 32.720 | کامديش | | | نفوس 0.60% | |
| 49 | 11.875 | منډول | | | تش شوي کلي 5 | |
| 45 | 13.023 | نورګلام | | | ويجاړشوی کلي 2 | |
| 35 | 25.425 | وايګل | | | فرعي کلي1 | |
| 33 | 11.042 | وامه | | | | |
| 261 | 130.964 | | **ټول شمير** | | | |
| 91 | 73.131 | د ګرديزښار | | د ګرديزښار | **پکتيا** | |
| 69 | 58.569 | ځمکنی | 10 | | د ځمکي پراخوالی | |
| 50 | 30.164 | ډنډوپټان | | | 0.86% | |
| 65 | 61.404 | ځاځي | | | نفوس 2.20% | |
| 73 | 40.340 | جاني خيل | | | تش شوي کلي 2 | |
| 57 | 45.923 | احمد خيل | | | ويجاړشوی کلي 16 | |
| 55 | 35.673 | احمدآباد | | | فرعي کلي 9 | |
| 58 | 42.967 | سيدکرم | | | | |
| 23 | 2.025 | شواک | | | | |
| 67 | 38.011 | وازي زدراڼ | | | | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | زورمت | 86.609 | 167 |
| | | | **تول شمیر** | | 514.816 | 775 |
| | **پکتیکا** | ښرنه | | د ښرني ښار | 54.416 | 97 |
| | د ځمکي پراخوالی | | 18 | برمل | 88.028 | 113 |
| | 2.99% | | | ډیله اوخوشامند | 50.203 | 100 |
| | نفوس 3.50% | | | گیان | 42.495 | 46 |
| | تش شوي کلي 9 | | | گومل | 64.275 | 114 |
| | ویجاړشوی کلي 22 | | | جاني خیل | 35.251 | 85 |
| | فرعي کلي6 | | | متاخان | 19.758 | 54 |
| | | | | نیکه | 15.103 | 20 |
| | | | | اومنه | 25.690 | 42 |
| | | | | سروبی | 48.291 | 55 |
| | | | | سرروزه | 36.236 | 32 |
| | | | | توروو | 1۵.332 | 31 |
| | | | | اورگون | 89.718 | 95 |
| | | | | وړمامی | 30.135 | 77 |
| | | | | وازي خوا | 50.818 | 126 |
| | | | | یحیاخیل | 30.161 | 51 |
| | | | | یوسف خیل | 32.648 | 38 |
| | | | | زرغون ښار | 38.024 | 58 |
| | | | | زیروک | 43.190 | 21 |
| | | | **تول شمیر** | | 809.327 | 1255 |
| | پنجشیر | د بازارک ښار | | د بازارک ښار | 15.593 | 53 |
| | د ځمکي پراخوالی | | 6 | عنابه | 12.587 | 13 |
| | 0.58% | | | دره | 20.360 | 60 |
| | نفوس 0.50% | | | حصه اول خنج | 26.722 | 67 |
| | تش شوي کلي 1 | | | پریان | 12.525 | 29 |
| | ویجاړشوی کلي ۰ | | | روخه | 10.102 | 31 |
| | فرعي کلي 65 | | | شوتول | 11.300 | 25 |
| | **پروان** | د چاریکارښار | **تول شمیر** | | 109.189 | 278 |
| | د ځمکي پراخوالی | | | د چاریکار ښار | 130.613 | 77 |
| | 0.88% | | 9 | بگرام | 75.423 | 107 |
| | نفوس 2.10% | | | غوربند(سیاه گرد) | 74.123 | 106 |
| | تش شوي کلي 3 | | | جبلسراج | 48.052 | 72 |
| | ویجاړشوی کلي 11 | | | کوه ساپي | 13.627 | 62 |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | فرعي كلي 36 | | | سيدخيل | 33.334 | 48 |
| | | | | سالنک | 21.171 | 87 |
| | | | | شيخعلي | 22.831 | 103 |
| | | | | شينواري | 39.057 | 85 |
| | | | | سرخ پارسا | 33.639 | 154 |
| | | | **تول شمير** | | 491.870 | 901 |
| | سمنگان | ایبک | | دا یبک ښار | 85.427 | 78 |
| | د ځمكې پراخوالی | | 6 | دره صوفی علیا | 52.473 | 137 |
| | 2.06% | | | دره صوف پاین | 55.858 | 175 |
| | نفوس 1.4% | | | پیروزناخجیر | 11.701 | 20 |
| | تش شوي كلي 2 | | | حضرت سلطان | 36.690 | 65 |
| | ویجاړشوی كلي ۵۷ | | | خورم سارباغ | 30.704 | 63 |
| | فرعي كلي 18 | | | روی دوآب | 40.358 | 95 |
| | | | **تول شمير** | | 313.211 | 633 |
| | سرپل | د سرپل ښار | | د سرپل ښار | 115.463 | 201 |
| | د ځمكې پراخوالی | | 6 | بالخاب | 44.041 | 124 |
| | 3.19% | | | گوسفندي | 39.721 | 57 |
| | نفوس 1.90% | | | کوهستانات | 72.037 | 137 |
| | تش شوي كلي 2 | | | سنگچارک | 87.670 | 137 |
| | ویجاړشوی كلي12 | | | سیاد | 47.336 | 79 |
| | فرعي كلي2 | | | سوزمه قلعه | 35.993 | 65 |
| | | | **تول شمير** | | 442.261 | 800 |
| | تخار | تالقان | | د تالقانوښار | 194.471 | 192 |
| | د ځمکی ساحه | | 16 | اشکمش | 51.153 | 100 |
| | 1.91% | | | بهارک | 40.902 | 70 |
| | نفوس 3.60% | | | بنگي | 28.197 | 55 |
| | تش شوي كلي5 | | | چال | 24.596 | 56 |
| | ویجاړشوی كلي 13 | | | چاب | 64.151 | 62 |
| | فرعي كلي 60 | | | درقد | 25.771 | 31 |
| | | | | دشت قلعه | 35.347 | 34 |
| | | | | فرخار | 39.864 | 64 |
| | | | | هزارسوموچ | 9.774 | 27 |
| | | | | کلفگان | 28.122 | 42 |
| | | | | خواجه بهاولدین | 26.280 | 24 |
| | | | | خواجه غار | 44.909 | 56 |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 22 | 11.563 | نمکآب | | | | |
| 173 | 132.315 | روستاق | | | | |
| 90 | 33.506 | وارسج | | | | |
| 54 | 39.398 | ینگی کلا | | | | |
| 1152 | 830.319 | | **ټول شمیر** | | | |
| 146 | 109.712 | د ترینکوت ښار | | د ترینکوت | ارزگان | |
| 100 | 73.759 | چوره | 4 | ښار | د ځمکي پراخوالی | |
| 95 | 50.718 | دهراود | | | 1.76% | |
| 87 | 37.38 | خاص ارزگان | | | نفوس 1.40% | |
| 78 | 48.512 | شهید حساس | | | تش شوی کلی 103 | |
| 506 | 320.589 | | **ټول شمیر** | | ویجاړشوی کلي 4 | |
| 64 | 35.008 | میدان ښار | | میدان ښار | **میدان وردک** | |
| 199 | 83.376 | چک | 8 | | د ځمکي پراخوالی | |
| 115 | 28.865 | دایمیرداد | | | 1.59% | |
| 282 | 25.079 | حصه اول بهسود | | | نفوس 2.30% | |
| 105 | 46.667 | جغتو | | | تش شوی کلی ٠ | |
| 124 | 44.873 | جلریز | | | ویجاړشوی کلي 12 | |
| 773 | 94.328 | مرکزبهسود | | | فرعي کلي 24 | |
| 137 | 56.354 | نرخ | | | | |
| 166 | 114.793 | سیدآباد | | | | |
| 1965 | 529.343 | | **ټول شمیر** | | | |
| 91 | 36.560 | د کلات ښار | | د کلات ښار | **زابل** | |
| 0000 | 0000 | ارغنداو | ١٠ | | د ځمکي پراخوالی | |
| 47 | 13.973 | اتغر | | | 2.68% | |
| 0000 | 0000 | دای چوپان | | | نفوس 1.10% | |
| 0000 | 0000 | کاکړ | | | تش شوی کلی 73 | |
| 99 | 21.162 | میزانه | | | ویجاړشوی کلي 19 | |
| 220 | 71.348 | شاه جوی | | | | |
| 247 | 33.351 | شملزي | | | | |
| 116 | 28.344 | شینکی | | | | |
| 157 | 19.017 | ترنک وجلدک | | | | |
| 92 | 21.144 | نوبهار | | | | |
| 1069 | 244.899 | | **د هیواد ټولو ولسوالیو شمیره** | | | |
| **37.769** | **23.565.200** | | **264** | | | |